# افغاني موسيقي

www.libtool.com.cn

مؤلف
څیړنمل محمد دین ژواک



د افغانستان د هنرمندانو د ټولنو اتحادیه
کابل ۱۳۷۰

www.libtool.com.cn

دگران هیواد افغانستان د خپلواکۍ د بیرته
اخیستنې د (۷۲) کال په مناسبت گرانو هیوادوالو ته
وړاندې کیږي .

www.libtool.com.cn

# افغانی موسیقی

PROPERTY OF ACKU 3001

لیکوال

خیړنمل محمد دین ژواک
دافغانستان د جمهوریت د لیکوالو
دانجمن غوړه فرهنګی کارمند

کابل - ۱۳۷۰

www.libtool.com.cn

افغاني موسيقي
دافغانستا ن دهنر مندا نــــو دانجمنونو
داتحاد يی له خپرو نو څخه.
ليکوال : څیړ نمل محمد دیـــــن«ژواك»
دافغانستا ن دليکوا لودانجمن غوره فرهنگی کارمند .

مهتمم : مصطفی « جهاد»
دنو تيشنونو ليکو نکی :
استاد محمود فرخ افندی
کاپی کوونکی : استاد فقير محمــــدننگيالی
رسامان : يوسف کهزاد او يــارمحمدتره کی
دچا پ ځای :آريانا مطبعه
د چاپ کال : ۱۳۷۰ــ۱۹۹۱ء

www.libtool.com.cn

## تقریظ

«افغانی موسیقی» په نوم کتاب چې ما ته د لیکوال محترم استاد ښاغلي محمد دین ژواک له خوا راباندې د تقریظ لیکلو لپاره را سپارل شوی و، ما له سره تر پایه په پوره غور سره وکوت. اوس نو دا اړتیا لیدل کېږي، چې مینه وال یې د خپل نظر او کره کتنې له مخې ورسره یو څه بلد کړم، چې یو شمیر ډېرو ګټورو برخو ته یې مخکې له مخکې پوره پاملرنه موجوده لوسی.

په دغه کتاب کې لومړی د مؤلف له خوا یوه مقدمه لیکله شوې چې په لنډ ډول پکې زموږ په ګران هیواد افغانستان کې د موسیقۍ د پیل په باب د ډېر زیات ارزښت درلودنی معلومات وړاندې شوي دي.

دوهم - یکی د استاد فرخ افندي پېژندنه، راغلی او د هغو خدمتونو یادونه یې په ډېر درناوي سره شوې ده، چې د افغاني ملي موسیقي لپاره یې کړې ده. له دې څخه دا په ډېر ښه ډول ښکاره کېږي چې افغانان د خپلو دوستانو خدمتونه هیڅ نه هېروي. په هر هیواد او هر ملت پورې که اړه ولري تل یې په درناوي سره یاد تازه ساتي او خپلو راتلونکو نسلونو ته دا وړ په یادوي چې د خپلو مشرانو د دوستانو دغه ډول نیکي، علمي او هنري مرستې هیڅکله هېرې نه کړي، ترڅو چې د هغوی د هیواد یا ملیت و ګروته هم د درناوي درلودنی مراتب تل په زړونو کې وساتي.

په دې برخه کې لوستو نکي‌د‌ډېر و‌دا سې تو لنيزو 'و روزنيزو معلو ما تو سره آشنا کيږئ
چې په سره برخه کې‌به ور ته په زړه پوری والی و لری اوبيا به يې په تو لنيز ژوند ـــ ی
دخپلو خلکو او نوی نسل‌سره‌په ډيروبرخو کی ددو ستا نه خبرو ،او دتو لنيزو ښواړ ـ
يکو مو ضوع گا نی وی .دغـه ډول کتوری او په زړه پو ری‌مو ضوع گا نی يوازی او يوا زی
www.libtool.com.cn
زموږ دکران هيواد دقدر وړ اوطلايی شخص استاد محمد دين‌ژواك سره دشپږو ـ او ولسيزو
په اوږدو کی پاتی شوی‌دی ،چی اوس يی دښه نيت له مخی‌گرا نو هيواد وا لو ته دشرا يطو
دغو ښتنو سره سم وړا ندی‌کوی ، نوموړ ته ښايی چی‌په زيات‌ارز ښت ور ته قايل‌او ـ
سواو ور شخه په زړه پوری گتی اخيستلو ته يی په زيا ته اندا زه ځير اوسو .
دريم ـ پکی افغا نی سندر يز مکتبو نه دی.
استاد ژواك دلته افغا نـــی‌سندر يز مکتبو نه په دغو خلورو ډولو ويشلی دی:
١ـ دکند هار سندر يز مکتب
٢ـ دننگر هار سندر يزمکتب
٣ـ دپکتيا سندر يز مکتب
٤ـ دلوگری سند ريزمکتب
دکندهار په سندريز مکتـب کی‌په دغو نومونو سنـــدری ا و افسا نوی اړخو نه شامل دی:
داتڼ سندر يزی ناری ، ښار و ورا ، خور ښادی ، دوه دوه‌تاره‌يی‌اخله ، بابو لاله ،د شيـــن
خالی ناری ، دا ړی عړی ،دهو تکو ناری .ددغه سندر يزمکتب افسا نو ی‌رنگ ـ فتح‌خان
بړيځ او ښادی بيبو .
دننگر هار ـ په سندر يـزمکتب کی دغه سنـــدر يز ډو لونه ياد شویٔ دی:
مقام، چار بيته ،بدلی، بگتی، لو بی، کيسی ، داستا نو نه ،مشا عره .
دپکتيا په سندر يز مکتـب کی دغه سندری‌او هنری اړخونه راغلی دی .
سندر ی ، اتڼ، سرو کی .
په لو گری سندر يز مکتب کی دغه په زړه پوری خواوی‌شته :
دلته ددغه سندر يز مکتب‌په تار يخی اړخ باندی رڼاچوله شوی ده او په دی تړخ کی يیٔ
مشهور سندر غاړی ښودلی‌دی.
پنځم ـ په کتاب کی لنډ يو ته ځای ورکړ شوی دی .
استاد خير نمل محمد ديـــن‌ژواك په لنډ يو باندی دموضوع‌سره سم خپل نظر څر گندو لو
ته‌ادامه ورکوی اوپه تيو ريتيکه بر خه کی‌د لا زيا تـوعلمی کتـ‌و تر لا ســـــــه
کولـــو لپاره لو ستـــــــــونکو ته او سنی معتبر ماء خـدووښيی . چی دزيا تی علـمی
تندی ما تو لو لپاره ور تـــه مرا جعه وکړی.
پخپله ليکوال دلنډ يو ځانگړ تياوی په هغه ډول ښيی‌چی داپه اوريد ونکو با ندیٔ
ولی ښی لگيږی .

دخپلې لیکنې په خواږه سبك یې محتوا ته اشاره کوی . له همدې امله لوستونکی ور باندی په ښه ډول پوهیږی ، چــی دلنډیو کیف چیر ته دی ! نوځکه دومره زیاتی اغیزی درلودونکـــی دی ! لکــــــه په لنډی یا ندی منظر دیجوړیده اونور .

استاد ژواك لنډی دمحتو اله مخی په دغو دوو ډولو ویشی:

www.libtool.com.cn

۱ـ منظری درلود ونکی لنډی.

۲ـ بی منظری لنډی .

دمنظری درلود ونکو لنډ یو لپاره دغه لنډی دنمونی په ډول راوړی :

سبا به بیا کډی بار یږی ی دډښت ګـلان به ستا لمنه بویو ینه

په کود رسور سالونښکاره شـو ماوی په تورو اوبو اور ولګید نه

دبی منظری لنډ یو نمو نیداستاد ژواك له خوا دا ښو ول شوی دی:

زما په زړه دی با نه خښی کړه ستر ګی په وروپور ته کوه نامرادی مرمه

که خوله می اخلی ژر یـــــی واخله منګی می ولی ښورو ی لنده دی کړ مه

استاد ژواك یو زیات شمیـــرډول ډول او زیاتی خوږی لنډی راوړی دی او په هر ډول باندی یی دتحقیق او خیړ نی له مخی ډیره زیاته په زړه پوری رڼاچو لی ده. کله چی داستاد ژواك دتشر یحا تو له مخـــی څوك دلنډ یو ماهیت ته متوجه شی بیا نو ورته څرګندیږی چی په لنډیو پر ته له هغو علمی تحقیقی ژورو معلو ماتو چی دا کاډمیسین محترم سلیمان لایق له خوا د «پښتو لنــډی» په نوم کتاب کی لیکل شــوی دی ، دایی یوه بله په زړه پوری دمنلو وړ نمونه ده چی علمی او هنر ی دواړه اړخونه لری . همدا رنګه که دپښتو لنډیو ته څوك لاښه ځیر شی نولانوری زیاتی ښکلی ملغلری به پکی ومومی .

استاد محمد دیــن ژ وا كدلنډیو په باره کی تیور تیـــك معلو مات وړا ندی کـوی . د پښتولنډی ددر ېژبی د چار بیتو ، درو سی چستو شکو ، داسپانیا د ( کنتی جانــــدو ) سره پر تله کوی او پــــه دی تر څ کی د پښتــــــــو ژبی لنډ یو ته خا صه ځا ـ نګړ تیا ورکوی ، چی بیا یی دمثالونو په راوړ لو دلو ستونکو او اوریدو نکو مینه نوره هم ور سره زیا تیږی .

استاد ژوا ك د پښتو لنډیو په باره کی ډیر زیات معلــومات وړاندی کړ ی دی . کله یی چی څوك په تیورتیك حالت باندی دپو هید لو ار زومندوی نو بیا یی په ارزښت او اهمیت ډیر ښه قانع کیږی او په دی پو هیږی ، چی دغــه محترم استاد په دی برخه کی څومره زیا تی ستو نزی په ځان ګاللی ،څو مره زیات چو پـړیی په خاص ډول خپلو خلکـو او په عموم ډول بشر یت ته تر سره کړی دی.

په دی بر خه کی به نو رقضاوت ددغه علمی تحقیقی او هنری اثر لو ستو نکو ته پرېږدو. زه په دی باور لـرم، چی دغه کتاب په خپله برخه کی د چاپ شویو کتا بو نو په.

لې کې یوداسی آثر دیٓ چی‌لوستو نکو ته لهٔ هغو معلـو ماتو څخهٔ چی پهٔ دیٓ بر خه کی
یی تراوسه تر لاسه کړی دی‌لانور په زره پور ی‌معلو ما تور ړی اوهم دمسلك حاوندان
ورځخه په عمل کی لازیا تی‌کتی وا خیستلا ی شي .

www.libtool.com.cn

«د افغا نی موسیقی »په نوم‌کتاب سر بیره په تیور تیکواو هنر ی برخو دغه دوه نوری
مهمی برخی هم لری:

۱ــ د خیرو برخه :

په دی کی پښتنی هنرمندان‌دهنر ی فعا لیتو نو په حالت‌کی ښود ل کیږی .

۲ــ نو تیشنو نه :

په دی باندی دپښتو ژبــی‌مو سیقی دنړی د پر مختللیــوژبو د مو سیقیو په کتار کی
دریږی ، چی په دی اړخ کی‌تولو افغا نانو ته ډیر لــو ی‌ویاړ ور په برحه کیږی.

زه د دغه علمی تحقیقی اوهنری ډیر په زړه پوری‌کتاب‌په منځته راوړ لو نی هعه‌هلی
ځلی چی د پښتو ژبی ډیــــرمحترم ا وپیاوړ ی استادښاغلی‌محمد دین ژواك بړدی او یــــا
کاله په ځان‌کاللی دی د زیات‌قدر ور کنیم ، او دغه د«افغانی‌موسیقی» په نوم کتاب یی پــه
پښتو ژبه کی یو ابتکــار ی‌اثر دی نو ځکه ور ته د تو لوابتکاری حقو قو در نودی له
مخی یی په درنه ستر که‌گورم‌مثبت یی ارز یا بی کــوم اوډیر ژر چاپولوسره یی‌موا فقه
لــــرم .

دغه کتاب دادبیاتو پوهنځی‌دادبیاتو استاد انو ته ــد یــوښه ماخذ ،د هنر مندانو انجمن
هنرمندانو ته دمو سیقی‌د پرمختیا لپاره‌یی یو په زړه‌پوری‌اثر ، دفو لکلو ریکو سنــدرو
مینه والو ته یوه‌له معلوماتوڅخه ډکه علمی او هنری‌منبع گڼل کیږی .

ددغه په زړه پوری کتا ب‌مؤلف استاد ژوا ك ته دداسی‌گتور اثر له امله یی تبر یك
وایم خو شحا لی، نیکمر غــی‌او روغتیا یی تل غواړم .

سر محقق دکتور دو لت‌محمدلودین د.اج ،دعلو مو اکا ډمی
دبشری علومو مر ستیال
۱۳۶۹ر۱۰ر۲

www.libtool.com.cn

## فهـــرســـت

په دی کتاب کی دالا ندی مبحثونه لولی:


مقد مه : په افغانستا ن کی دموزیك دمبداء په باب ځـــولندی څبری •

**لو مړی برخه**

دافغا نستان مو سیقی لوی او ریښتینی خد متکار استا د استاد محمود فرخ افنـــدی دی

استاد فرخ افندی دافغانستان دلویی سلا می جوړ وو نکی

ـ داستادفرخ افندی دو هم ملی افغا نی خد مت چی با ید
دافغان ملت یی پر مجسمــــی دکلونو امیل وځړوی !

ـ افغا نی مو سیقی ته هغه بـل مهم خد مت چی استاد فرخ سرته رسو لی دی

ـ داستاد فرخ افندی پـه خپله خوله دده دژوند بیـــړ ندا فی

ـ د استاد فرخ افندی دفکر بد لون.

ـ نوی نیکمر غی

ـ داستاد فرخ په ژو ند کی دیوی بلی نیکمر غی چا نـــس

ـ زما دژوند دښه چا نس پیدا کیدل

ـ دفرخ افندی بیا استامبول ته تګ

ـ په لندن کی یوه دویلـــوړلو به

ـ زما څخه یو وړو کی امتحان
ـ ماته دغازی امان الله دخور په لاس دخوا نچی بخښل

ـ زما دبخت بل ستو ری هم وځلید

ـ زما دبد بختی شروع

ـ دیو ی ورځې قصه

ـ زما دمرګ او وژلو اراده!

ـ دیو سفر جراح سره آشنایی

www.libtool.com.cn

ـ دپښتو ټولنې دنشرا تی ارګان (زیری) توجه فرخ افندی ته

## دویمه برخه

افغانی سندر یز مکتبو نه

### لو مړی فصل

دکند ها ر سندر یز مکتب

۱ـ داتڼ ناری

الف: دکندها ر دسندر یزمکتب په ضمن کې پر نارو یو څو خبری .

ب: دکند هارد اتڼ دسندریز ونارو بله خاصه

۲ـ دکند هار دسندر یز مکتب بل غوړی: ښارو ورا

۳ـ دکند هار دسند ریز مکتب بل غو ړی : خور ښادی

٤ـ بل غوړی: دوه دوه تاره یی اخله ...

٥ـ بابو لاله

٦ـ دشین خالی ناری

٧ـ کاکړی غاړی

٨ـ دهو تکو ناری

٩ـ دسندر یز مکتب افسانوی رنګ: فتح خان بریځی

١٠ـ ښادی او بیبو

### دویم فصل

دننګر هار سندر یز مکتب

الف: مقام

ب: چار بیته

ج: بدلی

د : بګتی

ه: لوبی

و: کیسی

ز: داستانو نه

ح: مشاعری

دریم فصل

دپکتیا سندر یز مکتب

الف- سندر ی

ب- اتڼ

ج- سرو کی

www.libtool.com.cn

خلورم فصل

لوګری سندریز مکتب

- ملا درمحمد ولی ملا بڼ بریښ دی ؟

- دلوګر پر سندر یزمکتب دامیر عبدا لر حمن له خواځنګه اثر لوېړی ؟

استاد .دری دخا نقاپرلو ر

- استاد دری دسید بهــــاوالدین جان آغا په لمن کی

- شاه امان غازی او استاددری

- داستاد (دری) لوګری سپارل غلام نبی خان جنرال ته.

- کا بل راډیو او استاددری

- داستاد د ری مخه د مکی معظمی لور ته

- داستاددقبر سلاومشو ره دلوګر یانو له خو ا

## دریمه برخه

لنډی

پر پښتو لنډ یو خو لنډ ی خبری

لنډی

دپښتو سندر ویوه اهمـه برخه

- په لنډ یو کی دمنظری جوړولو او شکل مننی خصو صیت

- دلنډ یو وحدةالوجود ·

- لنډی دوطن دانسان دغمو نو هنداره

- په لنډ یو کی دویاړ لودعنعنی هستو نکی

- دلنډ یو دتغز لی مانی اساسی مضمون

- په لنډ یو کی دتغییر او بد لون پړو سه

- لنډ ی دښځی دتار یخی ، اجتماعی موقعیت صادق ویندوی

- په ښځمنو لنډ یو کی دموزیکی پر ضد دښځی اعترا ض

په ښځمنو لنډ یو کی داعتراض تار یخی سر چینه

دلنډ یو تو لنیزمتفا وت کړه وړه

دخا نخا نی دوران په لنډیو کی دښځی دمو قف انعکا س

**څلورمه برخه**

په افغانی سندر یزو مکتبونو پوری داړو ندو سندرو ځینی غوره نو ټیشنو نه اودهغو تصنیفو نه

www.libtool.com.cn

لومړی

دکند هار په سندر یز مکتب پوری دځینو اړو ندو سندر ونو ټیشنو نه او د هغو تصنیفو نه

دویم

دننګر هار په سندر یزمکتب پوری د ځینو اړوند وسندرونو ټیشنونه اودهغو تصنیفونه

دریم

دپکتیا په سندر یز مکتب پوری دځینو اړوند وسندرونوټیشنو نه اودهغو تصنیفو نه

څلورم

په لو ګری سندر یز مکتب پوری دځینو اړوندو سند ر ورونوټیشنو نه او دهغو تصنیفو نه

پنځم

دځینو متفر قو افغا نی بنګلو سند رو نو ټیشنو نه اودهغو تصنیفو نه

ماخذ بنودنه

www.libtool.com.cn

## مقدمه

### په افغانستان کی دموز یك دمبداء په باب څو لنډی خبری :

په افغانستان کی دغربی موسیقی عمر زما په نظر لږ دی او د هندی موسیقی بلد تیا له موږ سره اریا یی، مد هبی او . . . ریښی لری . له څه هم ما به دحپل مرحوم پلار څخه اوریدل چی امیر عبدالرحمن خان هندی رقصاو نځا او موسیقی دکابل خرابات ته راوستله داخبره صحیح ده مگر افغان او هنددنژاد له محی دبکوت نیسه (خدا یی نغمه ) د سرود په وا سطه چی د « ګرشنا » حماسه یا صوفیانه وعظدی، دوه نیم زره کاله عمر لری. دا چی عرب هم د اریایی تو لم په ملتو نو جوړ دی چی سرناج یی جرمن یا المان بلل کیږی جواهر لعل نهرود تاریخ په اساس ( رو م اویو ـ نان) هم اریایی نو ګم بولی. داخبره به پریږدو د تاریخ محقق ته، زما غرض دلته مشخص دموزیك یا موسیقی په بر خی کی دی چی هندی اساس یی ( سا ، ری ، ګه ، مه ، په ، ده ، نی ،) دی . ددی موسیقی آلات لګه هارمونیه ، پیانو او نورا و ږغه یا اوه پر دی لری اوداد قدیمی هندی موسیقی لا ره ده. مګردوهمه برخه موسیقی چی نن په غربی موزیك سره مشهوره ده او وایی تو ی سری یی جرمنی « بتهوون» ( ۱۷۷۰ ـ ۱۸۲۷ م ) دی چی د سمفونی او کلاسیک اساس یی ایښی دی . ( لومړی جلد اود (البر مالی ) فرانسوی مورخ په قول یی دصوت د پاره یاد صوت دحفظ دپاره د( دو ، ر ی، می، فا، صو ، لا، سی) بنیان کیښود. دد غه موزیك په برخه کی محمد طاهر خان جګړن داویا کلن افغانی موزیك پوه وایی :

په ۱۳۱۳ کال کی یعنی ( ۹۷ ) کا له دمخه د (۳۰۰) په تعداد لو مړنی دموزیك مکتب دکابل دهلکانو څخه جوړ شو چی زه یی دموزیك په عسکری فن کی تر جګړنی رسید لی یم. او موږ ته دکابل خلکو دبخشش په توګه دریسوه روپی راو بخښلی شوی. دا لومړنی مکتب و چی ملا لی لیسی ته نژدی جوړ شو ددی مکتب عسکری امر «خالد

www.libtool.com.cn

لومړی برخه

# دافغاني موسیقي لوی
# اوريښتيني خدمتګار
# استاد محمود فرخ افندي

## (استاد فرخ افندی)

## دافغانستان د لوبی سلامی

## جوړونکی:-

www.libtool.com.cn



اروا ښاد استاد فرخ افندی دافغانستان داردو دلـــوی سلامی جوړوونکی او د افغــانستان دملی فالکلوری سندری نو تیشن کوونکی او د آواز دثبت بنسټ ایښوونکی

هیڅ می نه هیر یږی چی په ۱۳۲۵ هـ . ش سنه کی، ښه، وا وره اور یده او هغه وخت کابل راډیو دمدیر یت تر شا، په یوه وړه کوټه کی، زه او استاد فرخ افندی سره ناست و، دتمرین په دول مو په انګر یزی ژبه خبر ی سره کو لی، ما چی دلو یو استادا نو او هنر مندا نو، حتی جهانی نوابغو د ژوند دسر و او تر دو سره علاقه، در لوده دخبرو په تر خ کی چی ما دی هم یو متبحر موسیقی پوه باله ماده ته په انګر یزی وویل : نه غوا ړی چی دخپل ژو ند دټولو ابعاد و سره می بلد کړی. ځکه زه خو تاوینم چی دغربی مو سیقی ښه، ما هر یی، او د ویلون ښه استاد او ښه رسام یعنی دهنردبرخی دخو ابعاد وخاندیی ؟

علاوتا دهغه سره دفرانسوی ژبی ما هر، تر کی ژ بـــه خو دی خپله مور نی ژبه ده په پښتو او انګر یزی ښـی خبر ی کو لای شی او در یځوستا ډیره ښه زده ده، دخپل ژو ند په سر ولو تودو مـی خبر کړه ځکه استاد یی، اودمو سیقی دمکتب هغه چی دلو- مړی وار دپا ره دبا بر په بڼ کی جوړ شوی او دلتـــه دکورس دغربی بر خـــی نو- تیشن هم ستا په مهارت پوری اړه لری او په دا سی حال کی چی ته دهنر و نو او ژبـــو د پو هنی پلا ر یی، نه غوا ړی چی دژو ند یوه لنده بیوګرافی ما ته را کړ ی؟ استـا د چی دزما ن، بی قدری ښه په تنګ کړی و، ما ته مـــخ راو ګرز اوه اوو یی ویل: کښینه،

چی یو رسم دیٓ درو کاږم . نهٔ پو هیږم چی زما دهنـــر اجر به دافغان را تاو نکـــی نسل راکړی که یه ؟ خو زه‌طبیعت هنر مند پیدا کړم ،مادطبیعت دمور په امر سر نه لاس واچاوه نه یواز ی ددی‌مها رت خاو ند شوم ، بلکــه دافغا نستان « لو یه سلامی» می جوړه او کمپوز کړه ،د اخد مت به دافغان را تلو نکی نسل هیر نه کړی،زما داخدمت چی دملت دافسری ددنیا دروح‌حما سه ده‌هغه دچا هیریږی؟

www.libtool.com.cn

یقین لرم چی یو وخت بــه دافغان ملت دیوه فردوجد ان‌دادحق دادافر ض پر ځای کړی. دا یقین را سره شته او ز ه‌دملت دوجد ان دبیدا ری‌څخه دغه امید لرم ، کله چـــی استاد فرخ افندی دا قصـــه راته شر وع کړه زما ترستر گورنهی رنبی او بنکی‌تـــو ی شوی او ده هم دخپلی بـــی‌قدری په اثـــر و ژړل . خوافسو س چی دی نــــه دی ژوند ی چی وگو ری نن‌افغان بچی هنـر مندا نو تــــــه هنر ی ، فرهنگی ، اود ټو لو بر خو القاب ، امتیا زات ا ودمادی قد رت سمه مر ستـــه‌ور کوی او نړی ته یی‌معرفی ،کوی اود شا گرد شا گرد یی‌نړیواله قهر ما نـــی اخلـــی‌مرحباپر استاد فرخ افند ی!!

**دا ستاد فرخ افند ی‌دو هم‌ملی افغا نی هغه خد مت چی‌با ید دافغا ن ملت یی پـــر مجسمی دگلو نو امیل وځړوی!**

داستا دفر خ دا خد مـــت اود ملی فرهنگ نمونه کـومه ده ؟ هغه دافغا نی ملـــی او زا نوپه‌ملی بنه دنوتیشن‌کتاب دی چی ټو لی یی افغانی‌ملی سند ری دی دغر بـــی نوتیشن پروزن او د (سی ،لا،سول، فا، می، دو، ره)په‌توررونوټ کړی دی. په دی کتا ب کی‌زما په تشو یق د« محمـــدگل نو ری‌دفلکلور پروفیسور»او دملی هند اری لیکو نکـــی او« عبدالرحمن جـــرار» اونورو سندری ور ته‌ویلی ،استادفرخ به پر پیا نوناستو او دمو سیقی دفن په اسا س‌به یی هغه نوټ کولی .کتاب‌او س هم په عا مه کتا بخانه کی پرو ت دی . د تاء ســـف‌ځای دی چی دا کتاب دبـــــل‌چا په نوم چاپ شوی دی ، حو داستاد نوم او نو تیشـــن‌صر ف اشا ره ور سره ده،دا کتاب او س دملی سندر و په ملی پرغونو سره موجود دی، دفر هنگ ده‌قام څخه زمو پرهیله ده چی بیا یی چا پ او دفر خ نوم ژوندی کړی .

**افغانی مو سیقی ته هغـــــه بل مهم‌خد مت چی استاد فرخ‌سرته رسولی دی :**

کله چی زه ( ژو الـ )په۱۳۴۷ هـ. ش کی دعلو مـــو دا کا دمی دنشرا تی ارگان « زیری » هفته ئیزی‌جریدی‌مسئول مد یر شوم په دغـــه‌وخت کی استاد فرخ افند ی دیر دافلا س ســـره لاس اوگر یوان و . نو ما بیا ددغه‌استاد دپا ره دملی او زانـــو دنو تیشن دچاپ دز مینـــــی‌چانس په زیری کی برا بـــر کړ او دده په لاس رسم‌کړی شهره او دده بیو گرا فی مـــادده دخو لی څخه وا خستـــه‌او د« ۱۳۴۷ هـ .ش » کا ل دجو زاد (ه) څخه می شروع‌کړه چی دری کا له یی دوا م‌وکړ دا بیوگرا فی هغه هـــم دده دخو لی ( چی بیادو خت‌دحکومت په اشا ره دده سره‌دبیغو ری په اثر قطع شوه)

ما په ډیر و ګنو کی مسلسله نشر کړه چی دادی دده د نوتیشنو نو سره یې دیوه کتاب په حیث دهنر عمومی ریاست ته سپارم .

خو په ضمن کی د ( ۱۳٤۷هـ . ش کال ) څخه می دهغه دملی سرو دنود نو تیشنو تی هم په زیری کی په مسلسل ډول نشر کړی او په زیری کی محفوظ دی چی د زیری ددغه کلونو کلکشن می ساتلی دی، ما پدی برخه کی دهنر دعمومی ریاست نه هیله وکړه www.libtool.com.cn
او هغو هم و منله. چی ددی لوی استاد دخد ما تو د حق داداکولو په خا طر دده په خپل لاس کښلی تصو یر او دده دغه ټول نو تیشنو نه دیوی رسالی په حیث چاپ اود دی لوی هنر مند د فرض حق پر ځای کړی. داده د استاد بیوګرا فی دده په خوله چی د «زیری» جریدی د (۱۳٤۷) کال کلکسیو ن حفظ کړی ده ، استاددا ډول حکایت کوی :

## داستا دفرخ افندی په خپله خوله دده دژو ند بیوګرافی :

پلارمی دترکئی د پاچاسلطان حمید دتوپچی دټولی «تورن» ودئ دیوی هیبتنا که شیر ی خاوند او ډیر قوی هیکله ځوان و چی په لیدلو یی سړی ته بیره پیدا کیدله، زما مور چی (۱۷) کلنه نجلی وه، دده دبیرو ونکی شهری څخه سخته بیریدله ، زمامو ر دوخت دډیرو ښکلو نجو نو څخه وه .استادفر خ به په یوه خندا نــه شیره کی په مو سکا وو یل: ژوا که خا ند ه مه چــــی وایم ز ما دپلار خپله، خوا ښی ډیره بده ایسیدله .استاد به دپلار دغښتلتوب په برخه کی ویل: زما دپلار دغښتلوب د اقصه، ډیره مشهوره وه چی کلی کور به ویل :«احمدکا ظم »(زماپلار ) به د (۹۰)کیلو وزن په پرو تی پورته کولای شو ای استاد دهغه په مور تظلم قیصی دا ډول کولی :زما پلار به دخوا ښی سره د نفرت پر بنا زما مور ته په کلونو دخپلی مور لیدلو اجازه نه ور کوله. او زما دموردغی خواری ورځی زه هر وخت ځور و لم که څــه هــــم زمـــا دا نا کــو ر مو ر کور ته، مخا مخ و بیا هــم دی اجازه نه درلوده چی خپله مور وو ینی یالور مور وو ینی.استاد فرخ په دغه وخت کی چی دمور قصه کوی تاثر دده طبیعت ور خراب کړاودماځخه یی مخ واړاوه ، خوورو سته یی سترګی داوښکو ډکی او وایی زمادمور دمړینی داغ نه هیریږی ماژړو پو ښته، مړه خو نه شوه اوپه بد مر ض ؟

استاد وویل : دازما دژوند حتی زما دماشو م توب بده تراژیدی ده او کومه خیالی تراژیدی نه ده چی په یوه افسانه کی یی شوك ولولی او بیا هسی هیره شی ، قصــــه وا وره اوښه یی واور ه !ز ما پلاریوه ور ځ مــــــلا وتړله او توره یی تر ملا کــړ ه، پراس سپور شو . دی دخپلی وظیفی خوا ته روا ن شو، کله چی دی تر کور ووت،زما مورچا دری وکړه غوښته یی چی تــر کور ،ووځی اود مور دیدن ته ولاړه شی په هغه وخت کی په ترکیه کی ښځو چادری کولی دی هم چاد ری کړی و هپــه دی فکر کی وه چی ترڅوزما پلار راځی زه به دمور دکور څخه بیرته ,کور ته را شم اوخپله مـــو ر چـــی ډیر عمر می نه ده لیدلی هغه به ووینم،خو تر اڅیدی ددغه ځــا ی څخه شرع کیږی چی زمسازړه د ژوندتر آخره داغی ، داسی چی دا مظلو مه دمورد د یدن تږی لادروازی ته نه. وه رارسید لی چی ددروازی تك تك شو دادسرای دروازی ته ورغله. چی دروازه خلاصه کړی دی بړغ کړه چی شوك یی !

ددروازې تر شا بېغشتو :زه يمور خلاص كړه .بدچانسي و گوره كلـــه چې زماپلار وظيفې ته تلی دده يوشي هير شوی و ، دی په هغه هيرشوی شي پسې راغی چې هغه واخلي،خو گوري چه زمامورچادري كړې دوتلو دپاره آماده ده، زما پلار چې زمامور پـــه

دې ډول حال كې وليدله توري ته يې لاس كړاوپر دې يې بېغ كړ: چيري تلې ؟ دهغې روح پخـــوا لاو تلي و پـــه الو تـــې اروا حـ يې ووېل :دمور كره تلم چې هغه ووينم

www.libtool.com.cn

پلار مې كلكه چې دتوري و ار ی جوړاوه دې په منده دكټ حدته څان ورسا وه اوتر كټ لاندې پټه شوه زماپلار پسې را منده كړه اوپر هغې يې بېغ كـــړ :راووزه! خو زما مور ؟!

هغه راوتلای نشی زما دپلا ر دقهر او غضـــب نار ی دې :راووزه ! چې د مو ر دليد لـــو خوند درو ښيم !هغه راوتلای نه شی ؟

وروسته دډير قهر اوغضب نه ! ؟ په دغه وخت بياداستا دشونډې په ريږديد لو دی ، لكه هغه منظره چې په ستـــر گووينې اوهم هلته ولاړ دې ژاړي او ژړايي نه در يـــږي ، شونډې يې ريږدي ستو نی يې ډكډك كيږي خبرې اوقصه يې پريښود له لكه دما څخه چې بيگا نه شوی وی .

ښه !يوساعت زماحال هم بلدی،خيال كوم چې استادفـــر خ به قصه پريږ دي ياد ا چې بيا به يې شروع كړي چې استاد په ژړا وايي ـــزما پلار هغه تر پښو نيولي په كشولو يې دكټ د لا ندې څخه را وا يستلـــه ـــهغه يې را وايستله ، خـــو زما دمظلومې مور كي روح پخوا لاددې مظلو مې نړې نه عرش ته الو تې وه، هغه ده وليده خودسره گلاب په شان يې مخ دسرې طلالو يدلې غاړ كې ته ورته ولكه په سپېر و خــــاو روكې چې لو يـــــد لـــــې وې د هغې ښا يسته بنې څان دتورو خاوړو ميلمه كړې و بيله دينه چې زما څخه دمينې په ډك زړه څخه خداى په امانې وا خلې هغه ولاړه! ولاړه!زه يې دنازونو اومو سكا دنړې سره بيگا نه پر يښو لم.

ما په دغه وخت كې داستاد پخواني خندا نې خولې ښې هيرې كړې وې .دده بنې ژيره لنبه كولو خو د مورد بيلتو ن قصه يې نا ببره لكه هيره چې كړه، په زړه يې خداى خبر !!
ورو سته بيله دينه چې بيا دپلار نوم راته ياد قدري كړي، ده بيا دڅان دروز لو قصه شروع كړه او داووېل :

استاد فرخ وو يل:

ورو سته دپلار تر مرگ نه ، زه دانا يعنې دمور دمور په لمن كې لوى شوم زه د مور د ځوانيمرگی نه پس دانا يعنې دمور دمور اود مور دپلار سره وم. كله چې نيكه مې مړشو يعنې دمور دپلار درو زنې اومهر بانې څخه هم محـــــرومه شوم و روسته به كله دما ـ مااوكله داكا سره وم داو زما دمور دمرگ نه زما دژو نـــدتريخ حقيقت چې روح يې را زمو لې لې او مړاوی كړې دی.په دغه وخت كې استاد وايې:زما قصه اوږده ده ور شـــه پرهغه خو كې كښينه چې رسم دې و كاږم.خيردی د آشنا يو دنړې دكړاوونو دڅپيرې دو هلې يو ياد به درسره وی، ماور تـــه وويل :زه هم دوه آرما نه لرم اودوه خواهشه :يو دا چې د ژوندتوله قيصه به راته كوې ـ خيرپه هر ځوورځو چې وی،،دوهم پخپل قلم يورسم كړې انځور به را كوې .

ده ژرد ميز خانه خلاصه كړه اويوه په خپل قلم كښلې شهر • يې راكړه اوما په (١٣٤٧)هش دجوزا د(١٤) گڼې په «زيرى» كې دده دويلې سوانح او د ملې سندرو دنو تيښتو نو سره نشر

کړه چي دا دیَ دَهنر مندانو اتحادیي دَ عمو میرياست مقام ته وړاندی کیږیَ ؟
خیر بیا داستاد څخه د ژو ندد ماجرا هیله ! ــ هغه وا یی :

راشه چي د ماشوم توب قیصی هم درته شروع کړم . زه هم تر پلار په آزار اوځوروا و ډیر کم نه وم ــ کله چي د پلار سره یم هغه ماته یو ښکروړمن یا پسه چي تاسی قوچ ورته وا یاست را نیولی ویوه ورځ می د پلار څخه پوښتنه وکړه : پلاره زما د مړښکرونه ځرنګه لویيږی چي ښه جنګ وکړی ؟ زما پلار راته وویل : څومری چي مړ یا قوچ ته ډیر وابښه ور کړی په هغه اندازه یی ښکرونه لویيږی ، ما سهار مړ چمن ته بوت هلته می وښوته ایله کړ چي په وښوښه موړ شی ــ زه ترنیمی شپی په چمن کی خپل مړ ته ناست یم چي هغه ډیر وابښه وخوری او ښکریی ښه لوی شی چي ښه جنګ وکړی .
زه ناست یم مړه ته په چمن کی ــ نیمه شپه ده او زما پلار ــ کلی او هر کور په ما پسی غواړی چي ما پیداکړی ، ځکه نیمه شپه ده . پلارمی سر ګردانه په ما پسی ګرزی او هر چاته وایی : زوی می دمړه سره د سهارڅخه ورك دی ــ دی وګرزید ، خو زه یی پیدا نکړم . د پرپریشانه کورته راغی او حیران ناست دی زه چي ښه نیمه شپه شوه ، مړ تر وابنکی نیولی دا دی کور ته راغلم ، او ورمی وټکاوه ، پلار می په ډیری ورخطایی وره ته راغی ، دوره دروازه یی خلاصه کړه . ګوری چي زه د تند پرسیدلی میړه سره په وره کی ولاړ یم . کله چي زما د پلار سترګی پر ما ولګید لی په ډیر قهر یی راته وویل : د وحشی زویه ! دا وخت دراتلو دی ، زه دی دستړیا نه مړ کړم ما ورته وویل : پلاره تا وویل : څومره ی چي خپل میړ ته ډیر وابښه ورکړی په هغه اندازه یی ښکر لویيږ ی او ښه جنګ کوی .

ماځو ستاد وینا سره سم عمل وکړ . هغه میړ و تاړه اولرګی یی پرما راواخست . ښه یی په درب ووهلم خو زه دبیری مړ نه شوم . استاد بیا دموردوژلو یاد چپ کړ ــ وروسته : دغه وهل زما ماما ته زما دتللو سبب شو ، چي بیامی د پلار دکور مخ ونه لیده . استاد فرخ وویل : زه ترشلو کلونو پوری د نیکه ، یا خوماما یا داکا کره وم ، او تر دریم تولګی پوری می په مکتب کی لوست ویلی دیَ . هغه هم دطب په ښونځی کی ، ما لوست وایه . خو وروسته خپل شوق درسامی ښونځی ته واچولم ، ما درسامی پر ځای دموسیقی مکتب ته ځان داخل کړ او په خورا لږه موده کی ما «عود» «وایلن» او «پیانو» ږغول زده کړل ــ دا هم په جرئت ویلای شم چي زما ښه ذوق ماته خورا ښه ملګری پیدا کړه .

او هغه ښه ملګری و چي زما د ښه پرمخ تللی تعلیم واسطه شی . اودغه ملګری و چي زه یی دترکیی څخه دفرانسی مسافر کړم ، ما دفرانسی دتللو خرڅ نه درلود ، هغه وفا دار ملګری و ، چه ما ته دفرانسی دتللو وهلته د ژوندکو لو وسیله شوله .

## د استاد فرخ افندی د فکربدلون :

استاد فرخ ویل : کله چي زه د ترکیی څخه تلم ــ په ترکیه کی ښځو چادری کولی ، سر کونه اسفالت نه وه . دخلکو ذهن تیت او وضع له هره پلوه خرابه وه ، خو کله چي فرانسی ته ورسید لومدنی دنیا ، مدنی ژوند ، اومدنی و ضع ، زه او ملګر ی

دیوه پسمانه هیواد او تیت‌کلتور خاو ندا ن او س‌هلته‌څه و کړو ، او څه وخو رو ؟ موږ د تحصیل دپاره تللی یواوپه هیڅ شا ن زمو ږ د کداری‌امکا ن نه لیدل کیږی . ما ته په دغه وخت‌کی دلــوږ ی‌ا وهری خوار ی مخ شو ، ملګورا ته وویل : فرانسی تـــه مو ږ را و رسو لی مګر دلته‌زموږ سا تنه پر تاده ـ داپورهم راپسی ، اوګرزم هـــری خواته چی ځـــا ن ا و د وی‌وساتم .

www.libtool.com.cn

## نوی نیکمرغی :

دفرانسی په یوه بازار کی‌ګرزم ، یو دکاندار نـــار ی‌وهی: په نیم ساعت کی څوك زما فر مایشی څهره رسمولای‌شی ؟

ماچـی دا ناره واوریده ژرراغلم د څهری کښنو نکو پــه ډله کی ودر یدلم ـ داد ی‌ما ته دڅهری کښنــلو وار ی راورسیدی ماڅهره‌وکښله .هوزمافرما یشی څهره دو مـــری د دکاندار خو ښه شوه چی ماته یی وویل :وروسته ترد ی ته‌زما د څهرو کښلو تکړه‌کښنوـ نکی یی او دو مری اجـــو ر ه‌راته مقرره شوه چی زما او دملګرو ګذاره په متو ســـط حالت په، کیدله .خو بیا هـــم‌ددو ی خر ځ ورکول‌را بانـــدی‌بارو . هغه و چـــی مادوی تر کیی ته و لیږل ځکه دو ی‌دزراعت شو ق درلود او پـــه فرانسه کی ددو ی ګـــذاره سخته شو له . دو ی‌ماترکیی‌ته و لیږل او زه په فرانسه کی پاتی شوم .

## داستاد فر خ په زو ند کی‌دیوی بلی نیکمرغی چانس :

استاد په دی وخت را ته وخندل اولکه خپل دمـــور ، دخوار ی اوکړ اوو نو خاطر و چی دی همد غه کړی‌پرینبود ،ده راته وویل: سم راتــــه وګوره چی درسم سکیچ دی لږ سم راشی دابه زما یاد ګـــاروی .او پو هیږم کندهار یا نږر آشنا یی تینګ خلك د ی دو ی هم لکه ترکان دو ستـــی‌ژرنه ایله کوی ، زمایاد ګارته ښه. ساتلای شی ـ دا یـــی وویل او په پنسل یی زمــــاد څهـــر ی په سکیچ شروع‌وکړه . دی زما د رسم پـــه سکیچ بوخت‌دی خو زما تلواردی چی دخپل ژو ند په سږ واو تو دو می خبرکړی . ځکـــه قصه نیمه غوند ی پاتی د ه،په دغه وخت چی دی زمـــــادڅهری په سکیچ اختـــه او لګیا دی زما رسم کاږ ی مـــاپری بږغ کړ : اوس لکـــــه چی ستا سکیچ خلاص غوند ی شو ، قصه شر وع کړه :اواستاد فر خ هم راسره‌موافقه وکړه او راته وی‌ی ویل : رسم به کرار کرار تکمیلو و قصه واوره :

زه به هره ور خ هغی‌قهوه‌خانی ته ورتلم چی ما بــــه خیری ور ته رسمولی ، او د رسم وروسته به ما دښه ډیرووږځو خر ځ برابرا وه . خـــوورځی دی تیر یږی پا ریـــس دی ،دناز کو غوټیو غوریدلی‌ګلان ، زه خو هم له نیکه مرغه ترکی ښا یسته ځوان‌یم او په همد ی و جه‌چی ملګـــر ی راځغه تر کیی ته تللی دی ا ودخر ځ ور کو لو څخه یـــی خلاص شوی یم بل خرڅ‌خو همرا د غاړ ه دی هغه ؟چی قصه یی و نه کړم ښه به و ی‌مګر دو مری ویلای شم چی د رسم‌کښلو پیسی نه شی په رسیدلای ـ هو ښیار ځوا ن یی‌ا و دځوانی تور ه بلا نه ده‌درپسی.خیر داد ی روان یم چی یـــوه قوماندان (ساوورو )نو میده پرما بږغ کړ : دغه رسمو نه‌چی ته یی په څو دقیقو کــــی‌کاږ ی دو مری عاید نه لـــری راسه دپا ستلو نو ،سکر واوروغنی رسمو نو په کار لا س‌پوری کړه ، دا روغنی‌رسمونه

تا ته دیوی اجور یٔ سبب کیدای شی او دبلی خوا به ته دهری ورځی دمنځ و را منځ و شخه
خلاص شی . ته کولای شی چی زما کور ته راشی اوهلته کار راسره وکړی او ړو ندخو
دخدا ی شخه دو ی سترګی غواړی . دا د ی د ځان سره می خپل ویلون هم واخست او دده
کور ته ور روا ن شوم . دده کور په «وارسا» کی و«وارسا» هغه ځا ی دی چی
www.libtool.com.cn
پاچها ن هلته اوسید ل او دنو موړی قو ماندا ن کور هم په «وارسا» کی و. دقو ما –
ندان کور په هغه ما نبی کی و چی سترګی پر بریښید لی.او هغه مو بل ، داسی ښایسته
مانبی ما په خو ب هم نه وه لیدلی .
پیا نو په سالو ن کی پرته ده زه خپلی ښځی او لور ته ورو پیش ندلم – دده لور چی
کومه پار چه وړ غوله هغه زما هم زده وه او د وایلو ن په ملګر تیا می هغه پارچه
ورسره وړ غوله چی دده داډیره خو ښه شوه .
زه نه (۹) ورځی هلته پاتی شوم او دقوماندان او دهغه دماند ینی عکسو نه می په
روغنی رنګ و کښل چی دهغو په بدل کی یی زر (۱۰۰۰)فرانګه راکړل چی زما ژو ند
خورا نیکمرغه شو او دژو نددنیکمرغی را ته مخه شوه ،قوما ندان علا وه پر زرفرانګو
ما ته یو «رکو ما ندا سیون »یعنی معرفی خط هم راکړ ، له هغه و روسته زه بیا هغه
قهوه خانی ته ورتلم او په کورو نو کی به هم ډیر رودخیری کښلو ته بیو لم او د
کورو خلك راسره بلد شول ،دوی هم خپل عکسو نه په ماکښل او ښه اجوره به یی
راکوله ماته دهرعکس کښلو په بدل کی دوه سوه ، دری سوه حتی پنځه سوه فرانګه
اجوره لاس ته راتله چی د ی ډول رسامی زما ژوند خورا نیکمرغه کړی و .

## زما دژو ند دښه چا نس پیدا کیدل :

استاد فر خ چی په قصو کی ښه ګرم معلو میږی یود م یی تغیر وخوړ ، دومری تغییرچی
زما ښه خیال شو چی د مور دنامرادی اند یښنه یی هیره شوه او ښه پر چم ، زه ورته
ځیر یم خو دی ورو ورو دخوښی او یا دونو سره لاس ا وګریوان دی .
استاد فرخ دیو ی ژور ی اند یښنی سره : ژواك ګرانه !
زمانه عجیب بچی زیږوی ،دورا ن ته یی دتحفی په دود ورو بخښی ځو ددورا نو نو
دهستی دسلطانی دتا ج غمی هم شی ، کله چی استاد فرخ ددی ډول وینا په کو لوخو له
خوړ و ی په دغه وخت کی وایی : زما نو په دغه وخت په فرانسه کی ژو ند ډیر سم شوی
دی چی نا ببره زما یو ترکی ملګری را ته راغی او را ته ویی ویل : آشنا خبر یی چی
په فرانسه کی دافغا نستا ن په سفارت کی یو خورا لوی سړی پیدا شوی دی او هغه
ددغه دورا ن یو نابغه د ی ،درځه چی هغه سفار ت ته دی بوزم او هغه په تاو پیژنم !
زه دومری په ځا ن باور ی شوی وم چی دژو نددروښنایی راته مخه ده ماده ته وویل :
درځه !
داد ی زه او هغه دافغانستان سفارت ته راغلو کله چی راغلو کور م چی یودترکی
ژبی پوه اودکړووړو شخه راته نابغه معلو میږی .
ژواك ملګری دا څوك و ؟
ملګر ی داستاسی د وطن لوی مبار ز د جهان دستمګر ولو ی دښمن ، دترکی ،عر بی

فرانسو ی او خپلی ژبی‌پوه ،ژور تا لست ، لندہ دا چــــی‌یوه آسمانی ملکه او فرشته،
محمود خـــا ن طر ز ی دی چی‌په فرانسه کی د اعلیحضر ت‌امان الله غازی له خوا سفیر
شوی دی !!دی په عین حـــال‌کی دغازی امان الله دبشر ق‌دآزاد ی‌دستور ی خسر هـــم
دی . ده ته یی راوستلـــــم‌هغه ، ترکی دمخه زه‌ورپسی‌ـزه یی سفار ت ته بوتلم‌هلته،

www.libtool.com.cn

نو اوس زه اوترکـــی دد ی‌نابغه سره کښينا ستلو ـ ده‌په ډيری مهربانی زمادتر کيی
شخه فرانسی ته راتلل‌اود لږ‌سر گذ شت پو ښتنه و کـړ ه‌بيا په فرانسه کی زما د کار
او شغل په برخه کی‌معلوما ت‌واخست او ديوه واقعی انسان په حيث ناست دی ـهره خبره
يی دمليو نونو قيمت لر ی‌که څه هم زه صرف‌يو رسام يـم‌دده «خيری » په خــــو ږ ه
ترکی ژ به زه په حيرت کـی‌اچولی يم – زما هغه ملگر ی‌چی زه‌يی و رو ستلی يم ښنـه،
په سياست پوه ترکی و ـدده‌او دهغه تر مينځ‌پر جها نـی‌مسايلو په ژ‌يږاته بيادمسلما

نو پر بيوزلی خبر ی شرو ع‌شوی . زه په سياست نـــــه پوهيدلم خو دمحمود خـــا ن

طرزی خبری ـ هغه لکه مورچی ماشو م ته غذا ور کوی داډول ماته‌دسې يو ددنياو بلد
تيا غذا راکو له زه يو غو ږ‌شوم .
رشتيا زما د ترکی ملگر ی‌غر ض څه و ؟

هغه غو ښت چی ما پـــــه سفارت ، افغانی سفا رت کی‌مستخدم کړی او ما ته يـــوه
سمه نوکر ی پيدا کړی ـکله‌چی زما دملگر ی سياسی بحث‌خلاص شو ، محمود طرزی زما
شخه پو ښتنه و کړه : «څنگه په سياست پو هيږی ؟» مـــاور ته وو يل : زه رسام يـم
او په موسيقی هم بلد. زه په‌سياست اصلا نه پوهيږم .

طرزی صاحب راته وويل :زماچی يو سړی په کار ووهغه ته يی – ته‌چی په مو سيقی
پوهيږی اورسام يی تر ټولواول زما يورسم دپاستل پـــه‌واسطه لوی کړه . ما هغـــه
رسم واخست هغه می دده پرطبيعت لوی کړ چی دده‌خور اخو ښ شو . زه اوس چـــه،
فرانسه کی دافغا نی سفار ت‌يو فرد بلل کيږم ـ ښه مـــی‌نازوی .

طرزی صاحب ما ته وويـــل‌افندم زه دترکی اوعر بـــــی‌موسيقی هم ډير شوقی يـــم
ما شاگرد و بوله مادمو سيقی دنو ټيشن الف ـ باور وښودله يعنی‌د(سی،لا،سول،فا، می ،
دو، ره) نخښی می‌ورو ښودلی‌بيا می پيانو او ويلو ن او دموسيقی نظری او عملی در س
ور کاوه ده ماته پنځه سو ه‌فرانکه اجوره راو تا کلــــه ،هغه خو دبشر ی نسل پلارو،

دده مهربانی دده لطف مـــــی‌هيڅ نه هير يږی – په عيـــن‌حال کی می دطرزی صا حـب
مير منی ته «عود » ښو ده.ما د طرزی صاحب عکس پـــه‌پاستل ښه لوی کړ او خو را

می زيار په وايست ولی دده‌عکس پرمادده دښو غ پـــــه‌واسطه گران و ،ما درسا مـــی
ټول مهار ت په دغه عکـــــس‌تمام کړ او س نوزه پـــــه فرانسه کی خو ښ خو شا له،

گرزم ـهر کار می جوړدی ـپه غم نه يم خبر څکــــــه‌محمود طرزی زمـــا دډوډی ،
ميوی ، در يشی او هر شی غم‌خوری او ماته يی ويلی وهغه پيسی چی د معاش په ر نـگ
درکوم هغه بايد ته وسا تـــی‌او دسبا دپاره يوه ذخيـــــره‌ولری . دده مهربانی دو مر ی
رابانده ی ډيره وه چی زه يی‌په خو له نه شم درته‌ويلای.زه طرزی غو ندی لوی‌انسان
پر افغا نستا ن، په فرانســـه‌کی مين کړی يم ، زما سـر ه‌دا آرمان و چی کله بـــــه
دداسی انسانانو مملکت تـــــه‌ولاړ شم او پخپلو ستر گو به‌دا وطن ووينم خو داد ی نــن
هغه آرما ن ختلی دی . ز ه‌ترکی افغان يم اوديوه افغا نی‌مير منی دغيږی شخه به پـر

افغانستا ن مین بچیــــا نراورم ، دا آرما ن مادر لو داوپهٔ دغهٔ هوس په فرانسه کی
کرزیدم خو روح می پــــــه افغا نستان کی چکر واهه . په دغه وخت کی فرخ را ته
وویل :

ته مانه پرېږدی چی ستاقلمی رسم سرته ورسوم زما قیصی اوږدی دی. هغه به سرتـــه
ژرونه رسیږی . افندی شروع وکړه او زما درسم د سکیچ په برداښت اخته شو ،قیصه یـی
پرینبوله . زه حیران یم ځکه له یوی خوا زما رسم دی پخپل قلم کاږی او ساعت په ساعت
زما خوښیږی او د بلی خــــوادده د بیوگرافی تکمیل ته ډیر تېړی یم علی ا لخصوص داچی
زما پلار به محمود طرزی سره پرجهانی مسایلو د مصطفی خان او محمد غوث خان نائب سا لار-
سره په ارگ کی خواړه بحثونه کول او دنړی واقعات بـه چی د اعلیحضرت امان الــله
غازی دمخه شروع کړی و ـدا تداعی او هغه دمجلس تابلو به راته حاضر ه شوه .

فرخ افندی په حقیقت کی هغه خبری راته کولی چی زما روح ، ماشوم روح ورســره
پخوا لا آشنا و . بیا هـم زه د ددوغرو په منځ کی ، یعنی ددرسم کښلو او بیوگرافـی د
تکمیل په غم کی وم خوزما اود ده مجلس خویوه ورځ نــــه وه - هغه ژ می - هغه وړ •
کوته ، یومیز چی یوه خـــوا ته یی زه ناست یم او بل خوا ته دی ناســت دی . دا دی بله
ور ځ بیا زما اودده قصـــــه شروع شوه او افندی آشنــــا وویل :ما او ده دوه کاله سره
تیره کړه خو . . .

## دفرخ افندی بیا استامبو ل ته تگ

استاد فرخ وویل : ما دوه کاله د محمود طرزی سره تیر کړه خو نابېره می استا نبول
ته دتللو هوس و توریدی هغه و چی مادا خبره د محمود طرزی سره شریکه کړه . دده پــه
مصلحت زه دده څخه استانبول ته ولاړم هلته ما خپل خپلوان ولیدل ددوستا نو څخه بیلیدل
سړی دوی ته تړی کوی . مادا تنده نه چی ماته نکــــړ ه بلکه زه نور هم دوی ته تړی
شوم او بیرته پاریس تـــه دراتللو په وخت کی ما اودوی ژړل . ځکه د بیا لیدلو امید
ماته چندان نه وزه د استـــانبول څخه په اور گاډی کـــی کښینستلم او ځان می بیــــا
پاریس ته راورساوه . کله چی زه پاریس ته راو رسید لـم نو فوراً محمودطرزی ته ورغلم.
محمود طرزی لکه زوی پـــه غیږ پوری ونیولم او ویی ویل ما هیڅ امید نه درلود چی ته!
به یی له ما سره دومری ښه وپالی - زما اوستا ژوند لکه چی سره شریك شو زمــــا
دسفارت دوه کاله پوره شو ی دی. زه افغا نستان ته ځم خوتاهم د ځان سره بیایم زما حو
دمحمود طرزی سره ژوند زه پر افغا نستان مین کړی و مفوراً می دهو جواب ورکـــړ
محمود طرزی راته وویل : ته به افغان هم شی - په رښتیاچی دغسی شوه . او زه دادی
نن افغا نی که ده لرم اولادونه لرم او لادو نه به می دافغانی اردو ملگر ی کړم په دغـــه
وخت کی یووار پرفرخ استــــا دیو نا آگاه تا ثیر را غی ډیـــر حریان شوم چی ولی ؟
ما ده ته کتل چی دی د تاثرښکا ره کو لو حکا یت څرنگه راته کوی دده په تاثر نــه!
پو هیږم ، چی محمود طر زی ولی کا بل ته دراتللو پـــه وخت کی وژ ړل؟!ادی خبر ی
زه هم حر یان کړم - بلی !محمود طر زی دافغا نستــان په بر خه کی دانگر یـــز او
افغا نی دښمنا نو په پلانو نو پوهیده استاد فرخ هم ښـــه سا عت چپ شو ورو سته نی
وو یل : ما خو ور ته ویلـــی و چی زه ور سره ځم خودد ه د خپل وطن ته دژړا علــت
ما ته معلوم نه شو - دځا ن سره می فکرو کړ، ته خودموسیقی عا لم او رسا م یـــی
لکه پ ه فرا نسه چی ښه په عزت شوی په افغا نستان کی به هم افغا نانو ته خد مـت
وکړ ی بل دا چی دپا چـــــاخسر دی یار او پلار شـــو ی دی ، څه پر وا چی افغانستان
ته ځی مادمحمود طر زی دراتلو سره خپل تگ افغا نستان تـــه ټینگ کړ . دادی زه او س د

محمود طرزی سره دافغانستان پر لور را روان شوم زه کابل ته تر را تلو دمخه د یوې بلې معضلې سره مخامخ غوندی شوم، هغه؟ هغه دا وه چې دمحمود طرزی پر ځای محمد نادرخان چې وروسته پاچا کیږی د اعلیحضرت امان الله غازی لخوا دسفیر په حیث

مقرر شو، هغه دسفارت په کار کونکو کی بد لونراوستی خوزما دتقرر سره یې په فرانسه کی موافقه وکړه. مگر محمود طرزی زما دپاتی کیدلو سره موافقه ونه کړه ځکه ویی ویل داد مو سیاسی لوی عالم او ښه رسام دی دی به دافغانستان دپاره لوی کار ونه کړی نادرخان هم دسفیر په حیث ما ته څه ونه ویل: دا معضله هم په خیر

او خیرت تیره شو له. استادفرخ په خندا، زه کله دمحمودطرزی څخه بلید لم ما عزم کړی و چې تر مرګه به زه دمحمود طرزی سره یم. پرماخو افغانستان دده په واسطه

دومری گران شوی و چې عین تر کیه را ته ایسیدلی وو. هغه و چې زه دده دیوه اولاد په صفت دځان سره کابل ته را ورسو لم.

هو! دادی هم هیره نه شی چې زه کابل ته تر رارسیدلو دمخه د محمود طرزی سره لندن ته ولاړم.

## په لندن کې يوه دوه يلووړ لوبه

کله چې لندن ته ورسید لم هلته په لندن کی یو «گراند اکسپوز یستون» یعنی یو لوی اکسپوزیشن و. هلته مونږ گرزیدلو و مو لیدل چې یوه لویه نقشه ده او په هغه کی سړی لیدل کیږی چې دجړو بی (آبشار) څخه کښته او پورته لویږی. خو سړی نه خوږیږی. او دا یوساعت تیری دی چې دلو بو یوه ښه په زړه پوری منظره یی جوړه کړی ده. زه، محمود طرزی او دده ښځه دری واړه هلته ور دننه شو لو. کاته مو چې ځمکه لړزیږی ښځی یی وویل: زه نه ور ځم دلته تاسی ته معطله کیږم داو لاړه زه او طرزی پاتی شو لو. گورو چې یو ه وړه کوټه مخی ته را غلله مونږ ته یی وویل: دلته ننوزی یو ازی زه ننو تلم او دکوټی ور را پسی وتړل شو. او س گورم چې مخی ته می یوه دروازه ده او له هغی څخه او به معلو میږی او دیوه ماشین دغو رید لوړ غږ پورته کیږی یو ځل می مخی ته دروازه خلاصه شوه او زه له هغی دروازی څخه یو ځل کښته ولویدلم کله چې ولویدلم پوه شوم چې هغه او به نه دی ما لوچ (پنبه) ده چې دماشین په واسطه پورته کښته کیږی او زه دماشین په واسطه کښته را غلم و می لیدل چې هلته ډیر خلک ولاړ دی، زما سیل کوی او خاندی زه هم له هغو سره یو ځای شوم. دروازی ته متوجه شولم چې طرزی صاحب څه وخت کښته راځی یو وار دروازه خلاصه شوه محمود طرزی ساختکی او بو ته راځی او لویږی دی ولویده او په تو پونو شو په دی وخت دمحمود طرزی د سر څخه (یوکا) یعنی ساختکی بو رو ښبنتان ولو یدل دلته خلک له ما سره ولاړ دی او دومری خاندی چه اندازه نه لری. کله چې محمود طرزی مونږ ته راغی وویل: رسوا رسوا شوم. د طرزی میرمنی وویل. زه پوهیدلم چې په تاسی پوری خلک خاندی، نو ځکه نه درسره ولاړم په دی ډول یوه هفته مونږ په لندن کی پاتی شولو. وروسته دبیړی په واسطه دهندوستان خوا ته را غلو. مونږ په هند کی اگره، لاهور او په ډهلی کی دقطب منارولیدل او بیا کابل ته راغلو. کله چې مونږ کابل ته راورسیدلو دکابل آسمان هغه چې خو له یی دخندا د-

www.libtool.com.cn

که ده، موږ را غلو دې‌شئ‌وباغو نوکړم ورته کا بل یعنې دمځکې دکرۍ ننداسته؟
باغچې ته خیر دکابل لیدل‌یوی خوا ته اودغازی امان‌الله خان دزمرې سترګې
دبلې خوا رښتیا به وایم چې هغسې خسر محمود طرزی‌ددوران نابغه اوهغسې
زمرۍ زوم چې هر نظر یې‌دشرق دآسمان‌ستورو ته دزړه ورتیا درسو نه ورکول
اود آزا دی رښتینایی منادی و.

هیڅ می دده ورین تندی،خوږه مهر بانه لهجه نه هیرېږی . اعلیحضرت‌غازی
امان الله دمحمود طرزی لخوا ورښتل ! داڅوک دی ؟محمود طرزی ورته وویل:
دموسیقی پوه ، ښه رسام‌او بالاخره زما زوی .!



غازی امان الله خان چې
داستقلال داسترداد سره یې
د افغانستان دپر مختګ
بنیان ایښې دی او د فرخ‌افندی
د کار مخه یې خلاصه کړیده .

اعلیحضرت په خندا :په رښتیا چې افغانستان دغرب
نوی رنګ ، مدنی او علمی‌موسیقی ته ضرورت لری‌دا
خو دخو شحالی‌او مستی‌قاصدتا دځان سره راوستلی‌دی !
ګران ژواکه ـ زه‌هغه وخت دخو شحالی تصو یرنه
په خوله ښېر ولی شم او نه په خپل فن .خو دخپل هنر
یعنی موسیقی پر دی، کله کله دهغه وخت د خوښی
یاد په پردوکی‌اداکو لای‌شی.امان الله خان غازی زه په
دی سبب چې محمود طرزی‌خپل زوی وبللم دشاهی‌تولی
کورنی ته ورو پیژندلم ،اوس نو زه چیری ژوندکوم
او څه حال می دی ؟ زه‌اوس دارګ دکمپنی په برج کی
اوسیږم .

## زما څخه یو وړو کی‌امتحان:

یوه ورځ خوږ مجلس‌دی،تول په‌خندا ، چې اعلیحضرت‌امان الله خان طرزی صاحب
ته وویل : تاویل زما زوی‌رسام هم دی ؟
طرزی صاحب ژر ما ته درسم‌کولو اسباب په‌مار‌اوړه‌او ویی ویل :
اعلیحضرت ته ! ته دلته‌مخامخ ده ته کښینه اووګوره‌چې دی ستا رسم په څو نه
عمر کی کاږی، زه کښینستلم‌د غازی مخی‌ته ، په نیم ساعت کی می داعلیحضرت
د څهرې سکیچ وکیښی‌اعلیحضرت غازی ته می‌راوړ . اعلیحضرت چې سکیچ
ولید په خندا یی وویل :زه په سکیچ سره ځان نه‌شم‌لید لای رسم پوره کړه او
بیا یې ما ته راوښیه .( په‌خندا) ډیر باریك بین‌رسام‌را ته‌معلو میږی ! ! ما څو
ورځی پر رسم کار وکړ کله‌چې تکمیل شو اعلیحضرت‌په‌داسی حال کی چې طرزی
صاحب‌ملکه ثریااود اعلیحضرت‌مور حاضروو د طرزی صاحب‌میر من څهره وغوښته اعلیحضرت وایی :اوس‌ته زما ورور یی ځکه‌ستا پلار طرزی صاحب
دی او ته ئی زوی شوی یی‌اوس به په رښتیا خپله ورو رولی در بخښم ،دا د
د اعلیحضرت معنوی تحفه چې‌زه به یی هیره نه کړم .
ژواکه ! زه دنا بغه طرزی‌زوی اودغازی دشرق دآزادی‌دمنادی ورور یم ، خو نن؟!
پوه شوم چې په ۱۳٤۸ کال‌کی ځان څوك وبولم‌او خپل‌تول کمال ددوران دقدرت
دخاوندانو په نزد بی‌قیمته !

www.libtool.com.cn

فرخ نابيره منقلب شو- ترسترګويي رڼي‌رڼي اوښکي وبهيدلي‌او ما هم ور سره وژړل ځکـه ما به هم نظر هغه و چه د ه‌ته وو زه خو هم‌دامير امان الله غا زی دمور ما مـاو د غا زی افسر زوی وم‌مګر پـه دغه وخت کی ؟

www.libtool.com.cn

زما همد تير وخت عزت او داوسني وخت حســـرت د زړه‌داغ و .

**ماته د غازی امان اللـه دخور په لاس دخوانچي بخښل.**

کله چي ماد اعليحضـر ت‌غا زی عکس په دو مـــر ی‌ښکلی تو ب رسم کړ اودتولو دتحسين ور . په دغه‌وخت کی‌اعليحضر ت دخپلي خور پـه لاس يو ه‌خوا نچه پتنـو س چی اصيل ور يښمين دسما ل پراو اروو ما ته پـه دوا ړ و لاسونو را تقد يم کړ او زه يي په دغي خوانچي‌ورو ياړ لم.کله چي مادښا يسته پتنو س‌خخه دسمال پورته کړ ، چـي دوه ميوه اما نی طلا وی پکښـــي پرتي دی.

داوه زما لو مړ نی شاهانه افغا نی ويا ړنه چي زمــــا د لو مړ ی وار د پاره پـــه پر خه شوه اود أسيادآزاد ی‌ستو ری امان غا زی ما تـــه را بخښلی دی .

**زما د بخت بل ستور ی هـم‌وځليد :**

دا هغه وخت دی چی اوس‌زما ارما نونه خيژی، ځکـه اعليحضرت د نفيسه صنا ـ يعو دجوړ ولو بنسټ ايښـــی‌دی اود هغه مشر زو ی‌درسم‌او انځور ګر ی يو افغا نـــی نا بغه دی ، چی‌زه‌دغه دوران‌ته د آرت دنړی ( ريړ دوژيما نتو)‌وی‌دوره‌يا درستا خيزدور وايم، ځکه غلام محمد رسا م‌چی اصلاً دافغا نستا ن‌دبلـخ‌دسيمي يعني دميمنی و هغـه يی مد ير او سر پر ست‌مقر رشو او زه هم هلته در ســم‌دښوو نکی په صفت مقررشوم چی په دغی دو ری کی ســر بيره پر دی چه افغانستا ن‌دآزا دی خا وند کيږی او آسيا ته دآزا دی داخستلو جر ئت‌ور کوی او افغا نســتـا ن دهرا ړ خيز مد نيت بنســـټ ايږدی يعنــــــی او ل وار دنظا منا مي په نامه‌د اسا سی‌قا نون خا وند کيږی او پـه اسا سی قانون کی‌د جها نـــی‌متر قی دولتو نو په رنـــګ‌دهر مدنی‌مترقی اقد ام‌تضمين کيږی ، دغه دوره داچی دغلا م محمد نابغه رسام چی نن يـــی( يعنی ۱۳٤۷ کـــال کی ) زه دآ رت په دنيا کی يادنفيسه صنا يعو په دنيا کی هغــــه نابغه بولم . چی مثل نـــــی په دنيا کی نشته . او ز ه‌په دی‌پوهيږم چی زه اودی به پـه افغانستا ن کی دوه داسی مکتبه جوړ کړو .چه د افغـــانستا ن را تلو نکی به دا ډيوه لګيد لی سا تی .

ژوا که و روره پـوهيږی‌چی محمود «طرزی» ووچی زه نی دفرا نسی څخه په خپل نا بغه طرز العل راو ستم .اودا سی ځای ته نی راو ستم‌چی هلته د ا زا دی ابـــد ی ډيوه لګيدلی ده او جها ن بـــه دآزا دی‌دلمر په رڼا ونازوی.

ژواکه وروره !ته پو هيږی‌که په جر منی کی په ۱۸۲۷م‌کی‌بتهون سمفو نی اوك کــــــر جوړ کړ ، نو ماد افغا نستا ن‌لپاره ( لويه سلا می ) جـوړه کړه . ته پوهيږی چه لو يـه سلا می دعسکر ی دنياد‌پا ره‌دحماسی هغه ږغ دی چی تولی‌فتــــع او بـــری يی پــه خپل غيږ کی ځا ی کـــړی دی .زه نه وا يم چه ماافغانستا ن‌ته څه وکړ ل ، ځکه داقصی اوږدی دی اوزما په بله بيـــو ګرافی کی‌به يی‌ته مفصلـــــه وګو ری . ځکه زه لمړ نـــی سړی يم چی ستا سی‌داردو دپاره ما دموزيك با ند و جوړه کړ ی‌ده . زه منم چی خـا لـــد رجب بيګ وار دوا ره‌داردو دد باندو قوماندان وو او هغـه امرونه صادرول هغه دعسکرـ

ئ‌موز یك تنظیم پر غـا ر ه‌اخستی و . خو ما ټول نظری کا رو نه تنظیم کړه ټاټو سي
می ورکړ . زه دا افتخار کـوم‌چه ما په افغا نستا ن کـــی‌دافغا نستا ن بچیا ن دی نه
آماده کړل چی دا فغا نستـا ن( پهړی ) یعنی غرنی آوازو نه هغه چی د سلیمان پر غــــره
آزانکه کوی. هغه چی د پامیرپر څو کو باندی، د سوز اوساز هنګامه تو دوی او هغه چـــی
www.libtool.com.cn
دسلیمان پرهغه غره چـــــی‌پر سر ئی سپینه واوره پر ته‌او په دا ودی نغمود ( هوما )
مرغه رابللی شی او د (سوما)پر شرابو جها ن‌ته مستی ورکولای شی . هغه نغمی ما په
افغا نستان کی د اعلیحضر ت‌امان الله‌خا ن په وخت کـــی‌د محمود « طر زی » په تو جه
او د غلام محمد میمنګی پـــــه ملګر تیا د رسم په دنیـــا او د‌تصو یر په جها ن کی ژوندی!
کړی . نه پوهیږم چـــی د غــه اهنګو نه چی دسپین غره ا ودپا میر د څو کو څخه پور تـه
کیدل هغه ما ژوندی کړ ل ،ما نوټ کړل . او دا دی نن ئی‌دیوه کتاب په‌حیث ستاسی د
حنجرو څخه اخلم او نقش ئی‌دتو لی دنیا د خوږ و نغمو په سیند کی ور کډوم .

ژوا که ! ماو بخښه زه په‌دغه‌وخت کی چی ستا سره ناست‌یم د امان افغان غازی د مینـــی
او محبت یادو نه ته وینی چی‌کله ما ژړوی‌او دی حدته می‌رسو ی چی ستا ستر ګو تـه
هم ددغو مرغلرو تحفـــه د رو بخښنم .زه وینم چی زما د ا وښکو تو یلو په‌وخت کی ستا
تر ستر ګوهم اوښکی توی‌شی.
منم چی زه تا ته دخپل ژوندخاطری یادوم مګر دا خاطـر ی کومی خاطری دی. ژواکـــــه!

ورورہ ! پو هیږی زه ئی ځکه نشم هیرو لای چی امان افغان‌غازی به هیڅکله هیرنشی .
وایی دی د افغانستان نـــــه بلکه د جهان په تاریخ کـــی‌دیا دونو زرینه ګر ښه ده .
زه پوهیږم چی د افغا نستـــا ن‌د قلم پلار او د نهضت بنسټ‌ایښوونکی محمود طرزی نــه!
هیریږی چی د افغا نستـــــان بچی چی کله دقلم په څوکه نازونه کوی . نو هغه وخت
به د محمود طرزی د مغـــــزورنا ددوی ملګری اومله وی .

ډ یر وبخښنه کلـــه چـــی زه‌د یو رسام او دیوه موسیقی‌دان‌په حیث خپل نوم اخلم . پو ـــ
هیږم چه د افغان راتلو نکـــی‌نسل به په خپلو خوږو نغموکی زما مینه ناکه څیره نکړی
هیره ته دا یقین ولره خـــو زه‌دومره درته وایم چی زماد هنر د خدمت دوران د افغانستـــان
دیوه رینسانس او دتجدد دوره‌ده . څرنګه چی ما په دغــــــه تجدد کی لوی سهم اخیستـــی
دی .خو زه دانه هیروم . چـــی‌څوك وچی زه یی د فرا نســــی‌څخه د زوی په حیث په‌داسی
حال کی چی زه ترك یـــم راوستلی یم . او دا زمینه ئـــــی‌راته مساعده کړی وه چی ز .
د افغا نستان د بچو دپـــــاره‌هغه خدمت وکړم چی په جهان کی‌د هنر خاو ند انو کړی‌دی.

زه په‌دی پوهیږم چی افغــــــا نستان د هنر نه بلکه دمدنیت‌زانګو ده . افغا نستان کـــه
دجمشید یعنی‌د بلخ دپاچا دهغه جام خاوند وو چی جام جهان نماورته وائی دا جام جهان نمـــا
هغه جهان دی چی کله عر ب‌بلخ ته راغی او وائی مــو ږ ا م البلادته راغلی یو. یعنی
د ښارونو مورته راغلی یــو .زه هیڅکله دا نه هیرو م چی‌زما د یادګارونو نقش بــــــه
خپلو خاطراتو ته وسپاری. دا څومره لوی خدمت دی . چـــــی‌ته یی دیوه خدمتګار د خدمت
دپاره په بل رنګ کوی .اوس‌راشه چی زه دهغه مکتب یا د نفیسه صنایعو هغه یادونه هم
هیره نکړم چی په د غه مکتب‌کی دماسره ملګری و. کلـــــه چه پرو فیسور غلام محمد د
دغه مکتب مدیر مقرر شو. نوهغه وخت زما سره څونورسامان هم چی‌و دپرو فیسو ر
شاګردان شول . چه په هغه‌کی لوی کسان دغه دی :اول‌غوث الدین رسام چه نـــن د

د رسامۍ په جهان کې یو ښه رسام بلل کیږي.دویم ـ خیر محمد رسام( کله چه فرخ افندي د خیر محمد نوم واخیستی ما وخندل اوفرخ افندي حیران پاته شوده وویل نه پوهیږم چه څه خاطره تاته په یاد شوه چه د خیرمحمد خان رسام د نامه اخستلو سره تا وخندل ماورته وویل دا هم یوه خاطره ده . کله چه ته وائې زه محمود طرزي زوی وبللم اوددې تولو افتخار اتو خاو ندئي کړم . او کله چه ته د امان غازي د طلاو بخشش نشې هیرولای کله چه ته دغلام محمد میمنګي سعی او تلاش نه هیروی کله چه ته درجب بیګ ترك آمریت نه هیروي‌نوما ته حق را کړه چه په قند ها ر او د قند ها ر په دارالمعلمین کې هغه ساعت‌نکړم هیر ، چه‌خیر محمد رسام هم وماته د رسم کولو دسکیچ‌اصول راوښوول خیرمحمد رسام‌زما استاد دی دده نوم دیوه استاد په حیث خپلو خاطرا تو ته‌په ډیر احترام سپا رم) کله‌چه فرخ افندي زما دا خبری واوریدلې او د خیر محمدرسام‌نوم ته ئې زما احترام ولید ،نا ببره راولاړ شو . او پر سر یې مچ کړم . اووئې ویل:نه یو ساعت کښینه چه ستا رسم تکمیل کړم. دی کښیناستی او زما درسم په پرداس ئې‌شروع وکړه . په رښتیا چه پر هر چا خپل ځان ډیر ګران دی . او کله چه داسی زما رسم کاږی ډیر خوش یم . اودځانه سره وایم ژواکه! ښه دی چه ډیرښه رسام هغه چه د محمود طرزي رسم‌ئی کښلی‌دی . اوهغه چې د اعلیحضر ت امان اله غازي رسم ئی کښلی‌دی پریږده چه دیوه شاعر رسم هم وکاږی ، او د یادګار په ډول ئی ماته وسپاری .خو بیاهم څه وکړم ، دده خاطرات دیوی خاصی دوری دفرض یوه اداده. چه باید ژر زه‌هغه پوره کړم. ځکه زه‌پوهیږم‌چه فرخ افندي د نادر خان د کورنۍ ښه نه ایسی نه چې‌یوه بانه ورته جوړه کړی .او بندي ئی کړی یا خوئې مړ کړی ځکه ددی کورنی یعنې‌د نادر خان د کورنی عادت وچه اما نیستان ئی یاخو وژل یائی تبعیدول یایې په زندانونو کې خاوری کول .

زه هم څنګه چه دامان‌الله‌خان د یو افسر زوی یم اوپه عین حال کی دهغه مکتب معلم یم چه نادر یې و ژلی‌دی . زماتول توربرونه لکه ،شا غاسی ـ اسحا ق جان ا و یاور محمود شاغا سی‌او نورزما تو ل تور برونه په ارګ‌کی بندی‌دی . دمرګ او ژوند هیڅ احوا ل یې نشته ، نو زه‌هم‌دیوه ډیر محتاط انسا ن په حیث ژو ند کو م او پد ی پوهیزم چه که څوك‌خبر شي.چه فرخ افند ی اوژوا ك دکومی دور ی د نهضت یاد ـ ګارو نه لیکی نو دواړه به دزندان ښې میلی هم و کړ ودا ویره راسره ده ، نو ځکه دخپل عکس کښلو ته‌ډیر تلواری نه یم اوپرده می بڼغ کړ : خپله بیوګرا فی تکمیلوه. فرخ افندي ښه پو هیږی چه‌ژواك وخت پیژنی موږ ته ښه چانس داد ی چه د کابل دبا غ عمو می د رادیو په مدیریت کی یوه پسخا نه‌غوندی کو ټه راکړل شوی ده چه موږ هلته دنو ټیشن کارو نه پر مخ بیا یو یعنی‌زه دقندهارملی آوازو نه ده ته وایم.دی یې دیو پیانو دپرد ی په واسطه اخلی بیا یې د (فا ،ری، سو ... ) په واسطه د موسیقی پر خاص کا غذ نوټوی . دا یو عجیب چانس دی.چه مو ږ ته په‌لاس راغلی دی . یعنی زه او افند ی‌په یوه کوچنی کو ټه کی دیو ه‌لو ی نهضت تاریخ لیکو خو څوك ند ی راخبر. که‌را خبر‌شی‌دمو رشیدی به‌پر موږ قې کړی .

افندي بیاهم شروع و کړه‌ده وویل : زموږ بل لوی‌رسام کریم شاه خا ن چه په

www.libtool.com.cn

حقیقت کی دغه شاگردان دپرو فیسو ر غلام محمد په زیارمیدان ته راووتل په دغه وخت کی ما پو ښتنه څنـــــی وکړه . افند وم ! کله چه ته ددغه دوران د رسا ما نو خبری کوی ماته یو بل درسا مـــــی ،موسیقی او ډرامه ئو یســــی یو لوی نابغه په فکـر راو - ګرځید ی چه هغه عبدالغفو ر«بریښنا »دی . فرخ افند ی وویل : زه دیوه خاص دو ران خبر ی در ته کوم‌هغه دورا زمونږه و روسته نادر خان دزندان‌سترګی پرو لیدلی زه پـرو - فیسو ر غلام محـمد یادو م ـهغه په حقیقت کی دافغانستان درسا می نهضت یو رب النو ع بولم . دا چه تاد عبدالغفو ر«بریښنا » خبری وکړی. هغه‌واقعا نابغه دی . هغه بیـــا وروسته دنجا ت د مکتب‌څخه‌چه اصل نوم یی امانی لیســــه‌ده راووتی جر منی ته ولاړ. په جر منی کی یی واقعاځانته خاص مکتب را وایستی.دی دغلام محمد پرو فیسو ر تـــر ښنګ دیوه بل مکتب خاو نـددی هغه استا د دی . هغـــــه‌واقعا رسام دی‌چه دیــــــر شاګرد ان یی روزلـــــی دی .وروسته دغه نا بغه د صنایعو‌مکتب په پر مختګ کی ډیـر لوی کارونه کړی دی هغـــــه‌واقعا دمو سیقی یو لـــــو ی‌استاد دی . خصو صا د هندی مکتب یو لو ی‌استاد ور تــه‌ویل کیدا ی شی ـ ده ډیـــــرفلکلور یك کمپو زو نـــــه جوړ کړل ـاو د مو سیقــــی‌په اوسنی مکتب کی چه ته یی‌منتظم یی هغه هند ی سبك جوړ کړ او یوه برخه یـــــی‌دغربی مو سیقی‌ده هغه دهندی‌برخی لوی استاد دی . ژوا که دا ونه‌وایی‌چه ته‌دعبدالغفورخان بر یښنا په بر خـــــه کی‌مبالغه کوی بلکه د هنـــد ی مکتب په برخه کی دهنـــد ی‌راکو نو استاد غلام حسیـــن‌دی. مګر ستا دی هیر نشـــی چه ماستر معراج الد ین دمدم‌استاد و ، استاد په واقعـــی‌معنا د هند ی موسیقی لـــو ی استاد دی . دا چه زه پـــد ی‌مکتب کی دغه او س یـــــو ه‌سلسله شاګردا ن لګه سر - مست او ننګیا لی روز م د غه قسم استاد غلام حسین‌اوماسترمعراج الدین هم ښه‌شاګردان روزی . خو زه دا باور نلـرم‌چه دهند ی موسیقی په برخه‌کی به دولت‌دا مهربانی وکړی چه داستاد غلام حسین‌اوماسترمعراج الدین کار سر تــــــه ورسوی .چا چه محمو د تبلـه چی ، او ناظر هم پدی لارکی‌کوشش کو ی خو که دو لت‌دغه کسا ن ورسو ی یا یـــی هند ته واستو ی لوی خد مت‌به یی کړی و ی.یا خو زمـاشاګردا ن چه همد غه او س (یعنی په ۱۳۴۷ کال کی ) ما روزلی یا زما پخوانی روز لشوی لکه عبدالو دود خـــا ن ارو پا ته واستو ی بین‌المللی‌شخصیتو نه څنی جو ړ یږ ی.خیر ژوا که زما اوستا خبر ی له وخت نه لړ پخوا دی . زه‌پدی پو هیږم چه د هغــــه‌وخت استاد غلام حسین پیا نو ږغونکی یا زما غو ندی‌وایلون‌ږغو نکی هغه وخت روزل‌شوی‌وای خو مره لوی خلك بـــه را څنی جوړ شوی وای .

www.libtool.com.cn

## زما دبد بختی شرو ع :

نا ببره دافغانستا ن هغـــــه بدبختی شرو ع شو • چه په پاریس کی په افغانی سفار ت کی محمود طرز ی‌پر ژړ لی‌و.ښه می په یاد دی کله چـه‌محمود طرز ی ته کابل تـــه د راغو ښتلو احوا ل را غـــــی‌چه، ته نور سفار ت پر یږده، ده وژړل . خو زه نه پو هیدلم چه دی ولی ژاړ ی ؟دی‌خبر وچه دانګر یز نا مرد پـــلا ن‌په افغا نستان کی څه و.هغه دغازی امان‌الله خان ور کیدل‌و. دلته په افغا نستا ن کــــی‌یو دم دعا مه خلکو ذهنیـــت

ملایانو ، روحانیونو او وانګریزی اجنټانوخرا ب کی.پر امان الله غازی دا دشرق دآزادی پر ستوری با ندی‌دکفر حکم و شو . زه بنسه پوهید لم چه زما عاقبت به څه شی ، ډیر دتعجب ځای‌دادی چه ما دپاریس ښځه دځان سره دکالیو ګنډ لو یو ماشین هم راوړی و. خو کله چه به داعلیحضر تامان‌الله‌خان دکورنی کالی جوړیدل .

www.libtool.com.cn

نو زه به دخیاطانو سره‌ناست‌وم‌خیا طی به می زده کوله .ماته داخبره‌په زړه کی واکر ځید له چه ته به یووخت دزندا ن خاور ی بو ی‌کړی .ځکه زه خوامان‌الله‌خان خپل وروربللی وم . نو ما خیا طی زده کړه. تردی اندازی‌چه ما به داعلیحضرت‌امان الله خان دکور نی کا لی پخپله ګنډل .ژواکه څه ووا یم !(کله چه فرخ افندی‌دا خبره وکړه . دو مره منقلب شواو دو مره یی خیره‌سره و اوتوره شوه ، چه زه وبیریدم چه او س به دفر خ افندی‌زړه و دریږی فر خ افندی‌یوبنه ساعت چپ کښیناستی . وروسته یی په ژړا شروع وکړه . دو مره یی دا وښکودریا بو نه پر مخ را غله چه زه هم په ژړا شوم ، بنه‌ساعت په ژړا تیر شو .د دواړ و زړو نه همد غه ساعت لږ تش شول . )

فرخ افندی ما ته مخ‌راو ګر زا وه . او ویی ویل‌ژواکه !انقلاب پیښیږی شو. بد حال شو هغه چی داعلیحضرت‌ډیر خپلوا ن و هغه تر لږدده څخه بیزاره شو ل وضعه بدله شوه بنه می په یاد دی‌زه داعلیحضر ت امان الله خان‌دمیر منی ملکی ثر یا په کالیو ګنډ لوبو خت یم نا ببره اعلیحضر ت امان اله خان همد غی کو ټی ته راغی . ګوری چه زه د ملکی کا لی‌ګنډم ده مخ راواړاوه ، اوراته وی ویل : ای د مو سیقی لوی استاده او ای د رسا می‌دمکتب بنسټ اینبو ونکیه لکه چی‌زما او ستا ارما نونه د خا ورو سره یو ځای شول .

افندی وروره ! ما غوښت‌چه مصطفی کمال اتا ترک غوندی چه تر کیه ئی د ډیر ی ورو سته توب څخه راوګر ځوله زه هم افغا نستان د دی‌بد بخت حا له څخه وژ غورم خو څه وکړم ډیر لوی دشمن‌لرم او ډیر ساده ملت . بنه می په یاد دی کله چه علامحمد اقبال د لاهور ډیر لوی شا عرماته راغی هغه راته وویل :

(میری خیل از مکر پنهانی بترس )

( از ضیاع روح افغا نی بتر س )

علا مه اقبال یو شرق‌شناس‌ؤ . ده شرق بنه پیژ ند ی .او پدی پو هیدی چه زه څومره لوی دشمن لرم هغه خوار کی‌خو دهند مړه ملت ته ویلی‌و .

( ای ز خو دپو شیده خو درا بازیا ب )

( د رمسلمانی حرا م استاین حجا ب )

هغه پو هیدی چه آسیا ځان ندی پیژ ندلی دبنمن لو بی‌ور باندی کو لای شی . افند ی وروره ما غو ښت چه د افغانستان‌د آزادی سره هند -ایران - عراق - سور یه - مصر - عر بستان سعودی‌افریقا او آسیا دبرطا نیی‌د بندڅخه خلاصه کړم . خو افسوس دافغان سا ده ملت په ماهغه تو که و کړه لکه په خوشحال‌ختك چی ئی کړی وه، څنګه بنه ئی ویلی و.

(ځینی څه لو یی د عوی‌لرم په زړه کی )

( ولی څه کړم چه افغان‌واړه بی ننګ دی )

داچه هغه به ویل :

(دافغان په ننګ می وتړ له توره ) .

( ننګیالی د زمانې خوشحال ختک یم )
بالاخره ئې په غره کې په ډیرې خوارۍ او بېچارګۍ مړ کې.
خوشحال مړ شو. خو افغان لاندې مړ مګر افسوس پدې چې ماترک غونډې د بد -

بختۍ څخه خلاص کړې وائي خو دا ونه شوه. افندي را ته وویل چه اعلیحضرت زه پر سرمېچ کړم او را څخه ووتې. مګر مادملکه تر یا هغه نازولي کمیس چه ما دې ته ګنډ ی دستر کو په وینو وګنډ ی. ماوژړل، دومره مې وژړل چې په شپو شپو مې دډو ډ ی څکه و نکړه. افندي وو یل: او س نو وبخښه زه پوره تا ته قصه نشم کولای. نن ما پرېږده نوره قصه زه بله ورځ در ته کوم زه او افندي یو ساعت په ژړا کښېناستو او بیا مو وروسته ستر ګې ښې پاکې کړې او دواړه پټ د کوټې څخه راووتو قصه بلې ورځې ته پاته شوه.

www.libtool.com.cn

## دبلې ورځې قصه!

افندي بیا هم په هغه وړه کوټه کې وایي: پېښنه ده دلته دامان الله د تجرد، دافغانستان د نوي کولو او داروپا دصنعتي انقلاب مثال ته ور ته کېدلو تلوسې دې اخستې دې خو د بلې خوا د ملت خلک دده دغه تلوار د ملت د زغملو نه بولي، دلته خو نهضت له هرې خوا روان دی هر څه پر بل مخ اړ و لغوا ړې. د ملت سره د یوه مخه نفرت نشته. ځینې د ده د پر مخ تګ تنده لیو نتوب غوندې بولي.

ژوا که! زمان دغه ډول را غلې دی په ایران، جاپان، تر کیه حتی هند کې حرکت شر و ع دی او اعلیحضرت هر څه او ری او اروپا یي د صنعتي او تجارتي انقلاب سره لید لی ده. د بلې خوا دلته دده سره حتی کله دوستان هم سر نه ښوروي - ښه. مې په یاد دی، اعلیحضرت را غی، دې د پغمان دلو یې جر ګې څخه را غلی و طبیعت یي خته و، ما دو یلن تمرین کاوه چې دده څهره په کو ته را ننو ته، دې ښه خفه ایسېده او را ته ویې ویل: یوه ښه دسوزا و ساز په نغمه مې دز ړه زنګ راواخله. ما هم یوه ډېره ښه نغمه وو هله خو دنغمې او رید لوورو سته یي وویل - دوستانو هم لکه چې لاس را څخه وا خست. نن عجیبه پېښنه ده کله چې ما دکار اجنده داوي صاحب، عبدالرحمن لودین او میر قاسم خپل منشي ته وړاندې کړه دا وی صاحب خو نه منله، مولوي عبدالواسع خو په کفر کې را ته ور ك و؟ لودین هم انکار وکړ ما میر صاحب ته وویل: استعفی ځنې واخله ماغوښته چه عبدالها دی او لودین استعفی وکړي. مګر ما ته دري استعفی وی را غلې میر سید قاسم زما منشي هم خپله استعفی را دمخه کړه. حیران شوم چې دې یي څنګه ملګری شوي و- زه دعلي احمد مستوا لي، محمد ولي خان او د سید حسن حسن او محمد ګل مومند څخه ګیله نه کوم هغه خود غرض خاوندان را ته معلومېږي خو او س زما داعتماد خاوندان هم وايي: تر وخت دمخه مې لیخی را نغښتی دی او دا سی نور زما کارونه دمخه تر وخت بولي دو ی نن زه په مجلس کې نا امیده کړی یم، ملا، روحانیي او خوار عوام تول هم دلته په کابل او هم په اطرافو کې تورید لی دی زما دنهضت ارمان کښېنل لکه چې ما ور کوي، دښمن پیژ نم، انګریز ظالم دی. مګر دا چې نن ملت تول زما څخه او ښتي او د ملت په خوار پاتې کیدلو خو مړ دی. افندي دا ما ته دزغملو نه ده، زه خپل و جدان ته په دې ډول مخالفتونو تسل نه شم ور کولای، زه به ځم پر مخ خود مخالفتونو اندازه چې هر څو مره ده وی به، تو کل پر خدای! ! دا یي وو یل او ډېر خفه دما څخه ووت. ژوا که! ډېر دملت د پر مخ تګ تږی لاڅه چې ور ته لیو نی وخو څه وشوه؟!

دلته په کابل کی د هرچا تر خولو او ریدل کید ل چی حبیب الله خادم دین رسو ل الله پیدا شو ی دی او هغه اسلام راولی.

افند ی ـ په ډیر تاء ثردسلطا ن عبدا لحمید دور چی ترك یی تر کندو واچولي و .

www.libtool.com.cn

وایی هغه شان بد بختـی دلته راتلو نکی ده . داو شوه په کابل کی دده ملګر ی ځینی خفه شوه او دتـو ری شپی مخ !

## دیوی ورځی قصه :

حبیب الله دسقا و زوی راغلی ـ ملك حسین ! هغه په در بار کی نا ست او ویی ویل: دغه سړی ښه ساز نده ه دی!او شیر جان وز یر چی مد نی غو ندی و هغه وو یل : د ا سړی ښه پیانو وهی ـ دادی ما پیا نو را وړه او هغه فـر خ چی د محمود طر زی نا بغه زوی دی اود غا زی امان الله ورو ر ور ته ویل شوی دی ،ننی یی شیر جان وزیر حبیب ـ الله دسقاو زوی ته کښینوی او پیا نو په ږغوی ،زما نـی راو ستلی ده په پیا نو وهلو می شر وع وکره .

ژواکه !لکه پیا نو چی هم‌دسوز په ژړا سر شوه او ما په پیا نووهلو شر وع وکړه: دوی ته یی خو ند ور کړ .تر دی اندا زی چی دسقـا وزوی حبیب‌الله چی د شا هی پرتخت نا ست دی امرو کړ :فرخ ډیر ښه ساز نده دی ،زر افغا نی ورو بخښی !دادی او س ساز نده شو م؟ و ز ورو یی هم ګټم .

بله عجبه !! کله چی په پیا نوو هلو خو شحا له شو یو ښتنه یی وکړه چی دی‌څه کا رکوی ؟ دد ربار یوه‌سړی‌وو یل : دی خیاط دی، ښـه کا لی ګنډ ی.

سقا و دی دنوی پا چهـی‌خاوند ـ امریی وکړ : د امـان‌الله پا چا تول دخیا طـی ما شینو نه ور کړی چی‌یو ه‌کار خانه جوړه کړ ی ـ هغـوهم تول ما شینو نه راو ړه‌او یوه کو چنی د او بد لـــــو فابریکه می جوړه کره ـ اوس‌نه رسام یم ـ نه‌هم دموز یک مشر دیو ی کار خا نی‌مشریم.( ۳۰۰ ) افغا نی می تنخواه‌ده. ا و س نو شا کرد ا ن د ی ا و زه ،اوزه اوبد لور ښیم ـشرع ده خولکه خر نګه چـی‌دده دپا چا هی عمر لنډ وزما دکار خا نی عمر هم لنډو.بیاګړ بر پیښ‌شواو دادی‌نادرخان‌راغی ـ سقا و پـــه دارو ـ ځړیدی .

دخپـلو ملګرو سره پــه حضو ری چمن کی دری ورځی‌ځر ید لی و .د هر یوه‌پرتټر یی اصلی نوم او منصب‌لیکلی‌و . ښه می په یاد دی کلـه چی حضو ری چمن‌د لته چـی نن دخلکو ګنه ګو نه ده، دیارلس( ۱۳ ) کسه په دار ځړیدی‌او هره یوه پر تټر لیکلی‌دی « حبیب‌الله مشهور به بچه یی سقا » ، « حمیدا للـــــه مشهور به سر دار اعلی »او ...

دامنظره ما په خپلو سترګو ولید له .

ژواك ورو ره ! نه مــــو پر یږدی تیر ی شو ی، ولی‌موږته دزهرو ترخی خا طر ی را یادوی‌ـ ما هم غم‌ته سپاری‌اوخپل زړه هم خوری ـ لنډ وه‌یی دتیروخت قصی‌دی ـدادی نن زه او ته درا دیود دفتـرپه یوه وړه کوټه کی بنــدیان یو ، دبا نـدی وا ورو قیامت جوړ کړ ی‌دی ـ کـه نر یی ور ووزه !!

## زما دمرګ او وژ لو اراده !

اوس یی کوره ـ دنادر خا ن دوستا نو زه دسقاو دزوی دوست و بللم او هر څه چی می درلوده
هغه یی لوټ کړه ، اوس می دمرګ او وژلو تد بیر ته جوړ دی خو داچی نادر خان تر کسی
بللم مړیی نه کړ م لخ لېږ، په خوا ره خوا ری . بیا فرخ واخته شو، څه وو ایم !!
www.libtool.com.cn
زما ویلون یی هم واخست. خو بیا ملګرو په سلړو پیزه او ویلون دوا ړه دمرګ
څخه خلاص کړو ـ ورو سته د نادر خان په یاد شو م چـی دا سړی خو ما په فرا نسه
کی لید لی و اود محمود طرزی څخه، می غو ښت ، هغه نـه کړ را ـ کله چی ده وپیژ ندلم
په غیژ پو ری یی ونیو لـم ویی پو ښتلم افندی څه حال دی دی ؟ ما ور ته وو یـل :
چور شوی یم دډ وډی درا نیولو قد رت را سره نشتـه ، هغه و چی ده را ته وو یل :
دلا سه. تللی دی بیر تـــه لاس ته در ځی ، مه وار خطا کیږه ، دادی او س نا در خان
را غی سلام خا نی ته تـو ل خلك را ځی . زه هم ور غلم کله چی دنا در خان ستر ګی
پر ما ونښتی ده په غیږ پوری ونیو لم او اوس ما ته داوری پیدا شو چی دکا بل څخـه
دو تلو پا سپو رت وا خلـم اود افغا نستا ن سره خدا ی په امانی وکړم مګر . . .
دادی بله ور ځ بیا سلام خا نی ته ور غلم ، چی پـاسپورت وا خلم خود پاسپورت
را کو لو نه یی انکار وکـړاو ویی وویل :
موږ او تا سی به دلته ستا دفن رسم او مو سیقی څخه ښه کار وا خلو ، زه خو ستــا
دفرا نسی ملګری یم دهضمنأرا ته وو یل : دا چی او س کور نه، لری فعلاً زما سـر •
په ارګ کی او سه ، ستــادپا ره په افغا نستا ن کی ښه لوی ضرو رت شته . زه خو
غوا ړم چی دلته لوی کارو نه وکړم خو ته پو هیږ ی چـی دافغا نستا ن هستی لوټ شوی
ده او دا لوټ شوی ملك څه حو صله غوا ړی ـ ته دا فکرمه کوه چی زه به تا تـــه
په سپکه وګورم ستا قدر ستا په هنر کی پټ دی ، پوهیږ م چی ستاهستی هم دخاورو سره
یو ځای شوی ده خو ستــــاهستی به هم لکه دافغانستان هستی ژو ندی شی.
ژوا که ! کله چی ماد نادر خان پا چا خبری واوریدلی لږ امید را ته څکه پیدا شو
چی دسقاو د زوی حبیب الله دو ران می ولید ، دځان سره می فیصله و کړه چی افندی
او س خو تر کیه پا تی شوه او فرانسه هیره ـ دلته تادیر ناز داما ن افغان په لږ وخت
کی ولیده هغه دو ران خــوافغا نستا ن بیا نه شــــی لید لای مګر بیا هم ستاژوند
او ستا فن در تاء مینو ی دایوا زی زما خوا ری نه و ه دپرو فیسور غلامحمد شا ګر ـ
دان لکه غوث الد ین ، کریم خان ، خیر محمد او نور تو ل لکه بی مو ره وری هر ی خواته
تښتید لی و اود هر یوه زړه دو ینو ډك و موږ د امان افغان په وخت کی په زړ ونو کی
دګلو نو با غچی جو ړی کړی وی خود خزان باد هره پا ڼه راو مروړ له ـ بیا هم د نا در
خان راتګ او نادر خان وینـاڅه، تسلی غوند ی کړم او دامید ونو غو ټی بیا لږ اوږیر
پا نی و غوړ ولی .
نادر خان خپل ددربار وزیرته وویل :
دافندی ددو ډی ، ځا ی اوهر ترتیب و رسم کړه موزیردر بار زما ژو ند یو څـــه
تر تیب او سم کړ ، بله ورځ نا در خان هم هیله، وکړه چی زما یو رسم را ته وکا ږه ،
او له دی خبری سره افند ی په خندا شو .

**فرخ استاد وو یل :**

ما ته یو‌ورځ ملك حسین‌هم وو یل چی دحبیب الله دسقاو د زوی یو عکس رسم کړه ما دهغه عکس په دا سی‌حال که‌چی‌تو پك یی پرزنگانه ایښی‌ورسم کړ – هغه هم زر افغانی پر عکس را بخښلی‌وی که عکس نه وای زه به‌یی‌وژلی‌وم . خو هسی www.libtool.com.cn دوستا نو او دخد ای مردانو دمرگ څخه وژغور لم خیر مادنا در خان عکس هم رسم کړ هغه هم‌ښی رو پی راکړی. اوس می نو ښه گذ اره کید له . ما په‌دغه وخت کی بیا هم دلو یی سلا می‌کمپوزنور هم سم کړ چی نا در خان‌په دی کار هم ښه بخښش را کړ . نا در خان ما تـه د مصلیا نو په کو څـه کی یو کور هم را وبا ښه‌چی زه هلته دیو څو ور ځودپاره‌بیغمه شوم خو محمد ها شم‌خان صدر اعظم دهغه بدنیت هغه اصلاً نا در خان بد نـام‌کړی و.ده‌بد بخت څوورځی‌وروسته زه دهغه کور څخـه وا ئیستلم او نا مرد بیر تـه کور را څخه وا خست .

**د یو سف جراح‌سره آشنایي :**

زه په دغه ور ځو کی ښه نا جوړه شوم . یو جراح چی‌یو سف نو میدی هغه زه شفا خا نی ته بو تلم زما علاج یی وکړ که دی نه‌وای‌زما ژو ند ختم و. دغه سړی دامان الله غا زی سـره واو زه ښه پر کران وم ده‌ډیر ښه مراسته کول .

دبلی خوابیر ته دظر یفه صنا یعو مکتب شر وع شـواو بیا د رسا می مخه. خلا صه شوه او زه ، پر خپلو کارونو یعنی رسا می او موز یـك بو خت شوم دا دی تر نـن ور ځی می هغه کار او هغه روز گاردی او س‌می وا د ه‌کړی دی ښه گلا لی زا مـن لرم اود مو سیقی‌په کو رس‌کی شاگردانو ته درس‌ور کوم.

هو ! دغه وخت مر خ کـه څه هم‌په یوه لاس فلج‌وبیایی‌هم رسا می او هم پیا نو ښه ږغولا ی شو ا ی د راډیومدیرچی‌محمد عثمان صد قی و ـ هغه شاعر ،مورخ او ښه د دوق خاو ند و ده بیا مـوسیقی ژو ند ی کوله ،مختلف‌کور سو نه یی غوښتل پر مخ ولاړ شی . ښه کورسو نه یی جوړ کړل.

فرخ وویل :

ده دمو سیقی دپـاره ـ دغربی مو سیقی تولی چار ی‌زما په لاس کی راکړی او د هندی برخی د موسیقی چـاری‌داستاد غلام حسین او ما سترمعراج الد ین چی د هنـد ی مو سیقی لو ی استاد و پـه لاس کی وی او هغه کورسونه پر مخ بیو له . دپښتو د پا ره استاد نبی گلچی،هم‌دهند ی مو سیقی ښه استادو، او هم‌دپښتو د بر خـی مشرو . هغه کار کـا وه.دمو سیقـی زمینه محمـد عثما ن صد قـی ډ یر ښـه پر مخ بیوله ، ده علاو ه‌پـردی‌کور سونو د اطرا فـوخوا ته هم ښه توجه‌در لوده. افغانی مو سیقی ته یی دفـن کینه ورد غاړی کوله ، لوکری مکتب یی ژو ندی کړ،دننگرـ هار ، پکتیا او کند هـار ،غزنی ، شمالی ، لنډه دا چی‌محمد عثما ن صد قی که‌ژرنه وای لیری شو ی دافغا نستا ن‌مو سیقی به ښه رونق پیـداکړی وای ـ هغه محمد دیـن زاخیل ، فقیر حسن سار نـگ‌وهونکی اونورو ته د موسیقی‌ښه زمینه برابره کړه چـی هند ته ولاړ شی اودمو سیقی‌فنا وهنرپه ښه اصو لی‌رنگ‌پر مخ بوز ی. استاد فـر خ افندی په دغه وخت کی لو می‌برخی پر مخ بیا یی ؟

اول ـ حربی بانډ و چـی‌دابر خه یواز ی ده ته پا تی‌ده او رجب بیک یا نور څوك نشته . دغه مو سیقی یـامو زیك افند ی پر مخ بیا یی‌او هلته یی ښه شاگردا ند استاد ی تر سر حد ه ورسول.او داسی لایق شاگردا ن لکـه‌عبدالو دود خان چی دجنرا لی تر رتبی پر مخ ولاړ او پـه‌رښتیا چی دعسکر ی‌دبانـډ ورنگ دنړی سو یی ته نژ د ی شو.

داولی ؟
دا ځکه چی فرخ افندی دیو صادق او زحمت کښنی انسان په حیث شپه او ورځ پر ځان یوه کړی وه .
ده دافغانی موزیك د هر ډول پر مخ تګ مخه خلاصه کړه .
دی او س د درو علمی او هنری موسسو مشر دی یعنی دیوی خوا دهغه و خت
www.libtool.com.cn
دکابل راډیو او دبلی خوا ادقبایلو د مستقل ریاست دراتو ل شوی سازیانو ،
دبلی خوا دوخت د ژبو دلو یی موسسی ( پښتو ټولنی ) چی دپښتو هر اړخیز پر مخ تګ ته یی دلری پښتو نخوا سره په یوه وخت شروع کړی ده. فرخ استاد علمی او فنی موسیقی د ثبت دپاره تیار و یاو د مسابقی په ډول آهنګونه راوړی او استاد یی ګوری ورووسته تر انتخاب هغه دراډیو په مرسته چی هلته دری نور د پښتو او هندی موسیقی استادان لکه استادنبی ګل ، چی اوس د هنردلو یی نړی لکه چی هیردی، استاد غلام حسن د غیچکی وهونکی دپښتو د آهنګو نولوی استاد او فقیر حسن په واسطه ثبت ته تیار یږی داهم واوری ، چی دده شاګردانو دموزیك دمعلم په حیث بیر غو نه پوره کړی دی. او دنوی ښار د نوی موډحتی غربی موزیك شوقیانو ، هم د افندی دنوی سر مستانو په کورسونو کی ځانونه اچولی دی ، کاره کاره کیږی او ځانونه سر مستان بولی چی په خپله سر مست ، ننګیالی او نور فرخ استاد پیژنی لا نه دغه دفرخ دبی قدری ور ځی دی . چه ماپه نوی ښار نی پخوانی مست فرخ زهیر رولیدی او هغه خاطرات می را په یاد شول چی فرخ په فرانسه کی مفلسه ګرزیدی او فرخ دسقاو د زوی په دوران کی یاد نادر پاچا په دوران کی لوټ شوی و خو او س فرخ بیاهغسی زهیرغوندی دی – ژر می پرېغ کړ : افندم ! بیاد ی دمور مرګ په یاد شوی دی که دتیر وخت خواری ؟
ده په زهیر آواز وویل : اوس شکر زامن لرم – میر من لرم خو د قدر خوا می لږه ده. مفلسی هم ما زهیر وی اوس زه رسمی دوایرو هم شړ لی یم – دلته په نوی ښار کی شو خار جی شاګردان لرم ، چاته پیانو ، چاته «عود» او چا ته ویلن ورښیم خو په معاش می چندان ګذاره نه کیږی .ماور ته وویل : راځه پښتوټولنی ته ، هغه وخت د پښتو ټولنی دعلو مو د اکاډمی امتیاز درلود . خو صرف دپښتو ژبی کارو نه پکښی کیدل . ماور ته ویل : زه به دوه مدرکه پیسی در پیداکړم یو داچی ستا بیو ګرافی به دسره شروع کړم او په هره شماره کی به یی دیوه ښه مضمون په حیث چاپوم ، خو د بلی خوا به ته دنو تیشنو نو اصل راوړی اوزه به یی په هره شماره که چاپو م . ددی در کـه به هم ښی پیسی درکوم ځکه اوس دملنګ په نامه ښه ملی شاعردننګرهاره ښخه راغو ښتل شوی دهغه آهنګونه چی ښه ملی آهنګونه دی اونور به درپیدا کړ م.
دا کار به شروع کړو خو ښه دی ده ؟ فرخ چی دا خبر واوریده ویی ویل : دسردارانو دلاس نهال یم ما می پرېږ دی چی بی وخته می خزان در ښخه ووهی – ما ژر خزانه دار راوغوښت .هغه ته می وویل : دوه ز ره (۲۰۰۰) افغانی فرخ استاد ته ورکړه ما هغه ته وویل : زه به یی دده په حق الزحموکی در مجراکړم – هغه دوه ز ره افغانی ورکړی . دغه وخت دا روپی دومره ډیری وی چی هرڅه په کیدای شوای . دادی استاد فرخ هم خپله بیوګرافی دده په لاس د کښلی عکس سره راته راوړه او ما هغه عکس ، بیوګرافی او نوتیشنونه بیا راوغوښته په نشر می شروع وکړه .
بیا ما دفرخ افندی بیوګرافی نشره کړه لوورسره یو یو نوتیشن هم –
دا نوتیشنو نه ځینی هغه دی چی محمد ګل نوری پرفیسو رده ته په ۱۳۲۵ کی ویلی و خو نور ... !
خیر دلته ددی لوی استادسره د عبدالغفور بریښنا برخه هم دخیر لوړ ده او دا خبره یادو م چی دنارو غی او دده دشاګردانو د هر ی ورځی ودی اوتر قی ده تـه

توجه نه دا چی لږه کړه بلکه دی یی سخت پر یشانه کړ .دیو ی خوا یی اولا دو نوروزل
غو ښت دبلی خوا ده ته توجه کیدله ؟
په دغه وخت کی یــــــوضرورت پښتو ټولنی در لو داو ده ته یو ښه غنیمت پید ا
شو .

www.libtool.com.cn

## دپښتو ټولنی دنشرا تـــیارگا ن «زیری»
## تو جه فر خ افندی ته :

اوس نو فرخ افندی نــــه خالد رجب بیك ترك لر ی اونه هم هغه اولی ورځی د ی
چی یو ښمیر شاگردا ن ،خوردضابط یا د برید منږ په در جه مقرره و لای ښــــی او دده د




**دخیبر نمل ژواك دزیــری د دجریدی دمسئو لیت دوره چی دزیری په جریده کی دهنری۔ ادبی او فلکلوری‌جار اوجنجال‌سره دفلکلوری افغانی سندروپه نو ټیشنونو بوخت و .**

---

مو زیاك په پوهه دی مقر ره‌شی ، په دغه وخت کـــه دبریښنا آوازو نه وچی هم به یی‌فلکلور ی کمپو زو نـــــه په پښتو او هم د نورو ژ بـــو ښه جوړ ول اوپه ځلاندبه یی ویل .

www.libtool.com.cn

# دويمه برخه

# افغاني سندرې په مكتب كې

بریښنا چی واقعا هم دغرب او هم دشرق یعنی هند ی موسیقی شوقی څه چی یو استاد و تولړه راډیو یا دخرابات تول خوا ننده ګان یی په خپلو کمپوز و نو بوخت کړی و او دده هر کمپوز د ډیر قیمت وړ و چی نه یی دراډیو آرشیف لری ، خو داچی نن هغه متروك شوی دی یو سخت غفلت دی چی دهنرمندانو اتحاد به ورته متوجه شی . او د ی برخی ته به توجه ډیره کړی . یا د مقاماتو د یادونی هیله ځینی کیږی . چی دده یو هنر ی او موزیکال موزیم جوړ کړی او هغو ته توجه وکړی . خیر دادوره چی دافغانستان دپاره ډیر داهمیت وړ دوره ده هم تیره شوه .

www.libtool.com.cn

دنو تیشن برخه : دا برخه یوازی دکتاب په رنګ اوبیاد پښتو تولنی دنشراتی ارکان زیری په واسطه پر مخ بیول شویده خو اوس راشی چی دفرخ افندی دبیو ز لی په علاج کیدده د کار تکمیل ته هم متوجه شو . په دغه وخت کی دیوی خوا فرخ افندی دفلج په مرض ګرفتار شوی و دبلی خوا دموسیقی هغه کور سونه چی بناغلی عثمان صدقی یی ترتیب اینبی و هغه سره بی نظمه شوی دی . فرخ افندی شاګردان داستادی درجی ته ورسول او داستاد غلام حسین ماستر معراج الدین شاګردان هم لږ او ډیر د موسیقی او موزیك په برخه کی داهمیت خاوندان شول . خو دبلی خوا استاد عبدلغفور بریښنا چی دراډیو افغانستان مدیر شو ـ هغه په خپله دهنری موسیقی دکار ـ مندانو څخه دخپلو کمپوزونو په برخه کی کار اخستی او کمپوز به یی په دوی تمرین کاوه حتی وایه به یی هم ـ دبریښنا دکمپوز ویلو لوی کست «ځلاند» وو ، تر دی که تیر شو و روسته داستا د فرخ په شاګردی کی ویلون و هونکی او فنی ویلون وهونکی شوی هم دی . یا خو محمد دین زاخیل چی علاوه پرهارمونیه یی ستار یا د سیمو نو رباب هم په استادانه ډول دافندی په مرسته زده کړ . محمد دین زاخیل ماشوم ، خو ډیر هڅانده ماشوم و ده دملی آهنګونو سروونه پیدا کول او هغه ثبتیدل هم .

لنډه دا چی که د استاد فرخ دموسیقی یا موزیك استادی ته دوری وټاکو نو کولای شو ووایو ـ اوله دوره یی دخالد رجب بیك سره ده ، او بیا د صدقی دوره ده ، اولویه دوره یی د پښتو تولنی د کار دوره ده .

خو دلته به تر دی دور ودمخه پر هغه کار څه خبری وکړو چی افندی نو تیشن ته ملاوتړ له . او د پښتو ملی فلکلوری آهنګونه یی زیری ته راوړی دی ، دا آهنګونه چی موږ یی دافغانی سندریز و مکتبونو ترعنوا ن لاندی بنیو هغه دادی :

PROPERTY OF ACKU 3001

www.libtool.com.cn

په عام ډول دانسان ،الو تونکو ، ګله ګله دنوروژو یو ترنمی سندریز آوازښه تر حنجرو خیژی . لکه ، بلبل‌چی یو شاعرا نه زړه منو نکی‌آواز لری ، حتی سمبو لشوی هم دی . په همدی شان دمړز آواز دکنر ی آوازاوحتی‌دچنګښو آوازونه یانور چی د انسان پر احساس اثر لری‌او عاطفه تو روی ، خو پدی‌تو لو ژو یو کی دانسان‌سره دترنم او ږغ دسوز او ګدا زاثر کله دو مره ډیر شی چی‌وایی : په هغو ځایو نو کی‌چی لوی سیند و نه دلو یومستیو بازی‌شروع کړی نو د ځینو انسانانو ترانی یا دسندر یزو ابزارو اثر و نه ،داسیندو نه دمستیو لیو نتو ب‌ته کښنوی.

ډیره مشهوره اومحسوسه خبره خو دا ده چی دلو یودښتو نو او غرو نو ډیر مست ماران دانسان وشپیلی ته سرو نه ټیټو ی . دا ډول‌مثالو نه چی سندره په خپل‌ترنم او خپله اغیزه ، څه ډو ل‌اعجاز ښوو لای شی ؟دا قصی‌زمونږ دتا ریخ په پو ړ یو کی ډیر شواهد لری . خو زه دسندرو داغیزی پر تا ریخی‌متنونو ږغیږم بلکه دانسان دفطر ت پر سندر یز اعجا زباند ی په خا ص‌ډو ل دغه فطرتی تما یل ته په افغانی تو لنو کی د دغه ږ غیږ اثر نا که سوز اغیزه‌ښوول غواړم ، چی په هغه کی د ز رو ، زر وکلو نو دنیا ز او راز نغمی مو نږ ته په‌میرا ث رارسیدلی دی دډیرپخواخخه د برهمنیانودیوه مشر یو اثر چی بګوت‌ګیتا (خدایی نغمه )یادرا ماین حما سه یاخو د ټیکور نغما ت یاد خسرو بلخی دسوز شرنګ‌چی وائی : مدم یا ستار ده‌جوړ کړیدی . دابنیی چی افغا نی تو لنی یا د ار یایا نو دغه نغمی‌او دغه سندری دد نیا دبام یعنی دپا میر په لمنو کی، یا خودسلیمان غره دګښو ځنګلو په. مینځ لی د ږغیږو اعجازود تغمو د هنګامو میرا ثو نه‌مونږ ته رابنود لی دی.

داخو ئی یوه تاریخی لنډه مقدمه وه . اوس به ددغه مدعا دثبوت دپاره یو سوال طرح کړو هغه داچی : ددغی حنجری دبرېع ساز او سوز یوازی دنر جنس سره دار مانونو بیان ږدی یا خوار مانو نه پاروی ، که دښځی جنس هم ددغـــه آذری آتشکدی دلنبو حرار تاو تود والی لری ؟

www.libtool.com.cn

یعنی ، که دتر نم او خاص وزن هغه هم لفظی وزن پرزړه سو څو نکی الفا ظو نر جنس ویلای شی لکه

مخ دی په سپین کی سرخی وائـــی

لکه خاصه چی پر گلا بو غوړ و ینـــه

(لنډی دنر د خوا )

نو ددغه آذری آتشکدی په بلبلو داسی هم ویل کیږی :

پیکی می جگ کړه خال می مچ کړه

دجنت گل دی پری تازه به شی مینه

(لنډی د نجلی لخوا )

اوس خو به مو یقین راغلی وی چی دانسا نی سندر یز اوموز ونو ترنمو نو په آتشکده کی دزړه سو ځلو دپاره داوورانه بڅر کی شته . بیا هـم دا برخه یا پر گراف دیوی لو- چینی مقد می په حیث ومنی . مونږ وویل : چی ددنیا د با م (یعنی پامیر) په لمنو کـــی دشپنو ، د شپیلـــیـــو داو دی خواږه اوازو نه دکو چنو تـــی نل یا شپیلی تر خو لی په ډول ډول رنگ راو تلی دی او مـــا وویل . چی د سلیما ند جگـــو غرونو د ځنگلو نو په مینځ کی دوړو بلبلکو سره د نویو ځوا نانو داوازو نو ،هنگا می دپیړ یو ، پیړ یو راد ی خواته تودی ساتل شویدی . نـــو راشی چی مونږ لږ مشخص و ږغیږو او د پښتو په سندر یزو مکتبونو یو څه ووایو : په دی ډول :

مو نږ په افغانستا نکـــی تقریباً څلور ډوله سندر یـــز مکتبونه لرو :

اول : د ننگر هار سندر یز مکتب: چی دلته د ځـــنـځیر ی چار بیتو څخه نیو لی بیاتـــر داستانونو پوری او که ډیر نږدی وگورو دملنگ جان ملـــی سندریز ، مکتب دد غه وړ دی چی یوڅه خبری پر وشی .

وگور ی د مرحوم ملنگ په شا گردانو کی یوا ځی محمـــدین زاخیل که په ځوا نه ډله کی راوا خلو یاخو ، غلام حسن سر نده وهو نکی چی فـــرخ افندی یی خوراډیر ی سندر ی نوتیشن کړ یدی یاخو داستادنبی گل گله فلکلور ی اوهندی سندر یز مکتب راواخلو نو که مونږ دزمان دسند رو سره پړه نه وی کړی . نو په اهنگونو ئی د پښتون سند ریز د نیـــا داسی آباد یدلای شی چی نړی ور ته دحیرت گو ته په غاښ ونیسی . زه په دی پو هیږم چی داپور دیو کتاب د کښیلو په قیمت ادا کیږی . مکر زه ځکه څه نه وایم چی مانو ی دآهنگ د ثبت یا نو تیشن په برخه کی دیوی وړی رسا لـــی اقدام کړ یـــدی . او داوړه رسالی به تاسی ته دغـــلا حسین سرنده و هونکی او عبدا لرحمن جرار او مرحو م فقیر-


www.libtool.com.cn

**قادر د استاد فرخ زوی پیاوړی ممثل چی داستاد نه نشر شو ی فلکلور ی نو تیشنو نه یی دکتاب مولف ته سپارلی دی .**

حسن نو تیشنو نه د رو بنیو. خو دلته ممکن یو سوال وشی هغه دا چی وویل شی چی دا خو د ننگرهار سندریز مکتب دی، او هغه خود پیښور او پیښور دهند دمکتب په سیوری کی روز ل شویدی.
مگر هر گز داسی نده که د هند دکلا سیك راگو نولټونه په خاص ډول سره و شی نود یوی چار بیتی د آهنگ خاص طرز به پکښی په ډیر جبر پیدا شی . مونږ دپښتو نخوا یاخولره افغانی سیمه کی چی هند ور ته وایو د «لتا» او «بړا غلام علی» او یا استاد فیاض استادا نه را گو نه اور یدلی د ی. خو هلته به د چار بیتی یا داستان یا بگتی یا خو نور سندریز آهنگ پد غه خاص رنگ کی ډیر لږ و وینو. نوځکه زه ور ته پښتنی ننگرهار ی سندریز مکتب وایم اوپدی برخه کی دیو بیل مکتب دعوا په جر ئت سره کو لا ی شم چی دفرخ افند ی نوتیشنو نه زمونږ په دغه کوچنی رساله کی نه داچی هغه منبو لای شی بلکه ثابتو لای یی شی چه داد غرب او شرق دسندریز کاروا ن یوه بله لاره ده چی آریا ئی خو بلل کیږی خو پښتنی او ننگر هار ی نوم ور بخښل کومه گناه نه بولم .
زه دلته مثالو نه ځکه نه لیکم چی هر مثال ته ئی دفرخ افندی په نوتیشن کی ثبو ت تاسو ته لرم چی هغه کا فی بولم .

www.libtool.com.cn

# لومړی فصل
# دکندهار سندریز مکتب

دا مکتب د پښتو په سندریز مکتب کی یو بیل خاص والی لری چی هغه ته مختص کندهاری سندریز مکتب ویلای شو. حتی داشك هم سړی یادسندروفنان ته لویږی چی کوره دا سندریز مکتب که د هند خاص اریایی مذهبی نیاز ونو تـــه ډیر ور ته نه دی کوره شباهت خو پی نږدی دی داځکه چی د ننگر هار سندر یز سبك دسبزعلی خان استاد یوه شاگردانه لار ه وه چی استاد سبز علـــی خان بیاعلما تر بره غلام علـــی خان استاد چی د هندو کلا ـ سیك سندرو لوی پلار ور ته وایه شی ، ځان کم نه بالــــه چی دمکتب یوشا گرد یی استاد غلام حسن سر نده وهو نکی یاخو او ل میر استاد باله کیده. (دوی که وایی یاخو یی نــــه وایی ) مگر سندر یز مکتـــب دټول خا صوالی سره د «را گ» او «راگنی» په برخه کی ورځینی مستفیده دی خوخدای مه کړه چی «پیښه کول ور ته» گنـاه څه چی ناپوهی . هغه هـــم دسندر یز آهنگ په برخه کی ور ته ویل کیدا ی شی ، خو دکندهار سندریز مکتب لکــــه «بابو لاله » «شا روو را »«خور ښادی» «یادشین خا لـــو ناری»«دکیسو او نکلو نو ناری» «د هو تکو نار ی» «دکا کـــړو ناری » «یو لږ سرو کــی »دا برخه دکند هار سندر یزمکتب جو ړو ی چی له نیکه مرغه پرو فیسور محمد گل نـور ی لوی فلکلور یست ویـلـــی او فرخ افندی نو تیشن کړی هـــم دی ـ دغه برخه دکند هـــاردسندر یز مکتب اصیله بڼـه ښئی . خو په کند هار کی نوری سندری لکه د غاز یا نــــوسندر ی مگر مذ هبی سنــدرو سر چی معرا ج نامه تا نور ی هم ور سره شته یا خود محیطحالات ژوند اودژ وند شرایــط ښیی .

بله برخه یی داتن تار ی دی په دول دول چی موږ بـه هره برخه څه تشر یح هم کړو اود کند هار پر سندر یزمکتب په بڼه رڼا واچوو .

## ۱ـ د اتڼ ناری

**الف :**

www.libtool.com.cn

**دکند هار د سندر یز مکتب په ضمن کی پر نارو یـــــوڅو خبری:**

ناری د پښتو په سند ریزادب کی یو خاص اهمیت لری او که ووایم چی داسندر یز د پښتو ژبی دژبنی خصو صیاتو غوره ښوو نکی حتی دپښتودژو ند حساسه برخه ده ارد اولس تاریخی هره برخه لکـه دبزم هنگامه او درزم معر که په خپل ساز او سوز کر مه سا تی .

پردی سر بیره په ژبه کی دطبیعت د ښکلا تصو یر دفرددداخلی احسا س هره لحظه ښوو لای شی که علاوه پردی ووایم چی دا سندر ی له خپل سندر یز تصو یر سره موږ ته دیوی تاریخی پیښی او کیسـی څرگندو نه هم کوی یعنی که دپښتو ن سندر یزه دنـــیا د «بالت »مر حلی ته ور سیږی دغه سندر ی او نار ی به وی چی داندام په ښکلا کی دد غه تصویر تر جمانی هم وکړا ی شـــی .

د نارو په سندر و کی ژوندا او د ژوند راز معلو مـیدلا ی شی او د ژو ند د لفظی هنر په بڼه کی لکه «متلونه » دژونداصلی هندار ه ور ته ویــــل کیدای شی په دغه وجـه زه دغی خواته خاصه تو جه لرم ځکه ناره ئیز ی سنـــــدری د«فتح او رابیا» د حما سی رنگ لکه د «هو مر یــــو نا نـــی»د« الیاد»حماسه چی د «اشیل» قهر مانی ښیی دفتح خان بریځی دبسته څخه تقر یبآ په هندکی دجنگ محر که دغه سندریزی نار ئ په نکل کی ښئی اوداسی نوری کیسی چی هره یوه یــی ترقند و خوږ ه او دمرکودخوږ والی لویه برخه ده په همدی وجه زه ددی برخی درمز و نو دښا یسته مخ څخه پلو لیری کول غواړم چی دلته تا سـی دراز خالو نه ووینی دلته تاسی په ناره ئیز و سندرو کی او لسی ، تاریخی ، ژبنـــی، شخصی یا دمر ډول تصو یـرڅیره لیدلای شی .

خیر ما دلتـــــه ددی نا ره ئیزو سندرو د کندهارد سیمی ناری راواخستی او په ضمن کی می د نارو متعلقه برخه د مخه کره . چی د «سرو کو» پـــــه مبداء شرو ع کیدا ی شی اودا هم باید هیره نه شی چه دابرخه عامه غوندی یا د عام اولس برخه بلله کیږی . خو دلته ددی خبری یاد په کار دی چی دا برخه په کند هار کی دښځو دپاره خاصه ده . مگر نارینه هم ور سره مله او ملگری .

ددی سندر یزو نارو او له برخه اتڼ ته خاصه ده.

دو همه برخه : د شینخالو نارو یا سندر یزو سوزو نـو ته ور کول کیږی چی دولدول آهنگو نه د زړونو په شکـه اخته کیدای شی .

**دریمه** ـ د کا کړ وخو ړی نار ی دیَ .
ځلرم ـ دهو تکو ناری دی.
پنځم ـ سرو کی .
خود دی سندر یز ی‌دنیـــا دمکتب یاسند ریز مکتب ناری دولونه ، دول دول آهنگو نه
**دویش او** دنارو دوزن اړو ل‌چی ځر ګه وزن او سور ورپه برخه دی ، د غه بر خـــه د



## دکندهار دسیمی دنار ینه واتڼ

ځیر لو هم ده دا ډول چی کله دا ناری اتڼ ته خاصه شی‌او کله بیا خاص وزن‌او ســور پیدا کړی ،خو کله دنکل دخونداو خوږ والی دپاره ویل کیږی‌چی دا وزن یاسور داتڼ دپاره په هره برخه کی بیل رنــګ‌غوره کړی . کله لا دا نار ی‌دسیمودبیلوالی په اعتبارتو ـ پیر پیدا کوی چی زه په دی‌لحاظ‌چی دکند هار سندر یز مکتب‌په نظر کی سا تم نود کندهار دسیمی خاص والی هغه هم دحال ،محل ، وخت او زمان ،ډول،ژبنی خا صی ،اصطلاح او د دود یز رنګ ملحوظ سا تم .

دلته دا خبره دیادو لو ده‌چی ښځی او نارینه دنا رو په اعتبار تو پیر لری یا هغه ناری چی ښځی وا یی نارینه یـــی‌کور ټ یا اصلاع نه وایی .

اوس به په نارو شرو ع وکړو خود نارینه وچی بیل وزنو نه هم لری .دادی داتڼ‌چیانو له حر کت سره ناری.

۱ـ ورو اتڼ
۲ـ یو بغله اتڼ
۳ـ یو بغله (یواړ خیز اتڼ)
٤ـ درست اتڼ
٥ـدنا ستی اتڼ
٦ـ دپرو تی اتڼ
۷ـ دپرو تی دوه بغله ا تڼ
۸ـ چپه او راسته اتڼ
۹ـغلی اتڼ

په هر حال دلته هر ډول اتڼ له حر کا تو سره سم ناره‌دخپل وزن **څخه** اړوی او پر نو ی‌وزن یی دویلو دپاره تیار وی .

ب:

د کند هار د اتڼ د سندر یز ونارو بله خا صه :

www.libtool.com.cn



**دکندهار دسیمی دښځو اتڼ**

دا اتڼ چی د نجو نو له خوا په نارو تو دیړی ناری یـــیدادی :

۱ـ اتڼ دی دسپیر وان نجونی کوینه خوراك یی سپین کشمش دی
سهاریی دغو ندی شمال وهینه

۲ـ اتڼ می اتنهی دی
کمیس می دسر یښبین د ترا نی دی (۲)
پر مخ می عبا سیه (۳)

۳ـ اتڼ دی د بــــوری (۱) نجونی کوینه
پر ملا کړه وړه شی.
شا باز (۲) یی دنامه غوتی وهینه

٤ـ اتنه ډیری لافی دی وهلی
چی ځای درښتیا راغی
اتنه نجو نی خدای وشرمولی

---

۱ـ دکند هار دپنجوا یی دولسوا لی یو کلی دی (۲) عباسیه عبا سی دشاه عباس نیکه ده چی د ایران پاچا وه.

۱ـ بوری دکند هار دشرقی سیمه ده (۲) شاباز دزلفـت وز مه کو تی ده .

۵ـ آمرت (۳) په ونه توره کنډ هاره
زلفی می اوړدی شوی .
اوږدی زلفی به څو کرحم بی یاره
www.libtool.com.cn
٦ـ او بوسه داوبو غاړ ی او بو سه
پر یار می سلام وایه
دا گل مید سینی در سره یو سه
۷ـ بابه (٤) په خه نازدی لویولم
دژرکو (۵) اور دی بل کړ
با بکه پر لمبو دی کړو لم
۸ـ پرو سږ کال لابنه و ـ لالیه تر شا توت لاندی بیده و
دخدای فضل که نه وای ـ لالیه سږ به دواړه سره مړه و
۹ـ پر څنگله با ندی دوزمر یو پل دی.

دا یو زما لالی دی ـ دا بل گوره ور ورك ورسره مل د ی
۱۰ـ پور ته پنچوا یی کښته سپیر وان دی

نو ردکر می مره شول ـ پرشا لیلی دزلفو سایوان دی .
۱۱ـ پوری حوا غوا لنگه ده تند یه
میره یی پر کور نشته ـ راووته تور ستر گی ناو کیه
۱۲ ـ پوړ ی می ادی (عادی) دی ـ دخیا له می غبرك کړی پر تندی دی
ما به اتڼ و کړ ای ـ داستاد بابا کلی ریشخندی ده
۱۳ـ په پزه دی دتورلونگ دانه ده
دانه ده د کشمشــــو ـ د کشمشو دانه خر پنده خوړه ده
۱٤ـ په څو به دغرمی تنورتود یړی
لیلیورته ولاړه ـ ترمخ یی رنگا رنگ خو لی بهیږ ی
۱۵ـ په دی لویه سپوږمیه ـ لویه خدا یه ستن می ورکه ده نوږ یه
که ستن می را پیدا ړی ـ خا لونه یی وهم دعاشو قیه .
۱٦ ـ په دی وچه ویا له کیموزی و ویشتم دمځکی .
داسی تك یی راکی ـ لالیه تر قیا مته می په زړه کی .
۱۷ ـ په غاړه دستمبول دی ـ پیکی دی اړو لی لوړپه لوړدی .
تما مه شپه یاری کړ ی ـ کلی ئی چی گرزی زماورور دی.
۱۸ـ تر بوره په نغری دی او به کښیو زه
تر دخخه یووره ژ یروښریه بریت پریږده .
۱۹ـ تر پاڼ لاندی مــــــی ستر گی تور ولی

چی پاڼ را باندی راغــــــی منگو لی مه په یار ولگو لی .
۲۰ـ تر څو چی دغر می تنور تود یړی
مستا نه پرو لاړه ،لالی میورکر څی خوشا لیږی
۲۱ـ تر خدای خدا ئی مــی جار ګړی .
آسمان ئی بی سلاو مود ی اړو لی .
داستو ری گل میخو نه ـ دالمریی ژړی لمر یود رولی .
۲۲ ـ تردی دیوال دی نته (نتکی )را بنکاره شوه
کله دی مور نه وای ولا ړه نو ما به ستا دنتی نداره کړ ه
۲۳ـ تردی لار د بوری مځکه پسته ده
مستانه پر بیده وه تر تول بدن ئی غـــاړه بنایستــه ده

---

(۳)ناك ته وایی ٤ـ دیلار لقب دی (۵) كلك صحرایی څوزدی.

۲٤ـ تردی لاد کابل مځکه پسته ده
لالی باندی تیر یری ترګردېدن ئی پرېره شایسته د •

۲۵ـ تردی نجلی مکاره بله نشته
درو یو هنه غاړه استونی بنوروی لاس پکښی نشته

۲٦ ـ شاتوره توته مات دی شه لابنر نه
او ښا نو غر غړی کړی ځوانان باندی واړول بارو نه

www.libtool.com.cn

۲۷ـ تور مار دکندوالی بغل نیو لی
تور مار په ولاړ نشی تور ماردسپینی خو لی لذت نیو لی

۲۸ـ چتی چی په پنبو د ی چو تی
ځوانان دی لیو نی کړه زاړه ښځه ران دی وایستل دګتی

۲۹ـ چو نکی دغر پر د سر ه ولاړ یری
ستر ګی مرا می مکره یاری د مرامو متر ګسی ولاړ یری

۳۰ـ ځلمیه بگری شه ترهنر دی
یو خو به دی زړه شی بل دپیغلی پی نظر دی

۳۱ـ ځوا نه چی شاباز دی اوه تاره
راځه چی مسره زونه ماموراو پلار پرا یبنی ستا دپا ره

۳۲ـ ځوا نه دمیلی دی مبارك شه
چی زما وخوا ته کوری ځوا نه پر ځوا نی د ی بر کت شه

۳۳ـ شه کم خه کم پر خپل غولی ولاړه یم کاته کم
یا رکه می نادان دی د بـل پر ښنا یستو به ئی ور نکـم

۳٤ـ خانه زموبر خانه
داستا خانی دی خدای نکری ویرا نه

ملکو نه دی (رایت) رعیت کره
دذشمن کلا دی وکښه لـه میدا نه

۳۵ـ خانه بی ستر خا نه
داستا خانی دی خدای کیدر ویرا نه

غیرت دی ښکاره نکړ
پر ه پین میدان دی و نکره مرا نه

۳٦ ـ خو له دی دغاتول تر ګل ناز که
وما ته دی را نکره سبا به ئی چینجیان وخوری یا مځکه

۳۷ـ داپوری غرز اښه د ی
لا سو ئی په لاره وهلی ندی
داوری نجو نو واوری ... ؟
تو لتو میر وخال وهل ښه دی

۳۸ـ داتن کلا دی جوړه کړه په غره کی
دمینی توان می نشته د نن مینه می وچه نشوه په زړه کی

۳۹ـ دا کلی د چا دی چی په بره نامه یی بو لی
داسر ئی زما شخه ورك دیداپای ئی ماد یار په نامه بولی

٤۰ـ دا هلك دکومی چتـی ورور دی
دهغی چتی ورور دی چـــی امیل یی تر خنګ کښلی خیالی نور دی

٤۱ـ دجیت کمیسر می غاړه خوږه وینه
زرغون مشدی داوره زرغون، مشدی غاړه خوږه وینه

٤٢ـ دسهار ستر که رڼا ده

سپوږ می ورته ولاړه وارخطا ده

ر تا جار شم لالیه

پر نیمو شپو دی څه وږ ه‌خندا ده

www.libtool.com.cn

٤٣ـ دله ، ده، دله

کو تره یم راغلی له کابله

یا به کا بل خپل کړم

یا به راوړم‌دکابل ژړه بلبله

٤٤ـ دوری ، دوری ،دوری

بی دوری لور دی چیری ورکو له

لور وه دپاچا وه

وداسپی موزی ته دی ولـی ور کو له ؟

٤٥ـ دم دی آغادم دی

پر سرو زرو پیو ند دخان‌چلم دی

دانل ئی دالما سو

تمبا کو ئی دلاچی لو نګین یم دی

٤٦ـ ژوری، دوری، دو ری

مردك لکه باران را باندی‌اوری

دامردك خوبنه دی

سباد مر غلرو باران اور ی

٤٧ـ دوی دی نجو نی دوی‌دی

داتن ناری کوی سر ه تـــو لیږ ی

د یوی دخیال کمیس دی

داد زرغونی په پښو جستی‌دی

٤٨- دی زموږ اسمان نیولی‌دی کرزونه

خانی دروو خان ده ـ پراولس‌یی غوږ ولی دی څنګو نه

٤٩ـراځی چی نن دکو نړی میلما نه شو

دکو نړی یوه لور ده ـلا لیه په دیدن به‌یی مـاره شـــو

٥٠- راته که‌دا خپل‌ویشتلی‌ګوری

ویشتلی دی کا ری دی ـ شیر ین بشر یی نشه‌پـرله پوری

٥١ـرا ګډ به‌شی‌لوونه راخور به شی ـ دېیرو بشرو نه

ځینی په خواری کی خورا خوارشوه ـ دځینو شوه په غـاړه‌امیلو نـه

٥٢- زما یاره طالبه او لخوله درگرمه که ژبه
زما خوله به ترتا جار کرم-داژبه تر تا لو لاندی غا لبه

٥٣- زموږ دملا لوری خیـالوری
داسی یار چی ستا دی دا سـی یار به جوړ کړم دکـو دری
www.libtool.com.cn

٥٤ - زموږ نجونی چونیاپوشی .
تر هغو پوری به یی ورنکړو-چی د سرو زرو ګمبتی کـی سرپو ښی

٥٥ -زه نه ژاړم دایارمیژړو ینه
دکور و سر ته پروت دی- داتوری خنبی یی اوررا لګو ینه

٥٦- ژیړشی مو ز ی ژیړشی -دازه خوارهدی ولیژړولم
زه بسته دبادام دی -د لندیپه شان دی ولی ژړولم

٥٧- سپیر ګندی پرشا تله مخ رالغبنته
دغه می لالی جان دی - یوهبه یی لری‌بله یی غو بنته

٥٨- ستر ګی دی آهـو دی -نامرادی پر سینه دی شفتالودی
یو شفتالو را کړه - نامراد یدرنځو رسړی خواړه دی

٥٩- ستر ګی واړه ستر ګیدسر دلره ستر ګی سری نغمی لر ینه
تندی واړه تندی دی - زمادیارتندی دلمر شغلی وهینه

٦٠- سور کورمی دبور تیدی اړولی
دخر زامن می ډیر دی -ما یی سر غنه پکښی نیولی

٦١- شاباز می د جریوهل کیږی
چی زما د غمبر ږغ شو-ځوانانلګه کوتری راټو لیږی

٦٢- شین خال می تر کلارمعلومیږی
یی حده ښا یسته یی - پرمخدی کا فران مسلما نیږی

٦٣- کرك پر کلا لور ناریوهینه
زموږ خا نته را ووزه - موږیدی دخانی هوالرینه

٦٤- کلاته چی پر سرد یرپالیزونه
دنورو پالیز لاښی شو -دمستیپالیزاو ږس کوی کلو نه

٦٥- لمرهمیږو لاره پردبره
ولاړه خو له یی را کړه- نـاامیده شی دلوی باری لهدره

٦٦-کمیس می ترلمن کلاکلدی
دخیال کمیس می دادی - چـیاورونه لګوی هغه لایل د ی

٦٧- که تنګ دی د قبـا لستو نی تنګ دی
اوس نه را اغوست کیږی- لا لیه جانه خونه دیمړوند دی.

۶۸ـ که رنګینه د کلا مځکه رنګینه

زما جان نه وار اوزه ـ لالیه موا جب دی دری لیکنه

۶۹ـ که کړه ده نن د غر ه‌خوکه کړه ده .

په اسپو کی سمند ـ په زړ نو کی خالداره ... په ده

www.libtool.com.cn

۷۰ـ که ګرځی د کمیت‍‍ـ‍ـی سیوری ګرزی

زماجانان ته‌واراوزه‌ـ دلا لی دبنی کوزدی احوال دی ګ‍رزی

۷۱ـ که ګردی د ناکوډک کانی ګردی دی

رحمت پر پښتنو کړی ـ ترمشرو بی دا کشر ګړ ندی دی

۷۲ـ که مسته ځی تختپول(۲)واله مسته ځی

افرین پر پښتنو ک‍ړی‌ـ ودشمن ته‌په‌سلا کمر بسته ځی.

۷۳ـ لاچی (۳) لونګه سردی‌ولی تور دی

دا سرمی داسی تور دی ـ زموږخان دسر دارا نوسره سپوردی

۷۴ـ لالی کلاوهی ژر چی‌جوړه دی

اغا په توره کیره‌ـزما جانان په، تو رو و ختو ور سره‌دی

۷۵ـ لومه لومه لومه دسهار وخته معلومه

زما بلا دی پر یار کړی ـدیار بلا دی کو ښبی پر ښا لونه

۷۶ـ لوی تك دی د ز ا پ‌ه پر زړ کی وشی .

چی پیغله نجلی غوا ړی ـ پر کوردی دمردکو باران وشی.

۷۷ـ لیکلی چی لیلو لیلودی بولی

دا او ښو سره مه ځه ـلیکلی‌داو ښو تك په شوا خون دی

۷۸ـ لیور دی ددی پور ی کلی شپه دی

احوال به ور لیږمه ـ دا ستالالا خو تل له ما سره دی

۷۹ ـ ماویل مرجان به‌جوړومه

لو نګ به پر کومه ـ غوبل به دځوا نانو پر کومه

۸۰ـ مجلس دی د ښا تو تولاندی مجلس دی

ځوا نانو پیغلی یو وړی ـلالی‌تر لا ندی ناست ګلډ نر کس دی .

۸۱ـ مخ دی په خولی دی‌ـسر دا ری لیلی خوب دی‌د غرمی دی .

مخ دخولی‌پاك که‌ـ شا هی‌مین‌راځی په ا ند ینبنی دی .

۸۲ـ مرم چګنه مر مه داستا ارمان به خاورو لره وړ مه

خاورو له یی نه ورم بازار کی چګڼ ډیر دی را بی وړ مه

۸۳ مستانی لونګی غو ن‍ه پر سر کښیږده

را ځه په اتڼ کښیو زه ـمستانی‌دنیا کی کارو نه پر یږده

---

۱) په کندهار کی د پنج‌ده یوکلی دی (۲) د کند هارشرقی خواته السوالی ده

۳) لاچی لونګ خاص لونګ‌دی چی لو ځینی جوړ وی.

۸٤- مستی نادری ترداغوت ګجك دی جار شم خیالوری
ستا خود مرت کلا کی - دمرت په کلا تل دسرو دوری .
۸۵ - موزی دنو کری دمبارك شه
یو خال دیراجوړ نه کړ-موزی مغزی دی مات شه ملادی رك شـه
www.libtool.com.cn
۸٦- مونږ داسی خوار ا ننه یو چی به وری تولو نه
مونږ اصیل نور زی یو - زاړه لونګ په نو یو بد لوو نه
۸۷- مو نږ تولی یو لالیه دیوه اکاوریری ؤ و .
مجلس ته چی راو ځو لا لیه یو تر بله ښنا یستی یو
۸۸- ناره خومی ناره د مستانه د مناسره بیده دی
مه ئی ښو روی مستا نه می مور نلری سیده ده
۸۹- ناره خومی ناره د دادواړه لاس راواچوه پر غاړ ه
دوست به وائی شا بـــــاس دشمن به وائی تو لعنـــــت پر دواړه
۹۰- نجلی په کتور ی کی اوبه غواړی
اوبه دخاشو ډکی جلی پریاری دی خاور ی واوره
۹۱- جلی چی اور بل وړی په شپا له کی
ما ډیر غشی خوړلی داستاغشی می جګ شو په لیمه کی
۹۲- نن می د موزی اطا قلیدلی
دوی غنبی ئی مو ښتی سربیره ئی کوسی پراچولی
۹۳- واوړی د هوا مرغا نو واوړی
مسافر می دوری تللی مر غانو په وزرو کی ئی راوړی
۹٤- وته ، وته ، وته
داښه نجلی می ولیده له توته
په لاس ئی لاس بندی دی-په پلو پوری یی دسپینو زروغوته
۹۵- وختم د ژر ندی پـــر مو لیه
ماکور قسم خو ړلی لالی لــره به غواړم سدو زیه
۹٦- ولی دید خوبه ویښولم
په کار دی زما خو لګی وه نو ولی دی په بیدو نه مچولم
۹۷- هلکه چی بوچی م-رغومی پیائی
ما به خولګی در کړای هلکه ته نادان ئی کوز به وایی
۹۸ - هلکه چی سپین متی دی چاړه ده
ما به خو لګی در کړای خور دی ګوره خوانبی دی میره ده
۹۹ -هلکه خدای دی واړوی وهلی قلمونه
قلم نه وونو خه وو چیری زه چیری موزی خرابه خو نـه

۱۰۰ – هلکه چی شین خال‌دی پرتندی دی
موږ ولاړ و تر هلمنده هلکه ستا لاروږ عنادپه خونه دی
۱۰۱ – هم‌دی ، هم د ی ،هم‌دی
www.libtool.com.cn
ددوو مینو څه غم دبیلتو ن‌دی
۱۰۲ – چی سرپرسره‌وږ کښیږ دم
سرو ږ می د فراق په اوښکو لونـــد دی
۱۰۳ – یووار کړه ســـررا کښته داتنه
یو ساعت به سره کښینو پـه دنیاکی ښادی نشته بی‌له غمه
۱۰۴ یو ناره به و کړ م‌دا بله ناره ستا پخاطر باندی
بل شی به ارمان نکړم ، ماداستاسړ وند کړ تر سرلا ندی
داهغه ناری دی چی‌دپښتنومستو پیغلو یا خود ښځو دخوادپیشتنی خان خانی د دورا ند تصویر ونو هره برخه په‌خاص‌ملی وزن او خاصو ملی‌رنګونو‌تصو یر وی . خو تو لی‌سند ریزی سندری دی چی اکثرآداتې په مینځ کی ویل کیږی .او کله کله خر نګه چی دخپل وخت دژو ند تصو یر دی نودمتلونو په رنګ هم دیــو ی‌خبری دتا ئید دپاره د ښځو په مینځ کی ویل کیدای شی خودابرخه داسند ریزاد ب هیڅ نه ښیئی ، یعنی دکند هـــار دسیمی داتیو نو ، سندر یږی‌سندری په حقیقت کی د ښځـــو او پیغلو هغه ما فی الضمیر یاد زړونو هغه راز دی چی‌خپل‌باطنی ټول ارمانونه احســـاســـات او عـــوا طف پکښی تصویر وی او ښکاره کوی یی،کیدای‌شی چی دا سندریز رنـــګ دبا لت په‌ا نځا لی یو وخت تصویر شی او د پښتنو فولکلور یـــک‌دود اود ستور په ونبودل‌شی.چی سندر ی ئی اکثرآ پرو فیسور محمد ګل نوری لخـــواویل شوی اود استاد فـــرخ‌افندی لخوا نو تیشن شوید ی اود ژوا ک په خاصه توجـــه داستاد فر خ څخه په ډیـــرتشو یق او تر غیب به ناچیزه بیه رانیول شوی او بیا چا پ‌شویدی . چی موږ به دد غوسندرو سره هغه نوټیشنز نه په کتاب کی یعنی ددی سند ر یز کتاب په مینځ کی پر خپل‌ځای راوړو او چاپ به شی.

## ۲– دکند هار د سندر یزمکتب بل غو ږی : ښارو ورا

«ښار وورا» چی اصل یـــی(ښـــه ، ورو ، ورا ) ده اوداهغه ور ځ ده چی دناوی کره ورا بانې (څو ښځی )را ځی‌اودناوی کور ته دوی ځی چی‌دتاجیکو ورو نود (آهسته برو!) سره ور ته سندر ده . کله چی دناوی کور ته را شی په همدغه تګ کی دار یی و هی اودا سندر ی پدی دول‌پکښی وایی : چی یوه ښځه د مسر ی‌سراخلی او نور یی کسراوپای دوی تو له په یـــوه اوازمسری پای ته رسو ی .دناوی‌دخوا ښځی‌هم با المقابل‌دسوال او ځواب پر ډول همد غه سندری او مسری وا یی او ورووروراځی په شور ا ودرب دار یی وهی څو د ناوی کره ننو ز ی‌او بس کوی یی.
په دغه ښارو وراکی هم دبا بو لالی مسری او بیتو نو په‌پیل وزی . دښارو وراسره ویل کیږی.
لو مړی د ښارو ورا مخصوص بیت وایی بیانو دلته دبابـــولالی د بیت لو مړی مسری‌دوه دوه واره او دو همه مسری یو واری لری . لکه دا:
ښارو ورا ښادی دی او ســـه‌شاه سلا متی دی او ســـــه
اتڼ دی د سپیروان نجونی کوینه خوراك یی سپین کشمش دی
سهار یی دغو ندی شمال‌وهینه

ښارو ورا ښادی دی او سه شاه سلا متی دی او سه
داسی زوم مو راو ستلی‌چاپه خوب نه دی‌لید لی
یا :
اتڼ می اتنی دی ـ کمیس می‌دسر ښین اترا نی دی
www.libtool.com.cn
پر مخ می عبا سیه ـ شابازمی‌دسرو زرو سنار ی دی
داناری د ښارو ورا سره ویل کیږی . دلته هم دنجلی صفت،دزوم صفت او کله دځای ستاینه ، د شغل ښوو نه اودکور او کهول منا سبا تسره‌رد بدل کیږی . لکـــه : د «بوری » (چی یو ځای دی) دنجو نو د اتڼ صفت دا ســی‌شروع کوی :
اتڼ دی دبوری نجو نی کو ینه ـ پر ملاکړه وړه شی
شا باز یی دنامه غوبی‌ږ هینه
دلته د «بوری» نجو نو داتـڼ صفت کیږی یا د اتڼ او ســم اتڼ دنه کو لو پیغور دا سی ور کوی :
اتنه ډیر ی‌لاپی دی و هلی‌ـ‌چی ځای در ښتیا راغی
اتنه نجو نی خدای و شرموی
کله دبی یار ی ارمان داډول په نارو کی کوی :



دښارو ور ادسندر ی یو ه‌تابلو .

امرت په ونه توره کند هاره‌ـ‌زلفی می اوږ د ی شوی
اوږدی زلفی به څو کر څـــم بی یاره
کله دیار ی پیغام په نارو کی‌رالیږی او دا ډول :
اوبو سه داو بو غاړی اوبـوسه ـ پر یارمی سلام وایـه
داګل می د سینی در سره‌یوسه
کله لادپلار شخه پدغه و ختکی ګیله شروع کړی . څکه بدسری ، یا بدی کور نی یـا خویی په بدی کی نجلی و رکړی وی نو په ناره کـــی وایی : (۱)

1 ـ یو زیږ څوز دی چی کلك لر کی لری

بابکه په څه ناز دی لو یــو لمــدزر گو آوردی بل کړ
بابکه پر لنبو دی کړ و لم
کله دیوی بدی ځای دی پــه خیرتیرید ل په ناره کــــــی یا دوی لکه دا:

www.libtool.com.cn

پرو سین کال لانبه و ــلا لیه ترشا توت لاندی بیده و
دخدای فضل کــــه نه وای ــلالیه سین به دواړه مره و
کله لا دتاوده موسم یاد ، ساړه موسم تعبیر د شعر په تارکی کی ادا کوی او یور نکیـــــن
تصویر دلته جو ړو ی لکه داچی وایی :
پور ته پنجوایی کښته سپیر وان دی
نور دګر می مره شول
پر شا لیلی د زلفو سا یوا ن دی
لنډه داچی د «ورا» ورتلل د ښځو په نارو کی بدرګه کیږی . خو دژو ند د کړو وړو ښــــه تصویر دغه ناری ښیئی .
دمثال په ډول تاســــی دا تصویر د «ښار وورا» سره په ساده شعر کی حکا یت تــــه ځیر شی چی وائی :
دبور ی غوا دانن لنګه تندیه
میړه یی پر کور نشته ــراوو ته تور سترګی ناو کیه
پدی ناره کی دغوا نـــــوی لنګیدل چی په اصطلا ح «تندی» ورته ویل کیږی او وا ښــــه غوا ړی خو د تور ستر ګــــی مجبوریت و ښو ته راو تل داډول د ژو ند یو تصو یر په دغه نارو کی لیدل کیدای شی او بیا یی دمجبور یت دحا لت تصو یر !
دی ډول دژوند ښوول په نارو کی او هغه هم په ګـــډه د نورو ښځو سره په مستــــی ویل :
داده د فلکلور یـــــک اد ب موزیکال تصو یر او دخپــــل دروا ن دحالت ښوو نه چــــی لیکلی ا دب یی نه لـــری اوورنه خلاص دی .او یا خــــو دژو نددی
ــ ډول تصو یر ... ویل څه زور غواړی .

### ۳ــ دکند هار دسندر یـــــز مکتب بل غو ړی
### خور ښا دی

«خور ښا دی» دواده دسندروویلو ښه مقد مه ده او پــه غه پیلا می سره دوی د ښا ری دوږ پر ځای کول غواړی ــ ددی دود بدر ګه دښځو ، په زیاته بیا دپیغلو او ځتو پیغلو سندر ی ویل دی .
داد سندر وو یلو میله کله جوړ یږی ؟
کله چی د ناوی پر ښی اوجوړه دناوی کور ته د زوم دکورنی له خوا راوړه کیږی .
او دغه پوښی پر ناوی سکنیـــــ پــد غه وخت کی نو یو ازی«پتاسی» (دبوری یاقند و ځخه جوړه شوی خاصه خوږه یــــــا شیر ینی ده . ) پر ناوی ــه پاشی بلله داریی وهــل ، او د خور ښا دی نارو ویل شرو ع کیږی

اول د خور ښا دی مخصوص بیتو نه وایی :
خور ښادی ده، مه ، سه ، پاته ، خور ښادی ده
خور ښاد ی ، ده مه ،سه پاته خور ښا د یموده
www.libtool.com.cn
او دا مسری ور ته اچول کیږی :
د کمبلی ژی یی توری ـ دکمبلی ژی یی توری
خور ښا دی ده
لا لی پر ننګ میـن دی ـخیښ نه باسی سر توری
خور ښا دی ده
دا ډول دنارو میله جو ړه‌شی چی خو ك دناوی صفـت‌دشین خالو په نارو هم کـوی لګه :
توره شپه به خدای رڼـاکی ـ خور ښادی ده
شین خا لو به خدای‌پیدا کړی ـ خورښا دی ده
او یو زوم دچتو پیغلو ناری داډول شروع کوی :
ژر راوزه بور ګیه ـ خورښادی ده
اوس رڼا ده دسپوږ میه ـخور شادی ده
دلته دنا وی ستا ینه چتـی‌پیغلی را وا خلی خو کله یوزوم توکی تکا لی شر وعشی
پدی شان چی‌ناوی ترتو لـو لاندی وښئی لګه :
بوره نده بور ګی ده .خورښادی ده
بوره مازی لیونی ده .خورښادی ده
پدی نارو زوم زهیری وی یا خو یی په تو کو خه کو چنی‌کول غوا ړ ی‌یازوم‌ته‌وایی :
سپینه خوله لګه کلدا ره ـ خور ښادی ده
خر خوم یی دو کانداره ـخور ښاد یده
بیایی ورته ستایی پـدی‌شان:
دهو سی تر شیدو سپینه ـخور ښادی ده
و لی نه راځی شیر ینه ـخور ښادی ده
او کله ناوی دا ډول پــه نارو ستایل کیږی :
دنری پوړنی ناوی .
دا نری ده پاته مه شه ـ زما دجان ښا یستی ناوی
خور ښادی ده
کله په نارو کی ناوی ته دپخو ښځو دعاوی شرو ع‌شی:
دا ډول .
زرغو نه شی ناوکیه
دا وو زامنو مور شی . چی‌ولاړه کی کیږ دیه
خور ښادی ده
یاد زوم‌ستا ینه او ښوونه شروع شی او دا ډول:

زما جان زمری نه ښېښتی
دکوز دی کتویی با ندی ـ دواده کلنگ یی سکښېنتی
خور ښادی ده

www.libtool.com.cn

لنډه دا چی دغه ور ځ چی دناوی پو ښن راوړه کیږی په دغه ور ځ دپیغلو وار ی دی‌او دنارو شر پ .

دپخو ښځو هغه چی پو ښن‌یی راوړ ی دی عجیبه دنـیاجوړه وی اوتمثیلو ی یی په ټوکو ، په سندرو .

په پښتنی‌دنیا کی د سندرو برخه اکثراً د ښځو ده او دا ـ ولوله دوی تو دو ی. کلـــه پیغلی دو مری شوخی شی‌چی‌دلنډ یو کتار پر را خپــــور کړی ، لکه داچی وایی .

جانان په ټو کو نه پوهیږی
ما په خور وز لفو وا هــــه مرور شو نه

دا شو خی خو گور ی پـــه خورو زلفو وهل او دا شو خی‌ټو کـــــی ؟
او بیا جا نان څه د نازه نادان بلل چی مرور کیږی یـــا دا چی :

تینګکه می مه نیسه پـــــه غیږ کـــی
ستړی ستو ما نه له واده‌راغلی یمه

د ی ډول د نجونو مستـــــولنډ یو ته مو پام شته چـــی‌دخور ښادی ، ښادی څر نکــه بدر که کوی

د مستو نجو نو د نیا مسته شوی وی او مستی لنډی هـــم‌ویل کیږی لکه دا:

په یاری زوږ سږی ځـــوانیـــږ ی
زه دلالی په یار ی ځوا نه‌زړه شو مه

دلته تاسی د پیغلو په‌خولودپښتنی‌نږی دکږ وو ږو تصویرو نه وینی ، هر ډول‌تصویر په ساده ژبه‌خو د خوږ والی او خو ندونو اندازه یـــــی ...هو ! خور ښادی دوی څر نکــه په مستی بدرگه کوی. دناوی پوښن کور ته‌راوړل داد نیا په څه ډول سندرو تو دوی ځکه ښادی وی او پر خور زیـــر ی کیږی . چی وایی خور ښادی‌ده؟

داز یر ی او دا خو ښــــی بدر که کیږی خود سندرو هرډول سندرو قیا مت جو ړ و ی. ځینی لاد ښین خالو دا نار ی‌هم وایی :

د یار یو یاد !
تا په غره کی میږی پوو ی
ما په ږغ وپیژ ندو وی
سور دستمال یی پراوږودی
کور یی لوږ پر کاریزودی
زوم یا دوی ـ دزوم کـــړه‌وړه ، دزوم کور کلی.
یا داچی د پوښن په ســــم‌راوړ لو کی دزوم مور تــــــه پیغور وز کو ی‌او وایی:
مور دی نه کوی دا ډونه

ما ته راوړه بخملو نه
گوری دناو ی غو ښتنی په نارو کی څو مری ښه اداکوی.

دلوه «ځوړ ښنا دی» ځور ځی یوه وړه منظره ده چی دلته په لنډ ډول په تارو کی تصویر شو

**٤ـ بل غـــوړی : دوه دوه تاره یی اخله ...**

www.libtool.com.cn




**په کندهار کی دناو یتوب په وخت کی دسر دو ینبتا نوا ړول چی د دوه دوه تاره اخله کیسی ورویی اړوه سندره لری.**

---

په عام ډول پښتو ن تبـــر خاص پښتنی دود او دستـــور لری چی دادی ددی دود یز ځ لاری پر خاصه سندر یزه برخه خبری کول غواړم ، ددی سندریز دود یا مکتب څخه تاسی دپښتون د ژو ند په هنداره کی د پښتون کر کتر یا پښتنی دود او د ستور ښه تما شه کولای شی .

ددی سندر یـــز ی لا ر ی دخرگند ولو دپاره ماد کنـــدهاری سند ربز مکتب یو بـــل غو بړی عنوان و تاکی او هغه د(دوه دوه تاره اخلی کسیـــوورو ورو یی بیلو یه !)سندره ده . دا سندره څه وخت ویـــل کیږی او څنګه د زلفو یاپیکی ویښتا نو تـــه د «ورو و رو بیلو یه» سو الی ور دمخـــه کیدای شی ؟

www.libtool.com.cn

وبخښنی کیسه ډیره او پړدده او زه یی لنده غوندی کوم.

«دوه دوه تاره اخـــله ـ اوورو ورو یی بیلو یه !»

دا دا حتیاط ناره څنګه کیږی ا وولی کیږی ؟

د پښتو د نورو منل شو ی دودو نو سره یو ډیر عمده دود دښځی جنس سره د ســـــر ویښتان دی . مثلا په پښتو کی یوه دعا ده :

«سر توره مه شی!» ســـر توری علاوه پردی چی د پـــوړ نی یا تکری لری کول دی، یا دتکر ی د یوه غو ړ ی یعنـــی«پلو» سپیڅلتو ب په کښیـــی منل شوی دی .چی پخپله د تکری سپیڅلتو ب او تقـــد س دی . په همدی ډول د «ســـر توری» حتی دپوړ نی تور والی چی د ښیرا په دود ویل کیږی.«تور تکری دی پر سر شه !»

یاد تور تکری پر سر کولوځخه دی «مولا» ، «خـــــدای» ساته ، دادی د «سر» د«پوړ نی» او «پلو» دسپیڅلتوب تقد س،چی موږ یی صر ف پرویښتانو یادو یښتا نو پر بیلو لوحبری کوو .

د «دوه تاره اخله ، بیلوی» ارمان دپیکی ړنګول دی پیکی ؟!

هغه پیکی چی پیغله ځوان ته په ویلای شی :

پیکی می جګ کړه خال می مچ (چپ )کړه

دجنت ګل دی پری تازه به شی مینه

دغه دجنت دګل تارو نـــه سره کله بیلیـــږی اوداهغه تارو نه دی چی دتقد یر په اړو لو او تا کلو یی ګوتی وهل تاکی څرنګه ؟

د تقدیر تاکل ؟ داد ی تاسی ته معلومه وی چه بیله ناوی کیدلو دو خت څخه بل وخت په پیکی ګو تی وهل دمر ګ پـــه وره ننو تل دی څنګه ؟

فرضاً دیوی پیغلی د پیکی یوه برخه چاپری کړه .پدغه وخت کی پیغلی ته څه پیښیږی او هغه چاته چی په پیکی یی ګوتی وهلی دی څه پیښیدل ممکن دی ؟

ښه ځیر شی ـ دپیغلـــی پیغلتو ب له مینځه تللی دی او دا مړو ښه شوی بللـــه کیږی . که څه هم نـــه ددی رضاوی اونه یی دکور نـــی خو ښه ، خو دا نجلی بل ځوك نشی غو ښتلای .ځکه دپیکی څو تاره یی پری شوی دی اودویښتانو تقد یس ته یی پـــه درنه ستر ګه ندی کتل شوی.

دبلی خوا ددی ویښتا نـ ـو پری کیدل د بدی ستن شو ی ده، چی ناغه یی څه ســاده مسئله نده . دا دود اودستورمونږ تر هغه ځایه تشر یـح کوو چی د «دوه دوه تـاره اخله !» دسند ریزی ناری‌سره اړه لری نو ځکه زه دو مر ی‌زیاتوم چی د پښتنی‌دود سره په ویښتانو کوتی وهل‌دتقد یردیدلو لو او اړو لو سره‌تعلق‌لری .اول خو پیکی د نجلی‌توب نخښه ده او دا نخښه څه وخت‌ایسته کیږی چی د ناو ی‌توب‌مرحله یا دتو لنیز ژو ندنوی پیل شرو ع شی . دغه کـــار دسر و زرو اقلا د سپینو زروستن کوی چی دا یوه اوږ ده ستن ده چی یوه برخه یی څـــه پلنه او دتبر زین یا خو کو م‌خاص نښان رنګ لری . هغه په خاصو مراسمو ، حا صـــو نارو دو ینښتا نویا پیکی په اړو لو کار کو لای شی چی د لاری بیلو لو اجازه پیدا کوی.

دمخه تردی‌چی داسندره‌وویل‌شی د «بابو لالی» په سندری‌بدر ګه شوی وی . او په بیل وزن داسندره ویل کـــیږی .لومړی دامر جع چی یومخصوص بیت دی ورا چوی :

دوه دوه تاره اخلی کیســـوورو یی ځنګو یه

ناو کی موده نا دا نه تـــرغرمی یی ځنډ ویه

بیانو پر دغه وز ن دبا بـــولالی یو بیت پسی وایی،پد اسی ډول چی لومړی مسر ی په دری واره چابك چابك ملرزه‌وایی او د ورو ستی مسر ی‌آخره حصه دوه‌دوه واره ویله کیږی . لکه دا:

شین با درنګ او بوراوړی

شین بادر نګ ( رنـــګ )اوبو راو ړی .                    !

شین بادر نګ (ها) او بوراوړی

داسی زوم مو دروستلی چاپه خوب (خوب) نه دی لید لـــی

چا په خوب ندی لید لی .

اوس به دپیکی داړو لولزومی بر خه هم وڅیړو .هغه داچی دلته دقو می ښځا خر ښی بنځ په دغه وخت کی څه ډول سوال‌او ځواب سره ویل کیږی خـــو وزن یی دغه وی. چی دلتـــه په تکرار اوچا بك وا لی‌کی وښودل شو .

اوس دلته ددغه ښنادی په ضمن کی تا سی وګوری چـــی‌په دغه وخت‌کی د طبیعت‌تصوړ یر ته خر نګه اشاره ده چـــی‌وایی :

تر خدا ی خدایی می جـــار کړی‌ـ آسمان ئی بی سکامو دی درو لی (۱)

داستوری ګـــل میخو نه ـ دالمر یی زړی لمر پر ښرو لی .

دلته دناوی سرجوړوی خـــو په دغه وخت لی ،آسمان بی ستو نه درو ی.

دستور وګل میخو نه اودزړی‌لمر زړی ورا نګی په تصو یری‌رنګ کی ښوول دا ده دپښتون دذهن لوړ والی اندازه چی دښاد ی‌په وخت کی هغه ښوول‌غوا ړی .

خود طبیعت دتصو یر ســـره‌دطبیعت وځینو تخلیقو نو رتـــه دخاص علت په وجه په قهـــر کیدل چی وایی :

ښا توره تو ته مات دی شه ښا خو نه.

---

(۱) سکا موــدخیمی ستن‌ته ویل کیږی .یعنی بی ستو نـــه آسمان ولاړ دی .

او ښنا نو غر غړی کړی –څوا تا نو باندی واړول بارونه

په عین ښنادی کی تر کوردلو رو تلیاودول دلور کورپه قهر کوی .

دا قهر دتوت په ښنیرا کـی ښنئی .

یاد زوم کور نی ته قهرښنئی اود خپلی پیغلی ستا ینه بیاخو مری ښنا یسته کوی چـی وا یی :

تور مار دکندو والی بغل نیولی
تور مار به ولاړ نشی
تورمار دسپینی خولی لذت نیو لی

دلته خپله لور دزروخزانه بو لی اود زرو پر خزا نـو فلکوری روا یا تو پر ښنا چی وایی :

«مار پر خزانه پروت و ی »دلته هم خپله ور کړی ،ناو ی دزرو خزا نه بو لی اود زر م کور نی مار ته ورته کوی چـی دزروخزا نه په لاس ورغلی ده او زوم ته دعا بیا وکور ی :

څوا نه دمیلی دی مبار ك شه
چی زما وخو اته کوری –څوا نه پر څوانی دی بر کت شه .

ددی ملی سندر ی هر څـــه لری . تا سی داناره چی نجو نی یی په دغه میله او واده کـی وایی وا وری چی وایی :

دا پوری غر وابنه دی –داسر یی لاره وهلی نه دی
واوړی نجو نو واوړی – تر لتو میږ و خال وهلی ښنه دی .

دلته دناوی صفت کو ی او هغه فلکلو ری روا یت یاد وی چی وایی «ددی نجل مخ لمر لاندی لید لی »دوی بیا وایی: پوری غر خو دشنو وونښو ډك دی . مگر سر یی لاره نـدی وهلی یعنی دچا ستر گی ند ی وراو ښنتی .

په دغه ورځ دستا ینو او کله لا دادبی طعنو ښاران وی. مثلا زوم ته دناوی همزو لـی څه وایی ؟ دوی وایی

دا هلك دکو می چتی وزور دی
دهغی چتی ورور دی – چـی امیل یی تر خنک کښلی .
خیال یی نور دی

په دغه ورځ شو خی شته او ددو ستا نو دپاره کله ناوی ستا یل کیږی او کله پر زوم وار دی او کله لا د دواړو خوالو وخپلوان دطنزو نو تر ښاران لاندی وی. مثلا:

دا کلی دچادی چی په دو ه نا مه یی بولی ؟
دا سر یی زما څخه ورك دی–دا پای یی زما دیار په نا مـه بو لی .

دلته دزوم کلی صرف پدی نامه پیژ ندل غواړی چی د پیغلی یار ته منسوب شی. دزو م پر کور نی او جیز یو نازنین واری.

دچیټ کمیس می غاړه خوږ وینه
زرغون مشدی را وړه –زرغون مشدی غاړه خوږ وینه

www.libtool.com.cn

په ناری کی دخوار جیز یادناوی دکا لو پیغور دوله ناره دهاوشوی‌ده.خیر.«دوه دوه تاره خله » پــه حقیقت کــی دپیغلی او ځوان دنوی زړ ند ، نوی دود ، نوی دستور ونوورځ ده چی دپیکی په اړو لو کــی‌مضمره ده او دلته په رښتیا ددوو ؟! صرف‌دوو تارو نواړو- لو سره دپښتنی دود او دستور تول شیان خوی او بوی کړ کتراو خصلت تول بد لیږی او ناری یی یایی سندری ددوهغو کسا نو ژوند ته دبد لون مقد مه ورغړ مه کوی چی بیا پښتنی کهول .پښتنی کلی او پښتون‌تبر ورته ستر کی پر لاری دی‌خو دغه دژوند دبد لون مقدمه دنجو نو سندری تصو یر وی اویادوی‌یی-دابنه ورځ‌دتولومیلمنه ده - صرف دسر اړول یا او دل ،دپیکی پری کول اولند ول یا اوږدول ندی مطلب‌دلته دپښتون دنیا دلوی سیند په څپی کی پر دغه بلهٔ خواړول کیږی چی ددغه وخت‌دسندر یزی دنیا یوه وره خوا وښوولهٔ شوه .

www.libtool.com.cn

## ه- با بو لاله

با بو لاله هغو مخصو صومسر یو او سند رو ته وا یی‌چی‌دواده په‌لومړی‌ورځ ،دخایښت په وخت کی چی دناوی سر غوړوی او دوا ده پر مخــصو ص تخت یی کښینو ی، دورا او د ناوی دخوا ښځی ،کډی و ډی،شاو خوا سره کښیني او ناوی‌په منځ کی نا سته وی دناوی سر ته ویل کیږی نو دغه ښځی‌ناری وهی او دغه سندری په کډه سره ورسه ره وا یی :

او ښی ولاړ زنگون تر لــی(وای)
اوښی ولاړ (وای وای )زنگون تر لی (وای)
تر هغو به یی خلاص نــه کړم (وای) با بو لاله لالــــه (وای وای)
څو زما جان نه دی را غلی (وای)

لو مړی مسری تکرار او په منځ کی یی (با بو لاله و ای‌وای) ورا چوی .

دو همه مسری یو وار او دمسری په منځ کی (وای ، با بولاله ،لاله ،والا،لا) ورا چوی .

دبا بو لالی سندری په دری نورو صور تو نو هم ویل کیږی‌چی هره یو ه یی بیــل نو مو نه لری لکه :

۱- دوه دوه تاره اخلی .
۲-خور ښادی .
۳ -ښارو ورا

دغه دری سره با بو لا لی په خپل وخت او ځای کی ویل‌کیږی چی موږ هره با بو لا له په تفصیل سره ښودلی ده

په با بو لاله کی دبنغ‌دلو ړولو زاید (وای هــو، ووی ، های ،او آزو نه موجود او په لو مړی پاړ کی هم غا لباء ناوی،دهغه دزوم یا کور نی یوه‌غړی ته‌خطاب او په دوهمــه مسری کی دهغی دمیړه اودمیړه دکور نی او ټبر نو مړ ه ستاینه کی یاده‌وی - په با بو-

لاله کی کله کله د ناوی اومیره دکور نیو تر منځ په ستند، وکی مقا بله هم وئ چی هـر • خوا دحپل نفر (ناوی ،زوم )تله له هغی بلی خوا ته در نوی .
ددی دپاره چی دغه دژو ندتصو یر تا سی ښه وګوری موږدغه ناری په تو لو رنګو نو کی ښیو او هغه دا دی:

www.libtool.com.cn

## بابولالی

اس‌وشیشنل په زوره

جلو ونه را ته طلب کړ ی زمو نږ دخیبنی دلو یه کو ره
اما رت (۱)دیری‌هیند اری
لالی پسی راږ غ کړه نیك پلوه شی ور یندارى
او ښی ولاړ زنګون تړ سی
تر هغو به نی خلاص نکړم څو زما جان ندی را غلی
اوښی ولا دی ګجا وه ته
زمونږ خیبنی ته وا راووځه لور راوباسه لو بته (۲ )
اوښه ولاړه تر دامانه
زما جا نان پسی خبر کړ ی چی په شرنګ وهی بهانه (۳)
باران اوری منا څا څی
که ناوی زما دجان وه تر نو کا نو ئی زرڅا څی
پرا ورو اچوی برو ز ی
داسی زوم مود رو ستلی تاسی ئی وګور ی بر و ځی
پر پلو دی پیله بوده
ته می ګرانه منده مکړه ورا دی تړوله دلیو رزو ده
نږدامان ولاړ هنجه (۵)
زما جانان دبیخه و کیښی نوم ئی‌ولاړ پر څلور کنجه
پر دیوال ویشتلی سکوردی
زما دجان واده چی وینه دلالی په غیږ کی زور دی
پر کدر دوه زرغون شا له
زما جانان ورته ولاړ دی لاس ئی نه ورځی له خیاله
پر کورسورزو مبك زړ یږی
هغه لور دی ستر ګی وخوری چی دپلار په کور ناز پږ ی
پر مونږ بیاد روپو زور دی
څلور نیم زره مهرو نه زماجان دناوی بـو ل دی
پر مونږ بیا نوی هوس دی
زما دجانان ساری نشته مګر اوس دمور په نس دی
پلو واچوه پر بو تی

(۱)ـ امارت ـ یو کلی د ی(۳) ـبهانه ـ داس بچی
(۲) ـ لوبته ـ مر غا وی (٤) ـبروزی ـ خوشبوی بوټی د ی ( ٥) هنجه ـ بو ټـــی

لیور دی آغا جان دیٔ اشرفی (۱)باشی پر موتی
په درگاه کی خزانه ده

په نیو به ئی و ستا ئــی زما دجان خوا ښی درنه دی
www.libtool.com.cn
پر تر نګك (۲) کی کجاوی‌دی

زما جان چی واده و ړینــه ور سره مستی تر لی دی
تر یا لنبت لاندی انار دی

داسی زو م مو درو ستلی چی نامتو دکند هار دی
تر دیو یس لاند ی کوچی‌دی

زمونږ خیښه چی دا را غله سل او یا ئــی جنګوتی دی
چی بد ګــل کو ی ما خیــه

هغه پلار دی‌کو لمی‌پری‌شی چی به دلور کــر ی‌مخیــه
چی پر مونږ دمونږخو وکړه

چی وارد خیښی را غلــی امیر ی کارو نه و کــړه
چی توپك ئی پرپښی ایښی

تر دلسی غیر ت جان ښم زما جان دی سر پرایښــی
په چکښ دی ارخا لك دی

زما جان دغه‌دیٔ را غلــی دمکی دور لایــق دی
چی د مخه مو دا لا ن دی

ناوی مه که ارما نو نــه ورا دی‌توله ښه ځلمیان‌دی
چی مونږ ه کړی خیښه

نغری دی چار کنجه کره کور دی لوی که په غالیه
چی دنجك مو کښیــده دی

دخدای ریښتیا به وا یو زوم تر ناوی ښا یسته دی
چی کهوه مو ځنځیر داره

چی ناویٔ د لالــی ده دا به نوی یی کــرداره
چی میچن میده اوړ ه کی

هغه مور دیٔ ارمان نه کی چی دزوی ناوی واده کی
خور بل واخله پونده‌کښیږده

زما جانان پر خال مین دی هفتکی خالو نه کښیږ ده
خور په‌زین‌کی کوتوری دی

---

۱ــ اشر فی ــ دشاه اشر ف هو تك سکه ۲ــ تر نــګك ــ سپند دیٔ

مه یی شر نکو یه زموږ د خیبنې زړه نری دی
خور تورا ږس‌تورئی تانکونه

زما دجان واده مورا وړد دمیو ند پر مید انو نـــه

www.libtool.com.cn

خور په تش‌کی اوبه تو ر ی

موږ داسی ناو ی درکړه بی رنجو نی سترکی توری
خور خدای ښه وینه ئی‌وکړه

زما جان په خندا راغـــی ولالی تی کوزده و کـــړه
خور د ورور واده کو ښنـه

داسی خور دی گل گلاب‌شی چی ورا بانی بو یو ینـــه

خور و باسه غا لیـــه
دکمبلو د ورو ینـــو اوښبان مه رادر نو پـــه

خور سهاردی زموږ‌تلواردی
نا وکی مو په لاس راکه زموږ کور په کند هار دی
خور پسر لی پر مناو خو ت

د خدایه موږ راضـــی یـــو چه د خیبنه مو لاس وخوت
خور ململ دی‌نوم ئی لوردی

ښه لیور ختلی لمر دی دور یندار ی‌سر په لوړدی
خور مه غواړی نه به‌غواړو
ناوکی مو په لاس را کـــی دخدا ی ښی‌به سره غواړو
خورمه لوروای مه یی‌نوم‌وای
مه دلوی سهار ژړا وا ی مه دلمر خاته بیلتون وا ی
خوریی بیاتر چولو(۱)گوری

ولا که بیا ور ږغ کـــی چی دا دا ادی دی بو لـــی
خوری خدای دهر چاخدای دی
دلا لی دکور و سر تـــه زما دجان دناوی ځای دی
خور در غلو در ځو نـــه

کند هار کی نجونی ډیر ی موږ په ښه نامه درځو نه
خوری شور سره غر مه‌شوه

ناوی ژرژر جوړو یه نن بیا در با ندی شپه شوه
خوری‌سره شوه‌سره‌غرمه شوه

---

۱ – چولو – جوله – سوری

ناو کی مو په لاس را کـــی — تریښو لاندی مځکه سره‌شوه

خوری ورا راغله پر غو لی

پرغو لی راخپره شوه — د نغری تر ژبه یو دی

www.libtool.com.cn

خور ی ورا راغله دبلخه

دبخارا کمیس ئی راو ړی — نر ی ستن ده باندی‌خر خه

خیبنی نو ی سر او دلـــی

زما جان ئی دائی جوړ کـــی — لکه لمر په غره ختلی

دتو پك په خو له کی‌خال‌دی

ناوی ښی کوه خـــبر ی — لالی ستا دتندی خال دی

دچار سو دبری خو د یـــه

زما دجان پر سر ئی نه کړه — مورئی نه وه مسکینیه

د خاسی دار زانیـــــه

زماوجان‌تی پرسرنه کړ ه — خوانبی نه وی مسکینیـــه

ددا لان مغ مو وانبه دی

داسی زو م مـــو درو ستلـــــی — دکاله رنګ مو په ښه دی

در نده خبنته اوبو راوړه

که ناوی زما د جـــان ده — پرنیلی اس بازی راوړه

دزوم مشر ی ور یندا ری

د با هودی شرنګهار دی — اسپی و تور یدی و لا ړی

دسپر لولویه میدا نـــه

سپر لود ی یی نن به خـــواده — ستړی مشی زما جا نا نه

دسکاڼ لم لکه لیخیـــــه

زما جان ئی په‌شا راو ړی — لکه تو ر ه بلو خیـــــه

دکمپلو ژی ئی تـــور ی

لا لی پر ننګ میـــن دی — خیبنی نه باسی سر تور ی

د سهار باده زلز لـــه

دغه لور ئی پر یوه وړ ی — دا شیر ینه مو پر بلـــه

دسهار چر که کل کل کـــی

زما جان دغه دی را غـــی — پر خسر یی تو کـــل دی

د کونجی پرسر سرپوښ دی

مه یی ښور ویـــــه ناوی دکه ده له خرو ښه

د سهار خو نه توده ده

www.libtool.com.cn

زما جان ځنـــــی را وو ت په ښی لاس‌ئی و ظیفه ده

دکور سر کوره نړ یـــړی

ناوکی مو ځینی بو تلـــه اوس به څوك ورو لاړ پړی

دلور موری اند یښنی کـه

لا یقـــی دزوی مو ری داکړی مراندی اوړ دی که

دلور مور وکوره بیده ده

مه ئی ښور و یـــــه نن ئی پیالمبه تاز ه ده

د مسجد تر شا ناره ده

په څه درب ئی ودو ینه دچالور د چاو ر یره ده

دنـــری پو ر نـــی ناوی

دا نری دی پانه مه شه زما دجان ښا ښستی ناو ی

دورا سر تر کلی و خـوت

دغه زمـــا جـان دی دسر وزرو سره و خـو ت

دورا ور ی مولمور دی

چی ستا په ورا را غلـــی هغه تو له شملور دی

روځی دوی ده د ښا دیه

او چی ځوی‌ئی زیـــړ ی بل چه راو ړی ناو کیـــه

زرغو نه شی ناو کیـــه

ددو زا منو مـــــور شی چی ولاړ ه کی کیږ یه

زما جان زمری نه تښتـــی

دکوز دی کتهو ئی با نـدی دواده کلنگ ئی مسکښتـــی

زمو نږ خیښی هم مو خپلـــی

زما د جان په ورا را غلـــی داپری غواړ ی پو ړ نـــی

زمونږ د خیښی کمبلی کلکی

زما جان باند ی تیر یـــړی سپینی پیښی لکه کا لکـــی

زمونږ واد ه کر مسیل دی

ناوی ژر ژر جو ړو یـــه را سره دسپړ و سیل دی

زه به لاس کم په کخو ړه

دخور برخه به ورن کـــــم　　　خور دی‌خدای ته گی بی‌وروره
سر کوندی دی نه اود کیږی

چه خپله مور ئی نه وی　　　په پر دیو نه اود کیږی
www.libtool.com.cn
شنین با درنگ اوبو راوړی

هاسی زوم مو درو ستلـــی　　　چا په خوب ندی لید لی
کجاوی به سرپه سر کــړو

که ناوی زما د جان ده　　　سور جو بان تر لاندی‌زانگی
گو تی وخوری سو او دنی

په لوی سهار دی مات کړه　　　دپیکو نر ی بنـــدو نـــه
لمر راو خوت‌اوره سره‌شوه

که ورا پاتی زما دجان وه　　　دبر ینبنا په‌دودیی تله‌شوه
لور او مور سره ولاړ دی

دلور اوښکی ئی توی شوی　　　ددی مور پر گر یوان لاړی
د لیو رو ینی لو گیـــــــه

دلا لی ناو ی‌را با سو　　　مخ نی لمر شائی سپوږمیه
مونږ راغلی له لر ی یو نه

کارمو دلته بل څه نـــه و　　　مونږ یو مسته پیغله وړونه
میږی ولاړی وری خلاسیږی

داهم د خدای رضـــــا ده　　　لور دمور شخه بیلیــــږی
ناو کی پر تنگا چه څـــــی

چی کوښی ئی وړیه پښوکړی　　　دلیور و دمخه بنه څـــــی

ناوکی پر لاسړد ستما لدی

چه دکام ئی بیلو ینـــــه　　　پر زړه یی ډیر ارمان دی

ناوکی خا نـــواد ه ده

د پلار د کور ته ئی بیا یی　　　خانه زاده هم ور سره ده
ناوکی گو تی دسرو دی

تر دسمال ئی را ایستلی　　　چه سکه لیرر و نه څو دی
ناو کی سین و در یـــا ی

د پلار دکور سر دار ی　　　د میره دکور با دار ی
ناوی اغو ستی دی تنگ دی

زما جان دغه دی را غـــی　　　دپسر لی ترگل ناز ك دی
ناو کی پر ایکه عباسیه

دپیکیو وار دی تیر شـــو　　　　اوس دی وار ی د نکبنیـــة
نا وی پښه اخله سپر یږه

زما جان در ته ولاړ دی　　　　په ځوانی ئی هــــو سیږه
ناوی څه شمشاددی در خته

www.libtool.com.cn

زما جان تر لاندی ناست دی　　　　پاچا هی کوی بی تخته
ناوی څه سینګاردی کښیښنود

اینکی د دنیا د وددی　　　　ددنیا دود خودی پرییښود
ناوی څه په ارما ن ژا ړی

چار ګل مو دی ورکړی　　　　دبتکیو امیل غـــــوا ړی
ناوی ژاړه شر م نشته

مونږ توله سره خپل یـــو　　　　بیګا نه را سره نستـــه
ناو ی څه په مخ دی ښه شه

چه ستا په لور ی در شـــی　　　　نیلی اس دی صد قه شی
ناوی سور ی دی ببر دی

په رنګ خو ښا یسته یـــی　　　　په عمل د ی خدای خبر دی
ناوی ښی ولی دی تخت دی

که می‌جان‌ته خدای‌زوی‌ورکړ　　　　ناوی ستا تندی دبخت دی
ناوی ګل په تندی کښیږ ده

زما دجان تر شاسپره ښه　　　　دغه خپل همزو لی پریږ ده
ناو ی‌ګل پرتندی کښیښبږده

لیور دی زما لالـــی دی　　　　آغا میرنوم باند کښیږ ده
ناوی ګل ده ګل‌بی بو لـــو

که هر څو ښا یسته ده　　　　زما دجان په نام ئی بو لو
ناوی مه ژاړه ما ښام دی

ژما جان به خدای لوړ لـــی　　　　پر ما بل واد ه حرام دی
ناوی مه شی لاسی خـــواره

دلالی د زړه د پــــــاره　　　　مو نږ سرو سترګی دواره
ناوی ژر که اسکیلوی که

همزو لی در ته نا ستـــی　　　　دهمز ولو زړه نر ی کـــه
ورا دی راغله تك ئی نشته

دتو پك دارو به ور کـــو　　　　دو یشتو سړی ئی نشته
ورا راځی پر له مند یـــږی

دځا را کمیس یی راو ړ　　　　اوس پر ناوی نه‌جوړ یږی
ور وره راشه لاری با سه

که لار در څخه نشتـــــه　　　　دهوسی‌په ښکر یی با ســه
ور ور ه لاس که په کڅوره

امیل غمی را کاږه　　　　خور دی ځی دپلار له کوره
ولی ژاړ ی ناو کیـــــه

کمیس به دی ځا را کـــو　　　　دکنډ غا ړه دی بخیـــــه

## ٦ـ دشین خالی تاری

دشین خالو تاری چی دخال او شنه خال په رنگ دمینی او محبت دپاره دمحبت داو رلگو لو او تازه کولو بنه نخبنه ده او اکثرا پر تندی او زنه یا بارخو، حتی دزړه ورلو دپاره دلاسو نـو پر هره خوا وهل کیږی . دپښتو ادب دفلکلور لویه برخه ښه چی دکلا سپکو شاعرا نو دپا ره یو غوره شعری سمبول بلـل کیږی او ریښه یی خورا زړو اریا یی مذ هبو نو حتی داسلامی دوری سره نوره هم ولو لــه ئیزه هنگامه تودوی اوپه د ی شان چی وایی : دبر همنیت او هند وئیزم لوی لاربنـو د« بودا » د « نیلوفر » دگل دمنځ ښخه پیدا او دنړی خو جهتـو نو ته خور شو اود «لوتس » غاتول دمنځ تور داغ هم ورته ورته دی .

www.libtool.com.cn

په همدی شان دآر یا یی شا نداره لار ښود زرد ښت دخواد نوروز ورځ ځکه اختر بلل شو یده چی دشین بو تی دودی مبداء همد غه ورځ ده . خو داسلام درا تگ سره یی دوریخو دمحراب په مینځ پـه تشبیه کی د « پـر نـس » پیدا کړ . دا خو د شین خا ل دزرو نو کلو نو تاریخ اومذهبی حیثیت دی . اوس یی د منلو حینیت په خلکو کیو کورنچی دخال دوهلو په صرف نه خبر ـ ید لو کی دلندی په رنگ څه دول ناغه غواړی :

خال دی واهه خبر دی نه کړم
ناغه به راکړی دسور کـو
شونډوسرونه

یا خو په کلا سیك ادب کی حنان بار کزی ،دا توره دا نه دځه ډول جادو اثر نا که نخبنه بولی او وایی :

خال دی هسی رنگ بند ی
کړم چی له ځانه خبر نه یم
حر یا نیږم څه جا دوو پـه
یوه توره داته کی



شین خالو دیو ډول فلکلور یکو سندرو سمبول

### تــاری

د کلا تر شا تیر یـــږ ی
مرور نه یم شر میــږ م
تاپه غره کی میږی پو و ی
توره شپه ده توره خو نه
توره شپه به خدای رڼا کی
د بوتو مخ د ی چکـــن دی
د بوتومخ دی زر یـــن دی

مرور ئی که شر میږ ی
د تومته دی بیر یـــږ م
ما پرېږغ وپیژ نـــد ووی
شین خا لو نده معلو مه
شین خالو به خدای پیداکړی
ته چی ځی زما ځنکند ن
ته را ځی پر ما ناور یـــن

سور دستمال یی پراوړودی
دلته نشته کار یرو ـــه
شین خا لو پـــر بام ولاړه
نه مچك غوا ړی نه غـاره
زر راووخه بور کیـــــه
بوره نده بوره کـــــی د ه
شین خا لو په کلـی ولاړه
نه به لچ راوړی نه غا ړه
گا دی ملو نه ملونه لیږی
د بــو تـــو تنی تــــر م
گله مه راځه د شپـــــی
گله مه کو ه د قیـــــت
زه بندی وم په کلا ت کـی
زما د سرو حوري چار کـــل
سپینه خو له لکه گلداره
ستر گی توری لی نو راشی
گله ولاړ شه ختی و کـه
مورمی نه کو ی دا دونـــه
داچی ما نن زگیروی و کـی
خیرا ت را با ندی وکـــی
سپینه خوله دی په گلوده
گا دی مه لره چینکـــــی
زما لاخیله زړکی شین د ی
گا دی دودو نه با ســـی
گاډی اور دی پر پیچو شه
شین خالویه تنوړه د ی
گا دی را غله پر شیــــوه
ویا نسی ته نی خیـــژ اوه
زما دی سر و خوری پیکـی
خوك دی نه منی مرا نـــه
په شیر جان دلی پســــی
سل نی مره کرل‌سل تپیا ن
د انار تر گل ناز کـــــی
د گاډ ی تر در پیچــــو
زما د بوری کمیس ژیړ دی

کور یی هم په کاریز ودی
زیرو کش کړه جلو ـــه
چی توپك یی دی په غاړه
د جانان دیدن ته ولاړه
www.libtool.com.cn
او س لار نا ده دسپو ږ میه
بوره مازی لیو نـــــی ده
هم به لچ را وړی هم غاړه
د جانان دید ن ته ولاړه
د کوزك وغره ته خیږ ی
د شا لما ر میلی ته ځــــم
پرما ولاړ ی دی پیـر ی
پر مین تل راځی زحمـت
بوره‌خوجگه شه خوله را کی
چه یارمی ځی مخ پر کابل
خر خوم ئی دوکا نـداره
مورړ خوارا ن له کاره با سی
دجا لی کمیس راو کـه
ما ته راوړه بخملو نـه
گل خیرا ت را باندی‌وکی
موریی تر یو کباب رانه کی
رضا ستا د شنو حالوده
توتا پردیس دی زما لالی
گاډی‌ستا تگ په ناوریـن دی
اوس‌به‌زمونږ مسا فرراشی
ما بندی جا نان ته یوسه
په رنگ‌ډیره ښایسته ده
گله سگرت ولگــو ه
گل می وو ت د یـــاری
د موره یو لرم لالــــی
خو لانورمړه که جانا نه
ولاړ ی غیرت د زما نــی
جا غوری راووړنن جا ن
کم لایق به دی واده لی
گا لی دی با دوهی زړو
که ژړ لمر پر برا بردی

د ګاډ ی پر پیچ زنګیـــرم
ګله کښینه سره غر مه ده
د اوبو پر سر لړ کـی د ی
شین خا لو پر ملا نـــــر ی
زه د سرو زرو لښتي وا ی
ګا شکی ته دا نارګل وا ی
پر آسمان باندې سپوږمۍ ده
ګرانه راشه که مې ګو رې
د بادر ده باد لـــــه زوره
که سر توره شم ناز کـــه
زه د سرو زرو بنګړی وای
ته د بوری میږی ورای وا ی
د سور سا ندی ګل شکومه
پسر لی دی بارا ن اور ی
شین خا لی اوبو تـــه ولاړه
د اوبو ګودر ته ځمـــــــه
تور پیکی می دی او دلـــی
دا کین دیډ چـــــــوری ده
د کین دی پیخو ل پـــور ی
خبری مه کوه بی با کـــه
خو له به درکم خو بیر یرم
اشنا نی دی ډیره ګرا نـه
تر ما نبا مه صبر و کـــه
مسا فره ځه تیر یـــــــږه
ستا دیدن ته یم را غلـــی
سر به ستا پر مړوند کیږدم
زه به ووا یم اد کـــــــی
ولاړ به نشم ستاله ګلی

ګله لاس راکه در خیژم
زما چارګل کړی سایه ده
ګله مه راځه مر ګی دی
په پښو به خنګه وړی بیږی
په غوږو دشین خالی وای
ما به ایښی پراور بل وای
که رامخ ته شین خالی ده
لاس می سره دی ستر ګی توری
شین خالی نه کی سر توره
دا لوان تیکری راو کـه
ستا په لاس کی مـــــــی شر نګی وای
ګرانه زه دی غږو ندی وای
شین خالی لره نی وړمه
ګران دغرو پرسر وښوری
سور منګی راوړ ی پر غاړه
د نازك د یدن کو مـــه
ګرا نه تاته می سا تلی
کوم یی وری کومه یی وری ده
هیڅوك نشته که راګوری
چی مرم راشه خو لګی راکه
نژدی مه راځه شرمیږم
چوری ځکه شوه پښیمانه
خوله به در کمه ناز که
خوله می نشته مه ګانیزه ( خبری مکوه )
نه می کور شته نه می ګلی
خدای منی که به دې پریږدم
خوك ولاړ دی وکړدی ته
له نا کامه دی شړ لـــی

www.libtool.com.cn

که ورغو می راته پا ئـــی
پر دیسی ده ډیره ګرا نــه
لږی مه څه لویو غرو تــه
زه دی‌لیری ته واده کـــړه
وری به څری پر غو نـدی
د شپنو ډوډی در نـــه وی
دغه څه وایـی هلکـــــــه
زړه می خوشی بنه کـــوی
که می خوله نه در کولای
اشنا ئی دچـــوری اور دی
نر یځی له اوبو ډکـــــه
شنه لنګی‌خندی ئی‌سری‌دی
تور ی خنی سپین مز عـــی
هوسی تر شو دو سپینـــــه
زه د ننه ته د با نـــد ی
میخك واخله له با بکـــه
ستا خندا می په یاد راغله
پرمیدان ورته ولاړه
مرګی مه راولی خدایه
عمر تیر شو په خواری کی
سپین ګالی به دی لاندی‌که
پورته خیژی وغندی نــه
ستا خبری نه خلا صیـــبری
وکړی دی تـــــر مخ ولاړه
دا په غره کی شین خالی ده
پر مخ مه وهه خالو نـــه
د کیږ دی پیخو ل نبـــوز ی
دما نیام سترګه پریو ز ی

در کوم به سپینتی ګاډی
خلاص به نشم ده تادانه
لیوه نه راځی کور وته
www.libtool.com.cn
تنها نه ځم بی ملګر یـــه
زه به دروړم پسی‌ډوډی
چه خریږی ور سره نه وی
خو له می پو څـــه ده نازکه
خو له می پوڅه ده ناز که
ته می ولـی ځند ولـــــی
زړه می ځکه سوی سڅور دی
چه تا مې نه کاناز کـــه
خوږ ی دا د ی څه نخری دی
په مخه راغی تور پیکی
ولی نه راځی شیر ینــــه
اورمی بل دی پرزړه باندی
چاوی مه راڅه ناز کـــــه
ستر ګی دکی ژړا راغله
ګل‌می نه وګاډی و لا ړ ه
چی ګران راشی تردی ځایه
د نازك په جدائی کـــــی
بارا ن راغی څه ناز که
ولی‌نه راځی کیږ دی ته
چوری لمو نځ‌می قضا کیږی
سپینه خوله دهیلی‌غاړه
که دسرو کلو ګیډ ی ده
ورا نوی د زړه کورو نه
شین خا لی پته را کوری
چور ی ولی نه را ووځی

## ۷ـ کاکړي غاړې

www.libtool.com.cn

کاکړ يولوی کام دی چې دپښتونخوا د کندهار سيمې تـه څرمنـه «ژوب» په نامه سيمه کـې اوسيده دا سيمه په کاکړستان سره هم ياد يـږي.
کاکړ پخپله خبره ډيـر ولاړ تبر دی. دوی پښتو وايي خو پښتو يې دا شکل يو ( دبارګزـ يو يوه پښته ده ) ژبـې اولهجې ته ورته ده او د لهجې په لحاظ ډېره ورنږدې ده.
د کاکړو نارو رنګ يو نظم شوی حماسي ته ورته دي‌چې دوی په دې نار وکې د انګريز سره غاز يان ستا يې او ددوی د مړا نې انځور کړې لـوی. مثلاً په دې نار وکـې دوی د غيرت څخه په ډکو تعبيـرو دلوی غازي، شير خان چـې‌دانګر يزی فوج ورکو نکی، و دهغه نيول، د هغه د مـېچ زندا ن ته اچول او د هغـه شهادت اويا نسې کول ـ په همدی شان د دې بريا لـې‌معرکې بل قهرمان د نيك په نامه مړ ستنه غواړې او د يو باتوري‌غازي‌ښځې بختي‌په نامه‌او د هغې د يندار کړ او يـا حسن خان مړنې، يا نادر خان او نورو په مړا نه له کـوره‌انګر يزی فوج ورکو نکـې، واو په عين حال کې پـدې نارو کې د مينې او محبــت‌اظهار، هيلې او ارما نو نه، مينې په لار کې دکړاونو، يادونه، هغـــه هم... اودا ډول حکا يتی نظم ته ورته آهنګ او د خاص وزن خاو ند دی. خو فرق يې د شين خالو څخه دا دی چې دلته دحما سو تصو ير هم شته او د احماـ سوی بر خه د شينخا لو پــه نارو کې نشته. دا هم د لنـډيو خاص رنګ غو ندی دی چې دلنډی په شان آهنـګ او د تول ژوند تصو ير لری. خـو کا کړی ډيوی خا صې معر کې تصو ير او د مينې مشغـــولا هم ښئي.

يا يې په ادبی ابدا عـــې تشبيه کې د تشبيبی نوی والی‌اسما نی کوی او وايــی:
او لکه حنان بار کړی چـې دايي خا ل ندی د حسن په ګلشن کې
وايي: لږ هلك دی حبشي ګـــل ته لو ی

يا بل ځای يــی دزوم‌دهنګامی‌دتو دو لو دا تعبيرور ته‌خرمه بولی
دا نی خال ندی دور څو په ما نی کی
د تصو ير څراغ کمال پـرموتيي کښلي

يائی « ژواك » رزمی تعبيرته سپاری او وايي
ستا وتو رو و ر څو تــه زړه خو مری لوځی پوځی شـر
دا خو کړی ورو ځی محراب نه شو له چاره شو لــــه

په هر تقد ير د کاکـــړو نار ی په هره سيمه لـــې اهنګ اړو ی او د پښتنــــې ژوند هراړخيز انځور کــړ ی ور د غاړی ده چی تا سی يـی دا دی د ځوان زوره د ارمــا ن په څخه کې ووينئ:

دا پر گل پر ته ړلـــــی ده
زه دی څه کوم چـــوری
شین خالی ویل نا زکـه
شین خالی ویل دامی یاردی!
ده زړل دا پـــه خنـدا وه
دغه څه وایی چوړی
اد ی‌مور می‌ده بیـــــداره
ماته وائی شین خا لـی
دعا نه کوی تکـــا ن دی
دید ن وکه بیر ته ځمـــه

که سپین غاښ دشین خالی ده
نه را وځی له کیـــږ دی
بیرته ځم دیدن می وکـــه
www.libtool.com.cn
مسافر دبل د یـــا ر دی
دی مجنو ن و دا لیلی‌وه
پر زړه می مه وهه چوړ کی
در تلای نشم له دی واره
بیرته راځه ورکه ډوډ ی
هسی نه چی ملنگـا ن دی
ځه پر خدای به دی سپارمه

## غاړی

نه راځی وطـن گتـــــی
تر چینلی زر رو ښـــا ن
څله مات ئی کړه گورگیان
( کلا چی ) تایم نی مل دی
یا به ځان خوار کړم پستـــی
یا زه وڵـه تو پا نچـــــی
بازیی مړکی‌سره‌په زور کی
خود به یی ژاړی ناو کـــی
باز دی نه یو وړ تر ځا یه
د بازخان په مرگ خبر شو
اوس دی ځان خوښ‌دی‌کا بل
سړی راتول کړه خپل‌هلکان
په تحصیل کښنی تکهار دی
ورتمام شول کار تو ســا ن
سپین پتکی مو شه لیـــلا م
چی پا نسی ته ئی خیژوی
وایه دا دنیك د ی‌څه کـــی
د نیك سر دار یی راشـــئ

پر کا بل کـــا ل تیره وی
ولاړی کابل ته ( کلا خـــان )
تر جر من سخـــــت دی ( کلا خان )
اور پر سره گور گا نـــو بل دی
یا به پر (کوت) وړ مدرسا لی
وخت دی تمام پر لاری ځـــی
( کلا خـــان ) به ولا ت تور کی
تر باز دسرو وزی گو لـــی
پښنی دی ما تی شه چار پا یه
ړوب ته سره‌پر نگیـــا نسر شو
تا به سردار با له پاکل
کار توس ور کی لـــو ی ( شیر خان )
نن درود دسر دار وار دی
تر ډیره نیت ودشیرجان
دمچ پانی ته وړی شیر جان
شیر جان سکرت ولگاوی
تور ئی زنگ‌تو پا نچی‌وکی
ما گور گیان له کلا با سی

١ ــ کوټ ــ یعنی د تو پکو کوټ .

که ئیوک نه وی درته گران　　ماته همیش را ځی جانان

. . . .

www.libtool.com.cn

په انگریز به ځمکه سره کی　　گران مخی وری په اوبه کی
سره دی مره کړل نیك تپی　　بخت نامه ی خان دی کی غاز ی
وپیکی ته دی ول ور کـــی　　بخت نامی ملك دی غوبل کی
قام دی پری سی (۱) پر نیمی　　بخت نامی مچ ته دی و ړی؛
نه پرین دی سره پر نکیان　　تخت د ډیلی غواړی جانان
یور به ئی کو پیسه پیسه　　مچ ته دی نه وړی بخت نا مـــه
بند ه هم ا متـــی ستـــــا　　پرصراط لاس را که پیشو ا
پر صراط به وکی نار ی　　پیشوا خپل امتیان غوا ړ ی
وزیر ی چـړ ی و هـــــی　　په پښو خو د زونی وړی
له ما پاتی سپینی خو لـــی　　کا ډی پر مچ ودر ید ی
ته دتور توپك ترخوله شی　　حق ویل کولا ی نشـــــی
ننه کالی په رنگ دخـــم　　مبا لویز (۲) بیت یی قا لـــم
یا به ځان کار کړم پســـــی　　یا به کوټ وړم د ملیشـــی
اوس ور ځه سردار راځـــی　　ور پوری سور به کمان کی
ودی لید د ښـیـــر ك وار ی　　چه پرمخ یی بوتی دوه وار ی
زما دی خاور ی شی پیکـــی　　چه حسن خان دملکه وړی
چی به نه وی حسن خـا ن　　په کور لونوت کی دړ وب میان
خدای دی لړ کی تور پتکی　　له کوسی یو حسن خان ځی
پر مخ ځی پرشا یی زوردی　　کافری سخت مزل لانور دی
سری ښنو کی غوړ بخـــــی　　د سها ك ولاړ ی جناز ی
اوس دی خو مبڼ دی شیرك خان　　چی ئی نن ورك کړه گورکیان
خود می خوبن دی شیرك خان　　چی په با جوئی مات گور لیان کړ
په شیرك به دار تنکسه دی　　پلټن گر ده د گـــوره ده

---

۱ ــ ورك دی شی

۲ ــ لویز ــ امنیتی سپایان

خدای دی مل شه حسن خان
که ژوندی و وحسن خا ن
اوس دی خلاص کی نادرخان
پو اختر بل شیر علـــــی
توربیکی شته کار تو سا ن
زما په زړه لمبی د یو ری
توره شپه ده لار شوه ورکه
سپینه خوله پسته غو زی
مخکه سره اسما ن لمبـــه
سور تکری پر مخ پو یـــه
صور ت می شو لمبی لمبی
زړه می نکو ی گـــــلا ن
زیاته څم هلکا ن به ژاړی
چی را یاد شی ستا پیکـــی
د نر کسو تر گل ســـر ی
د پیری اوژ ی ولیا نـــو
چی رایاد شی ستا پیکـــی
سپینی خو لی زیړ چارگلان
په بنکاره را غواړم گرا ن
اوس ور څه رخصته ئـــی
سره غر مه د کلی میـــان
خوند یی راکی ستا خو لکی
ستا خالو نه پرخوله لوپړدی
رابنکا ره شو له بنـــد و
دکابل پلا می اوړده کـــه

څی د سرو تورو میدان له
پر تابه اور کی هندو ستان
دغه نی وخت دی دجا نان
www.libtool.com.cn
له پړوبه سره پرنگیان وری
پر بوره پنډ دی فراریان
خلك وائی سل دی پتا پوری
په همیل کړ نجهار و کـــه
تر گت یی کوز پرا تـه پیکی
راغله د بوری دورا شپه
راغله د بوری ملیشـــه
چی ستا چنکی شوکی به وی
که شپه او ورځ اور ی بارا ن
گران هغه وختی لاغواړی
په شپه راځم له هر نائی
کابل ته ځم که ته راځی
نازك سر کی د ځوا نانو
د شپی می خوب ته نـه پر یږدی
راغلی گو لی د خرا سان
کورم د دی کلی ایما ن
ډیره په لمر ود ریـــد ی
له ما خولگی غـــوا ړی جانان
نه دی پریږدم یی پښیمانی
گرا نی گرده سوداگردی
جنتو لو (۱) که د لو ر و
ما پرد سیسه فیروزه کـــه

۱ – جنتولو – داورغړ تـه

دلته مره شوم له هـــــوا
لیو نی شوم وکړم څـــــه
مرگ به سخت وی که بیلتون
ستا بیلتون به وړم ترکومه

مر کی ښه دی غاړی با سی
په سرو ستر گو ورته گورو
په می ارمان به مړه شـو
زما په نیت کی دسړی کوردی
کال می تیر کی ستا بی دیده
ماز دیگر دی ځی اوبو لـه
ژاړه مه پیر ته به راشـو
سپینه خوله می نه هیریږی

زه دگران په لنبو وســو م
پر سپوږ می اوره پیدا کی
سرمی تور کی سوال میوکی
اوس ور ځم نیت میدغه دی
سترگی توری په را نجــه
د نر ی بیا لی پر غـــاړه
چی زه مړه شم دی خبر کی
ما دی خدای نکړی ظا لــم
چی پر زړه کړم ستا گیلـی
ماپه سپینه خو لگی موړ که
مسا فـر د بل و طـــــن

زه چی ژاړم باد می ستاسی

که بیمار سوم ورمی وړ ی
زه بیشکـه هسپتـــــا ل
که چکن دریا ندی گراندی
پرمانه ده تر تا کـــرا ن
سره غرمه ده تول می وینی

له ځا نه جوړ کی نواب نا
بوری امیل میشوه سناخو له
وما ته یو ندی معلـــوم
www.libtool.com.cn
که یو کال وای تیر اوه می

بیلتون وچ کا نی پر ی باسی
ارما نجن پردیسی بنورو
که به ستا په دید ماړ شو
سکانیپیښی واخله یادسوړ د ی
زما و ، زه ته حیرا نــی ده
ما پرتگ وپیژ نـدو وه
ته د مرگ له پیتـــرو خلاص شو
لکه چر س په رگو کیږی

سو ی وا ی کرده سکاره شوم
زه نازك له ځم لار را نی
خدای را جوړ زما یارانه کی
دید د خدای په ارادهدی
سبا جنگ ته ځه باز کـه
پستی پورته کــه لا س دواړه
زما د غاړی امیل ور کی
چی ستا د غاړی امیلوړم
پر تن می اور وا خلــیجامی
بیا په ژوند کبر راجوړ که
ادی پخلا کی سرو بن (۱)

بیا له خلقو حیا را شی

بوره سیول هسپتـــا ل دی
خوله ما بی دو ا و لا ړه
کور ته ولاړه شه باران دی
که چکن گرد یو سیبا ران
کو ر ته ولاړه شــــــی وریښمینی

---

(۱) – سر و ین – چت

ښا يسته ناز کی پښی		په ترور مى خندګه راتلى
سوال کوم پر دیسه یم		کرا نه په غیږ کی دی کښنیم
مسا غره سره لګیږ ی		سبا ځی که دلی کیږ ی
قول وکی بیا را نسی		د بوری تو پك تر خو لـه سی
سره غر مه د کلی میان		له ما خو لګی غـواړ ی جانان
په کو څه کی ږغ دګران دی		پر ما اور د دکـلامیان د ی
ما به کټ ته دروړه خو له		ګرا نه ګوا هیر دی کړه زمانبه
هغه توت دی هغه سپوږ ی		له ما ورك د زړه لوزی
زما ارمان دی هغه شپـی		ساده لنګر ته به را تلـی
توری ستر کی سپین تند ی		په خالو شین لکه تور ور ی

www.libtool.com.cn

## ۸ـ د هوتکو تار ی

د هو تکو ناری د فورم له مخی د کیسو له عږ ونو سره کوم تو پیر نلری ، خو د موضوع په لحاظ داولسی سندرو په جمله کی مهم تار یخیمقام لری . دغه نار ی د خار جـی اشغا لګرو یعنی ګو رګیـن اوصفوی تسلط سره د پښتنـو دملی مبارزو او جګړو د خا صی تار یخی مر حلی ځلا نـــــده هنداره ده .

دغه نار ی د میرو یس نیکه اود هغه دکور نی دوا کمنی په دوره پښه رڼا اچوی چـی د ډیرو تار یخی پیښو جریان، د تا ریخی اشخا صو او ځایونو نومو نه ورکی سا تل شوی دی.
دغه ناری که څه هم دپښتنی فو لکلور په ځینو کتا بو نو کی(۱)دپښتنوداولسی ادبځانګړی ژانر او قسم بنوول شوی، هغه یی د پښتو د خا صی قبیلـی ( هو تکو ) مال او د تار یخ د خاصی مرحلی ( دهو تکـو د واکمنی د دوری ) زیږ نـده بلل شوی خو زما عقیده دا ده چی د هو تکو ناری د اولسـی ادب کوم ژانر او قسم نــه ، بلکه د کیسو د غږ ونو پـه عمومی چو کاټ کی دا خـــل اوښا یی د کومی کیسی غږو نه وی چی اوس په لاس کـــی نشته د مفهوم له مخی دغــه ناری لکه غږو نه حما سی اود یوی حسا سی پیښی څرګند ـ وی دی ، د فورم په لحاظ له دریو پاړ ګو جوړ دی . لومړی پاړ کی ( ۱۲ ) سیلا بــه ( خپه ) ، دریم چه له قا فیی نه ازا دوی ( ۸ ) سیلا به اودریم چی د لومړ ی پاړ کـــی سره یوه قا فیه لـری ( ۱۲ ) سیلا به لکه :

**دهو تکو ناره:**

که تیری ګور چی بیا کـړی تیری لاړی .
یو میر خان وځینی پا تی ــ میر خان هم اوس ، کند هار ته ګور ګین غواړی
د کیسی غږ ( د فتح خـا ن کیسه )
که ځورا نه‌ی د ګور نـګ ورځی ځوړا ندی .

فتح خان ځی د هندلورته ـ دغه گل را بیا می ځی تر تـا ډوېا گدئ

( ۲ ) کله کلـه د دویم اته څپه یېز پاړ کی په یوه کی هم نه وی .

دهو تکو ناره : که گوری له درستو گوری ځانو نه

www.libtool.com.cn

په ناصرو پرون وســو ەستو یانو نه ( ۳ )

د کیسی غړ :

که وخور ی دا د مس کسی موو خوری

که مامړ کړی دا زما بـادارژوندی دی (٤)

د غړ ونو او دغو ناروپو بلکډ خصو صیت دا دی چی دځینو په سر کی دشرط ادات ( که ) بی مورده راځی او ور پســی کلمه په هما غه پاړ کی کـی تکرار یږی ( پور تنـــی دوه متا لونه وگور ی ) یوا ځـــی دومره تو پیر لری چی غړو نه کله کله له قافیی ازاد وی .

اود هوتکو نا ری قا فیــــه ساتی . د تار یخی شواهدو له مخی د کیسو غړو نو دو مـــره تاریخی نومونه نه دی ســا تلی لکه څومره چی دهو تکو په نارو کی شته ،دهوتکـــو هره ناره په حقیقت کــــی دهو تکیا نو دتاریخ یو بـا ب دی .

د هو تکو ناری زمو نـږ داولسی ادب بیخی بڼا یـه اودقدر وړ حما سه ده . دلتـه دخپلو ملی مشر انو ســـره دپښتنو مینه او د اشغا لگـروپه مقا بل کی احساس ژوندی سا تل شوی دی.

**۹ـدسندر یز مکتب افسانوی**
**رنگ فتح خان بړ یخی**



دمخه تردی چی د کند هـار د سیمی سند ریز افسا نـو ی رنگ وخیرو ، راشئی ، چـی دلته د فلکور په غیږ کـــی دا حقیقت هیر نکړو چی د هری تولنی فلکلور او اولسی ادب دمخه دملی کلتور او ملیـــت **دبست کلا چیدفتح خان بریخـی مرور تو پ ددغـــــه کلا او** په هند اره کی کتل کیـدا ی **دروازی ښخه شوی دی** .

نشی ، ځکه د هراولس سندری، نکلو نه ،افسانیدوی دپیریو، پیریو مبارزو ،هیلو ،خوښیو، خوا شینیواو ملی روحڅرگندونی دی چی د زرگونو سینـــو او خولو ښخـه و تلـــی او په زرگونو غوږ ونو ننوتلی او دسینو صندو قونو ساتلی دی او بیایی ملی رنگاوصبغه پیدا کړیده چی د ملیت خصـوصیات گڼل کیږی .

دا دی هم پته نه وی چـــی نن ښکلا پوهـا ن هم په فلکلور کی د ښکلا پوهنی پر نسیپونه،

لتوی . ځکه اولسی ادب ا و سندریز مکتب ٣ چی اولسی هنر دی .دبنګلا پوهنتی لــه
پر نسیپونو سره نیغه ا پ ه لری .

www.libtool.com.cn

دا منل شویده چی دفلکلوریك آثار و مولفانه وی‌معلوم، خونوم یی خوند ی او حق یی
محفوظ دی .

سمه ده چی مولف بی‌شخص نه‌وی ، خودهغه نوم کله‌کله د ټول اولس هیر وی او اثریی
ټول اولس دی. یعنی د غــه اثر اودغه هیرو ــ ټول اولس تصویر وی .

په دغه اولسی سندریــز مکتب کی یو ژانر دنکلونار ی‌دی چی دافسانی روح بلــل
کیږی دمثال په ډول دکند هار دیوی سیمی یعنی د «بســت »دپا چا اسلم خان دزو ی«فتح
خان » اودهغه دمعشو قـــــی«رابیا » نکل ګڼل کیږ ی .

قیصه ده چی د کند ها ر ، قیصه څه چی د پر یـــښـــو حماسه ، هغه چی د زر ګو نو
خو لو، د زر ګو نو سینو څخه راوتلی او دزړو نو دمزودتخت خاونده ده .

دا حماسه د «بست »دپا چا د زوی فتح خان پریښی ده‌هغه چی وایی د سرو زرو الغی یی
پر بر یتونو راتاوی او دهنــد د ګواری طایفی دمغل پا چـــا شمس الدین اندا مونه یی په
پښتنی هیبت ورلړ زولی دی، دا حما سه او قیصه په خپلو نارو جوړه ده‌چی د فتح خـــان
پریښی د شپیتو پریښو قیصه ده چی ناری یی په بیلتو ن او مرور توب دپلار پر زړه‌دبیلتون
داغ ږدی اودمور دزوی پـــه بیلتون دغلبلو ګداز دپیریو،دولو نو په پیچو می کی‌تاورا
تاوکیږی‌او د زمان دپیروا وحجرو په مزود پښتنی دنیازمن نشی مړو لای .

قصـــه د « کر می » دفتح خان ؛ مینځنی زوی شروع کو ی‌اودشپیتو پر یخو په ښتهاد ت او
مړانه یی ختموی ، نــــاری، دقیصی مـــحتوا په شعری‌ژبه ښئی . خوددی د پاره چی ناری
یی په تودوو لولو تو دی وی‌لږه تشریح لزوما غواړ ی .

**دفتح شا هزاده ، مرورتوب:**

« کرمی » دفتح‌دمینځنی‌زوی، شاهزاده اپ‌باسی چی‌د نجو نوزی کله په ډیرو کله پــه
غشو سور ی کړی او هغـــوی‌لمدی‌کړی . دنجـــو نو عر ض‌پا چا دفتح څخه مر و ر کـــو ی
پاچا خوابدی کیږی « کر می »فتح دبست څخه دهند سفر ته اړوی اودا چی درابیاء چی‌سفر
ته اجازه نه ورکوی ناره د اده:

**که کوتری دکلا پرسرکوتری**

**فتح خان وایی یامی خور یی‌یار او وزه دروازه کــره دری‌وری •**

**د ناري مطلب :**

مرور فتح خان دشپیتو برېخو ملګرو سره مــــرور د ی«ګرمی » دی دی ته اړ کړی چې هندته سفرو کړی ، پلارناراضی،مور غلبلی وهی « راپیا»دفتح برېخی مصشو قه هـــم

www.libtool.com.cn




د فتح خان برېخی او شپیتــو برېخو په‌هندکی د ګوار یـو

د لښکروسره دجګړی‌یوه‌تابلو.

نه غواړۍ چې فتح «بست» پرېږدي . ځان خوا بدئ بښتـــې خود فتح خان ناره دا هـــــم دشپيتو بر يخو ملګرې کوي او پراس سپر يږي ، سفر ته تياريږي .

دفتح دهو ډر سيد لو سر ه دپلار «پاچا» ناره:

www.libtool.com.cn

**څه کيږئه دا هوډ دي خا نه څه :**

**پر نيمه شپه يې نغا ر ی وډنګو لي ـ لويه خدا يه خان پـــــــر کـــو م لور ی واته که:**

**د فتح خان دګيلـــې پر ډول ناره :**

**ما سلام در واچا وه را بيـــادي نکړـ چې پر تخت دروختم ځای دي رانکړ .**

د پلار نا ره پر مـــــر و رفتح خان :

**په يوه لاس کې مې جام په بل کلام دی ـ اسلم خان خومی پر تير کلام پښيمان دی .**

خو دمور چيغي او نـــا ر ی دفتح پرو تلو او مرور تو ب:

(د بست کلا دوی دروا ز ی در لودی ) .

**که دوی دی د کلابســـت درواز ی دوی دی .**

**پر يوه يې فتح وزی پـــــــر دا بله ئي د مور سوی ناری دی**

فتح بر يخ پر مرور تو ب، نـــه دپلار پښيمانی نه د مو رچيغو او ژړا بالاخره سپيـــــن روبو روی هم ونه شـــــوا ی را کړ ځولای .

نو ځکه پلار ناره پر کـــوی ، خو دپاچا سپين ږيرو ته قهـــرراغلی ، نو وايي :

**که اور ګډ کړی دبر يخو پـــــر سپين ږيرو**

**مروريي پخلا نکړه، لاد لاسه ورښئي ياغي ملګو نه .**

او فتح خان پر را بيا نا ره کوی .

**که پوځی درا بيا خو لګـــی مې پوځی .**

**فتح ځی دهند ولو ر ته دغه ګل «رابيا» مې ځی که د لتـــــه اوسی؟**

خو د «رابيا» ځواب داد ی .

که ځوړ اندی د کورنـــــک وروځی ځوړا ندی .

فتح چې ځی دهندو لور ته دغه ګل رابيا مې ځی تر تـــــادوړاندئ .

خو په دغه وخت کې پـــــــر «بی بی رابيا » دفتح دمورناره:

**که بلبلی « رابيا » ژيړ ی بلبلی.**

**فتح ځی دهندو لور تـــه ـ په جلو يې لګولي دی منګولي.**

دفتح د پښيمانی لور ته زړه نری شوخو «کرمی »د فســـــاد ته وته :

د «کرمی » دا ناره :

که تاك دی د هندو ستا ن په سرکی تاك دئ .

فتح ځی نه را ستو نيږ ی ـ اچولی يې دبی بی را بيا په سر طلاق دئ .

تو د کرمی دی ناری فتح پر خپل هوډ ټینګ کړ او د تښتیدو پر یخو سره سمبوږ د هند لوری
واخیست او رابیا و رسره .
خو اوس د «رابیا» مور ناره پر کوی :

www.libtool.com.cn

**فتح خانه لاس پر خپل ز ړ ګوتی کښیږده.**
**که رابیا در سره ځی پردلداپر یږ ده .**
**(پردل درا بیا ور ور دی .)**

«پردل» د رابیا ورور د ی، دی هم دفتح خان سره هند ته ځی . مګر «پردل» هم پریځی
دی دملګرو څخه پاتیدای نشی هغه هم دمور په ناره نـــه راګرځی . د وزیر زوی د ی او
دایی ناره ده :

**که او تر ګرم نن دا ستا ناری اوتر ګرم**
**ددی لور به پاتی نـشم ـ مګر خدای پر مصری توره برابر کړم.**

دوی رهیدی فتح خان د لاری ستړی یوه سفر که خـــــوب کوی پریځی نجونی د را بیـا
دزړه د خوښی دپاره په شنـه باغ کی د وروستی دیدن پـه غرض اتڼ تو د سا تلی خو
«کرمی» د بد ی ستن داخـو شحالی نشی زغملای نو پـــر فتح خان ناره کوی :

**سر د سره پالنګه هسك که فتح خانه .**
**لویه خدایه سیلانی کوتر ی والوتی له باغه .**

اشاره دا چی در بیاد و ر و ستی دیدن خوښی پر یځونجو نو پای ته ورسوله . سفر تـه
دوام !
پر یخو مړنو دهند د سفـــر دپاره دفتح په امر هر یوه یوه پیغله خوښه کړه تول د هنـد
په لور سفر !
دلړ سفر وروسته فتحخا ن شپه تیروی . خو دلته فـــا ل اچوی اود «کرمی » فتنه ؟ !
شاهزاده فتح وایی شپـــه ده استراحت کوم خود فال په رنګ یوه سانګه ودر و ی ،
سهار چیهری خواته کړیوه هغه لوری به اخلو . دا خبره چی کرمی و اورید له ، نو په
نیمه شپه یی سانګه د مکــی شریفی د لوری نه چپه اودهند لوری ته لړه کړه . سهار چی
فتح خان سانګه ولید له نـو دهند سفر یی غوره وګا نـــه کرمی ژر دفتح پالنګ ته ځان
راور ساه اوداناره یی پرو کړه:

**سردسره پالنګه هسك کړه فتح خا نه .**
**یو خو می سا نګه دهنـــدوستان پر لور کړه د ه.**

فتح چرت وړی او «کرمی» بیا ناره پر کوی:

**سر د سره پالنګه هســـك کړه فتح خانه .**
**باغی شوی هندو ستـا ن رعیت ملګونه .**

دادی دهند سفرته دوا م !
فتح خان او شپیته پریخـــی دهند خاوری ته ور غله .هلته چی دهند د « ګواری » کلـــی
او کوردی اوهلته چی د ګواریانو دپاچا شمس الدین پاچا رعیت زوند کوی ، دپر یخـو ( ۶۰ )

سپاره دشپیتو بریخو ښتــایستو پیغلو سره ور سیــد ل.د(٦٠) بریخو ورتګ اودګواری حیرانتیا ــدوی ددی مړ نو په لیدلو سره دحیرت ګوته پــه غا ښ نیولی‌خپلوسپین ږیروته ورغلل او دادسپرو په نابللو میلمنویی خبر کړل سپــین ږرو خیل پاچا ته دا هلهلــه ورسوله ــ شمس الدین پاچا یو څوکواایست چی د « بست » مړنی شاهزاده د شپیتو بریخو سره‌لکه شنه زمری را غله . دوی اوس یوی کلاته ضرورت لری خو دکلا ګواری دا نشــی ز غملای چی کلا ور پر یږدی . فتح خان خپل ملګری‌دوز یــــر زوی پردل خان د «رابیا» ورور چی په خبره پوه سړی دی‌دوی ته ورو لیږه چی مونږ ستاسو څخه څو ورځی شپی تیـــر ول غواړو. خو ګوار یان هغه کلــه دا باور کولای شی چی‌د زمر و بچی دی دا کلا بیر ته د و ی ته پریږدی ، ګواریانو کـــلا ټینګه کړه او دروازی یـــــی ور کلکی کړی په دی وخت کی «کرمی » بدمرغ راغی او نا ره یی وکړه :

**دروازه زر را ښیا (خلاصه ) کړه ګواریانو .**

**اور به بل‌کړم د ګوار و پرسرو تــــه .**

داده د بدمرغی شروع چــی«کرمی» بدمرغ یی شروع کوی. پردل خود«کرمی» ناره واوریده. ده هم‌دکلا پر ګواریا یو نــاره وکړه:

**« دروازه ژر راښیا کـــــره**

**اور به بل کړو د کبر یـــو(یو قوم دی) پر سرو نــو .**

دا پرغونه اود کلا د خاو نـــدانو بیره . په دغه وخت کــی دفتح خان فکر شوچی «کرمی » بدمرغ دی بدمرغی جوړه نـــه کړی پخپله کلاته راغی د ه د«کرمی» په نارو ځان پوه کـړ خو ژربی پر ګواریو ناره‌وکړه.

**«دروازه ژر را ښیا کــــره ګواریه**

**«مسافریو یی و لا تــــه ــخاصکی ټتوان‌موتپ دی‌دریدلی»**

دی پرغ ګوار یان دی تـــه اړکړل چی پر کلا وخیژی اوحال معلوم کړی . خو کله چی یی وکتل فتح پر یخی لکه زمر ی‌ولاړ بر یتو نه یی تر غـــو ږوتاو کړی ــدوی په حیرت کــی دی چی فتح خان بیا ناره‌وکړه:

**دروازه ژر خلاصه کړه .**

**واپسی د زرغونو طوطیا نو سیل دی .**

ددی ناری سره ګوار یا نـــو ته سخته بیره پیدا شوه ا ودائی یقین شوچی پاتـــی دی دکلا دروازه یی خلاصه کړ ه.دوی کلاته ننوتل ، هر یو ه،یوه کوټه ونیو له، فتح خا ن وپوهیدی چی داځای دټیك د ی نو د یارانو په سلایی د غــه ځای ونیوی شمس الدین پاچا د کولړ یانو دپاره بله مځکــه وټاکله ــخبره سمه شـــوه ،مګر پدی وخت کی شمس‌الدین دفتح خان ښه عزت کاوه ا ونور دښمنان په دوی ایل ا ورایت کړل او ددغه ځای‌مالیه یی دده دپاره و ټاکله او فتح خان دشمس الدین په دښمــن‌دروغی بول (قول) وکړ ،مګر د « کرمی » بل غم جوړ و ل ؟

هغه د شمس الد ین تـــر برو ته توله په یومیلمستیا کی مره کړل چی پدی خبـــر ه شمس‌الدین پاچا و بیر یــدی‌خو بیا یی هم فتح خان ته په لیك کی و لیکل : تر دی‌بد هم

تیر مګر ورنوستهٔ به نښته ګذاره کوي . ته‌هم و منله او «کرمی» بدمرغ ته یې نصیحت وکړ خو کرمی ؟

دادی دمالیې وخت راغی ، سپایان مالیه ټولوی ګوار یان «کرمی» ته راغلل «کرمی» دوی ته وویل :

www.libtool.com.cn

مالیه مونږ ته را کړی، هغوی په ښه عزت ما لیه ورکوی ، دا دی د مالیې ورکولو سره یې فتح خان میلمه کړ ، شپیته بړیخې را غلل آسا ن یې درولی دی دکلي‌خلك دعزت ورکولو سره بیره هم د ځان ملګری بولی ، پدی و خت کی د ګوار یانو د سپیو غبا شو . «کرمی» ناره کوی :

**سپی درتم کړی ګوار یا نو لویه خدایه**

**پردی لاره دفتح سپا یا ن تیر یږی .**

ګواریان راغلل سپی یې وشړل اود بړیخو اسان یې و نیول اوعزت یې تر حد زیات ورکړ _ دا کلی دهغو نوروګواریانو یعنی شمس الدین‌پاچادتربر و نودیچی دشمس الدین پاچا سره چندان ښه نه دی. فتح خان چی ډوډی‌وخوړه، دوی شخه یې هیله وکړه چی بیا به بد ونکړی . هغو د فتح خبره ومنله او تړ و ن یې وکړ . خبره خلاصه شوه او بدی سره شوه .خو «کرمی »چی فتح خان ولید چی‌د خو ب بستر ته ځی اوولاړ بیا یې دبدی اشاره د زړه میلمنه شوه او ځان سره یې وویل هره‌ورځ به ددوی‌بدی وی اوزمونږ روغه راشه په یوه واریې‌چار ه‌وکره _ ده‌په چلم کی د بیهوشی دارو واچول اوپه دوی یې وڅکول ، هغه ټولو له بیسده‌شول . «کرمی» چاره پسی را واخیسته ټول یې تر تیغ تیر کړل .اوس نو فتح خان ته راغی لوناره یې پر وکره :

**مایوداسی ټرون وکړلو یه خدایه**

**لویه خدایه د قیامت تر ورځی پوری.**

فتح‌خان چی پدی بد مر غی خبر شو ډیر خوا بدی شو. خودی «کرمی» ته څه ووا یې ؟ هغه دمالیې دپاره را غلی «کرمی » یې خبر کړ هغه توره‌راواخیسته هم یې سرو نه هم یې ژبی پری کړی . داخبرچی شمس الدین‌ته راور سیده‌حریان پاتی شو چی څه وکړم ، د ادهری ور ځی بد ی؟ په‌دوی کی یوه په دوړو او ځغا سنه ځان دمرګ شخه خلاص لړی‌وه راغی پاچا ته او ناره یې پر وکره :

**دوری یوداسی پاچا نا ست دی لویه خدایه**

**شمس الدین یې د نوکر پر ځای و لاړ دی**

پاچا هم حریان ، اوفتح‌خان«کرمی» راو غوښت او پر ناریې کره

**کرمیه چی غم نه وی ته غم‌راوړی**

**یوه ورځ به پر لمغو توسپر ووا وری**

ا بیایی کلک تصحیت و رته وکړو څو ...

بله ورځ د پاچا خزا نـــــه تیریږی یو بد مرغ ګواړی راغی «کرمی» یی خبر کړ . «کرمی»
دا پته خزانه چو ر و ی؛ وراغی دخزانی پر کاروان یـــو ناره وکړه :

www.libtool.com.cn

**دا کاروان دشمس الدین په طلا باردی**

**دغه تول دبریخانو کو کـی ښکار دی .**

خو د کاروان سالا ر پـــر «کر می» ږغ کړه :

**دا کاروان د شمس ا لد یـن په طلا بار دی**

**دغه تول د بریخانو خون بهاده.**

دا احوال ، چی کاروان چور شو ،طلاوی یـوړی شــــو ی ګواریان تول یامړه یا وتښتیدل شمس الدین ته ور سید ،پاچاژر د شپی فوج جوړ کړ او په دغه شپه یی دفتح خان پر کلا سپینی خیمی را ونجتلی ،سهار شو . د «بی بی را بیا» نا ببره پر خیمو سترګی و مو ښتــــی وپو هیدله چیدا خو جنګـــــی ترتیب دی راغله دفتح دپالنګ سرته ودر یده اوپر ناره یــی کړه :

**سر د سره پالنګه هسك کړه فتح خانه**

**تن څه نجتی شمس اندیـن پاچا خیمی دی .**

دغه ودفتح خان او شمس الدین پاچا د جنګ علـت ا و مقدمه چی فتح خان یـــار ان رابولی اودجنګ لام ترل کیږی۔دا دی دبریخو د تورو خرپاو دفتح دجنګ منظره،دادول ناره ترسیمو ی :

**چی پرډال پتری و هی نامـت یی جنګ دی**

**راپسی د زرغو نو طو طیانو سیل دی .**

دولس ورځی پرله پســـی جنګ روان دی خو (۱۲) ورځی وروسته شمس الدین پا چـا ستړی شواو فتح خان ته یـــی احوال ولیږی چی څلور ورځی او شپی به مهلت سره کښینږدو او جنګ به پر یږد وفتح هـم ومنله . کله چی فتح خــــان کورته ورغی «را بیا » دفتح خان څخه وپوښته چی بری موراوړی او که موماتی وخوړ له ؟فتح خان پر «رابیا» ناره و کړه :

**رابیا تور دی لو تګین تــورد ی رخسار دی**

**د شپیتو بریخو ږغ پـــــر هندو ستا ن دی**

یعنی (٦٠) سره ژو نـد ی یو . دادمهلت ورځی تیـــری شوی . دادی بیا دجنګ نغا ره ووهله شوه . پنځمه ورځ ؟ په دغه ورځ د «رابیا »دورو ر پردل خان پرلاس توره برابره شوه اولاس یی ځینی یو وړ . کله چی دوی کورته را غلـل رابیا کوری چی دپردل خان یو لاس نشته نور ابیا پر فتح خان ږغ کړ :

**که یورنگ دی فتح خــــا ن سپایان یك رنګ دی**

**دا پردل لالامی ولی خدا یه په یوه ځنګ دی.**

بله ورځ بیا دتور وبریښنا فضا لیونی کړه . جنګ د ی. دشمس الدین لښکر یو پر بل www.libtool.com.cn
اوړی ، خو په دغه ورځ پر دل خان په یوه لاس توره چلو ی،ژر « کرمی» ترخپلی شا پراس
سپور کړ اود «کرمی» په لاس کی دپردل خان داس جلــــو نیولی شوی دادی راغی.

کله چی «رابیا » د پر دل خان اس شا توری و لید نو یی پر بړیځو ناره وکړه :

**خدای دی خیر کړی کرم خان او فتح خانه**

**دپردل نیلی کوتل رامعلومیږی.**

پردل یی راوست.هغه شهید شو . خوریی وویل : زه خپــل مړی دلته نه پریږ دم نو یــی
د پردل نس ور خیری کړ اوهرخه یی ځینی وایستل .دلونګو یی نس وردك کړ او پرپا لنګ
یی پری ایستی.پردل شهید شو خود شمس الدین غری ښــــو یدلی دی ،لښکریی را تــــو ل
کړ ، دروغی پرسلا شول او دا احوال یی فتح خان ته و لیږه. فتح خان مرکه ،هغه هم دروغی
دپاره ومنله . مګر «کرمی» نه منله فیصله داشوه چی فتح خان به یواځی خبر وته نه ورځی نیم
ملګری به ور سره وی . دلته د کرمی خبره ســــمــــه وه او شمس الدین د ملګرواو لښکر
سره سلا کړی وه چی په جنګ نه ګټل کیږی .

په چل به یی مړ کی تـــــه راوغواړو او دلته به یــــی لاسو نه ترشاو تړ و ، نوځکه
«کرمی » پرفتح خان ناره کوی:

**فتح خانه باورمه کړه دمغلو پر کلامو .**

**دمغل اول کلام بیایــــــــی تیپونه .**

په وینبتیا کله چی فتــــح خان توره پرینبوله په تـــش لاس ورغی ، شمس الد یــــن
نامرد پر سپا هیانو بړغ کړه ، دتولو لاسونه ترشا وتړی په دغه وخت کی فتح خان نـاره
وکړه :

**کرم خانه چی ویل هغه بیاوشوه**

**سره مغل خومی د لاس پــر لګیدو شوه**

خو کرم خان ملګری پســـی راوستلی وچی دفتح خان لاسونه یی تړلی ولیدل ناره یی پرو کړه:

**اوس به جوړ کړم د مغــــل پر سرو ځلی**

**چی تړلی یی فتح نـــــازك لاسونه .**

دا ناره ، اوبه ور ګډ شوه. دفتح خان لاسونه خو یی خلاص کړل دوی یی هم دیر تر تیــغ
وایستل ا و ځینی و تښتیــدل. فتح خان کورته راغی او پـــر ملګرو یی بړغ کړه :
اوس بله لار نشته یا بری یا توله مړه . دی خبری د وی وجنګول او تول شهیدان شول

یوالځی فتح خان او کرم خان او څوکسه نور پاتی شول .دوی بول وکړ چی یابه سبا بری وی یا شهادت .فتح او ملګری سهار هغه د خرپ جنګ وکړ چی دسر ونو کوتی وا یستلی شوی .په دغه وخت لی فتح خان ناره وکړه :

www.libtool.com.cn

**هندو ستان می دمچیـــو کر بینی دی.**

**که هر څوچی یی و هم تــه تما میری - دشپیتو بر یځـــو ورغ په ورغ کمی دی!**

دادی چی تول شهیدا ن ا و د تولو نسونه تشیری ،دلونګو ډکیری اوپه پالنګ لویـــږی اوس یوالځی فتح خان او کرمی پاتی دی او بس . د بلی ورځی جنګ!

اوس ګوار یان ډیر د ی ، شپیته بر یځی ؟

دهغو څخه یوالځی « را بیا»«فتح خان» او «کرمی» ژو ندی‌دی .

دادی اوس فتح خان اوکرمی ملا وتړله .خو پدغه و خت کی کرمی ناره کړه :

**که وخوری دادسر کسی مو وخوری**

**که مامړ کی داز ما باد ارمه وژنی**

مګر په دغه ورځ یی«کرمی» شهید کړاو فتح خان د آس تر شا راواخیست . دده نس‌یی‌هم څیری کړلکه نور ملګری‌دلونګو یی ډك کړ. سبافتح یوالځی دی. په دغه ورځ «رابیا» پر فتح ناره کړه :

**آفرین دی وی پر هسی‌تو کر باندی**

**ځان یی واچاوه ددی بادا ر دوړاندی.**

اوپر فتح خان چی غوا ړ ی یوالځی ملاوتړی ناره و کړه :

**سرد سره پالنګه هسك‌کړه‌فتح خانه**

**رابیا ګلی پونده و کړه له سپر یری .**

پدی وخت کی فتح په چرت کی شو مګر وروسته یی دځان‌سره فیصله وکړه ، تول مړه شول .بی یارانو ژوند څـــه کوونو «رابیا» ناره کړه :

**زه عورته ملامته نویه خدایـه وجلو ته ولاړه یـم رو ی داره.**

خو فتح هم ناره پر و کړه:

**که تیتی دګوار یو ځاتګـی تیتی**

**یامی خوری یامی مور یـی څوی تکرم پرداسپینه سینـه پځی**

**که ښه که رابیا بځمله‌ښه کړی ـ داجنګی زغره می مخـی‌سره راوړه !**

رابیا فکر وکړ چی ځـــــی پاتیږی خونه ! نویی ناره پـر وکړه:

**فتح خان می یار پردل مـی‌ورور دی**

**څوك چی داسی‌یارانو خوری نجلی که ښایسته وی مغ یی تور دی .**

او فتح ورګډ شو او نـاره یی کړه :

**یو که بوتی هندو ستا ن می دی یو بوتی**
**په سپیتا نه به خلاص نشواوس را لړوه‌د سپینو جړوموتی**

بیا هم د یارانو مرګ دی‌زهیر کړی دی او دناامیدی‌نبنه پر راغله تویی ناره وکړه :
www.fibtool.com.cn

**زمونږ مرګ په سپینو تورو**
**اسلم بابا می ولی‌ناخبردی.**

خوددی وار رابیا ناری‌کړه :

**دفتح کرتګه نال به‌دی‌زرین کړم.**
**که دی دا وار فتح و کړه‌ـزما امیل به ستا د غـــــاړی لونګین کړم**

ددی ورځی جنګ یوازی‌فتح وکړ او رابیایی د آس پر غاړه لونګین‌ونځراوه . په دغه وخت کی دفتح خان وطن یاد شو او ناره‌یی کړه :

**که پاخه دی کند هار انا رپاخه دی**
**اسلم خان بابادی خوری پر ما ترخه دی**

سهار بیا فتح خان توره ترملاکړه جنګ ته یوازی ورووت‌دګوار یانو په مرویی‌میدانو نه ډك کړل خوپه آخر کی‌دګواریوډله لکه مچمچی راتولی شوی‌او فتح یی دسرونو په‌مینځ کی واګیر کړ او ډیر بدیی ټپی کړ.خوده ځان تر کلا پوری راورسا و ه د کلا په مینځ کـــی داس څخه راو لویدی او شهید شو . دده دشهامت سره یـــی«رابیا» خط شمس الد ین تــه، ورولیږه او ورته ویی لیکل :

شپیته بریځی شهیدا ن پـر پالنګو پراته دی دګوند و ا و یتیما نوسره څه کوی‌شمس ـ الدین دګواریانو پاچا د خـــــط لوستلو سره دفتح خــــا ن داستو ګنی کلاته ورغی ، هلته یی شپیته بریځی په سرووینو لړلی ولیدل ، هریوه ته ودریدی .وروسته د بر ـ یخی فتح پالنګ ته راغی ا و د سر وزرو هغه کړی یی‌ولیدلی‌چی‌پر بریتو یی راتاوشوی دی، ډیر ارمان یی‌وکړ او «را بیا» ته یی وویل : دمغلکوټ تولی ځکی ستا په اعتبار کی دی‌او ستا عزت به تر قیامته ساتل کیږی . دا فرمان‌یی‌خپلو رعیتو ته ورکړ او پخپله ووت. وایی : دغه دهند بر خـه اوس هم دشپیتو بریخود پا نه شویو مړنو ده اوهر څوك‌ددوی دسرو بیر غونو ننداره کو ی.اودا حماسه دمینی اوبریالیتوب حماسه ابدی حماسه ده .

**دفتح بریځی‌دافسا نی‌لنډیز:**

فتح خان دبست د کـــــلا داسلم خان پاچا زوی وو .خو د«کرمی» چی دفتح خان‌دمینځی زوی و په تښوخی کولو د فتـح بریځی څه مرور شو . فتح چی پلار مرورو لیده نویی د هندپر لور دسفر لام وتاړه . پلار اومورییی ډیری زاری وکړی خـو کرمی فتنی چی دفتح خـــــان دمینځی زو ی‌ودی سفرته ا ړ کړ،دی هندته‌ولاړ اودشمس الدین مغل پاچا د پاچاهی پـه سیمه کی یی وا‌ړول . «کرمی» غم‌پرغم جوړ اوه. خو تو له شهیدا ن شول . رابیا د پردل خورده اوداسلم خان‌پاچانوکرچی دفتح خان معشوقه ده د ا هم دنورو بریځو سره د غه،

د بریښو او ګوار یانو د غم په صحنه کی سیل بیئه دچی دغه قصه په دغه تارو کی تر یوه حده تصویر شویده . دا نار ی دقصی سره یکل ځیان په ډیر ځوند لوی اودا حماسه . ښه هیر پدونکی حماسوی قصه ده.

www.libtool.com.cn

## ۱۰ـ ښادی او بیبو

حسنه ته خود بین یی زه پښتون یمه
مانه ده ښودلی ګداستر ګو ته

حمزه شینواری



بیبو دښادی‌خان قبرته راغلی‌ده او دنامرا دی غم ژړوی.

دغزل د بابا«حمزه شینواری» دا شعر دپښتون کرکتر په مینه کی لاهم د پښتو پر ځان‌اعتماد او خودی ښئی ، چی دپښتو ن واقعیت دی او دپښتنی کرکتـر حقیقت ، ویی ګوری چی دمینی او محبت اور د پښتون دکرکتر دمینی دد ی‌تندو سیلا بی او بو سره څه کولای شی !

«دل آرام » ! تاسی بـــه دلیلی اومجنون د عشق پـــه سرو غا ړولو ډکه صحرا اودغه دسوز او ساز د آتشکدی نـوم اور ید لی وی.مګر د«فراه‌رود» د «نیزار» قصه دمجنون تـــر ځیګر و تلږد نلانو ســــــر ه ورته قصه ده ، هلته دمجنون تر ځیګر نلان راوز ی‌او دزړونو دتل لنبی ـ دســــره اور تا زه کول غواړی ، خود لته پــــه «دل آرام » کی د تور ید لـــی هوسی نارامی د « بکوا » پـــر لویه صحرا هلته چــــــی د«فراه رود » بلبلی ددی ر و د پرخنده ناستی دی او د مینـــی‌او محبت په خوږ و سندرو دمینی اورته رابللی عاشقا ن د خوږ وسندرو په سوز اوسازخبرول غواړی . دلته پــــــه «دل‌آرام » کی د « تلخك» په کلی کی‌دده ، ورو ړو«ولـــی‌محمد » او «علی محمد » پـــه کاله کی دعشق او سوز ملکی

خاص د «ولي محمد» په کــر کې د «ښادۍ» «په نامه» د مينې رو ڼ بخرکي وځور ځاو ه اود «علي محمد» په کور کې يــې د آسمان دسپيني سپوږ مۍ يوه وره پلوشه د «بيبو» په نامه ميلمنه کړه .

www.libtool.com.cn

«ښادۍ او بيبو !»

دغه دوه وا ړه ، او د غه روڼ بخرکي او ر نه پلوشه د «غزل بابا» دشعر او دغه شعرمصداق شوي دي چې وايي :

عشقه ته خودبين يې ز ه پښتون يمه

مانه ده ښودلې گدا ستــر گو ته

دادي دغه مثال او دغه مصداق ددې کيسې په پيښو او ناروکي و گورئ !

هلته چې دې دوو مينانو ته د «فراه رود» پر غاړه ښايسته بلبلان دمينې دسوز ، هجــر اود درد جو ر دفلك دزړې کينې پــــــه ز ړ ه کې ښو ل غواړي او د «تلخك» د کلــې ترخه زهر په دغه پياله ورکوي او ښادۍ دمينې په ليونتوب بيبوته وايي : «بيبو» دخوږې مچې په شکه مانه خبرو ې؟ او بيبو ورته وائي پښتو خرابيږي!

ددغه ځای ځغه په ددغــــې مينې د کاروان مهار د «دل آرام» په دښت کې په لاس در کړ م دا نار ې واوري د ښادي بيبـــــو ، نامرادي ددوی دمور او پـــلا ر دبيلتو نڅړاوی اوددوی دناکامی مينې قصه په دغه نارو کـــې کتلای شئ چـــې وايـــي ورې ـ قصه ده دمينې او عشق قصه چې پيښتانه يې په حجر و ا و بانډوکې په خوند خوند اوري داد مينې قصه دمينې ا لهــــی دپښتون دقصو جهان تـــــه را ورې ده او تاسې يې واورئ.

دبلبلو په دغه نيزار کـــې د «فراه رود» پر غاړه ښا دی او بيبو ناست دی ، دلمروړې وړانگې دبيبو پر مخ رڼې دخولو مر غلرې پرله پســـــې اړو ې را اړ وي پــــــــــه دغه وخت کې ښادی «خو له» غواړي .

دبيبو ناره او دښاد ی د ابيره چې «بيبو» مــــــــــور اوپلار ته قصه ونه وايي پـــــه شرمو په وشر مين م .

دیوول بيرې ښادی د ی ته اړ کړ چې ځان ورك کـــړ ی ا و داصفهان لوري واخلي ـ ا وس نو بيبو زاری شروع کړی چـــې ماخو مور او پلار نه در ځخـــه گرځوی دا کار وکړه ماوغواړه چې په خولکې دې موږ کرم مگر ښادي رهی شواود «دل آرا م» د ليونتوب دښته يې واخيسته .

هلته کاروان داصفها ن پر خواروان د یښادي د کاروا نـــی مزدور شو او پرمخ اصفهان ته رهي شو خو چې بيبو دښا دی د بيلتون اور وليد ناره يـــې وکړه :

خدايه ! ددې بوتي په آخوا ددې بوتې

پد ی خوا زما او د ښا د ی وه سره ناسته

سپينه خولکې يې را ځخــه غوښته ورمې نکړه

زما آرمان سود ښادي وروستيه خواسته

بیبو خو ښادیّ ولید چـــــی مرور شو اوولاړ بیا نه راغـــی توبه ژړا کورته راغله مـو ر چی د بیبو زیړ مخ ولید پــــه ژړایی پر ناره کړه:

ادی موری څه پەدر ته وایمزما مرگ په سنگر یزو دړ ته روادی
www.libtool.com.cn
ښاد یجان می خو لگـــــــی غوښته ور می نکړه زما موری دی ولاړ واصفهان ته

مور چی خبره واوړ یدهکه حیرانه پاتی شوه خو « بیبـــو» ناره پرو کړه :

مور کی ورسه پابك خبـــر کړه زړه می دوو بیږی
او ررا لگیژی ښادی جان نه را ستو نیړی

مور دښاری مرور توپ دبیبو پلار ته ووایه . هغه ســـــړی پسی رهی کړخو چاوړ ته وویل ښادی ماپه «دل آرام » کــــــی دکرایه کښو سره د اصفها ن پر خوا روان ولید دا خبره نه وه ، بیبو ولیده پلار او مـو رحریان تللی دی چی مخ یـــــی څرنگه راوگر زو ؟ بیبوپه دغه وخت کی دا ناره وکړه:

دبیبوپه آریانی ا و د کریکښ په خو شا لیه
که په ناز د پیبو ا خلی په دنیا کی کرایه کښ مکـــــــړی دروز یه

پیبواو د «دل آرام » کاروانـــــی لاړخودیوه کاروان سره ښادی نشته نو بیبو ناره کړه :

کاروانونه د بکوا پردښت تیریږی ـ کاروانونه د بکوا پردښت تیریږی.
ښادی خان ورسره نشته په دانور کاروان می مینه نـــــه ماتیږ ی.

اوس بیبو دمینی رنځـو ره پرته ده مور او پلار ورتــــــه حریان ، داځی بوه ورځ دښادی خان خط پلار تەراغی او لیکلی ئی دی: زه په اصفهان کـــــی یم. پلاد زرخط بیبوته را ووړ، خط خلاص شوچی دا ناره پکښی لیکلی ده :

کاغذه ورسه پر بیبو مــــی سلام وایه ـ په صورتروغ یم.
په زړه بیماریم بیبو ســـتادبینیا ز یه

کله چی دښادی خطداصفهان څخه راغی فوراً یی پلارد سفرموزی په پښو کوی اصفهان ته ځان رسوی اود بیبودا نـــا ره ور رسوی .

کاکا چی ځی کاغذ مییوسه . ښادی‌له یی یوسه – ور تـــه ووایه
بیبو پرته ده تر زړه یـــی څاځی ستا دبیلتون و ینـــی،زما ارمان یی

که څه هم بیبو دښادیپلا ر ته زاری وکړی چی ماهمدرسره بوزه خودښادی پلار دا سفـــــر یوازی وگاله . دښادی پــلا رچی پدی راضی کړه ــ بیبـــو ستا په نام کښینو لی دەدرځه چی د بیبو ارمان و خیــــــزی. ښادی رضا شولو داصفهان‌څخه رارهی اودا ناره یی وکړه :

ن می دیار پر لور سفردی نن می د یار پر لور سفر دی.
خدایه رالنده کړی د بکـــولــ بکوا اوږده مز لو نه.

ښادی را ورسیدی او دستــــــی یی چلم ډك کړ چی د ښـــــاد یستړ یا وزی خود تلوار څخه یی سکروته پرکو تو راولویده، آه یی کړ، ښادی دا ، نـــــاره واو ریده لوناره یی پی ږ کړه:

کله وروځی بیبو چانه په وروځی

ډیو ښادی دپاره بخملی ګوتی سیزی پرچلم اور بردی ۰

بیبو چی دا ناره واورېده ۰ پر ښادی یی ناره وکړه:

www.libtool.com.cn

نو به یوسم داچلم او سپینه خوله به دښادی جان مخی ته کښېږدم.

خیر شپه تیره شوه اوښادی په تمه ـ خو بیبو ورتــــــه رانغله . داشپه خو پرتیـــی ، سره تبی تیره شوه . سباشو، ده ویل سبا به دغه توره‌شپه رڼا شی خو نه شوه رڼا.ښادی ناامیده شواو سبایی پلار تــه وویل : تاخو ویل بیبو یــــی در کړی ده دا وار خو خطاو تلم بله پلامی‌دمر ګ احوال‌نیسه . مور ژاړی پلار ژاړی خو ښادی آس‌زین‌کړ ا و دسفر موزی یی په پښو کړی . بیبو ته ورغله چی هغه یی راو ګرزوی . بیبوژاړی : خوله در کوم ، خـــو ښادی وایی :

زاری نه قبلوم بیا می مه غواړه.

اوښادی ناره کړه:

یوآس می زین ملامی تړلی- یوآس می زین ملامی تړلی.

بیبو راووځه رخصت راکړه‌چی داڅ پر ښادی می ځی د هند و لا ت تـــــه،

بیبو په ژړا دا ناره و کړه:

ښادی جان ګر زوم نه پــــــا تیکیږی ښادی جان نه پاتیکیږی

سپینه خوله که ور لـــوم ښایسته ښادی‌هم نه راضی کیږی ۰

دبیبو بله ناره :

یو دختو یو دختو خلی جوړ کړه ښادی جانه

مخ وماته شاو تاته هروخت‌چی راپه یاد شی ستا مینه به کم ماته

ښادی ولاړ د کوتی خواته او د کاروانی سندو نه یـــی کوتی ته ورل . دی کوتی تــه ور سید اود باز محمد خــــا ن کورته یی ځان ور ساوه. هلته د باز محمد خان د کاروان‌دمشر پیغام یی یوړه . هلته بازمحمدخان خو ورځی عزت ور کړ خـــو دبازمحمد خان پیغله لـــو ر ؟ دی چی ښادی ولیده پر مینــه شوه اودښادی ښخه یی د مینی هیله وکړه دانده خبره چـــی دښادی بدن خودلی دی . مګرد ښادی زړه دبیبو په غیږ کی‌ـښادی دباز محمد خان د لــــور «شیرینی» ښخه و غوښته چی‌پردی غاړ کی غاړی‌ته وا نــه‌چوی خـــــــــو «شیر ینــه !»

هغه مینئی لیونئی کړ یـد ه نویی صبر نه کیده . ښــادی باز محمد خان ته وویل شیر- محمد خان ډیر تلوار ته اړ کړیدی هغه هم دسندونو په تولولـو پسی ولاړ . ښادی داو دس په بهانه تر کوروت د مسجــــدسیوری ته پریووت «شیرینئی» دبام څخه یوه غوړی ته راغله اوتور ی زلفی یی پر راو ځړولی اوپر ناره یی کړه:

پر بام ولاړی نجلی چــــی کاغذ په کوتو نغاړی .

زړه می یودی بیبو و ړ ی دا بالا میرمنه څه دښادیغواړی.

دناری وروسته ښـــــا د ی کورته ورنه غی او باز محمـــدخان هغه ولید چی کور ته ندی تللی پر ږغ یی کړ: ډوډیدی نه ده خوړلی ؟ ده ورته وو یل : پر زړه می نابېره درد شو. دا دی کار یی ورخلاص کړ .ښادی د کوټی څخه کند هار اودکندهار څخه اوس د «پکوا» دد ښت دلاری اصفهان ته ځی پد غـه وخت لی دپکوا پردښت د ښادی تبه شوه، ده اس په زړ کومبته کی وتاړه دری ورځی تیـــری شوی . دښادی آن تمام دی چی نا ببره یوسړی دلته گـــوری اس ولاړ دی اوسړی ورسر ه پروت راغی گوری چی ښا د ی پروت او آخره یی ده .ښاد ی ده ته یی ډیری زاریو کـــړ یدا ناره یی پرو کړه :

اصفهان نصف جهان د ی ـ اصفهان نصف جهان دی

لو یه خدایه «تلخک» هـــم بتهی بیا پان دی .

وروسته یی نیاز و کــــی بیبو راخبره کړه ، سړی پــه ډیر تلوار بیبو ته ور غی پر هغی یی داد بد شگوم بږغ وکړ.

که کمبته دلارام پر ســـــرگمبته ښادی جان می پکښـــی پروت دی

سپینه خولی یی دگرر لـه گرده ډکه .

بیبو په چغو گومبتی تـــه راغله دښادی آخری سلگیدی نویی وویل :

آه خاور ی می په سر شوی.

دښادی پرخوله یی خو لــه کښیښوله او پوړنی یی پـــر سروا چاوه پر وغزید لـه او روح یی دښاد یدروح ملگر ی کړ.

مور اوپلار یی خبرشـــول .راغلل دواړه یی په هغـــــه گومبته کی ښخ کړل چی نن دخاص او عام زیارت پر جوړ دی .

هلته ددل آرام دښت .

هغه اویس دمراد دړسید لـوتاټوبی دی .

www.libtool.com.cn

# دویم فصل

## دننګرهار سندریز مکتب

www.libtool.com.cn



د ننګرهار د سندرو ویلو یوه صحنه .

چې د فالکو ریکو پوهانو پـــه نظر لکه د کندهار ، پکتیـــــا لوګر مکتبونه یا سندر یـــز د پښتو شعر هغه ملی لاره خو- ښوی چې د دو ی اریا یی نیکو- نوورته پرا نیستلی د ه . لکه څرنګه چې آریا یی اشعـــــار دهیجاء او سلیبل په اســا س بو لل کیږ ی او د شعر ســـم او ناسم یی هم په همد غـــه هیجاء او سلیبل پوری اړه لری.

همدا راز د پښتو اشعـــــار او تول، کره لیدل او دهغه سم او ناسم پیژ ندل هـــــم په هیجاء او سلیبل سره کیږی .

په سلیبل کې د حرو فو د یړ والی او لږوا لی نه شمیرل کیږ ی.

مثلاً د «نږه» کلمه چـــی له دوو تورو یعنی «ن» او« ه» څخـــه مر کبه ده یو میلاب ګنهل کیږی. اوپه ویلو او لو ستلو یـــی یووار خوله خو ځیږی. د ږ ـرداسی هم شته چې یو سیـــلاب څلو ر توری هم ولری لکـــه «ورور »، «نږور»،« تـرور »، «سپینی» او نور ...

**دپښتو او لسی سندری نه یوازې داچې د شعر او دا ب له نظره ار زښت لری بلکه دملی مو سیقی دمتمم او مکمل پـــه حیثستره برخه لری .**

لندہ دا چې که دی اصل ته چې وایی :« ادب دمحیطهنداره ده» ار زښت ورکړ ه شی نـو ښایی وویل شی چې د پښتو له ا ولسی شعر او ادب څخه ښـــه دب ا ، سپیڅلی او وینځلی ادب، پیاوړی او واقعی اد ب په ټول ختیځ کې نه مو ندل کیږ ی .

خیر داخود پښتو په شعـــر کې د سندریز مکتب یوه برخه وه اوس به نودنور و پښتنـــی سندریز مکتبو سره خـــاص د ننګر هاری دسندریزا مکتـــب مزیت وښیو ، هغه که څـــه هم فالکور پوهان وا یی :

**داتڼ دنا رو له ژوری کتنی څخه دامعلو میږی چې دا موجوده لاس ته ر ا غلی تـــا ر ی دلومړی ځل دپاره په کندهار او دکندهار په شا او خواکې ویل شوی دی او بیا وروستـــه نورو ځا یونو ته نقل شو ی دی او په دی لړ کی ډیری دا ســی ناری موجودی د ی چـــی دا استنباط تری کیدا ی شی. لکه :**

آمرت په ونه توره کندهاره

زلفې مې اوږدې شوې - اوږدې زلفې به څو کړ ځم بې یاره

یاداچې:

کلاته چې پرسرډې پالیزونه

www.libtool.com.cn

دنور و پالیز لاښې شو - دمستې پالیز اوس کوې ګلونه

بیاهم دننګرهار سندریز مکتب دیوه منظم سندریز مکتب اساس ایږدي. او دادې هم معلومه وي چې «مقام» په پښتني یاننګرهار ی سندریز مکتب لې بل رنګ او بله ممیزه لري یعنې دمخه تر «مقام» بایـد هندې هغو مقامو نو سره غلط تعبیر نشي چې په هندي سندریز مکتب کې د «سا ،ري، ګــه ، مه ، پـه ،د، نی، سا» پـه اواز سره د «اسا» ،«بیر مې »،« للیـا ن»،«اسا وري » او نورو مقا مو نوجوړېښت په کیدو نکې دی ځکه دلته «مقام»بل رنګ او ډ جوړښت لري . دمقام نـه ورسته :

« چـا ر بیته » ، « بد لـی» ، «بګتی» ، «لوبې »، « کیسې »، «داستا نونه» او «مشاعر ی» دخپل اصیل ننګر هار ی سندریز پښتو مکتب اسا س ایږدي چې مونږ به یې د هرې یو خـې خصوصیت اودمراعات وړ اصول په نمو نو کی وښیو :

**الف ـ مقام :ـ**

چې ډیر پښتانه یې « رباعی »هم بو لي اوداېوه ښکاره غلطي ده ځکه رباعي هغه وزن دي چې څلور مصرې ولري ، پـه داسې حال کې چې « مقـام»هیڅ کله څلو ر مصرې نلري بلکه دلسو څخه تر دو لسـو بیتو نو پورې دي او بیتو نـوزیاتېږي هم. یعنی دایـو ځانګړی سندریز طر ز دیځکه او ل خو « مقام » دځای په معنی دی اود پښتنو دمجلسو نـو پرتولو چې بیا ورو سته چـاربیتی او بدلی یا بګتی ورلوېږي اود مجلس شر و ع په ده وي جوړ دی علا وه پردې د لتـه پند او نصیحت هم ور ګډدې چې مونږ به یې د «رمضان» چـې د پښتنو له او لسی مجلسیا نـو څخه دی یو«مقام» د نمونې په حیث وښیو هغه داد ی :

ته چې ځانته هوښیاروا یې هوښیار نه یې

ځکه پوه یې په ژو نـدون او روز ګارنه یې

د قانون او شریعت خبـرې تل کړې

یو ذره اګاه د شر عې پـــه لار نه یې

په ژوندون کې یې دهر مرض دواته

پسله مرګه به هیچا تـه په کارنه یې

د« ګلستان» د«مقام» نمونه چې یو اولسی شاعر ی دی :

دکم اصلو دیار ی نه واخله لاس

مه غولېږه دهغه په تـښ لباس

دکم اصلو یارانه د خـره سوارۍ ده

عاقبت به دې په کنده کې راخلاص

که اصیل سره دې کړه نیکي و کړه

شامدام به در ته کر ځې کوز او پاس

**ب ـ چار بیته :**

(چا ر بیته ډو لو نـــــه لر ی ، یعنـی سـ‍ـــا د ه چار بیته او ځنځیری چار بیته) د چار بیتی دنوم لومړی جزء د پارسی له ( چهار بیتو ) څخه مخفف د ی ، نو په دی سبب چار بیته هغه اولسی نظـــم دی چی هر بند یی څلور مسری لری او د قصید ی یا مثنــو ی په شان او ږ دی ، او ږ دی موضوع گانی چی اکثراً بزمی او رزمی وی، لری . په همدی شان په چار بیتو کی نکلونه اوکیسی هم ویل کیږی . په چار بیتو کی د مضمون ربط او د موضوع تسلسل یو حتمی امر دی نو ځکه د چار بیتو ویل یوه غښتلی قریحه او ښپا ند ه استعداد غواړی . چار بیتـــه بیا پخپل کورکی د مسر یـــو د شمیر ، د مسریو د برابر والی، او ږ دوالی اولنډ والی له مخی په ډیرو نور و ډولو نو هـــم ویشل کیږی ا و ویشل کیږ ی« د څلورو ، یا پنځو یا شپږ و یا اوو ، نهو او لسو مساو ی یا لنډ و او یا اوږ د ومسر یو څخه ساده چار بیته جوړ و ی » او ځنځیری چار بیته هم د غه شان جوړیږی . همدا رنگـــه د ساده چار بیتو کسرونه هم ډیر متنوع وی چی د لته یی مشهوری ښوول کیږی .

www.libtool.com.cn

**۱ ـ د« محمد» او لسی شاعر دیوی چار بیتی کسر او یو بنددا د ی :**

**کسر**

په سپینه خوله کی د ی نیشه رب دشرا بو اینبی
اوبو له ځی په سر جو غـــه دی دنوا بواینبی

یو بند :

په سپینه خوله کی د ی نیشه اینبی د بنگوده
دالباسی خندا دی تو لـــه د بیننگوده
بل په سینه کی خو شبـــو یی دی دلونگو ده
عاشقان وژنی نن دی تور ه دقصا بواینبی

**۲ ـ د «سالم» نومی او لسی شاعر یوه چار بیته :**

**کسر**

پټراز می ځکه کړ څر کندزیاتی می وارونه شو
زما دطبعی کارونه شو .

یوبند:

دا به تقدیر قسمت کی ښکل وزما
که چیرته لری نږ دی خپـــل وزما
ددوی کریوان لاس کـــــی را ښکل وزما
تول بی مز ی لکه تلخـــــی تو پك پری ښکار ونه شو
زما د خپلی طبعی کارو نـــه شو .

**۳ ـ دیوه نامتو او لســـــی شاعر «سید کمال» د چار بیتی نمو نه :**

**کسر**

آهو چشمی ، گل اندا می ، ماه جبینی
زه د ی وسوم ولی و لـــی څه د پاره

یو بند:

وسوم څوك مي نه اخلـــــی عرضونه
نه پوهيږم ربه دا څرنګ تاء ثير دی
ليلا تور اوربل دی جـــا ل نيسی باز و نه

www.libtool.com.cn

باز د زړه بنيئی بی شکـــه هوا ګير دی
دهر چاله خولی نه خيژ ی آواز و نه
شينکی خال دی غو ندو ز نـــه کی امير دی
پاچاهی دی شوه په لاس پاچا دچينی

رسالی دريسی څی شو لـــی واګداره .

٤ـ د«اميری » اولسی شاعر چار بيته :

**کسر :**

کوز شو شهزاده دشا پيرو په ګلستان
ته د چين په لار کنه
يو بند :
کوز شو شهزاده په هغـه باغ کی يی دمه کړله
جوړه يی جا مه کــړ لـه
خبرنه وو له ځانه يـــوی پيغلی پری ناره کړله
توره يی وربنکاره کړله
څوك يی په دی باغ کــــی مسافر ه مر به ځان کړی
مرګ دی شو تيا ر کنــــه

٥ـ د «مستجاب» او لســـی شاعر چار بيته :

**کسر :**

په تور اوربل دی کتار ګړی ز ين ګلونه
ستر ګی دی لالونـــه د ی ـ د نجونو جماداری
بند:
په تور او ربل کــــــی دی غنچی دی ـ بنايست لـــــر ی دشا هزاد ګانو
ستر ګی دی د کی توپانچـــی دی ـ بنايست لری د شاهز اد ګانو
ماله ساتلی دی توما نچـــی دی ـ بنايست لری دشا هزا د ګانو
جبين دآسمان لکه د ستو رو دی خالونه دی
ستر ګی دی لالونه دی دنجونو جماداری

٦ـ د «خواجه محمد» اولسی شاعر چار بيته :

www.libtool.com.cn

تا چې وهلې دې رنګ ـ په مخ حجاب لرې
دا سپینکې مخ دلبره ـ لکه آفتاب لرې
دندان دې در ځلیږې ـ لبان عناب لرې
د عقرب ستورې سا تـې ـ پاس په امبرو باندې

۷ـ د «طالب» نومې او لسی‌شاعر چار بیته :

جګړه شوه په مخ باندې ـ د تیك او د پیز وان
تیك وویل پیـز وا نـه ـ ستا بنایست له مانه کم دی
منکر لره قسم دی
تیك وو یل پیـز وان‌ته ـ ته‌ګو ره ز مـا شا ن تـه
زجلې چې‌شي بالغه اول‌دول په ما کاندی
جګړه شوه په مخ باندی .
زجلې چې ځان سنبال کا ـ اور بل په وروځو جال کـا
دپاسه پری ماسیورکا ندی‌ـ په شانه دسلطا نـه.
د تیك او د پیز وا نـه
پیکی کی د خـا لد ار ی ـرویی سپینی کتار ی
از ل کی یی نصیب دا ستـو کنی داحرم دی
منکر لره قسم دی

۸ـ د «تور شا لی» او لسی‌شاعر چار بیته :

مازیګر راشه په تلوار که زما یاریی
بر ګو درله ځونه ، چـی ملګری شو دلاری
مازیګر راشه
مازیګر راشه په تلواریمه بلبله
د جینکونه پاتی شوم ستـا د کبله
تاچې خبره دکو لی راته کوله
راځه چی درکړم سپینه خوله زلفی تار تاری
مازیګر راشه

۹ـ د «زر جان» او لسـی‌شاعر چار بیته :

په چپاو راغله ما پښیـن باندی
خالونه یی ایښی په جبیـن باندی
تیك‌داوربل په کنا روګرز‌ی
غو نچه پیز وان په شونډوسرو
غونچه چی سپین یـی پر هیکل دی
بل لونګین ورسره مل د ی
خوله پتاسه خوند هر زمان کړی
سره تاو یزو نه‌ښه ننبا ن کړی

سره تاويز نه ښه او ږ ي ده
واته ښکار يږي چي بدري ده
هيڅ نظر نه کاندي مسکين باندي
په چپاورا غله ماپښيـــن باندي
هيڅ نظرنه لري نګاره
په غضب تيره شوه د قاره
چي په سپين چتر د پاولـو ګرزوي
غونچه پيزوان په شونډوسرو ګرزوي

www.libtool.com.cn

دادي دڅاربيتو نمو نې چي مونږ يې په سندريز مکتب کې نمونې وښوولې . دا چې دلته دوزن بدلون ، د قافيې خـــرنګوالې اونور ادبي بحث وګروهغه به خپل ځاى ته پرېږ دو. مګر مونږ تراوسه د ســـاده چار بيتو نمونې وښــــوولې . راشئ چي پدې سندر يز مکتب کې د ځنځيرى چــــــا ربيتو نمونې هم له ياده و نـه باسو ځکه دلته دموضــــو ع تسلسل هم پکښې راغلي د ى چي ترساده چار بيتو خـــوږ ى شوي دي:

**۱ــ نمونه ــ کسر .**

ښه سپينه، رنګينه ،سګينه ده ليلى
شين يې خال ، دى د لا ل ــ دادي خال دليلى
۱ــ قلندر ستا ددرهر سهر دي جانان
تيك دسر ، دى سره زر ، ښه نظر ، دجانا ن
خزانه ، ناز دانه، جانانه ،که ګيلي
نن يې شال، دى کشال ، زانګي خيال دليلى
شين يې شال ددلال، دي جمال دليلى
۲ــ ښه غړى ، ډاګړى ، ښه دړى يې دسر
رنګ ژړى ، سرى کړى ،شال شړى يې د سر
سخت کينه ، زنانه ، کـــــه ائينه ، نجلي
ښه سينه ، رنګينه ،سنګينه دليـــــــلى

* * *

۳ــ له شيطان ، ساته ځان، چي اسان دى شى کار
هرانسان ، چي خزان، شي اسان يې شى کار
اګانه، د يګانه ، يګـــانه ،ځـــان تلـــى
ښه سينه ، رنګينه، سنګينه ده ليلى
اس دى تال ، کړ الحال ،څه کړى حال تسلي
شين يې خال ، دى دلال دا دي حال دليلى

**دوهمه نمونه اوه‌مسری :**

کله به‌راوړی د واړی ببـی‌دی رنګین شیرین
سپین دی جبین، زرین ، مخ‌دی ځلیږی

www.libtool.com.cn

* * *

کله به را کړی دواړه لـــب‌شات اوملهم صنمه
مه کړه ستم هردم ، پـــــه غضب نبوری
سری دی منګولی ، همیـــش‌وړی زړونه قلم قلم
اخلی قدم په چم‌ستر ګی‌دی‌تور ی
په دردی پروت یم همیش‌غواړم ستا کرم محکم
لری کړه غم، الم، که رب‌ته کـــــوری
نن دی په غاړه باندی زانګی لونګین رنګین
سپین ، دی جبین ، زرین مـخ‌دی ځلیږی
کله به راوړی لندی ز نــه لکه قند ، که خوند
ستا په کمند ، شوم بنـــد ،یمه اسیـــر
بانړودی غشی دلینده کوی خدنک ، غورځنګ
راشه پر ځنګ ، یو درنګ ،زه یم دلګیر
نه دی په غاړه باندی زانګی‌تورلونګ ، قشنګ
زه شوم ملنګ ، پتنګ ،صورت زهیـــر
شینګی دی خال دی پاس پـــر تخت بادشاه دچین ماچین
سپین، دی جبین ، زرین مـخ‌دی ځلیـــږی

ځنځیری چار بیتی د مسروپه‌اعتبار شپږ مسری ، اوه‌مسری‌اته مسر ی‌هم وی‌چه د ننګر -
هار د ادبی سندر یز مکتـــب‌غوره په زړه پور ی برخــه ده چی د زړه د ارمان غوتـــه،
خلاصوی .

**ج - بدلی :**

اوس بـــه ددی مکـــتب د« بدلی» په برخه کی لـــږووږغیږ و .
«بدلی» ته عموم پښتنا نه غزلی وایی او پدی نامه یی شهرت موندلی دی او دانوم
پوهاند حبیبی د عبدا لقـــادرختټك غزلو ته ورکـــړ ی دی،بدلی د پښتو د اولسی نظـــم
او دخلکو دسندرو یوه اغیزه‌ناکه ، خونده وره او په زړه‌پوری برخه ده . بدلی پـــه
ډیری چستی او تندی ســـره‌ویل کیږ ی چی دی آواز کـــی سستیا او دآهنګ اوږد والی
نقصا ن پکښی پیدا کـــــوی . بدلی انسان ته وجد اونشاط‌پیدا کوی. دغه توپیر «بدلی»
او «مقام» سره لری کـــوی . بدلی د مسریو په لحاظ هم‌توپیر کوی یعنی کله یی یـــو
بند دری مسری کله څلور ،کله لازیاتی وی . دا دی موږ‌اوس دلته د «زرجان »اولسی
شاعر د بدلی نمونه ښیـــیو :

تور بخمل د تور وورځو پـه سرخور کـه
دسهار شبنم اور یړی بلبـلشور کـه

دسهار گل غوندی شو مـــه هسی مړ اوی
یا می موړ که په دیدن یامـیځای گور که

په ارمان ، ارمان به لاړ شمگور ستان ته
ښا صنمی نور نو بس لــــه تیری زور که

www.libtool.com.cn

د «نوروز» د بدلی نمو نه چی یوښه اولسی شاعر دی :

چپی می په زړه ځی دغم داسی ـ داسی
ژوندون می کړ تنگ ستاستمداسی ـ داسی
نه مجنون شه پاتی ، نه فـرهاد نه شیرینه
فنا شو په عشق کی عالـــمداسی ـ داسی
سیلاب می دا و ښکو په مـــخځی همیش
بهیږی د ستر گو می نــــمداسی ـ داسی

د «محمد دین » اولسی شاعر بدل :

گل دی په زلفو باندی کتـا ردی
دواړه چشمان دی محبو با کا د انار دی توبه توبه
تا چی ائینه مخ ته نیولـــیشینکی خالو نه دی په مخوهلیچار دی توبه توبه
چمنیی جوړکړ دگل د پـا ر ه
پکښی بلبلی شنه توتیان کویچغاری توبه توبه
رب چی پیداکړ زمونږ رسوله
بنا یسته نبی ـ مخ گلابی یارانیی چاردی توبه توبه
ته فضل وکړی په «محمدینه »
خو مری غمونه په تیلی غـریب انکاردی توبه توبه

د «توکل» او لسی شاعـــریوه بدله :

خماری سترگی چی را واړ و ی صنم
زړه می شو قلمقلم

* * *

په دنیا کی رب پیدا کـړی ماجبینـــی
زه دی یاریم په ریښتنی
راشه راشه په لیمو می ږده قــــدم

* * *

زه په تا باندی مین یم تــلمــــدا م
سروی قده گل اندام
د غم اوښکی می په مخ ځی دم په دم

**د ــ بگتی:ـ**

بگتی هم د پښتو د اولسی نظم یوه خوند وره برخه ده، د بگتیو وزن دلندی په شان وی دا شعری ژانر ډیر، رواناو ساده دی چی وجدا وهیجان دمجلس په برخه کوی، بگتـــی د « مقام» ، «چــار بیتو» او«بدلو» وروسته او د مجلس د تودولو د پاره ویل کیږی . خو کله د چار بیتو او بدلــو په منځ کی دمجلس د ښـــه تودولو دپاره ویل کیږی. کله لا دمجلس دبی نظــمی اداره‌هم اعاده کوی او ساتی یی ، خو موږ ورته بگتی دخوند او ذوق ساتو نکی هم گڼلای شو. په بگتی کی اواز نه اوچتیږی‌او په تیزاو ټیټ اواز ویــل کیږی. بگتی‌دچار بیتو او بدرپه شان«کسر» لری‌خود بگتی لسدځینو چار بیتو اوځینو بد لــو په خلاف اکثراء یو بیت وی.( دوی مسری ) وی او اکثراء په قافیه کی هم‌دواړی مسری برابری وی .

د بگتی هر بند غالباء څلور مسری وی چی هربنـــد د و ی‌مسری دی او اکثره وخت په قافیه کی هم دواړی مســـری ی‌سره برابر ی وی . لومړ ی‌مسری یی پخپل کورکی بیله قافیه لری او څلور مه مسری یی دکسر سره موافقه وی .سره له دی هم تولی بگتی‌په یوه وزن نه راځی بلکه وزنو نه یی مختلف اوبیل‌بیل دی ،یعنی دویلو په وخت کی سری پوهیدلای شی چی دا بگتی‌ده‌او دا چار بیته او داهم بدل ،ځکه چی هم یی وزن او هم‌یی طرز بیل دی ، یعنی په یــــوه‌وزن او یوه ډول نه راځـــی ،مطلب داچی بگتی هم په‌اولسی او د خلکو په سندرو کی ستره برخه لری او لوړ مقام اشغالـــوی .

نمونی یی دادی : ــ

**۱ــد «طالب جان » او لسی‌شاعر بگتی :ــ**

دا تور ی سترگی ، ســـره تیر یږی
له ځا له زما ، کله‌خبـــــر یږی

* * *

دا تور ی سترگی سره یـــی‌لاسونه
اوربل کی ایښی تازه‌گلونه
موزی دله له ځیا له ، به‌تری تیر یږی

* * *

موزی دله ته و کوی پا م
دکوره و ځی سری ما ښام
چی بیر ته را سی‌سری مــا ښام
تو مت دنجلی په ما اوریږی

* * *

تو مت دنجلی کړ مه بیمار
دخیا له کو ی ډو ل‌اوسینگار

ځرك ور پسی کر ځی دپلار
ورځی «طالب جا ن» نـه ایسا ریږی
۲ـ د«پاچاګل» بګتی : ـ
www.libtool.com.cn
دما ز یکر اوبو له مسته په نخر وراځی
شور یی دکنګر و را ځی
دماز دیګر اوبوتــه لاړه ـبنه سورا یی غندلیی غا ړه
مینه امن دسر غوا ړه
دسو یلو و رپسی د لـــه دسپرو را ځی
شور یی دبنګړو راځی
سو یلی پسی لښکر د ی ـمخ یی بنا یسته شمس قمـردی
ډیر یی په ستر ګو کـــیاثر دی
زما ګو ما ن ور با نــدیخا ص دشا پیرو راځی
شور یی دبنګړ و را ځی
* * *
زما ګو مان و پر ی دوخته ـدا داصیل چند نو لښته
ل لو ئیده دچا له بخته
شا په تو پونو کی په مثل دښار و راځی
شور یی دبنګړ و را ځی
* * *
دا تور ی زلفی یی ـسمسوری ـبنه ګلا بی عطر و رپور ی
هم په کجلو سترګی تور ی
بل دسرو تیك یی دا ور بــلپه کنار و راځی
شور یی دبنګړ و راځی .
شا په تو پونو ځی پـــه ډانګه ـ دا دلا چی لونګـــوڅانګه
ورته دفکر په تا ل ځانګه
دا تور ی زلفی دسینو پـه انارو را ځی
شور یی دبنګړو را ځی
زلفی سنبل سینه دی باغ دی ـ بلبل دی خپل دښمن دیزا غ دی
په زړه یی تل دمینی داغ د ی
سمسو ر ګلو نو ته توتی د سر درو را ځی
شور یی دبنګړ و را ځی
* * *
زه خو توتی ستا دجمال یـم ـډیر دی دیدن پسی لیوال یم
په عشق کی تیر له سرو مالیم

د«پاچا گل» بګټي جو ستي په مسرور ا ځي
شور يي دبنګړ و را ځي

**لوبی : ــ**

www.libtool.com.cn

لوبی هم د پښتو نظم يوه‌خوږه او خو ند وره بر خه ده ، لو بی هم‌ساده‌دی او هم خو ند وری ، چی او لسی‌مینه تمثیلو ی او هم دسا ده ا وکیلوا لادب نمونی دی‌دلو بو خو ند او رنګینی ځکه زیا ته ده چی دولسی سندرو یعنـی‌لنډ یو څخه رنګ اخلـی ا و کسرو نه یی اکثرا دلنډ یـو په شا ن دی .

لنډ ی خو د خلکو هغه‌زړه‌وړونکی بر خه ده چـــــــی‌دپښتو نور و سندر و او هـــم په نورو ژ بوکی یی‌سیـــا لنشته ، نو که لو بی دلنــــډیو نه رنګ‌اخلی نو ورسر ه سمدم خو ند هم تر اخـلی ،چی لو به دخلکو یوه ځانګړی‌او مستقله برخه ده ځکـــه لو به له بګټیو نه ، یـــــودویلو په وخت کی تو پیـــــرلری اوبل داچی دکسر مسری اکثره وخت په یوه قافیه وی‌او د لوبی پــه مثنا ن نــــه دی ، لو بی او نیمکی سر ه پدی توپیر لری چی په نیمکی‌کی لنډ ی عینا راوړه کیږ ی‌او په‌لو به کی په خپلـــه لنډی نه راځی اوبل دا چــــی‌نیمکی دخلکو له سندر و ا وعمو می برخی سره چی معلوم ويو نکی نلری تړلی او لوبی‌دخصوصی سندرو په ډله کی‌راځی ، ځکه شاعر اوویو نکی یی معلوم دی ، لو مړی‌نمونه یی د «محمدنور »دا لا نــد ی‌لوبه و ګوری :

**کسر :**

غمونه لری کړ ه له ماعاجزغمګینه ـ راتا وشه لونګینه
ودی ویشتم رو غه دی‌نکړم‌ـنوره یاری درسره نکړم
بل دی په سرو شو نډو نتکی‌زانګی مینه ـ‌ر تا و شه لونګینه

* * *

دلوړی تند ی می شو لـــی‌شوی ـ دلبر ه تا ته مـــــــی‌ګیلی شوی
زه تشنه لبه ستړی‌راغلمه له سینه ـ راتاو شه لــــــو نګینه

* * *

یاس په بامو ګر ځی کو تر ی‌ـ‌زما دخوږ زړ ګـــــی د لبر ی
چی شال پر سر کړی‌ځنګه ښه ښکاری سنګینه
را تاو شه لونګینه

* * *

د«محمد نور »فقیره بخته‌ـځنګه راپر ی و تی له تخته
بخت می کو ته شو اس‌می‌ولاړ سره له زینه
را تا و شه لونګینه

## وـ کیسی :

کیسی‌هم دولسی سند ډ ویوه برخه ده ، د کیسو ویـــلـدری نیم زره کا له پخـــوا د آریایی قومونو ، شا عـــرانو اومبلغینودهغوشعرونو اوتبلیغونوځخه شروع کیږی چی لو مړی یی دباختر په سیمو اوبیا یی‌دهندو کش په لمنو دخپلــــوپلرو نو کارنا می ، مذ هبـــی احساسا ت ، دود و نه ،دستورونه ، روایا ت اونور یْ اخلاقی‌لارښودنی په شعرو کی ځا ی کړید ی . او دا ددی دپا رهچی ددو ی راتلونکی نســـل‌دخپلو پلرو نو خصو صیـــا ت اوکړه وړه هیرنکړی او ددی‌خبر ی ستر دلیلو نه د«ویدا »معلوم او نامعلوم سرودو نـــه اود «اوستا» گاتو نه دی چی‌دهمد غو شاعرانو او مبلغینوله خوا ویل شو ی دی . همدا رنګه پښتو شاعرانو داسلسله لاتر او سه پور ی جـــــار ی‌ساتلی ده او په شعرو نو کی یی‌اخلاقی او مذهبی‌لارښود نی‌دکیسو ا ورروایا تو په تو گـــه راوړی دی .

دپښتو دکیسووزن ، آهنگ،روایات اونور ... ډیرډولونه لری . خو په عمو مــــی ډول کیسی هغو اولسی شعرو نوته‌ویل کیږی چی له چار بیتـــوځخه اوږد ی و یلی کیـــږ ی چی دلته یی دیوه اولسی‌شاعر «عبدالقادر» دحضر تا ابراهیم‌خلیل الله صداقت ، حق ا و ریښتیا و یلو فلکلو ر ی ا ورروایتی کیسه ده ، او داډول :

نمرود په زما نه کــــــی ـراغلی په کیسه کی
پیداشو ابراهیم خلیل‌الله‌دوست داکبرو بیشکه پیغمبرو

* * *

نمرو د نو می کافر ـ دهجوړکړ و دا هنر
راغونډ یی‌نجومیان کړه زمامرگ به‌وی له څه نه ؟
تری و یی کړه پو ښتنه
نجوم ووایه حال ـ ښکـــاره‌یی کی فی الحال
پیدا به یو هلك په دغـــه‌ښارکی شی دننه
ستا مرگ به وی هغه نـــه
نمرود پوه شو په حـــال ـاخته شو په جنجال
نو سربه یی غو ځیږی ؟

دا حکم یی بناکړو ـ وا ړه‌یی ټول تباه کړو
څو مور دابراهیم بهر تـــــه‌ووته له کوره تقد یر در بـ‌ته کوره
پیدا شوبه صحرا کـــــی ـپوره‌وپه معنی‌کی
دی مور یی ژر خو ندی کړلو په پټه ته خانه کی
راغلی په کینه کی



www.libtool.com.cn

چی مور بی کور ته راغله ـ بی شانه وه خو شحا له
زر پلار دابراهیم یی دد ی حاله کړ خبر
ماجوړ کړ و داهنر

www.libtool.com.cn

دی ښځی و ی آذ ر ـ کیسه واوره له سره
ما هلته دی پټ کړی هغه ستا ښکلی پسر دی
بیشکه پیغمبر دی

*   *   *

داکیسه اوږ ده ده ،ما یی خو بیته دنمونی په ډو ل راوړل
په همد ی شان د «غلا م شاه »اولسی شاعر په نظم کیسه دفقیر غو ښتنه د پاچا
دلو ر او بیادهغه لوی دو لت او بیا هغه دولت حا تـــم ورکو ی په ډیره شیر ینی دا
ډول شرو ع ده

په وړاند ی زمانه کی یـــو فقیر و مستانه
غو ښته یی شا هزاد کی پاچاته و دریدی عرضی

*   *   *

په و ړاند ی زمانه کی یو فقیر و زور ور
فقیر و زور ور   تور رنـګ لکه حبش کچکول په غاړه زړه ور
په لاس کی یی کوتك کنــدا غوستی سر ببر
ورتیر ښتو د قابچیانو نه په چل او په هنر
پاچا دتخت په مخ کی خپل ځان کړ برابر
سلام یی ورته وکه چـــی شارلا دی کړه دختر
پاچا پری حکم وکړه چی مــر کړی دا دیوانه
په وړاندی زما نه کی یـــو فقیر و دیوانـــه
پدی مجلس کی ناست ودپاچاقابل وزیـــــر
پاچا ته یی وویل چی: مــر ګ اسان دی دفقیر
بدنا م دی پری رب نکـــړی زمونږ داعادل امیر
دولت وربا ندی ډیر کښیږ ده همدایی د ی تدبیر
پاچا وویل فقیرته په غوږ واوره دا تقد یــر
چی سل ماته اوښان په یوه غاښ په یو ځنځیر
بی شمیره دولت راوړه زه په هله شم راضـــی
غو ښته یی شا هزاد ګــی پاچا ته ودریده عرضی

*   *   *

پاچا چی دا خبره کړه فقیـــر لره تکـــرار
کوتك یی په اوږه کیښود راووت له د ر بـــار

په لوری د حاتم طایی یی ونیوله لار

چی شپی ورځی یی وکړل مزلونه په تلوار

که کوری په چینجنه او ښه دی دی په گفتار

www.libtool.com.cn

په درمان دهغی اوښی تل ولاړ ومردانه

په وراندی زمانه کی یو فقیر و مستانه

* * *

فقیر چی حاتم ولید ونوشولو په گریان

چی دا ځیرك سری کله به راکړی سل اوښان

داسل قسمه دولته ، لال وگوهر درو مرجان

راغلی چی یم زه په د ی را تک یم پیښمان

بیکا دحاتم کورته ولاړ وودریده حیران

دوینځی سره جنگ و په پلتی د شمعدان

دځان سره یی ووی مابه کله ونما نځی

غوښته یی شاهزاد کی پاچاته ودریده عرضی

سبا ته زما وروره فقیر ولاړ دل نادله

تری وی غوښته سل مایه اوښان په یوه ځله

حاتم فقیر ته وی چی راشه واخله بی تامله

مهار یی په لاس ورکړ چی ورځه فقیره زغله

په لاس یی مهار پاچا ته راغی زما کله

سلام یی ورته وکه پاچا وگوره په خپله

داسل قسمه دو لت او په سل قسمه خزا نه

په وراندی زما نه کی یو فقیر ومستانه

* * *

د کیسی د اوږ والی په خاطریوه برخه واخیسته شوه

## ز ـ داستانونه :

د استانونه هم دپښتو د اولسی سندرو یوه خوند وره برخه او ځانگړی سبك اوجوړښت لری چی پښتانه سازیان یی په مخصوصه لهجه او خورا جوش وایی ، چی وزن یی پر زړه خورا اثر ناك وی. په داستان کی ډیر اوږده ، اوږده مضامین ځا ئیږی . ددا ستانو مطالب عموماء فلکلوری ، دینی ، رزمی او تاریخی وی. دا ده دیوه اولسی شاعر «نور صاحب» یو فلکلوری داستان د نمونی په ډول :

ځنې مې ولید عجیبه ښکلـــې داستان
طلسمات به درته واوره کړم بیان

د یمن یو شا هزاد و ز مـــا یـــا ر ه
یوه ورځ ښکار ته و وته له ښاره

www.libtool.com.cn

ښکار ته ولاړو په ځنګل او بیا با ن
یو غر څه یې په نظر شـــو ناګهان

بې ملګرو یك تنها پسې روان شـــو
یخپل سر ولاړ په ځنګل اوبیـا بان شو

ناګهان هاهوسې شوه تـرې غا یبـه
شاهزاده ته شوه ور پیښه عجایبه

هغه ځای کې ګرد چاپیر عجا یبا ت و
لاندې باندې ښکته ، پورته طلسمات و

چې نظر یې کړ کو هې یـــې ولیدنه
دکو هې په غاړه راغـــې ودریدنه

دغه څوك یې چې موږ لې راته وایه
نریې ښځه ، ښځه نرشې سرترپایه

شاهزاده چې ځان ته و کتل یارانـــو
یوه مسته پیغله ښتوله هوښیارانو

سره لاسونه ، سرې جامې ،سره یې لبان
تورې سترګې ، تور بانه ، توریې چشمان

نا ګهان د بل وطن یو شـــا هزاده و
په قوت او په ښایست کې ازموده و

دا نجلې غریبه یې ونیوه له لاسه
یخپل ځان پسې یې سپره کړه اس دپاسه

کورته یې بوتله شهز اده ودیر خوشحاله
په نکاح یې و سا تـــلــه دولس کاله

پس له دولس کاله یې ووې خپل میره ته
اې ناترسه ته مې نه ګورې دې زړه ته

دولس کاله پر دیسې شـــوم مسا فره
مور او پلار پسې خفـــه یم دزړه سره

شهزاده وې څه چې بودې ځم پلار ته
دیدن وکړه بیا به ر اشودې خپل ښار ته

شاهزاده او نجلی دواړه شوه روان

د کوهی په غاړه بیا پیښ شوه ځوانان

دواړو تیری ها کوهی ته واچولی

دکو هی‌نه یی داخبره واوریدله

www.libtool.com.cn

دغه خوك دی چی می ولی ای نادانه

نریی ښځه ، ښځه نرشی دغه انه

دیمن شاهزاده لاس کړ تری‌چا پیره

پخپل ځان پسی یی سپره کړله چاپیره

هغه دم یی کورته بو تلـه زما کله

په ښکاره یی د ولس کاله وساتله

دولس کاله شهزاده و وی نجلـی

خپل قصور می در نه واخست او ربلی

څه چی بودی ځم چی خلاصه شی له بنده

خدای دی وساتی بل‌خوك له داسی ژونده

شهزاده نجلی یی بوتله زمـا کلـه

دکوهی په غاړه ودریده‌پخپلـه

یوه تیږه یی کوهی ته کـړه‌وښکتـه

دا هم نرشوه را رو انشوه بی مهلته

هیڅ سړی دی پس له دی‌نه مغرور نشی

دهیچا به چاته پا تی قصور نشی

هغه خپل کاله ته لاړواودی‌خپل تـه

هغه هلته، و خوشحاله او دی دلته

چی «نور صاحب» د وب شی د فکر په دریاب

راوباسی مرغلری په شتا ب

* * *

## ح ـ مشاعری :

اوسسی مشاعری د پـر ی پخوانی دی او اکثر و پـه فی البد یهه و یلی. ددی‌مشاـ عر و شاعرانو ته به یی اخوندانویل چی‌په هرځا ی بـه یی یوه ډله شاگردان هـم در لودل . اخو ندان به له یوه کلی نه بل کلی او دیـوی‌سیمی نه بلی سیمی تـه د خپلو شاگردانو سره تلل اوهلته به یی دبل اخوند د شاگردانو سره مشاعری ا و مقا ـ بلی کولی . اوهر یو چی به پرشونو به یی هغه بل پـه استازی مانه یا به یی جنگ جگړی کیدلی

دپخوانیو مشاعرو تر تیب‌داسی و چی اخوند به د شپی خلك او خپل شا گردان راټول کړل دما می او نغاری‌به یی‌راوا خیستی میدان ته بـه راووتل ، دوی به د شعرونو مسلی را اخستی ، مخامخ بـه ودریدل او یوی خوا او بلی‌خوا ته به یی ډیری ملگر ی

ناست و واو غوږو ته به یې نیو لی‌وچی‌کوم یو اخوند میدان گټی ؟
قاعده داسی وه چی د مقابلی شروع به شاگردا نـو کوله ، ددواړو خواوو شا-
گردان به سره خوله په خوله شول ډماهو او نغارو بـه میدان په مخه واخیستی ا و
چی دواړو خواو ته به تماشاگر باالکل چپ شول نو بیـــا یخیله اخو ندان پخپله راوو-
تل او خلک به یو غوږ شـول یوه اخوند به دسندری سـر کښیښود ا و خلک به یـــو
غوږ شول یوه اخو ند به دسندری سر کښیښو داو خلــك به پری فی البدیهه مسر ی
ویلی . دا به ډیر ښوم کاروکه به یو اخو ند په مسـری جوړ ولو کی درنگ وکړ یـا
پاتی راغلی وای نو د ماتـی‌پیټی به ور سره و، چی ښـه به سره شوه نو یوه اخو نـد
به غوږ ته گوته واچو له اوچاربیته به یی شروع کړه .ددی چاربیتو ټولی مسری بـه
داسی وی چی شوندی به نـه پری لگیدی . اوس په دوهـم اخوند هم دا فرض وچی دا ډول
چاربیته ووایی . په اخر کـی به د معما و مقابله شروعوه .مثلا : یوبه ویل : «ما داسـی
شی لیدلی کله دری کله پنځه وی» اومقابل به یی جواب و ایه ،وروسته به منظم ښکنځل
دهری ډلی شروع شوه.
اخر به احساسات وپارول‌شول طرفدار و ډلو به جنگ‌جگړه شروع کړه، عین ترمرگ
او ژ و بلی پـــــــو ر ی‌دمات شوی اخو ند قلنگ بـه کم اودبری والا به ډیر و-
دادمشاعرو اصول و چی اوس نشته .
مگر بیا هم مشاعری‌ددښمنی نه وتلی خوددوستی لړی یی‌جاری ده . دادی دپخوانی‌اولسی
مشاعرو دیوه‌تکړه شاعر«ببری»دمشاعری نمونه :

شاگرده په یوشی باندی می‌ونښته نظر
دی الوزی یاړانو نه‌یی پښی‌شته نه وزر

* * *

شا گرده په یو شی بانـدی‌می وکړه له تلوار
جواب پـی‌درنه غواړم نه یی مور شتـه نه یی پلار

* * *

سړی پکښی ډیر تنگ شی نه یی دی‌یودم‌قرار
خوری غوښی دبندیا نو نه یی‌خو له شته نه یی سر

* * *

شاگرده غوږ پری کښیـــــږده‌عجب شی می کړ بر سیره
جثه یی دماهی ده هم ځ مـن لری دشیر
دخره یی اندا مو نه چیـرونه خوری پری تیر
کم کر ځی په هوا دی دهوسی‌په شان یی ښکر
شا گرده یوی ښځی په‌دری‌قبر و جوړ کړشو ر
زلمی ته‌یی ویل هم‌می‌خا وندیی هم می ورور
بل قبر یی په خواکی‌هم‌د خوابنی‌هم دمور
اواز یی په‌دریم که هم مـی‌خسر ده هم پدر

* * *

شاگرده «نورالدین »ونښت دشعر په جنجال
بی‌شانه گنهکار دی نه پوهیږی پخپل حال

آیمان یی که روزی شي زړه کی نلري بل خیال
جنت له خدایه غواړي هم په سیوري د شجر

* * *

www.libtool.com.cn

داوه‌د پښتون اولسی دسندریز مکتب دمشاعری یوه نمونه . ممکن تاسی‌د ننګرهار د سندریز مکتب په خصوصیاتو تریوه حده پوهیدلی یا ستچی څو مره ممیز رنګ لري چی د پښتنی دنیا څه د نـــړ ی‌په سندریز مکتب‌کی‌خاصه برخه‌اوښه برخه لری .

داو دننګرهار د سندر یز مکتب‌هغه غټ او کلی اصول‌چی‌تاسی د ۱- «مقا مونه » ، ۲- «چاربیتو»، ۳- «بدلی» ، ٤- «بګتی»، ٥- «لوبی » ،٦- «کیسی»،۷- «داستانونه»، او ۸- «مشاعرو» یعنی ا تـه اصلوپربنا و ښووله ، خودلته داخبره دیادولوړ بولم چی د پښتو د سندریز و مکتبونونوروولو نه هم شته ، لکه «ساندی »«غږو نه» « دمرو تـو کـــسرو نه » او نـــو رچی بحث یی ډیـــر اوږ د دی‌او مونږ دلته صرف دهغه نو- تیشنونو راخیسته شوی سندرو په برخه پرپښتنی یاافغانی‌مهمو بر خو څه نه څه وویـل غواړوځو نور کار په دو خـتځوانان پر مخ بیایی.

انشاء الله .

# دریم فصل
# د پکتیا سندریز مکتب

## الف : سندر ی

کله چی‌مونږ په افغانستان‌کی ملی سندر ی یا خو پـــه سندر یزو سندرو کی‌د فلکلو- ریك اړخ څخه دسیمی،وختونو،تاریخی لتو ،اجتما عی شرایطواو اقتصا دی لتون معلو مول غواړو او دما کسیم‌ګور کی‌په قول چی وایی : «دلفظی هنـرپیل په فلکلور کی دی .» او دلته دلفظی هنر د رزم اوبزم‌دراز او نیاز هنګامه تـو دول‌غواړو ، نو دا خبره ضرور ده چی دتاریخ لمن پر له پســـی‌واړوو . تاریخ اود زر کو نوکلونو تاریخ خو دلته مو نږ د ژوند په هندار ه کی د«ریګوید»دسر و دو نـــو او د (اوستا)دلږ غونو بر خو آهنګو نو ته.

وربلل کیږي . د زر دشتـــی مذهب د (متونو ) دکتــــاب دشعرونو او د مذهبی ترا نـــو
داو لسی سندر یزو سنــــدروتیانو بی یاد اریا تا اصیلـــه خاوره و بو لو ، یالکه خرنګه
چی زموږ ملی ژبه د اریا یـــی لرغو نو ژبو خصو صیا تلری او سا تلی یی دی ـ دغه شان
د( او ستا )یوه مهمه برخه چی لرغونی برخه ده د (یا سنا)(ګاتو نه) چی دو یدی د ګیت
www.libtool.com.cn
او دهندی «ګیتا» سره د معنی شرکت لری مونږ ته داهنګونوخر ك په لاس راکو لای شی چی
په عروضی ـ (متریك )ډول ویل شوی دی او جوړو نکی یی په عنعنوی ډول دروا یاتو لـه
مخی دمذهب مؤ سس زرد شت دی . «ګاتو نه» پخوا سره ویل شو یدی .د محققینو په عقیده
له زردشت څخه لا دمخه پـه (ساکو ) او با ختر یانو کـــی دار باب الا نواع په باب اولسی
ډیری حما سی اوقصی، سندری او ترانی د منظومو آثارود بڼایی شهادت راکو ی چی ویل شوی
او دغه منظومی بیا ورو سته دزرد شتی مذهب «متنو نو» ته ننوتی او په شفا هی ډول له
یوی سینی څخه یی بلی تـه لاره موندلی . نو دغه د «ګاتو نو» شعر ی خصو صیا ت،دافاـ
دی اسلو ب او اهنګو نه بیخی لرغو نی دی چی ځینو محققینو لـکه « ج ـ هیـــر تیـــل »
په زیاتو دلایلو ثابته کړی ده چی د «او ستا» ډیر لر غوـــی «متنونه» د «ویدی» دمتو نو په
شان منظوم او د «ګا تو نو» پرته په داسی شعر لیکل شو یـــدی چی هره مصرع یی أته «سیلا به»
وه . دغه شعرو نه کټ مټ د« ویدی » ژبی د «شلـــو ك »غـــو ندی دوه مسره ییـز ه وه
اود «او ستا» د متو نومهمه برخه «یا شتو نه» دی چی د زردشتی مذهب د بیدو بیلــــو
ارباب الانوا ع ترانی دی .لکه د(لمر ، انا هیتا ، میـــترا ، سپوږمی ) اونورو دلته مو بڼ
داو یلای شو چی د پښتو د ادب د «یا شتو نو» رنګ زمونــــږ د ګاکړ واو شینخا لو نارو ته
ورته دی چی یو مثال یــــــی دادی :

**ترجمه :**

کله چی اهر یمن یر غــل وکړو د «اشا» په بر کتـــــی سیمه باندی هغه ددوی پـــه
مینځ کی راشر کند شــــــول ـ «وهومی »او «ارترا» .

داو د «اوستا» د «یاشتو نو» هغه مثال چی مونږ یی د پښتو اولسی سندرو د غوره میرا ث
په حیث منو . خو اوس د پکتیا پر هغه سندرو ، بڼ غیږو چی د سندرو په شکل نه دی، بلکه
په یو ډول دهندی «پهـــړ ی» یعنی غرنی راګ یا آواز و نو ته ور ته ویل کیږی . دا اواز ـ
ونه د پکتیا دسندر یزو ږغونو یوه خاصه ده . چی دوی یـــی د خپل زړه دار مان د ښکـــاره
کو لو په رنګ کله په منفرداو کله په ډله ئیز رنګ فضا ته سپاری چی هغه د هنــــدی
تال او طبلی سره اصلاجوړ ښت نلری ، خو په عین حال کـــی ددوی بزمی اورزمی سندری دی
چی د «غو نډی منډی... » پــــه اواز دګل زمان او نورو پکتیـــا والو له خوا ویل کیږی مثـر
نخاو اتڼ :

## ب ـ اتڼ :

دپکتیا په سندر یزو سندرو کی داتڼ ناری شته خو څنګه اتڼ ؟

دپکتیا دلاسو نو او نوربدن‌دحر کا تی هنر سره په اتڼ کی‌دخنو سرو ریدلو او غور ځولو، داتڼ نخره چی د پکتیا د بر خی‌یوه بیله خاصه ده او دنورو‌پښتنو په اتڼ کی یی‌نه‌شولیدلای‌خو دا،ددوی خاص دخنو غور ځولو هنر دی.

www.libtool.com.cn

خنی دپکتیا دځوا نانو دپاره‌یو ندرت لری چی په تاریخی‌لحاظ یی ځرک ډیر لږ موند ل کیږی . خود خلکو ملی سندریز‌مکتب لنډی دی . او دی بر خی ته هم په‌ادبی لحاظ د هیر ی چانس نه دی ورکړی .یاد اچی‌لکه مونږ چی اوس دتاریخ‌هره برخه دلته وینو په زیاته بیا دفلکلور په هندار ه‌کی چی‌دخلکو پوهه ده ، دی پو هی‌دابرخه هم په سندریز لحاظ ساتلی ده. دا چی ما کسیم‌کور کی وایی :

«د لفظی هنر پیل په فلکلورکی دی . خو د فنی خیړنو له‌مخی له لیکلی اد ب‌نه ډیر کشر او مونږ ته نژ دی ا وهمزو لی دی ...»

دغه دی چی مونږ دلفظی‌هنر دغه پیل چی په فلکلورکی‌کیږی او دا تڼ چی د خنو غور ځو لو په هنر کی نغښتی‌دی مو ند لای شو او لکه دپیکی‌په شمال کی چه داحسا س‌لړزول ځان ښکاره کوی .داد ی‌مونږ او یس د خنو یادپه. دی‌فلکلور یك اد ب لنډ یو کی‌دا ډول لیدلا ی شو :

خنی دی هسی رنګ مزه کا
لکه دغره پر سر چی بادوهی‌کلو نه

ښه ځیر شی ،دخنو غو رځول په اتڼ کی داد ب دښکلاسر حد کوم ځای ته رسوی .د غره پر سر دګلو نو بادو هل؟!

یادا چی وایی :

خنی دی ول ول په مخ‌ځانګی
تور ښاماران دی خلك یی‌ډیر خوړلی دینه

داد ی‌په اتڼ کی دمینی راز چی‌داتڼ وال او د خنو غور ځوونکی په هکله ښوول کیږی ، نو دلته مونږ د خنو اتڼ ته‌لږ وخت نه شو ور کولای اودآریا یی عنعنی یوه بر خه یی بو لو چی دفلکلور د زرونو کلو نو میراث مونږ ته پریږ‌دی.

په هر حال د اتڼ خاصه ځانګه دنارو په مینځ کی،دخواړو ل را اړو ل یو بیل سندریز او دنځامکتب دی چی‌ژوندی‌پاتی دی . او نن دپکتیا دبزمی‌او رزمی برخی او سرو کوډ هر اړخیز ی بر خی سره ځان ته بیل حیثیت ور کوی چی ،مونږ‌یی نه داچی په اریا یی نورو تو کمونو کی لږ و ینو بلکه جهانی بی مثاله هنر دی چی‌ناره یی هم بیله او د ډولډ غ

یې هم بیل دی اود نڅا رنګ یې په نړی کې مثل نلری . نـو دا سندر یز او د نڅا مکتب ته باید دهنر دروزو نکو خاصـه توجه ډیره شی ، چې نن دنړی بی مثله نڅا نیز رنګ دی اود نړی دحیر ت ګو ته ور ته په غابښ نیول شو یده . اودپکتیا دسندر یز مکتب بل اړخ چـې دنڅا اوخاصې نڅا په ر نـګ ځان ښکاره کوی دغـــه دی . یعنی اتڼ اوپه اتڼ کې دځنو غور ځو لو خاص هنر چې اوس یې هم مثال شته چې ور ځ په ورځ دور کیدلو ، لور ی ته یې هڅه ده . چې دا هنر نه ښا یی دهیری وژور کوهی ته ولو یږی او بیا یی اصلا مو نږ څرك ونه وینـــو .

دا د ی مو نږ یې صر ف یوه نمونه په یوه تابلو کې تاسو ته در ښو و لای شو.

www.libtool.com.cn



دپکتیا خا ص دځنو اتــــڼ

## ج ـ سروکی

www.libtool.com.cn

سروکی دپکتیا په سند ریز مکتب کی ځانګړی ځای لـری چی دلنډیو سره په خا ص آهنګ او کمپوز ویل کیږی او دا تنډ ناروملمه خوو رسـره ده . سروکی یاسرونه ـ یا نیمکی دشمیر له مخی ډیر زیات دی‌چی دیوی ضابطی‌ا و فار مـو ل لاندی‌راوستل یی دو مری‌آسان کار ندی. دفورم له مخی هم زښت ډیر فورمو نه لری‌اودمضمون له مخی ، سروکی غالبآ دڅ وند یوه حساسه برخـه تمثلیوی. لکه د اولس یو ه تاریخی حماسی برخه ،دطبیعت دښکلا یواړخ ،دمینی‌د داخلی احساس یوه لحظه اوداسی‌نور، په همدی وجه سرو ـــی دفلکلوری سند روپه سر کـی اود اولس په خولو کی ژوندی پاتی دی. دغه پیښه یاد ټو ل هیواد اواولس د سر نوشـــت سره اړه لری‌لکه :

په خیر راغلـه یو ځو نه ـ لوی جنګـ تیښته و نکـړی‌ما مو جا نـه

کله دیوی سیمی دسرنوشت سره اړه لری لکه :

ورته راکاږه تو پو نـــــه ـ ناو کی مومند ورانه کـــــړه عمراخانه

او کله دیوه شخـص سره اړه‌لری‌لکه :

متین په تور کی کلا بندی ـ مړبه شینه ـ عبدا لمتینـــــه زولنی در له راو ړ ینـــــه

کله دښکلا دیوه اړخ ترجمانی کوی لکه :

هلك نری چناردی ـ نجلـی دګلو ونه
پرسر یی نوی شال دی پـر غاړه یی ګلونه

اوکله دمین دداخلی‌احساس یوه خاصه لحظه ښر ګندو ی لکه :

ستا لیونی مینه می خوب‌ته نه پریږدینه ـ لږ خبر مـــی واخله جانانه

سروکی لکه څرنګه چـــی دشمیرله مخی ډیر زیات دی ـ همدغه شان دپښتون خوا پـــه هره سیمه کی دلنډیو سره په بیل بیل ډول پیوند یږی اوپه بیل‌بیل تال (آهنګ ) سـره ویل کیږی . نود پښتنو دولسی آهنګو نو دلتون په ترڅ کـی‌دلنډ یواو سروکو د پیو نـــد د ډول معلو مول هم یو مهـم اوګران کاردی.

### دسر وکوتقطیع‌او(عروض) :

سروکی داولسی سنـــدروداسی برخه ده، چی لنډ ۍ یی په مینځ اوپای او کله یوازی په پای کی ورزیاتیږی یادهغه یوه برخه تکرار یږی چی‌سیمه ییز خصو صیات لری .

په لنډیو کی دتکرار پـــه نسبت نه ، بلکه دخپلو اجزاوو دتالیف په نسبت سرو کی په دوه ډوله دی:

الف ـ هغه سروکی چی‌خپل جوړښت اوتالیف کی یی‌تکرا ر نه وی،یعنی نه ټول تکراریږی اونه دهغو یوه ټوټه یا برخه .

ب ـ هغه سرو کی چی یـــا ټول تکرار یږ ی‌اویا دهغو یوه برخه .لومړی ډوله ډ رخلو و و څانګو ویشل کیږی :

۱ـ هغه سرو کی چی‌له دووپاړ کویا مصر عو څخه جوړوی.
۲ـ هغه چی ددریو پاړ کو څخه جوړوی.
۳ـ هغه چی له څلورو پاړ کو څخه جوړوی.
www.libtool.com.cn
٤ـ هغه چی دپنځو پاړ کوڅخه جوړوی او ندرتآ له زیاتو پاړ کو جوړوی.

**الف : ددوه پاړکو سرو کی:**

یار رانه جدا شو په لمسو د رقیبا نو
اوښکی مرغلری دی توئیږی له چشمانو

دمحبوبی په غاړه زانګـــی تاویزونه — مخی ته راغله توری سترګی سره لاسونه
په تادی راشی دخزان ساړه بادونه — زه دی جداکړم له خواږ ه یاره بیلتونه
په خوب بیده وم چی پـــه مخ می چا لاسونه وهل
چی سرمی جګ کړ خپل اشنا راته خالونه وهل
تور اوربل دی بندپه بنـد — دګل په شان او دلی د ی

بی اندوله سروکی :

راوړه بندی چی اوس یی‌وړونه
جانانه بیری‌ته راځه‌چی‌وځانګونه

وی شاغاسی یاره جـا نانه — جنګی زاړی وړو کی بیـا کابل ته ځینه
چاپیره اور و لګید نـــه — کوز د چنار په کندو لیونی راغله

**بـ هغه سرو کی چـی د(لنډی وزمه) سروکی په‌عکس‌دی ـ دغه ډول سرو کی زښت ډیر دی لګه :**

تلی می سوځی په غرمـو ولاړه یمه — سخته دبل وطن یـاری ده
دانیمه شپه ده غم می خوب ته نه پریږدینه — آشنا خپه دی نه راځینه
امیل داو ښکو به له ځا نه سره وړمه — زه دجانان دیدن ته ځمـه
زه په اوربل کی دښڅر شـم ګلونه وړمه — ماته را مبیل له باغه راوړه
زه دجانان دیدن ته چیر ی ودریږ مـه — لرو کوځو کی غمازان دی
ستا دبنو غشو پـــه زړه‌ویشتلی یمه — لاس می‌دزړه‌دپاسه کښیږده
دلیونتوب نه می خبر شول‌عالمو نه — مینه به څو پټه ساتمـه
ستا لیو ی مینه می خوب ته نه پر یږ دینه — لرې خبر می واحده جانانه

**جـ هغه‌سروکی چی لومړی‌ټر کی یی دلنډیو او دو هـــم‌پاړکی یی په بیله اندازه‌ځپی لری چی ددوهم پاړکی پـــه اندازه نه‌وی لګه :**

بیګا ته راشه — جارو کړی‌می دالان دی
ورو ورو باران دی

په مادي کړی‌دلندو لبنتـــووارو نه
زما جانانه مات دی شـــه لاسونه
سپینه روپی یی په اوربل کړه وړه ده
نن بیا جنګی خپه ده
دخوبه پاځه مسافر جا نان‌دی ځینه
بیا خونه راځینه

www.libtool.com.cn

د لنډ ئه دا ډول سرو کی‌هم شته چی دوهم پاړ کی یی دلنډیو دلومړی پاړکی پـــه اندازه وی یعنی (۹) څپی لری‌خو لومړی پاړکی یی دڅپـــو دشمیر له مخی وړوکی دی‌لکه:

تاچی راوړی له بازاره په پیسو (۱۲)
شین خال دی ببو وایه په څو (۹)

پـ‌هغه سرو کی چه لــه دریو پاړکو څخه جوړوی :

دغه ګروپ سروکی دقافیی‌له پلوه په‌څلورو ډ‌لو ویشلای شو .
۱ دقافیی له بنده وتلـــی لکه :

راشه لیونیه (۵) توراوربل‌می ستادی
دبل خاوری شه مینه
ورته ګاڼه که تو پو نـــه - ناوکی را نه کـــره موملدو
ددیرو نوابه
بند یوا نه می سا تینـــــه - ماته لالی وایی
چی چیرته مه ځه دزړه‌سره
تا ویشتلی یم شالیلـــی - تاویشتلی یم‌زما بیغوره‌یاره
خوب خوب می وړینه

۲ـ هغه سروکی چی لــومړی دوه ،دوه پاړکی یی یوه‌قافیه لری خودریم ور ســره شریك نه وی لکه :

پیزوان می زوړ کړ د سحرخړو ګردونو
ناجوړه ګرم غمو نـــو -جانانه راشه
راشه زما یاره - زه‌یمـــه بیماره
ستا خمارو سترکو پرزړه‌ویشتلی یمه
جانانه راشه په ګلشـــن نوی بهار دی
زړه می نا قرار د ی- زمـــاشیرینه یاره
داتوری څنی می نری شنمال‌وهینه
یاره نا زنینه -لږ می خواته راشه
دسرو ګلو نو ځا نګـــــی -لیلی دخیاله ځانګی
تازه ګرمه رنځوره

جار لالیه ـ مه رمغنی لالیه ـ

زه مینه نه یم چا به دروغ ویلی وینه

**۳ـ هغه سروکی چی لومړی او دوهم پاړکی یی یوه قافیه خو دوهم ور سره شریك نــه وی لکه :**

www.libtool.com.cn

نن دکودر سره ولاړی نجلی ـ یا به خوله راکړی

یا به ماتی وړی ښنگلی بل اور دی ـ پیکی دی تور دی

وه مستی نادا نی لیلـــــوـ پیکی دی تور دی

نن دی وهلی په لنډی زنه خالونه

خه شر نگ شر نک ـ تـــــوراور بل دی جوړوی ولونه ولونه

**٤ـ هغه سروکی چی دری واړه پاړکی یی اصلا په یـوه قافیه او شمیر یی کم وی • لکه :**

دمازدیگر اوبو له څی خالونه تور لگوی ـ ما بو به اور لگوی

دچاپه کور ...

جانانه راکړه اجازه ناوخته کیږی ـ څمدلته باران وریږی

شال می لندیږی

**ج ـ هغه سروکی چی لــه څلورو پاړکو جوړ وی • دڅلورو پاړکو جوړ سروکی دقافیــی له مخی په (۹) ډوله دی :**

**۱ـ هغه سروکی چی څلور واړه پاړکی یی یوه قافیه لری لکه :**

توری ستر کی خماری در ته کړم نا له زاری

دزړه ز خم می کـــــــا ر ی شوم رسوا ستا په یاری

لیلی خندل کوی په زړو نو چل نوی

ستر کی یی توری په کجلـــو کړی خوړل کوی عجب کتل کوی

**۲ـ هغه چی یوائی لومړی دواړه پاړکی یی په یوه قافیه وی لکه :**

موری پنهی می راکړه چـــــی خمه مره به شمه

یار می دزرگر په دکان لیدلی مادی

**۳ـ هغه چی لومړی اودریم پاړکی یی په یوه قافیه ،دوهم او څلورم یی په بله قافیه کی وی لکه :**

توره می لنگی ده یاره سپین می تاویزونه دی •

هسکه می غړی ده یاره شنه شنه می خالو نه دی

امیلونه جوړوی وه ارسلان خانه

په زرگریی سپینوی جار جار جانانه

ستر کی خماری بانه می جلندر دی

**٤ـ هغه چې لومړی او دریم پاړکی یې یوه قافیه لري لکه:**

زه به جارو کړم زیار تونه ـ شینکی بابا

که می قبول کړی دا سوالونه ـ په توروزلفو

چا به دروغ ویلی وینه ـ در به ننواتی شم .

دبل به دی منلی وي ـ مه شه مروره

**٥ـ هغه چې دمنځ دوه پاړکی یې په یوه قافیه وي لکه:**

لکه د زړکی ستر کی سری په لاره څینه ـ دګلو لښتنه ده

رامبیل چمبیل ـ په سپینو لیځو په دا سرو منګلو

زړه رانه یوسی

زما دزلفو ار ما نجنه ـ رب دی راوله نن

اله دی راوله نن ـ په چمن بیا

زه به په جیب کی ګرزومه ـ ماته شال راوړه

شایسته روی مـا لراوړه له بنار سه

**٦ـ هغه چې دمنځنی دوه پاړکی په یوه قافیه او وروستی دوه په بله قافیه وي لکه :**

سپین دی جبین دی نجلی ـ اوخال دی شین دی نجلـــی

په تور اوربل کی دی تومبلی ژیړ ګلو نه ـ راشه چې وکړودید نو نه

کمیس می لنډ و نیسه موری ـ زما نصیب کړی جامی تـــوری

جانان می بیا چیرته روان دی ـ دبیلتانه داسی دوران د ی

**٧ـ هغه سروکی چې لومړی، دویم او څلورم پاړکی په یوه قافیه وي لکه :**

زه دجانان دیدن ته ځمـه ـ توری نری ورځی.

خدای خودی لنډ کړی دا دځمکی تناوونه ـ مستی نازینی

زه به یی څنګه توله ومه جمالی ـ تاوری دانی کړیـد ی ـ وری وری .

هغه چې دقافیی له قیـده زا دوی لکه :

په لو یوغرو با ندی راتـاوشول تو پانونه ـ بړلی وریږی

مه ځه دلته شپه وکـړه ـ پاتی شه با ران دی .

چر ګو ناری کړی ـ جګ شه لالیه ـ خوب به بیاو کړی مینه

پاخیږه یاره

**د ـ دا سی سرو کی شته چې دتقطیع نه مخې په پنځوپاړکوویشل کېد لای شي. لکه :**

امیل د غاړی جوړومه ـ ځولی دګلو .

اوس به لمن ډکــه ـ راوړم دګلو ـ سهر سبا

ژر شه دیدن وکړه ـ همږولی را نه لاړی .

میراث شی ـ زه به تا را واخلم ـ منګیه مات شی .



www.libtool.com.cn

دوهم گروپ

دغه گروپ سرو کی چی (تکرار یدونکی ) هم ورته وایه شی دخپل خاص عروض او آهنگ له امله تول یادهغویوه برخه تکراریږی ، په دیډول :

www.libtool.com.cn

۱ــ هغه چی یواځی له یوه پاړ کی جوړوی او دخپل اهنگ دپوره کولو له پاره دوه ځله تکراریږی لکه :

آدم خانه ــ ادم خانه ــ و آدم یاره

شاوزیره یاره

شاوزیره یاره

وه گل می راوړه باغوانه ــ وه گل می راوړه باغوا نه

**۲ــ هغه چی له دوه پاړ کوجوړوی .دغه ډول سرو کی په پنځه ډوله دی :**

**الف ) هغه چی لومړی پاړ کی یی له دویم څخه وروسته بشپړ تکراریږی لکه :**

پاخیږ ه مجنو نه ــ لیلا ولاړه توری سترکی سره لاسونه

پا خیږه مجنو نه

زرزری چینه ــ دهلك توره لنگی ــ زرزری چینه

چـرگ بانگ دی ــ پاخیږه لالیه بیا به خوب وکړی مینه

چـرگ بانگ دی

**ب) هغه چی دلومړی پاړ کی لومړی برخه دکوم تغییرڅخه پرته ورکی تکراریږی لکه :**

جمه دانی لمنی غوندیه به دیوړمه ــ راوا بــه دیړومه

زار جمه دانی

**ج) هغه چی دسروکی دلومړی پاړ کی دویم یا منځنی جزورکی تکرار یږی لکه :**

پاخیږه شیرینی سبا د ی بادیی لگیږی ونی پانی رژوینه

سبادی

پیغله باغ ته ولاړه شو کوی تازه گلونه

اوس به بیرته راشی توری سترکی سره لاسونه

باغ ته لاړه .

**د) هغه چی دویم پاړ کی یی تکراریږی .لکه :**

راشه جانانه ــ مرم بی له تانه ــ مرم به له تانه

هغه سروکی چی له دریو پاړ کو څخه جوړوی ، هغه په دری ډوله دی :

**۱ ) هغه چی لومړی پاړ کی یادهغه یوه برخه تکراریږی.دغه تکرار کله دڅه تغییرسره هم وی لکه :**

دکمر گی په سرمی گوردی - زړه می نسکور دی - دیدن ته راوړه مینه
دکمر کی ځانګی راځه - بستر د ګلو - راته بلی لمبی شو نه
ځانګی راځه

www.libtool.com.cn

راځه دلبره - ماته کونه ه کړه افغانی - چی‌شور کوینه
خانه راځه

۳) هغه چی دویم پاړ کی یی ددریم پسی تکراریږی لکه :

لری شه بیلتونه - غمجن دی کړمه - نورمی دسوی زړ کی مه اخله آزارونه
غمجن دی کړمه

۳) هغه چی دریم پاړ کی یی تکراریږی لکه :

ما ایلبند ته خیژوینه - زماتوره جانانه
کډی بار یږی - کډی باریږی.

همدغه رنګه له څلوروپاړ کو جوړ سروکی هم په څلورډوله ویشلای شو چی کله لومړی کله ،دویم کله دریم او څلورم پاړ کی یی تکراریږی.

همدا رنګه دپنځو پاړ کو جوړ سروکی هم شته چی دټولو څیړل بیل کتاب جوړوی او زه دلته صرف دنارو سره دسروکو ضمنی څیړنه کوم - پی اصلا دالوبه او خوړه موضوع ده

# څلورم فصل

www.libtool.com.cn

# لوګرى سندريز مكتب

داچى وايى: ((افغا نستان‌دزبى او دين په لحاظ دهندى،يو نانى او آريا يى توكم اصيل تاتو بى‌دى اوپه باخترى‌لحاظ‌هم‌دلوم‌ړ نى سرو دونو لكه (بگوت‌گيتا) يا خدايى نغمى‌يادتيكورد «كيتا نجلى »دنغمو په‌شوا هدو‌ددى غرونو په لمنوكى داار‌يا يى سندرى پيدا شريدى. د ا خبره دژور فكر خاوندان پدى‌پو هوى چى‌دا دعوى هسى خوشى خبره نده. خودا چى دى خبرى اووينا‌څرنګه داپړاوونه وهلى دى، يعنى اصيل اريايى‌مو سيقى ،در بارى لارى تـه رابدل شو يده اوپه بر همنى‌لارى پر يبنبود لو كى يى اسلامى‌تصوفى (چشتى) لاره خا نقاو- ته خلاصه كړيده، او په عين‌حال كى خپل دمحل او سيمـــى‌رنګ وركړى شو يدى (دا بحث دافغا نى سند ريز مكتوبو نـوپه برخه كى ليد لاى شـــى)

اوس ددى عنوان په باب‌په مشخصه توګه غږيږو اوداډول:

د ملادرمحمد (استاد درى) قصه د عبدا لرشيد دده‌دزوى پـــه قول چى په «ما شينى» سره مشهور دى واورى . دى وايى:

زما نيكه، بنه، رباب وا هه . او دده يو زوى ګل احمد هم‌بنه ربابى و خودده بل زوى درمحمد چى ورو سته په استاد «درى» مشهور شو خپل كتا بو نه ويل.

زمونږ اصلى ټا ټوبى دلوګر دما دآغى په، ولسوا لى كـــى د«ده نو» كلى دى. زما پـــلار در محمد [ورو سته، استاددرى) لو مړنى لوګرى استاد نه دى- ترده‌دمخه د«كمال» سرنده‌وهو- نكى استادى او د«جمال» ډول وهو نكى‌نومونه، دهيرى وړندى.



استاد درمحمد (درى) دلوګر دسندريز مكتب بنسټ‌اينبوونكى

## ملادرمحمد ولى ملايى‌پريږدى؟

زما پلار استاد «درى» خپله‌داستادى او مشهور كيد لـــوقصه دا ډول شروع كوى: ده به ويل : ملاوم او ديوى خاصى‌جذبى خاوند هم ،دعمر اشپـــى‌ورځى دى زمونږ د«مغل خيلو»

په کلی کې واده وزما پلارهلته غو ښتې شوی و،دی ته میلمستیاوایی که واده، خو زه د پلار سره ولاړم اصولا واده ساز اوسرودلری، دی سازته زما پلار اوټول محفل هم ناست دی چی د غزل ویو نکی تر خولی دا بیت ووت:

www.libtool.com.cn

**برفوگران مژه سدم مرا بگوئید**

**که هنوز پارهٔ دل دوســـه بخیه کار دار د**

زما پلار استاد دری‌وا یی : ددغه بیت سوز او گداز، زه دمسجد څخه وایستلم اودمشهور شاعر حنان بارکزی په قـو لچی ویلی یی دی :

**شود په‌زړه کی‌اچوی دعشق‌خبری**

**پرورش مومی زړه هم له آفتابه**

دادی ددغی ورځی څخه مادځان‌دپاره دحنان بارکزی دا بیت‌ژوند دلاری په حیث وټاکه :

«په یوه وطن کې دوه سلطانه نه وی»

«دا ستا عشق می‌له بدنه روح بیرون کړ»

زه‌وروسته ددغی ورځی څخــه ملادر محمد نه‌وم دسازپه‌ژ به‌می ویل :

تن بی خیاله زړه بی عشقه په کار ندی

بی نیکینه گوته نلـــــری‌قیمت

«بارکزی»

اوس نوزه اویو زوړ رباب او دکوریوه گوښی کو ته.

دا حوداستاد د مناجا ت څخــه دخرابات پر لور روانیدل دی.اوس به د لوگر سندریز مکتب سره دنڅاپر ترویج او ودی‌لړاودیری خبری وکړو هغه داچی خرابات څنگه لوگرته، دنیـاز کچـول ور دمخه کړیدی ؟

**د لوگر پر سندر یز مکتب‌دامیر عبدالر حمن له خوا څنگه‌اثر لویږی ؟**

وایی:امیر عبد الرحمن دهنـدڅخه خرابات ته نڅاکوو نکی راوغوښتل (۱) اودلته دهنددنڅا دمکتب هنری اساس دافغانـی نڅاسره یوشریك مکتب جوړوی‌بیادا مکتب یعنی سندر یزمکتب دنڅا دمکتب‌غیږی‌ته پناه وروړی.خو وایی: امیر حبیب اله دامیرعبدالرحمن زوی به د کلبد ین استاد دساز اورید لو تــــه لوگر ته پر آس ورتلی اوهلته یی‌لوگری‌سازاوسندری اوریدی

---

داد گلو څولی د کتاب‌د لیکونکی مصطفی جهاد له لیکنی‌سره سم استاد نتهو (نتو) و یــــل چی‌لومړی ځل‌دا سازنده گان او نڅا کوونکی دامیرشیرعلی‌خا ن په زمانه کی‌له سنده راوغوښتل شول او په خرابات کی‌میشته شول .

خو د«علی گل» سازته یې دهندي نڅا کوونکي د نڅا استاد خرابات څخه دځان سره بوت او «علی گل» استاد په نڅاسره په مزه نشوای مرولای دی کډساز او نڅادلوګر ملي اتڼ او خاصی نڅا سره دهندي نڅا لاره دمحلي رنګ څخه دباری رنګ ته راوا ړوله او څه چې دهندي نڅا رنګ درلود، لکه اوږد کميس او دپښو زنګونه چې د دربار هندي سوغات ولوګر ته راغلی او باب شو حتی محلی رنګ هم ور سره شو.

www.libtool.com.cn

**استاد دري دخانقا پرلو ر:**

راشي چې داستاد دري لوګري،دخانقا دلاری پته را پيدا کړو هغه داچي ملادرمحمد (استاد دري) دلوګر دسند ريز مکتب موسس ته ورته کوي.

**استاد «دري» دسيد بهاوالدين جان آغا په لمن کې:**

**سيد بهاوالد ين جان څوک و**

سيد بهاوالدين جان آغا دلوګر دغونډ انو دکلي يوروحاني شاعر او دجذبې خاوند وچې د تصوف «چشتيه» طريقه يې درلوده او دسازپه سوزيې دا د کار و لاره روا نه کړې وه. ده درباری سندريز لوري دخا نقا لوري ته راوباله او دهند دتقليدي رنګ څخه يې دبيګا نه توب توا ندر لود ده ښه مثال دهند دبلخي خسرو سره برا بر دی چې دچيشتي دتصو فی طريقې خا وندو اود «مدم» يا ستارسازهم ده اختراع بولي او دربار يې دسوز اوسازپه ولولو ژوندی کړی و. دلته په لوګر کې سيد بهاوالدين آغا هم د بلخي خسرو په شان شعرونه جوړول او بيا يې دلوګر سندريز مکتب ته سپارل چې پدې اهنګونو کې پخواني آريا يې سرود اودرباری رنګ دمحلي رنګ سره ګډشو يدې چې ده په مريدا نو کې سر غند توب د در محمد يا مشهور «دري» په برخه شو څکه چې دی ملا پخوالاد مسجد څخه دخا نقا ميلمستيا منلی وه،استاد «دري» دده دربار دسوزاو ساز امير شو او دخپل پير داشعارو په ولولو يې نه داچې لوګر تود وساته دی کند هار ته ولاړ هلته يې دکند هاری سليم استاد څخه هار مو نيه زده کړه، ده هلته دار غنداب سرو انارو نو ته دسرو يا قو تور نګ ورکړ اود ار غنداب درود، دمستيو ملګری شو،ده دکندهار دشنه آسمان رڼو ستورو ته دنا قراري اشاري ورښوولې او بير ته دخلورو کلونو ورو سته راغی اوپه لوګر کې ياد لته يې دسوز اوسازلمن خوره کړه او شاګر دان يې دی مختص سند ريز مکتب ته راوبلل او وی روزل.

**شاه امان غازی او استاددری:**

څر نګه چې شاه امان اله غازی دافغا نستان دآزادی سره دافغا نستان د هری برخي ژوند غوښت په همدی اساس ده توجه لکه چې په کابل کې دماهتاب قلعه موزيك مکتب ته چې «رجب بيک »ترکي يې آ مر او فرخ استادي يې معاون و اساس يې کښيښود. ده دخراباتي سندر يز او نڅا رنګ هم افغاني کړ او په افغان استاد قا سم يې وانګريزي استعمار کړته وويل:

«کرندانی غيرت افغانی يـم»

**«چون به ميدان آمدی ميدانيم»**

پدغه ډول یی په لنډی کوتل کی دارتن (هار تل) دپله تـر غاړه یعنی دښتیر دروازی دخوـ لی ښخه ـ افغانی غیرتی بڼغ په استثمار گر انگریز درادیویی بڼغ په واسطه واور یدی او استاد دری یی دخپلی جذبـی او ډله پیزوناروسره دی رادیو نه راو غوښت او په ده یـی دلوگر هنگامه پیزی ناری شروع کړی. استاد دری ددغی ورځی ښخه دلوگر دنورو سندر یزو استادا نو لکه «جمال» استاد، «کمال» استاد او « گلبدین »استاد چی دلوگر خلك یی قصه کوی چی دساز او سرود پـه جوش کی به چا وویل: استاددسر ندی غړڼ ته دی یو ـاب نه ور کوی؟

ده به ویل: که ما دده غوږته تاب ورکړ او لاس مـــیـړر وړ دسر ندی ساز ماپرمنځ پری کوی دا سوز دومره زورلری - پوهیږی کنه؟ .

اود لوگرخلکو اوساز اوریدونکو دا خبره ومنلـه . «دری»لوگری دشاه امان اله غازی په توجه ددغه ډول سازی استادانو ښخه میدان یووړ او دلو کـر سندر یزمکتب په وده اوپرورش کی یی خپله دنده ادا کـول غو ښتل.

### داستاد (دری) لوگری سپارل غلام نبی خان چنرال ته!

وایی چی شاه امان اله غازی چرخی غلام نبی خان ته سپارښت لوگری د « دری» استاد اووده سند ریز مکتب ته پرا ختیاور کړی. اوجنرال غلام نبی خان لوگری د«دری» استاد او دده دمکتب ساز ولو دپاره یی خاصه توجه وکړه خود «دری» رابطه دسید بهاو الدین آغا (دشعری دیوان خاوند وچی پښتو تولنی یی دیوان په (۱۳۴۵) کـی تقریباء چاپ کړیدی). خپلـه روحانی سلسله ساتله او دده فن لمن ورځ په ورځ پراخیدله اوخپل زامن لکه سلام سندر-



**دلوگر د سند ریز مکتب ښسټ ا یښوو نکی ا ستاددری د خپلو سازیانو سره**

غاړی، عبد الرشید په ماشینی مشهور (ځکه په سرنده کـی دومره لوی لاس لری چی سازیانو پرده د«ماشینی» نوم ایښی دی)، بیلتون چی دکا بل رادیو دلوگرگرزیره کښیونکی سندر غاړی دی یوسف هجران او سیفـــو مشهور وگرنیز محبوب سند رغاړی چی اصلی نوم ئـــی ( سیف الدین ) دی .

عجب سرنده وهونکی ،عبدالقا در سرنده ږغوونکی ،یـعقوب سندر غاړی محمدگل ،دادگـل،

نیك محمد او نور په سوونوشاګردان یی وروزل اودیوه استاد په صفت دلوګر یٔ سندر یزمکتب دبنسټ ایښوو لو اتلتوب ورترغاړی شو.

## کابل راډیو او استاد «دری»

www.libtool.com.cn

وروسته تردی چی کابل راډیودلندنی کوټی دلند عمر څخه دباغ عمومی لوری ته راغله اود غـــو ړ کی لو ډ سپیکر و څخه د هـــو ا مو ا جوڅان دراډیو څپو ته وسپا ره او دسم هوایی موج ځای یـی ونیوی ، دغه وخت دی چی تقریبی( ۱۳۲۰ ه ش ) کلونه ورته ویل کیدای شی او دافغانی سندرغاړی په زیاته د خرابـــا ت سره دنیـــا ز تمه کـــو ی ا و استا د قا سم استـــــــا د غلا م حسیـــن شیـــــــد اشهید،رحیم بخش، نبی ګل استاد، ماسترمعراج لد ین مدم وهونکی ، چاچه محمود طبله وهونکی ماشین سار نګـ وهونکی او ناظر سارنګ وهو نکی استا دمحمد عمر رباب وهونکی ،«نتو» استاد او فقیر حسن مرحوم او نور خراباتیان د کابل فضـادسوز او ساز سره پخلا کوی. نودلوګر ملا درمحمد بیا داستـاد «دری» اوشاګردانو سره دلته دلوګر سندر یز مکتب ددی سازاوسوز ددنیا څخه لری نه ساتی اودسید بهاوالدین آغا شعرونه د«دری» په جنجره کی د«یاهو یامن هو»ناری شروع کـوی ، دلته که دکند هار «یا بولاله» و «ښیاڼ ورا» یا(دښتین خالوناری) یاد کلات پرسر دمستی پالیز چی وایی :

**«کلاته چی پر سردی پالیزونه»**

**« د نورو پالیز لاښ شود مستی پالیز اوس کوی ګلو نه »**

یا خو دهرات « سیاه موی» د«ښادی او بیبو » سره دعشق د مینی لیونتوب ته نږونه سپاڼ رل غواړی اوپه. کابل کـــــی«نازی جان» ته د، همدم می ست کیږی وایی:

**«نازی همدم من !»**

په دغه وخت کی دبیلتون په اثرنا که ستو نی کی د«بهایی جان» دسوز ناری داستـاد «دری» په فنی زور دراډیـو څپی دومری مستوی چی «دری»استاد دچین لویی پراخی مځکی ته ځان رسوی او په چین کی بزګر په چینی فار مونواو نوردپیکنګ په لوی تالار کی ناری وهی چی دغه ده اصیله افغانی مو سیقی !

بلی !دلوګر سندر یزمکتب په ریښتیا چی د آریا یی سرودونو په غو ښتلو کی دمذ هب نیازو نو ته لاره ومو ندله اودمذهبی نیاز او نیاوڅخه ددرباره په مستی کی بیا دخلکو زړونو ته ور ننو تله او نن دیــــوه اصیل یا ختری سند ریز مکتب تر څنګ په ښه مستی دزړونو دخو ښی څخه نده مرور ه.

پدی مو سیقی سره نن هم ددی سیمی نه ، بلکه دټـو لـ افغا نستان دبزم رنګ دخوښی دپاره په آزا نګه او شر نګـ ی زړه راو ستلای شی. دلو ګـردسند ریز مکتب او سنی لوی سندر غاړی:

۱ـ یعقوب سندر غاړی

۲ـ سلام سندرغاړی. داستادزوی

۳ـ محمدا لله

www.libtool.com.cn

٤ـ ماشینی داستاد زوی

٥ـ نبی لوګری

٦ـ سیدو لوګری

۷ـ کمال لوګری

۸ـ تازه ګل لوګری

۹ـ همیشه ګل لوګری

۱۰ـ محمد ګل لوګری

۱۱ـ نیك محمد لوګری

او دساز وهلو استادان یې:

۱ـ استاد ګلبد ین

۲ـ استاد عبدالرو فربا ب وهونکی

۳ـ خلیفه عزیز ا للــــه هارمو ینه وهونکی‌او...د ی.

**داستاد «دری» مخه دمکـی‌معظمی لور ته :**

استاد دخپلو زامنو په قول(۸۵) کاله ژوند کړ یدی دی دامیر حبیب الله دشاه امان‌اله غازی دپلار ددوران سړی و. څکه امیر حبیب اله بــه وایی دخرا بات شخه« پچی نخا » کونلی او «مومن»چاراسیا بــی‌او «دادی» «ایزك» دڅان سره‌لوګر ته داستاد دساز اوریدلو دپاره پراسا نو سفر پر څـان کاله اوشپی، شپی به یی هلته میلی کولی، نوددغه دول‌ماجرا شخه دده دپنځه‌ا تیا لا د یرعمر تخمین کیږی خو هغه څه عمررا خوا دمناجات‌لاره‌ترخرا- بات غوره کړه او نوریی‌دزړ ه دذکر اوفکر لاره اختیار کړ له بنه می‌په یاددی‌په (۱۳٤۹هش) کی‌زه اوپو هاند ر یشتیـــــن‌دسید بهاو الدین آغا په بلنه‌ما‌دا غی ته ور غلو، هلته دسید اغاپه‌مرید انو یو بـــز م جوړ کړی‌و. په دی بز م کی چـی زمو نږ دپاره وپخپله استـاد «دری» ته دسندرو اجازه نه‌وه‌ور کړه شوی او ویل یـی دی‌دخا نقا مشر توب کوی هغـه ور لره بس ده.

ده مرحو م‌وو یل: دحج کولوورو سته ما دسندرو ویلـــوحتی اور یدلو څخه لاس‌اخیستی دی ، یعنی دی‌دحج نه وروسته دزړه دذکراو فکر سړی شــو،هغه هم دزړه دلاری نه د خولی او ساز له لاری.

داستاد دقبر سلاو مشو ده دلوګر یانو له خوا :

استاد «دری»چی وروستــی‌ژوند یی فقط او فقط په اورادوویلو او عبادت کولو تیریږی، یوه ورځ غواړی چی دلو ګــردما داغی ښخه دخپل پیر سیدبهاو الدین آغا زیارت ته ولاړ شی. وایی دغه دزیارت غونډه‌دمشهور رو حانی «یعقوب‌چرخی» په زیار ت کی وه‌چی د سید ـ بهاوا لدین جان آغا خلیفه ګان‌او مریدان‌تول ددی لوی‌روحانی‌پر زیارت را ټو لیدل لوهتله پـه‌ددی لوی روحانی یادو بود کیده ، استاد «دری» چی اوس یی دخرابات‌سره د سوز لاره بدله کړ یده او دخپل ګریوان‌لوری ته سر ځړولی دی‌هو ! دی اوس دزړه په کور کــی ځان دزړه له‌لاری خپل‌رو حانی‌منزل ته رسیدل غواړی. پــه موټر کی دخرڅ لوری تـــه دخپلو فقیرو مشرہا نوسره‌روان‌شو، خود اتشرف په دغه‌غونډه‌کی دده په ژوند نه شو پــه برخه ،ښه نژدی لازیارت تــه نه و رسید لی چی موټر پـــردابله خوا را واوښت اودموټر په چپه کید لو سره دده‌ژوندکولو دپاره ده ته دسا ایستلو مجال ورنه کړ دی دډاکتـــر علاج کولو ته نه شواړ اوخوډده‌نور فقیر مشرہان دده‌لاس‌او پښو په سمو لو بوخت‌کیدل، ملا در محمد چی داستاد «دری»په نامه یی دلوګر سندر یــزدزاړه اریا یی سرود ونو نیاز ژوندی ساته پخپله یی‌دشهادت‌جام پرسر پورته کړاود لو ی روحا نی «یعقوب چرخی» دربار ته یی ځان ورسا وه. هلتـــه دفقیرا نو او رندانو دلی پـــرراتولی شولی او دده تا بــوت یی دیازا نو ښخه دتورو خاورویه صندوق کی پټ کړ. خـــودیعقوب چرخی په زیارت کی. هو! دساز او سوز دد نیـــــادمستی پیدا کولو استاد دارام‌او ابدی خوب بستر وغوړا وه او شا کړدا نو، دفقیر دمشرب‌یارانو یی پر قبرداوښکو باران‌واوراوه اوبیا هلته دسا زاو سوزښاپیری نوری‌ونه کرځیدلی. یواځی بیلتون ،دبیلتون نارو ته دده دبزم یاران راوغوښته اود بیلتون ناری اوسوری یی سرکړی استاد دبزم محفل پرینبود اودفقر کچکول یی نسکور کړ خودلوګر سیمی‌ته یی دآریا نا دزړوسرودونو نخښی‌نښانی دنوی سندر یز مکتب پـــــه دود پری ښودی .

داسندر یز مکتب ژوندی‌اوخوره چی دافغان اولس ژوند پرمخ ځی‌ددی سندر یزمکتـب برغ‌دلوګردسیند څپی دنړی‌لویو سیندونو ته ور رســوی. ا ودنړی دسیندونو د ساحل سیل بین‌به یی واوری استا د«دری»نښته اودده درنه افغانی څهره دظرافتو تحفه دافغا نی‌محفلوـ نو تازه کی‌او خوښی ته نه سپلری خویاد یی‌دهغو کسانو ندی هیرچی‌دده دظریف محفـــــلی ګډون وړیه برخه شوی وښه می په یاد دی‌د(۱۳۴۸) کال د حمل ورځی‌وی دپل باغ‌عمومـی دراډیو دستیشن دفتر ښینـــــه‌شین چمن درلود اود پتو نـــــی‌ګلان پکښی کرل شوی و.هلته غلام‌حسین مرحوم او استادنبی ګل‌مرحوم ،داستاد محمد عمـرربا بی سره راټول و.په دغـه

www.libtool.com.cn

دریمه برخه

# لنډۍ

وخت کی استاد «دری» د پروګرام د سرته رسولو دپاره د لو کرښخه نوی رارسید لی و. کله چی مونږ استاد «دری» ولیـد پرېږغ مو کړ: استاد دګلونو سیل نه کوی !ده په خندا ویـل: «کدام ګل ؟» «من خو ګل را ندیدم به آن خاطر نه آمدم»

www.libtool.com.cn

ددی ظرافت سره راغـی او مجلس یی تود کړ. دا یادوا دی تقریبا (۲٦) کاله وروستـه ،کله چی دده پرسند ریز مکتب یوه وړه لیکنه کوم د یوی خـاطری په دودویو نکوته وړاندی ،کوم، خیر کـه دده روح ددی نری شخه الوتی دی، خو یاد یی دیا د و نو ملګری دی.

---

ددی لیکنـی اسناد داستاددری دزامنو سلام، ماشینی او عبدالقادر استاد او نورو بوکری سازیانو په مرسته. لاس ته راغلی دی.

www.libtool.com.cn

## پرپښتو لنډیو ځولنډی‌خبری

دا سندریز وګړنی فلکلوری شعری ژانرچی دنوروسندریزوشعری ژانرونو څخه دمخه نه؟ وی‌نو دخاصوا لی‌پ ه اساس یی‌غوره والی‌ثابت دی.

بلی! دکندهاری سندریزمکتب چی‌غوره برخی یی داتڼ ناری، بابو لاله ،ښارو ورا،دوه دوه تاره یی‌اخله کیسی ورو یـــی‌ځنګو یه، شین خالو،دکاډ و ناری اود نکلو نو ناری دی.
یاد ننګرها رسندر یز مکتب لکه :مقام ،چاربیته ،بدل، بګتی ،لوبی، داستان، کیسی اومشاعری یالکه دپکتیاداتڼ ناری دسرو کوپه‌ډول‌اونور ا هنګـونه یالوګری سندر یز مکتـــب داتول دلنډیو دمستقل والـــی‌سره‌دلته په‌لو یدلو کی‌دسندریز ومکتبونو مکمله برخه ده چی‌بګتی یی نژدی ژانردی. خو پخپله لنډی نه ده.

لنډی دنوم په احاظ «ټپی»«مسری» او«ټیکی»په نو مو نـــوهم‌یادی شوی دی.
لنډی کله په‌ځا نګړی او کلـــه په ډله ایز کله یوازی‌اوکله سرو کوته ورلویږی ،وزن‌یی خاص دی. لومړی برخه یی (۹) اودوهمه برخ ه یی (۱۳) سیلا به ده.

په هرحال دا ژانر دښه بحث وړدی چی‌لوی شاعر اکاډمیسین سلیمان لایق همدغه برخه تر ډیره حده‌څیړلی ده،مثلاً دی‌اول‌دلنډیو ممتاز حیثیت، په‌لنډیوکی‌د منظری جوړول اود شعل مننی خصوصیت ،دلنډیو وحدت‌وجود ،لنډ ی‌دوطن اوانسا ن‌دغمونو دهنداری په رنګ، پـــه لنډیو کی دویا ړنی دعنعنـــی هستونی ،دلنډیو تغزلی مانی اساسی مضمون، په‌لنډیو لی‌د تغیرا و بدلون پروسه، لنډ ی دښځی دتاریخی اواجتماعی موقعیت صادق ویندوی په‌ښځمنو لنډیو کی‌دموز یګی پـــرضد دښځی اعتراض ،په ښځمنو لنډیوکی داعترا ض‌تاریخی سرچینه دفیوډالی دوران په لنډ یوکی‌دښځی دموقف دانعکا س ترعنوان‌لاندی پر لنډیو یاد سندریز شعری‌مکتب خبری کړی دی. خودا خبره دی هم هیره نه شی چی‌دلنډیو خصو صیت دا دی چی دسرو کواصلی مواد بللی کیږی یعنی بی‌له لنډیو سر وکی‌پر ځانګړی ډول نه ویـــل کیږی دلنډیو په ممیزه کی‌داژانر یعنی سرو کی ،له‌دی چی دشمیر له مخی دومره‌پر زیات دی‌چی دیوی ضابطی لاندی یی‌راوستل آسان کار نه بللـــی‌کیږی .حتی دفورم له مخی‌زشت ډیردی اودمحتوی اومضمون دمخی غالباً دژوند یوه حماســه تمثیلوی لکه : تاریخی برخه، دطبیعت دښکلا یوه برخه ،دمینی‌دداخلی احساس یوه لحظه اوداسی نـــورو سره له دغه لوی اعتبار سره یی‌لنډی مکمله ده نوپه دی لحاظزه دلته ددی‌ژانر هغه اهمیت چی دلنډی‌په رنګ یی مهم والی ښوولی دی‌دلنډیو دهغه کتاب څخه ښاغلی‌لایق‌دپښتنی سندرو(لومړی‌ټوک،

دڅواك په اهتمام او مقدمه شوی دی او دلنډیو او ددوهم چاپ الډیو دکتاب څخه غوره او یوه اکاډمیکه څیړنه یی پر کړی ده د دی سندر یز اثر څخه رااخلم چی دپښتو فلکلوریك او شفاهی اوغیر شفاهی سندر یز بحث مکمله شی ، او هغه دادی چی دی لیکی :

www.libtool.com.cn

## لنډی- دپښتو سندرو یوه اهمه برخه :

دپښتو دفلکلوری شعرو نوپه لړ کی دلنډیو برخه واقعاء تول بشریت دفلکنو ری شعرونو د عظیمی شتمنی یوه مهمه برخه ده . دلنډیو یو ستراهمیت دادی چی دهغه سندریز خصوصیت او آهنگ روزو نکـی فطرت دنړی په تولو فلکلوری شعرو نو او سندرو کی ممتاز دی او ساری نلری، کله چی زه دلو مړی ځل لپاره دلنډ یو په دی خصو صیت باندی پوه شوم او دنورو ملتو نو مشابهو شعرو نو په مقا یسه کی مـی دلنډیو دلس هاوو غـاړو او آهنگو نو مو سیقی یو څه مطالعه کړه ځان می په داسی یولوی دریاب کی ولیدچی د هغه دخیړ نی او مطا لعی ستر کارچی مایی نیت کړی و، وار خطا کړم. کوم ستر نړیوال شاعران او ادبپو هانچی واقعاء دلنډیو په دی خصوصیت باندی پـوه شی دغه اشعا ر به دو مـر ه وستا یی چی او سنی متمد نه نړی به ورته حیرانه شی .

لنډ یو دانسان داحسا ساتو،عوا طفو، دردو نو، رنځونو او انګیرنو ډیره عالی او دقیقه درجه بندی کړی ده او هغه یی دډیر خواږه او ظریف بیان په مو سیقی کی وړاندی کړی دی. زموږ دجغرا فیایی سیمی پـه تول فلکلوری قلمرو کی هیڅ سندره نه دخپل آهنگی خصوصیت او نه دخپلی تغزلی شتمنی او نه دخپل سموالی او هیجانله پلوه له لنډ یو سره برا بری کولای شی. لنډی که څه دبکواپه دښتو کی زیږید لی وی که څه دبا میانو دبتانو په لمریځه ناوه کی، څه دپکتیا په کنـډاو ګورو ځنګلو نو کی څه دآموپه غاړو او څه دهندو کش په ځوړو کی ګډی او مشابه سیمی لری. «مینه ، بیلتون، پردیسی،مرګی اوحما سه »

په زړه می اور دګرګربل دی
داوسیلو په ځای سکروټی تویوینه .

غمونه غرونه شوه درانه شوه
په ما راغلی دبیلتون درانه غمونه .

تاوی نن څ مسبا به راشـم
جانانه میاشتی دی شمیرم تیرشوه کلو نه
اوس که رادرومی وخت تیرشوی
په تورو ځنومی خواره شوسپین ګلو نه

له دی نه چی دملت ورك اوبی نشانه شاعر توانید لی دی دبشر داحسا س ژوند تر تولو عالی شیبی په دو و نا متـومصر اعو کی په ایجاز بیان او تصویر کړی انسان حیرا نیږی.همدا اوس دښپنو، اوښبنو په آوازونو کی داسی لنډی اورو چی په هغوی کی تغزلی خوځنده تو ب هسی کمال ته رسیږی چی لا تر اوسه دهیڅ پښتو ژبی شاعرلاس هغه ته نه دی رسیدلی . لاندینی لنډی ددی تودی ادعـاژوندی سپر غی دی :

بیادی پرمخ‌ځنی‌خوری کړی
په لمر راپرېواته دوریځــو تنا بونه
پردنیا سره ورانکه پرته ده
لیلی‌په ځنوکی غاتول تومبلی‌دینه .

www.libtool.com.cn

خبری‌کړی شوندی دی‌ریږدی
لکه‌سور ګل‌چی دسهار شمال‌وهینه
په زلفو وروږ منځرا کا ږ ه
هلته زما دزړکی‌کور دی‌وران‌به شینه
په لاره ځم‌توله شر نګیږ م
ستا دتومت ځنځیر په غاږ ه کړځومه

## داشــعرونه چاویلی دی ؟

کوم بی نشانه شاعر دغــه‌مرغلری دانسانی پرکنو ناتمــامیدونکی سیند ته ورشیندلی دی ؟آیا دابی نومه شاعر په دی‌پو هیده چی ددانسان دګو نګی‌تندی او هیجان ځخه پرده پورته کړی ده ؟

ایادی پوهیده چی‌مسین ا وغمجن بشریت‌به پیړی پیړی‌دده‌د تر ا نو په ځپو کـــــــی خپـلو اوږ د و ا و ږ و ر وغمونو اوکړاونو ته لللووا یی او دخپلو ناکامو اومحروموعواـ طفو سر کښ سیلاوونه به یی راتم کړی ؟

په دی عامیانه مصراعو کی‌دانسان عواطف اواحسا سات دومره ساده، بربنده مهذب ،ښکلی او صادقانه بیان شویدی چی‌ترهغه پورته یی‌تصور نشی‌کیدای .

په دی نابرابرو مصراعوکـــی چی‌دوطن ساده غرونه اودښتوزیږولی دی دانسان دژوندمینی اوهستی ایرانونکی ښکلا پرته ده. ساده،ښکلااو ریښتینه اوپه ښکلا، سپیځلی او ځلانده‌ښکلا له تیارو اوکړنګو نونه خالــی‌ښکلا له کرکی اوحسادت نـــه آزاده ښکلا، دعشق ښکلادناویلو رازونو ښکلا دانسان دمقــدس‌لیو نتوب ښکلا .

## په لنډ یوکی دمنظری جوړو لواوشکل مننی خصو صیـــــت

لنډی ته ورته دنورو ملتونو او لسی شعرونه ، لکه ددری‌ژبی ،چاربیتی دروسی ژبـــی چستو شکی اود اسپانیایی ژبی‌کا نتی جا ند وزیـــا تـــــر ه بی منظر ی ا و ا ز و نه د ی په دی اوازونوکی‌د انسان بیا په تیره دعاشق اوریتل شـــوی‌انسان آوازونه راغبرګ‌شو ی دی. په دی شعرونو کی دمنظری‌اوتصور جوړولو لور ته پا ملر نه نه کیږی‌دهغو لپاره‌نه باراـ نښته ،نه‌ږلی نه توده غرمه نه شین سحر ،نه‌غرونه اونه بیابانونه .

کار سیا لورکاد اسپا نیایی د کانتی جاندوپه باب وایی:

« په داسی حال لی چی‌زمونږ‌تا پووزمی کی‌زیاتره آوا زو نه قدرت لری‌چی هغه منظری موږ ته رابه زړه کړی ،کومی چی‌دغه آوازونه په هغوی کی ویل کیږی.خو کانتی جـــا ند و لکه ړوند بلبل چغیږی اوپه ړندوسترګو دغه‌سودایــــی ا ولرغونی آهنګونه بو لی »خــو لنډی‌لکه اسپانیایی‌کانتی جاندومطلق بی منظری آوازونه نــه‌دی، بلکه کله کله دانسان‌په

ځیرلو کی له طبیعت آودهغه له ښکلو مظاهرو ځخه مرسته غواړی آودهمدی مقصود له پاره د منظری په جوړولو لاس پوری کوی .مګرپه دی منظروکی نه حل کیږی او هغه دانسان د باطنی غوښتنو اود ننیو شخړو دافهام دبشپړ توب دپاره استعمالوی اوشکل منونکی تجسم دومره را بر سیره کوی چی اصلی موضوع (انسان) اود هغه د احساسا تو بیـــــــــانـد شکلو نو او منظـــــــــــــر و تر تجسم جار کړی او فرعی موضوع داصلی مضمون ځای ونیسی.
www.libtool.com.cn

په لنډی کی که غریاد یږی ،که دښته ،که سین یاد یږی، که بارا ن دا ګرد سره دا نسان مینی اوغم اودمرګ داحساس دلازیا تو بریښولو اولاڅرګندولو سره خدمت ته راکا ږی . پـــه لنډی کی دغه شکل منونکی ما دی وا قعیتو نه داسی تبارز نه شی کولی چی ځپل مخاطب د شعرله اصلی موضوع نه د ځان لور ی ته ورو کاږی او اصلی موضوع ور ځخه هیره کړ ی.

سبا به بیا کډی بار یـږ ی ددښت ګلان به ستالمنه بویوینه

دی لنډی یوه منظره تصور کړی ده.داسی منظره چی د مینـــی ، بیلتون اوحسا دت عشقی هیجان اولیونتوب له احساسا تو ځخه ډکه ده .شاعر دلته دځپل هیجان مخامخ بیان نه کوی بلکه دځپل ګوګل ډول پټ تاوونه یو شکل منو نکی تجسم ته سپاری اوژوروداد لری چی ده ته به غوږونیو-ل شی. دی دځپلی مینی اوسرکشی هیجان دبیانولو دپاره داســی منظره جوړه وی چی سبا به د ده دمحبوبا کډه دنورو وکډوسره بار یږی .اودپسر لی په تا ند هوا، پاکه اوشنه دښته کـــی رنګا رنګ وحشی ګلونه دده د معشوقی په اوږده کوچیا نـــی لمن لګیږی اودی به له هغی نه لری اومحروم ددی وحشی ګلانو په حسادت کی سوزی .په پور تنی لنډی کی دکډو بار یدنړ ګلو باندی د کوچی پیغلی داوږدی لمنی لګیدل دپرا خ بیا بان اواوږدو لارو تصور، دوطن پسرلی ،عشق اوحسادت ،ښکلا اوطبیعت اودعامیانه مینی صداقت اومعصومیت اودمینی لیو-نتوب اوهیجان ډیر ښکلی افاده شوی دی.

په بله لنډی کی داسی ویل کړی :

په ګودر سور سالو ښکا ره شـــو

ماوی په توروا وبوا ورو لګیدنه

دسره سالو راڅرګندیــــــدل اودتیاره مازیګر په اوبو کی داورپه څیر دسالو دسره رنـــګ انعکا س دکلیوالی سوچه سرکشی مینی مظهر دی، دلته عا شـــق دځپلی معشو قی ترسره سا لو، لاندی هرشی سور وینی .

سور ګودر ،سری او بـــه ،دا سی ســـری لکـــه د اورلمبی ، د عشق سوځوونکی او جهانګیره لمبی داسی لمبی چی هر شی سوځی او هرشی تـــه ځپل رنګ ورکوی .

له پور تنیو مثالونو ځخه ثابتیږی چی لنډ ی یو مطلق بـــــــی منظری آواز نه دی، خود غـــه آواز په منظره کی نه متمرکز کیږی بلکه منظره شـــکل اوتصویر چی کله ناکله پرلنډی ځان تحمیلـــوی اوحسی سنـــدریزی غاړی ( آهنګونه ) هغه وخت په لنډی کی منل کیږ ی

چې د انسان په احساساتو اوغريزي غوښتو نګې ځان مستهلك کړي اوددې احساساتواو غرا-يزو لاژوره او هراړخيز ه‌افاده‌میسره کړی .

دپورتني توضيح معنى دانه ده چې لنډۍ ګرد سره يومنظره لرونکې آوازدې . نه دا سې نه‌ده بلکه دلنډۍ په دوو ډ‌متو مصرا عو کې د منظـــرې دجوړ ولو او د طبيعت دښکلا-وودتمثیل امکان په طبيعـــي توګه ډير محدود دی اوله بل لوری د لنډيو اساسی موضوع انسان دی . لنډۍ له انسا ن نه ځان نه بيلوی. هر هغــــه موضوع چې لنډۍ له خپـ-ل اصلی مضمو ن ( انســـان) نه بيلوی لنډۍ هغه ايستــه غور ځوی اونه يې زغمی .

لنډ ی يوازی د انسان دغمو، نا ميديو ، بارانونواو بريښناوونږی ته پاملرنــه کـوی ، انسان تصوير وی او دهغه د هيجان توفانونه ، دهغه داوښکو بارانونه دهغه دقهر او غصـی تندرونه او دهغه دصبر اوزغم سمندرونه ښکاروی .

انسان پخپله تر هر څه او هری نږی پيچلی ښايسته او ډ‌ندارو ږ جهان دی ،دلنډيو ثابت خصوصيت دادی چې دهمدی جهان نه ځان نه بيلوی اودخپل جولان دپاره همد غــه جهان بس بولی . له همد ی کبله زمو ږ دوطن دا نســا ن دڅوری پيژند ګلوی له پار ه لنډۍ او دهغی دشاعرا نه ترکيبونو او سندريزو غــا ړ ومو سيقی ترهربل مأخذ‌يرمو-هم او باوری مأخــــذدی . د دی بحث نه بايدداسی نتيجــه واخيسته شي چې که څه هــم لنډۍ دنورو ملتونو دمماثلـــو اولسی شعرو نو په خير ځان،انسان او دهغه د احسا سا تو بيان ته وقفوی خود هغــو ی‌غوندی مطلق بی منظری آوازنه دی بلکه کله د تصوير او طبيعی تجسم څخه هم کاراخلی او همدادی دلنډيو اواسپانيايي جتانود کا نتی جا ندو او نورو ملتو نود فلکلوری شعر ونو د توپير پوله اوله همدی کبله موږ خپلی لنډۍ دشعری تخنيك په لحاظ په منظره لرونکو او بی منظری لنډيو باندی ويشلای شو او بايد ويی ويشو .

دبی منظری لنډيو نمونی :

زمايه زړه دی‌بانه خښ کړه
ستر ګې په ورو پورته کوه نامرادی مرمه

که خوله می اخلی ژر يـــی واخله
منګی می ولی ښوروی لنده‌دی کړمه

يابه دی زلفی کمر بندکړم
يابه زما په وينو ووهـــی‌خالونه

راځه راځه چی‌سره کينو
دنيا دغم تالی‌وهی ورا نــه به‌شينه

ورو‌ځی لينډی بانه دی‌غشی
ډيريی‌په تا وخوشی کوی‌زخمی‌دی کړمه

اوښکی می پرين‌ده چی بهين ی
دبيلتانه خنجرپه زړه وهلـــی‌يمه

دمنظره لرونکو لنډۍ يو نموني :

خبري کړي شونډی دي ريږدي
لکه سور ګل چې دسهار شمال وهينه

www.libtool.com.cn

مخ دي په اوښکو داسي لوندی
لکه په ګلوي اوريدلي شبنمونه

په لوړو غرو باندي باران شو
ښکته لانده شوه دلونګو د رمندو نه

سرخي د مخ دي‌شه غلي وکړي
لکه سرخي دما ښام سره کاوطنونه

آشنا مي لمر په غره‌راخيژ ی
بيلتون وريځ شوه ورته نيسي کنډوونه

جانانه‌د ومره درسره واي
لکه بريښنا چي‌له بارانه سره وينه

صورت دي سپين کميس د ي‌شين دی
لکه نرګس چي شين يي تارسپين يي ګلونه

که ديدن‌کړي تلوار پې وکړه
بيړي‌دوبيږي پر تخته ولاړه يمه

**دلنډيو وحدة الوجود:**

دلنډيو شاعر ټول محسوس‌طبيعت‌دخپلو ازاد و شعرو نوواحد مخاطب بولي. دي دښپې له ستور و سره ، له‌غروسره ،له سپوږمي سره ، له بـاداو بربښنا سره اوهمدا ر نګه د آسمان د وريځو او د ځمکي‌د ګلانو سره خبري کوي،خپل رنځونه او غمونه وربښيي ، مرسته همدردي ورڅخه غواړي‌او کله کله غصه ورته کوي. دي‌باورلري‌چي همدردي ورسره کيږي او د ده ناروته به‌غوږ ونيول شي .پخپله دي ويش کي لنډۍ يوپر اخ او هر اړخيزو حد ةالوجود ځر ګندوي‌داسي وحد ةالوجود چي‌په هغه کي ټول بي ځانه شيان ځان پيدا کوي دعقل او درك‌خاوندان ګرزي او ددي اهليت مومي‌چي دلنډيومخا طب‌شي.دلنډيو شاعر له هوانه ، له خاوري نه ،له‌مر غانونه ، له‌سين نه ،،له ځوځانونه او له و حشي بوټونه پوښتنه کوي ،داسي ساده پوښتنه چي ټول خارجي‌اشيا په‌هغوي کي ژ و ند ی شخصيت پيدا کوي او له دي‌محيط سره دومره جوړښت‌بند ی چي‌ښکاره‌په تغزلي‌کار کي‌ګډون کوي.

په لاند نيو لنډيو کي د غه يووالي له‌ورايه ښکاريږ ی .

دماز یگر زیږ یه لمــــره    یامی درواخله یا دز تول کړه‌تنا وو نه

دچوپی شپی توره ښاماره    زما په او ښکو اوبیدی پنده‌دی کړمه

نن می‌دیار دراتلو غږ دی    غمکی بخمل شـــه‌لا ړی    وسپره‌گلو نه

که دیدن کړی په با د راسپور شه    په ارمانی دنیا بیانه شی‌دیدنونه

دپښتنوالی درنه پته    زما په خوله دی‌لاس‌نیول گونگه‌دی کړمه

منگیه مات شی دړی و ړی    نجلی دی ستړی کړه‌منگولی‌لگوینه

www.libtool.com.cn

لکه‌چی پاس‌وویل‌شود لنډیو شاعرد طبیعت او محیـــــــط‌بی ژونده اوبی شعوره عناصر چی د ده د ژوند چاپیر یې‌ا لیی تشکیل کړی دی د خپلــو اشعارو دبشپړ ولو لپار ه ر ا بولی، ژوند ورکوی، خوځو ی یې‌ا ود خپلو غو ښتنـــــــواو هیلو او اسرور ازونه ور سره شریکو ی ، ســــــــلامشو ر ی و ر خخــــــــــه غو ا ړ ی ، ا و کله کلـــــــه یی «رحم اوعاطفه»راجلبو ی .د تنهایی او غمونونه د هغوی‌پر لورور تنبتی او خیله تنده پی ما توی په لا ند نیــــــو لنډیو کی‌د ا تنـــــــــد ه په ښکاره الفاظو بیان شوی او ډیره مشخصه شوی ده :

**گل‌ته !**

گله خزان دربانډی را شه    چی بلبلان دی بینواشړلی‌دینه

**څراغ ته !**

څراغه بلی لمبی وکړه    روستی دیدن دی بیابه نه‌وی دیدنونه

**بلبل ته !**

بلبله ژرشه دیدن وکړه    خزان ظالم دی رژوی ښـایسته گلونه

**غمکی ته !**

غمکی دخدای روی می‌دروړی    چی خاوری نه کړی نازولی‌صور تونه

**گودر ته !**

دمازیگر گودره وران شی    په خندا درشم په ژړادرنه راځمه

**خپل زړه ته !**

زما دی نه منل زړ گیـــــه    اوس دی دوینو سیلاب وړی‌ژړا راځینه

کیږدی ته‌مه ژ ا ړ مزړ کیه    کوچیان مرغان دایل بندوسبا به ځینـــــــه

**باد او انسان:**

په لنډیو کی باد شخصیت پیداکوی، مگرداسی شخصیـــت‌چی هغه کولای شی اوږدی‌لاری

په لنډه وخت کی پری کړی.هغه کولای شی دګلونو وږن مـی اودلو نګو خو شبویی دړی لـه یوی برخی نه بلی ته ولیږدوی،دعا شقو پر دیسانو او بیلتونډنارو غانو نخښی او پیغامونه ګیلی ،عا شقانه هیلی او غـوښتنی، شکوی او فریا دونـــه له غرو نه هغی خوا ته، لـــه سیندو پو ری لری ځایو تـــه ورسوی او د مینی لــــــــه لیو او لوســـــــر ه دد وی

www.libtool.com.cn

په هلو ځلو ،ژړا او خـنداووکی ګډون وکړی اود همـد ی لیوالو په خاطر کله په لـوړـ وغروکی دیوه عاشق ز لمـی دپکړی شمله خو ځوی او کله د کلا په کنډوباندی د مینـی پیغلی په سالو کیږ و نخیـږ ی او هغه ور پوی اودعاشقا نـه تصاویر واو شکلونو دنیا لا او لابنکلی او رنګینه کړی .

| | |
|---|---|
| هلکه ځه دیر په نخرو ځـــه | په لویو غرو ځه چی شمله دی بادو هینه |
| په کنډو اوړی پناکیږی | داسور سالودی بادوهی ژړارا ځینه |
| باد دلیلی له کلی را غـــی | په صحرا پلن شودلونګو درمندونه |
| دداماں باده یارته وا یــه | دځنکدن سلګی وهم تایادومه |
| د صحرا باده راته وا یــه | زما لالی دکوموغرو مزل کوینه |
| بیګادی باد راوړی خـــبر ی | له ارما نجن زړګی‌می پور ته شوو اورونه |
| اوس دپردی‌وطن ګلاب شوی | دباد څپیری په مخ خورم تایادومـه |
| باد سباکرار کرار ځه | یارمی دخوب په جوپه تلـلی ویښی به شینه |
| یو واری بیاپه دی لارراشه | دسهار باده غرمی مړاوی کړل ګلونه |
| دتور و غرونو پنا یاره | دیدن دباد په مخ را پریږده‌چی راځینه |

ددی لنډیو شاعران(شپانه )اوښبانه ، بزګران ، ددښتـــواو غرونوسرګردان ربړګالونکی او داوږ دولارو او ځانګړ یـوسفرونو لاروی ، وګوری !چی د طبیعت استازی (باد) یـــی څنګه ښه پیژندلی دی . هغــه له هر ځایه هرځای‌ته، له هری خوانه هری‌خواته اوله هغــو ی نه زموږ خواته ، زموږ دکلیو کیږ دیو کروند واور موخواته تلا ی او را تلا ی شــــــــی هغه نه ستو ما ینــــــــدو نکی وزرونه لري‌د مینی‌او وفا استازی دی‌اودهرچا محـــر م باله شی . له هغه نه هیڅوك‌خپل رازنه پټوی اوهر څو ډکربنتیا ورته وایی . له همدی کبله (باد) په او لسی‌ادب کی‌د انسان د ټـولو اســـرار و ،عشقو نو ، غمونو او خوښیـو شریك او شاهد دی .

ز ه خولا پټه پټه ژاړم

زما په اوښکو باندی بادکوکی وهینه

## سپوږ می او لنډی :

دخلکو شاعران دتورو شپواوبی څراغه کیږ دیو اوجونګړ وشاعران تر هر چا دسپو ږمی او دستورو درنا او ځلایه ښه ز به ښه پوهیږی .

هغوی دپیریـــو اوږدی او ستوما نوونکی تیاری د همدی نورانی او ځلیدو نکو آسمانی اجسامو لاندی زغملی‌اوسبـــا کړی دی . لاتر اوسه دژوروډرواو پرا خو بیا بانو او شنو

ځنګلونو پر لارو دسپوږمۍ ځراغ دمغوي دکار او شعر دښتيو او دعاشقانه هلو ځلو په اخيني ډيوه او دلارۍمشال دی .له همدې کبله په عاشقانه لنډيو کې سپوږمۍ هم د باديه خير ژوند پيدا کوي اولنډيو دبې نومه شاعرا نـو دعواطفو نرۍ ته لار باسي او دعواطفو دلطيفو انځور ګر يو په افاده او شکل موندلو کـې مرسته کوي :

www.libtool.com.cn

سپوږمۍ په غره راپورته کيږه
چې مساپر په سين کډيږي غـرق به شينـه

سپوږمۍ سلام به در تـه وکـړم
جانان مې مه‌رسوا کـو ه ماته راځـينـه

سپوږميه سرو هه را خيـژه
جانان د ګلو لـو کـو ی ګو تی ريبينـه

سپوږميه بيا چې ته‌راخيزی
په مابـه کوتـه وی د خاورو در منـد ونـه

سپوږمۍ له وريځورا ښکاره‌شوه
شا ليلـی لامبی په ګودر رسوا بـه شينه

سپو ږميه سرو هـه راخيژه
زما ليلی دتورو غرومـزل کوينه
زما او ستا تر منځ شوه غرونه
سپيني سـپو ږمی ته سلام کړه سلام به کړمه

سپوږمۍ ته سپينه سپينه اوری
لکه ما هـی چه په شود و غوپـی وهينـه

۴ په دې توګه شاعر دلنډۍ ماحول او محسوس جهان‌دخپلي هستي او جولان نه بيليدونکی چاپيريال انګيری او په تغزلی کار کی ګډون ورکوی.

لنډۍ دصوفيانه «سلوك او عرفان » په اصطلا حاتو او خاصو ادبياتو ښه نه پوهيږی اودعوامو سره دخپـل خاص تعلقيت په وجه هغه لور ی‌ته ډيره پاملرنه نه لری . پـه دی باره کی ژور او پراخ بحث بل وخت ته پريږدم اوداځکـه چې دی‌باره کی خبری هراړخيزو څيړنو ته اړتيا لری اودا يـوخـو را ښکلی ا و مهيـــــج بحث دی .

## لنډۍ دوطن دانسان دغمو نو هينداره

**ګار سيالور ګاوايې :**

«ملت زموږ دشاعرانو شعر ونه لولي ،اما خومره ستـــر توپير دی ددی شعرو نو اوهغو شعرو نو تر مينځ چې دخلکـو پرګنی يی هستوی ! هغـــه توپير چې ديو سور طبيعي ګل او ديو سور کاغذی ګل ترمينځ شته دی . رښتوني شعرونـه خاوندنه لری دا شعرونه لکه

هغه توتکی دیٔ چیٔ دزمانی په بادونو کی ځوپی وی او هـــر نسل هغه ته خپل رنګ ورکویٔ او وروستیو نسلونو ته یـــی پریږدی .»

دهر ملت دعامیانه هنـــر میراث دتاریخ په لوړو اوژورو اود زمان په شخړو کی د هغه ملت دوطن دقومی ارزښتونو او دخلکو دسننو او عقایدو واقعی ویندوی دی .هغه څه چی ن دعامیانه هنر او هنری میراث په نوم پیژنو داسی ونه ده چیدهغی ځانګی او پانیدپخوا ـ نیو خلکو دفکری او ذو قـــی څرنګوالی له ذات نه راوتلی دی. دهری ځانګی خصو صیت دهغو نسلونو دژوند درنګونو او خوندونو بیانوو نکی دیچی پخپله ددی ځانګی هستوو نکی وو .

www.libtool.com.cn

په لنډیو کی دمحروم انسان غم داوښکو دناپایه سینمساپر دی داسی غمچی د انسانغریزی ښکلا خوښونـــی او دده دروا آزادی په خلاف پرده باند ی تپل شوی دی .اوښکی دهمدی اوږدو اوناپایه غمونو داسانولو او حل کولوپه خاطر دلنډیو څپوته ځان سپاری او پـــه دې توګه دپیړیوپه اوږد ومز لونو کی ځپل شویو او رټل شویوانسانانودژوند تراژ یدی له ړومبنیو څخه وروستنیو ته او دپیړیونه پیړیوته ورلیـږدوی .

زمادزړه ناپایه غمه

اوردی چی هر څوځ پټوملـوی کی دیٔ ځینهٔ

دبیلتانه دبازپه پښو کی

نری نری فریاد کوم غوښی می خورینه

درغیدو په تمه تمه

دزړه داغونه می نا ســور شووبه مرمه

دیاغی اوښکو په دریاب کی

لامبو زن زړه رانه ور ك شوی دوپ په وینه

دمخ هډوکی می ښکاره شول

اوښکی سیلاب باندی راځیغوښی تری وړینه

کله چی یوه پیغله په جبر او زور یوه اتیا کلن بوډا ته ورواده شی او له خپلو خوږو احلامو او خوبونونه بیله کړای شی ،کله چی مساپر مزدوران په لری سیمو کی دستوما نی او رنځ تر څپیړو لاندی دخپلی بدمرغی ناورین احساس کړی او کله چی لویدلی لاولوول شی او له نشتمنی سپکتیا او دبـــی پتی نه را اوچت شوی غمونه دسارایی پووند وواو بزګرانو له غیرت سره لاس ولګوی او دمتجاوز په مقابل کی تعجیـز شی .هماغه وخت لنډیدغمجنو او سیلیو اواوښکو ستوما ن کاروان تـــه د مـــه ورکوی او داد درد ونو غو ږنی کلا ن زموږ دخلکو دسندرې پـر اغ سین ته دیا دونو او یاد ګـــارونو په توګه سپاری .

راشی وگوری ! دازموږ دځوځانو اغزیو او وحشی بوټــوګلان ! راشی وګوری چی څنګه دی «وحشی » ګلانو دپیریو دمتضاد وڅپو په بهیر کــــی خپل لومړیرنګ او بوی ساتلی دی او څنګه یې په شګلنـــــو بیا بانو نو په ښتنو جلګو په زورو نیغو دروکی او دکیږدیو په تور ځنګله کی دتیاری ، رڼا ،دمینی او نفرت پولی سره بیلی کړی دی اودریار ایستو-نکی انسان دمعرفت مهر یـــــی پرلګولی دی :

www.libtool.com.cn

اوښکو دریاب شی ما لاهو کړی

چی زور ورمی له خپل یاره بیلوینه

اوس که راځی وختونـــــه تیر دی

زما دمخ خالونه اوښکـــــو وړی دینه

ګله به راشی په ژونـــــدورګه

زماله مترګونه سپین ځی پرنده به اشمه

هغه آوازونه چی لـــنډ یغارو (آهنګونو) ته سپاری کټ مټ لکه دپښتون ملت تاریـــخ له رنګینی مستی او زوروغمو نو څخه ترکیب شوی دی دچوپو شپوله هیبت نه دسرو غرمو له ګرمی نه اود سپیدود نیلی اسمان له سپین پړاو نه، لـــه مینی نه ، له انتقام نه ،لـــه ویرنی نه ،له ماتی او غرورنه راخوتیږی او دتاریخی بیان په واقعی تصویر کی ځای نیســی ددغو آوازونو غیشی له هری سینی څخه وزی او پر هرزړه نیښ خښوی .

اودهغوی دسویو نارو ا و پر زونکی هیجان په مقابل کی هیڅ پښتون ځان نشی نیولای، خامخا به له دغو آوازونو سره داوښکو لښتی ، دسوزونو اورازونو ،دمینی او ژوند پــر کروندو ودبهوی .

## په لنډیو کی دویاړلو دعنعنی هستونکی

په ښځمنو لنډیو کی چـــی کوم مشخص واحد میلان پرله پسی دلنډیو دتکامل په تو ل تاریخ کی لاتر اوسه دوام پیدا کړی دی هغه دادی چی پښتنی ښځی همیشه له خپل ایډیال نارینه څخه دمیرانی عالی معیارونه غوښتی دی ، دهمدی معیارونو دتلی اوتول په بنیاد د پښتنی ښځی مین ،جانان ،یاراودلدار باید ننګ ولــری ،زړور وی په ښځه (محبوبا ) باندی غیرت وخوری دشرافت، پښتونولی ،میړانی خاوند و ی او د«پښتو» قراردادی ارزښتو-نه پی تمام شوی وی . دغــه تمایل دپښتون اولس دعامیانه هنر په ټولو اړخونو کی څــه ناڅه ځان ښیی دپښتنی فلکلوری روایاتو او افسانو قهرما نان هـ مزیاتره دپښتنو الـه کلــك وګړی ،دعفو ،توری شرا فت او جرات خاوندان وی اوهمدی خصوصیاتو د لرلوله کبله د نجونو دلیونی مینی او نـــه ماتیدونکی عشق وړ ګرزی او دهمدی وړتیا له برکته دپیریو له سمندر نه دافسانو په بیړیو سپاره زموږ دزمانی تر ســاحل پوری را رسیږی .

دپښتنو په فلکلوری سیمه کی عامه مطالعه داخبره پو ره روښانوی چی«فلکلوری پښتنه ښځه» دمینی په کار کی یوازی هغه نارینه ته دوفا لاس ور کو لای شی چی دلوړو انسانی

خصوصیاتو لرونکی وی او د پښتنی میړانی نښی نښانـــی ولری. دلته یو شاعــره نسبت‌هری پلی پښتنی ښځی ته «دغه نارینه» ښه پېژنی اوله هغه ځخه دپښتنی ښځی غوښتنی تربل هر چا ښې طرحه کوی او غواړی یی :

www.libtool.com.cn

ټیراته لاړشه بـــوری را وړه — زما په سپینه خو له به وشی جنجا لونه

سپینی سپوږمی ته شه خو له واخله — دګلا سپوری ته می مه بیا په دار نه

له تورو ځنګ مه کړه جانا نه — ځوانان په سرو تورو وړځی نجونی ګټینه

په چرچوبی کی‌مه پتیـــږ ه — زلمی ښا غلی هد یـــر وخوږ لی دینه

ریبا ره ورشه ور ته وایـــه — که د بدیو زور لـــری در سره ځمه

جانانه وینښ یی که ویده یـــی — ستا تر کوټی می لاس تر لی تیرو ینه

سپینی چړ ی در پسی راغلـــی — چی له یاری می تو بـــه ګارنه شی‌مینه

سبا می ستا په تومت وژ نـــی — ځای د راستی دی چـــی منکرنه شی مینه

جانا نه ودی سوم لمبه شـــو م — زما همز ولی دی بی‌ننګه یاد وینـــه

عالمه راشی مخ می تور کړ ی — ماد بی ننګو یار ی کـــړه وشر مید میـــه

خاوری په تاله خولګی در کړم — په ډال دی نه نښته دمصری توری وارونه

په شځمنو لنډ یو کی دغه عنعنه یعنی له نار ینه ځخه دمیړا نی غو ښتنه د کلو نـو دتیر یدو او د نویو اجتما عـی‌ار زښتو نود راڅر ګند یدو تر پیا وړی جو یان لانـــد ی دوپاړ او حما سی پر لـــور ی‌میلان پیدا کړی او دوپاړو نوعنعنی دلند یو پر خوالار خلا صه کړی ده. زمـا باور دا دی‌چی همدا له نار ینه ځخـــه دښځی له لوری د میړا نی ډیره دوامداره اولرغونی غو ښتنـــه په لنډی کی د ویاړ ونـــو اوحما سی پر لوری د میلان پیدا کولو لومړ نی اوهستو ونکـــی‌پانګه ده .

توره، ننګ، غیرت، جګــړه دپښتنی ښځی له نظره د نـــارینتوب د کمال پاخه پړاو ونه دی د پښتنی ښځی په تجر بـــه موند لی ده چی هغه نار ینـــه کوم چی د پښتو نوالی پــــه معیار ونو کی نه دی عیارشوی یعنی د سیمی او د اولـــس د ننګو ګتو ، پښتو او هوډ ننګه نه کوی ، دروازه ، هد یره او نغری نه ساتی ، میلمه نـــه پالی او د تربره ملانه تړ ی د مینی اعتماد او وفا وړ نه دی. ددی په عکس هغه ځوك چی د پښتنوا لی د پت او ننـــګ ګلك او وفا دار ملګر ی دی د مینی او ملګر تیا لپاره هم وړ او منا سب سړی دی .

دذکر شو یو واقعیتو نـــــو په استناد دا یقین کید ای شی‌چی د ښځمنو لنډ یو هغه برـ خه چی له نار ینه ځخـــــه « میړا نه » غواړی او دمیړانی‌عالی صفات ستایی د تکا مـــل په اوږده پړا سس کی یـــی‌دحما سی لور ی ته تکا مـــل کړی دی .

د پور تنیو د لیلو نو بلـــه پایه دادچی هغه خصوصیات‌او صفا ت هغه چی پښتنـــی ښځی په نار ینه کی ستا یلی‌او دخپل ښځمو نی طبیعت‌تنده‌یی پی ماته کړی د. د پیر یـو په اوږده ځنځیر کی د پښتنی‌تو لنی له عامو ګټو او غـــوښتنو سره هم سمون خوږ لی دی .

دا سمون یو تصادف او اتفاقي جریان نه دی بلکه روښانه منطقي پایه لري او هغه دا دی چې د پښتني ټولنې دتار یخې تکامل د پیچلـــــي واټن په اوږدو کې پښتانه پخپلو کې او همدارازله نورو ملتو نو سره د جګړو یرغلو نو تباه کولو او تباه کېدلو دایمي پیاوړې بهیر لاندې شجاعت، میړاني، غیرت او نورو اجتماعي ارزښتو نو ته په اهمیت قایل شوي دي. په همدې وجه یې شجاع غیرتي او بریالـــي مېړو نه ستایلي دي او هغوی ته یې په ټو لنه کې وتلـــي مقام منلی دی.

www.libtool.com.cn

دی عنعنې ښځمونې لنډۍ دنارینه دمیړانې دستاینې لــه عام ډګرنه دنارینه د توري شجاعت او جنګي قابلیت ستایلو ته تشویق کړی ده او په دې کې لومړ نی فولکلوري حماسې را څرګندې شـوي او وروسته یې د پښتو «دخواصو ادبیاتو» کې هم لار خلاصه کړې ده. په ښځمنو لنډیو کې دویاړنو او حماسي دشته والي لپاره په دې برخه کې د سلهاوو لنډیو عیني حضور کفا یــت کوي.

په وینو رنګ توره دې راوړه — راشه په سرو شونډو یــې زه درپاکومه
په تور ټوپک ویشتلی را شې — چې دغلیم په وینو سره کاندې لاسونه
توکړی توکړي په وینو راشي — چې پرهارونه دې ګنډم خوله درکومه
چې توري وخېژي که یــړه — ما په همزولو پورې دېـــر خندلي دینه
جانان به ولې توره نکړي — تر نیما ئی سنګره زه ورسره ځمـــه
دنتکي لال به پرې خیرات کړم — که مې آشنا په د ښمـــن مات کړل سنګرونه
سبا لا لمر ختــلی نـــه وي — زما جانان سنګر ته ځي اتڼ کوینـــه
غاړه غړي بــه در قربان شم — که دې دجنګ په ډګرو وکړل یرغلونه
که بریالـــی لــه جنګه راغلی — داتورا وربل به له تاجار کړمه مینــه
که په زلمو کې بریالي شوې — قسم مې کړی دیارې لاس درکومه
که تور اوربل مې میراتیــږ ي — په پښتو ننګ دې جانان نه منع کومه

## دلنډیو دتغزلي مانۍ اساسي مضمون

ښځه او له هغې سره ښکلا، مینه، خواږه او ترخه غمونه، بېلتون، ماتې او مرګ دلنډیو دتغزلي مانۍ بنیادي خښتې دي. دپښتون اولس دغمجن او ترخه تاریخ په بهیر کې ورو ورو د لنډیو وحشي ګلونو پرډنډرو باندې داسې حساس شکل پیدا کوي چې دښځې پــــه بڼه د پښتني ټولنې په هستي کـــې دښکلا او غمونو افاده په غاړه اخلي.

په لنډ یو کې د ښځـــــــي موقعیت او دښځې په باره کې خبرې نسبت هغو خبرو ته چې په نورو فولکلوري شعرو نو کې دښځې په باره کې ویـــل شوي دي توپیر لري، نــور شعرونه دخپلو خاوندانو دپټو هوسونو لوبغالي دي مګــر د لنډیو په څپو کې دژونــد مستانه شور آوازونه بولي، داسې آوازونه چې له پرو ن نه راغلي او دسباولاړې اوبه په وخوځوي او تو ټاني به یې کړي.

لنډۍ دانسان دغوږته شويو فريا دونوريښو ته ځان رسوي. لنډۍ له سترو زړونو نه را وتلي دي غمونه يې هم ستر دي. لنډۍ دعشقونو او رنځونو ژبه ده او په تورو شپو کې سندرې بولي، په کلانو کې خاندي، په غوټيو کې سپرېږي او ددښتوله بادونو سره ناځي او ژاړي. په نورو شعرو نوکي زياتره نارينه دښځي له لورې غږېږي او هماغه نارينه دي چې دخپل نظر دفوکس په معيار دښځي ښکلا او نه ښکلا مثبت او منفي انعکاس تاکي. خوپه لنډيو کې که څه هم نارينه دښځې په باب له غږيدو څخه نه دي منع شوي مګر ښځه په خپله هم هلته حاضره ده دځان او نارينه په باب غږيږي او هغه ارمانونه، شکوې او اعتراضونه چې دي دنارينه په باره کې هيڅکله دهغو دويلوحق نه دي تر لاس کړي په لنډيو کې يې وايي او ويلای يې شي. نارينتوب لکه څنګه چې دايي ويني او يايي غواړي، افاده کوي. د ټولو ارزښتونو په باب خپله رايه ښکاروي او پر ښځه باندې د نارينه غير عادلانه تسلط بر بنډ وي او له دې سره غبرګ د ځان په باب هم خبري کوي، خپله ښکلا او ښځمو نتوب (انوثيت) په ښځمو نه ژبه او دښځمنو احساساتو پر توګه بيانوي او متقابلاً د نارينه په باب د هغه د ښکلا ميړانې، انساني ارزښت او پرمنفي خصوصيتو ـ نو با ندې خبرې کوي او ځان د خپلوا کې او ځانګړي رايې مير من بولي او په همدې سبب د ښځي د احساساتو او عاشقانه درکولو په باب د لنډيو ژبه تر هرې بلې ژبې زيا ته ربښتينې او سمه ژبه ده. په لنډيو کې ښځه د نارينه دښکلا د بيان په مورد کې پر ښځو باندې تحميل شوي تاريخي چوپتيا ما توي او مخامخ د نارينه په باب خپل احساسات او جمال خوښوونکې ذوق ښکاره کړی دی:

تر دې کږې پګړې د ې جار شم

تر لې تاده په خيال زه درسره ځمه

هلکه څه ډېر په نخرو ځې

په لويو غرو ځه چې شمله د ې بادوهينه

با ددې پټکي له سره يوسه

چې دا خيالي شنې دې کډې ودې شينه

شنې دې پر يو تې په ورو ځو

پټکې دې سم کړه په زړګي دې وويشتمه

چې په لارځي خولې هواره

د خپلو څو کې لګوې ليونې شو مه

ما ته پر بريتو کې مسکۍ شو

مور يې راوکړه اوس دصبرتاو يزونه

په پور تنيو نمو نو کې د نارينه په هکله د پښتنې ښځې د ذوق او ښکلا خوښوونې د واقعيت او ښکاره لې ځينې اړخو نه او د تصوير جوړولو خاص تکتيکو نه په وضاحت سره ځان ښکاره کوي. ښځه په دې لنډيو کې «کږې پګړې» «شايسته تګ» «پر مخ باندې د شنو خوريدل» «په ورو ځو باندې د شنو چتر» «په بريتو کې مسکا» او داسې نورې مردانه کړ شمې او حالات په نارينه کې دښکلا صفات او د امتياز ټکې بولي ځکه هغه را بر سيره کوي او ستايي يې.

په لنډۍ کې پښتنه ښځه خپل عاشقانه درك او طبعــــــي غریزې ته تمایل او غوښتنی بر بنده وی او د مسلط ـــ واجتماعی هوسو خیال نه ساتی او له هغو حدودو څخه وزی چی د «پښتو نوالی» په وسیله ښځمنو فعالیتو نو ته ټاکـل شوی دی. مثلاً «پښتو نواله» دا خبره عیبجنه بو لی چــی ښځه تو لنی ته د خپلی مینی افاده وکړی اویا د ژونــد د ملګری دټاکلو په باب خپله را یه وښیی. که څینی استثناوی له ستر ګو واچوو ښځـه د پښتنو په تاریخ کی له دنوروآسیا یی ملتو نو په تار یـخ کی ترخه او څور وونکی ماضی نه راتیره شوی ده او لاتـــراوسه پوری هم زیا تی ستـو نزی ګالی، ښځه په پښتونوالـه کی له د کورنی نورمالونه د هغو د شتمنی او میـــــراث یوه برخه ده او فقط د کور نی واکدا ران ( په پیغلتا به کـی پلار په ناو یتوب کی خاو نـداو په کو نډ توب کی د خا وند اولیا او ورثه ) کو لای شــی د هغی د ژوند د اسا سی مسایلو په باب پریکړه وکړی .

ښځه په پښتو نوا له کی دخپلی فر دی ارا دی په اساس د خاوند د ټا کلو حق او دعا شقانه روا بطو دلړ لو اجازه نه لری ، که چیری تصاد فـآداسی پیښه شی چی نار ینـه ښځه وتښتو ی او یا ښځــه په نار ینه غږ وکړی دا یــو جرمی عمل باله شی او لــه « پښتنی » نر خو نو سره سم د پور او پتی موجب ګر زی .

د ښځی په باب د «پښتونوالی » قیود د انسان د آزا دی دعامومنل شو یو پر نسیپو نـو پر معیار خورا درا نه او نهـایت محدود دی . مګر په لنډیو کی دا حدود مات شوی دی او پښتنه ښځه په بشپړه ســر کښنی کی خپلی غوښتنی تمایلات ذوق او عاشقا نـه هو سونه مطرح کو ی او خپل ځانهما غسی ښیی لکه څنګـــــه چی ده :

سرپه کږه څنګله کیږ د ه ـ مخ می را ستون کړه ښکلوه شینکی خالونه.

له ما نه خوب کی خو لګی واخله ـ له پیغلتو به ارمـا نـــــی راغلی یمه

په لاره تلمې اوی ګل پروت وـــ ماد څوانی لو بی پری کـړی تازه می کنه

یار می په توت کی خولګی غواړی ـ زه دښا خو په سروځم خوله ور کومه

دغره لمنه راته نیـــسه ـ زه جینکو سره غا ټو لـــوپسی ځمه

له خوبه ویښ شه څـــوا نیمرګ شی ـ خو لګی می و اخله په باڼه را غلی یمه .

خوله می دشت له لــــوری واخله ـ چـــــی خمــــا ری ستر ګی پــــه څنګ درواړو مه

ټینګه می ونیسه په غیږکی ـ ما د بیلتون په سرو بـــی لمبلی دینه

په ښځمنو لنډ یو کی زلفی، پیکی ، وروځی ، ستر ګـــی ،شونډی ، ملا ، منګو لـــی او تر لی هغه ښلاوی چی د نارینه جنس د جذب او جلــــب سبب ګر زی په لطیفو شاعرا نه توګه او ناز کو افادو کـی بیان شوی دی . ښځه په لنډیو کی فقط ښځه ده او شعـــر د هغی د واقعی روحیی یــــو صادق تر جمان دی . ښځـــه لکه څنګه چی فطرتاً دسینګار لیوا له ده هما غسی په لنډیو کی هم د لفظ او تخیل پرښکلو تر کیبو نو باندی سینګار کوی او هغه دخپل جمال د جاذبو لولپاره بی دریغه استعمالوی :

جانانه جګه درته نه شو م ـ تر پښو می لا نـــــــی شو د زلفو تنا بو نـــــــه

جانانه روغ به لیونی شی ـ که داو ربل دپاسه کیـــږ دم ژیړ ګلو نه

لاس به دی وتړم په زلفــو ـ په لونګین به دی وهم چی مردی کړمه

ستر ګی دی ووزه راته ګوره ـ ترسالو لاندی لکه کـــــل ولاړه یمه



www.libtool.com.cn

یارمی په ټوکه نه پوهیږی    ما په خورو زلفو واهه مرورشو نه
ماز یګر چیری‌وی لوی‌مه شی    خوری وری زلفی پر بـــام ولاړه ومه
سترګی می‌توری په رنجودی    بیا په نخرو دی ځوك لـــه ملکه ورکوینه
www.libtool.com.cn
دسهار باده لړ سوکه ځـه    زه ګاړ ګوتی ښنی تر یا ره‌رسو مـه
زما د زلفو ارما نجنـــــه    اوس یی با لښت کړه پری کوه دناز خوبو نه
جانان په زین‌کی راته کوړشو    د پښو ګوتی لګوم خو لـه ورکو مـه

په دی لنډ یو کی ښځه په‌خپل ښا یست کی ډوبه شوی‌ده ، غواړی چی د خپل حسن د سمندر له تل نه دا سی مـــرغلری راو با سی چی د نارینه ستر ګی پری وبر یښـــوی او مفتون یی کړ ی .

دی ته د پښتون ملت پـــه هستی کی فقط همدا وسلـــه ( ښا یست او ښځمو نتو ب ) دا غیز منی وسیلی په حیـــث‌ور پاتی دی او یوا زی همـــداوسله هغه هم کله کلـــه د مسلط نا رینه په مقا بل کـــی‌استعما لو لای شی . له همدی‌کبله د یوه ښکلی موجود پـه ټوکه تبارزا کو ی خپلی زلفی‌ستر ګی خا لونه ، زنـــــه ،غاړه او پیغلتو ب ستا یـــی او نارینه ددی ښکلا لید لو تـــه را بولی‌او آزمو یــــــــی . نار ینه هم ښځه زیا ته ستا یلی ده حتی ښځه په میړ نیـــو لنډ یو کی د تغزل اسا ســـی‌مضمون دی ، خو د ښځمنـــو لنډ یو ستره ښیګڼه پـــه دی‌کی ده چی په هغو ی کـــی‌ښځه پخپله ځان ستا یـــی . د ښځی په باره کی ښځمو نـــی‌درك بیا نوی او له نار ینـــه سره د تغزلی مانی په بشپړو لو کی مر سته کـــــوی او دښځمو نی شعر ی رنګینی پـــه زیاتو لو ، د نار ینه کار ، د تغزل په برخه کی پرا خوی اوشتمن کو ی یی . ښځه متقابلاً نار ینه هم ستا یی او له خپل ښځمو نی نظر او درك سره سم‌د هغه جمال او کمال تصو یروی . د ښځی له خوا د نار ینه وصف د پښتنی ټو لنی د بیلو بیلو سیمو د اقتصا دی اجتماعی انکشاف د تو پیر او تنوع په اعتبار تو پیر لری او کله کله په ښځی باندی دبیلو بیلوروښا یی عوا ملو اغیزی او د مختلفو تار یخی شرا یطـــــوعوا مل او حتی فر دی تیریدونکی اوضاع داسی اثر کـــو ی چی دلنډیو په عاشقانه ننداړینه ( ۱ ) او غو ښتنو کـــی منطقی تضاد او تناقص‌هستوی لکه په دی دوو لاند نیو لنډیو کـــی :

۱ ) ټینګه می مه نیسه په غیږ‌کی    ستړی ستو ما نـــه له واده راغلی یمه
۲ ) ټینګه می ونیسه پـــه غیږ کی    ما د بیلتون په سرو بــــی لمبلی دینه

دوهـــم مثال :

۱ ) سپینه خولګی بهٔ مـــی‌ونه خوری    که په ښو باندی جاروکړم زیارتونه
۲ ) سوال‌دی په کوم زیارت‌قبول شو    اوښکی می لیپی لیپی ځی خو له دړکو مه

داسی مثا لونه ډیـــر دی .مفصل بحث به په دی باره کی‌ددی لړ مقالوپه وروستیو برخو کی تعقیبوو .

---

( ۱ ) نندار ینه ـ نما یش

## په لنډیو کې د تغییر او بدلون پروسه

ما څو واره د لنډیو تعمیمي کر کتر او هغه عالي خصوصیت واضح کړی دئ چې هغوی ته له راز راز شرا نطو سره د تطابق او پرله پسې نوښت امکان ورکوی .

www.libtool.com.cn

د لنډیو مست او له شوره ډك سین تل د یوی ښېږي ځای بلی ته او د بلی لا بلی ته ورسپاری او په دی توګه د لنډیو رنګین ګلستان او د هغوی د غاړو ( اهنګو نو ) مهیجه او نڅوو نکی سمفو نی له مطلق خزا نیدو ، وچیدو او غلی کیدو څخه ساتی . د لنډیو د سین په ښپو کې توحید شوی ځا ځکی له خپلی چینی څخه تر یو قانو نمند دود لاندی د خپل سفر پر لیکه لارو هی . هغوی د خپل سیر په شکلی ننداره تون کی یو لازمه زمانی فاصله ډکوی او بیا د ننداری له سیمی څخه وزی مګر د ځا ځکو او ښپو په بدلیدو د سین عمومی شکل او منظر ته تاوان نه رسیږی .

سین بیا هم سین دی او بهیږی . د هغه مستا نه سرودونه او پیا وړی ښپی د ژوند په پراخ بستر کی لارو هی اوزموږ د تو لنی مبارز او ستومان انسان ته د عمل او حرکت د دوام په خاطر نوی دمه ورکوی ، هر څو مره چی زاړه غوږ ونه او زړی ستر ګی نویو ته ځای پر یږدی هما غو مره د لنډیو ښپی او ځا ځکی هم خپلو نویو افراد و ته میدان ورکوی . او له همدی کبله د نویو ذوقو نو ، نو یو سامعو او ځوانو ستر ګو له رازیږ - یدو او را څر ګند یدو سره یو ځای د لنډیو د لرغو نی سین په ځا ځکو او ښپو کی هم بدلون او نوښت راځی .

د لنډیو هستی له ځینو جهاتو څخه د ځیړی ونی ته ورته ده چی پاڼی یی یو ځای او یو ځل نه تویږی بلکه تد ریجی پر له پسی او نامحسوس خزا ن پری تیریږی ، لنډی کټ مټ د ځیړی پاڼو ته ورته دی چی له خپلی لویی ونی (دخلکو له حافظی ) څخه یوه یوه او په کراره کراره د باندی وزی او پر ځای یی یوه ، دوی یا زیاتی لنډی د اولس د ژوند پر ډنډ ر باندی راټو کیږی یعنی د لنډیو د لویی ونی له لکو نو پا نو څخه ورځ تر ورځی میا شت تر میا شتی او کال تر کا له یو څو محدو دی تر وخت تیری پاڼی چی نور د ټو لنی د ضرورت او ذوق تنده نشی ماتولای را تویږی اود ژوند نوی پا ڼی ددی لرغو نی ونی پر ځا نګو باندی د ضرورت پر بنا درزید لو پاڼو ځای نیسی او پدی توګه په ونه کی پر له پسی د پا ڼو دتد ر یجی راټو کیدو ، ځوا نیدو ، زیړیدو او مرګ پروسه دوام لری . له همدی کبله دا لرغو نی ونه لا تراوسه پوری هیڅ کله نده لوڅه شوی ښکلی او په پاڼو پټه پاتی شوی ده .

د لنډیو همیشنی شنه ونه چی پرله پسی د لنډیو زاړه افراد تو یوی او نوی افراد زیږوی ( همیشه بهار ) ونه ده او دهغی پاڼی ګلو نه تر یو قا نونمند بهیر لاندی بدلون وده او تکا مل مومی . د دی تکا مل په ترڅ کی د لنډیو افراد په دوام داره توګه نوی کیږی ، زړیږی او زاړه شو ی یی مری مګر د رنځورو لنډیو ځکیر و ی او د مرګ آواز هر څوك نه اوری او نه یی شی اوریدلای .

د لنډیو د زیږیدو او مرګ د چټکتیا او پر اختیا اندازه د ټولنی ، د اجتما عی اقتصا دی بدلون په سر عت او وسعت پوری اړه لری هر څو مره چی اجتما عی اقتصا دی وده ګړ - ندی او انقلابی وی هما غومره د نویو لنډیو درا پیدا کیدو او زړو لنډیو د مرګ او یا بدلون پروسه هم ګړندی کیږی . مګر ددی خبر ی معنی دا نده چی لنډی په

مشخص تار یخي فورما سیون کې په یوه میزان او بې بدلونه پاتې کیږي البته دا یوه اصلي او قانون منده خبره ده چې کله یو اجتماعي اقتصادي فورما سیون بل اجتماعي اقتصادي فور ما سیون ته ځای پر یږدي ، د ټولنې په روبنا یې قلمرو کې د زوړ و انقلابي بدلو نو نو او تغییراتو لپاره زمینه برابر یږي . خو دا حتمي نده چې په اجتماعي سیمه کې دې ټول تغییرات حتی سطحي او جز وي تغییرات دې موازي یوازې هغه وخت منځ ته راشي چې یوه تاریخي مرحله بلې تاریخي مرحلې ته ځای پر یږدي .

www.libtool.com.cn

زموږ تو لنه د فیوډا لي - اجتماعي اقتصادي فورما سیون په تار یخي مرحله کې له بودایي او زرد شتي دینو نه ږخخه د اسلام دین ته رااوښتې ده او همدا راز د دري شعر په ساحه کې د فیوډالي مناسباتو په دوره کې خرا ساني سبک عراقي ته او عراقي سبک هندي سبک ته خپل ځای پرې ایښې دی چې هر یو یې د شکلي خصو صیاتو په لحاظ له نورو سره توپیر لري . په همدې اجتماعي اقتصادي فور ما سیون کې د ملتو بې ادبیاتو داسې کومه نوع او مکتب نشته چې د دې مشخص تار یخي مرحلې له پیل نه دې تر پایه ثابت او بې بدلونه پاتې شوي وي . د فلکلورتو لو بر خو خصو صاً لنډ یو په دې مشخص دوران کې دراز یږ یدو له وخته بیا تر نن پورې د یو رو بنا یې تابع جز په حیث پر له پسې تغییر مو ندلی دی . په دې مشخص فور ما سیون کې ډیرې لنډ ی هست شوې او ډیرې نشت شوې دي .

نوې مضمو نونه او بکر مفا هیم لنډ یو ته ننو تي او ډیر زاړه اصطلا حات او لغات او ژبني علایم له لنډ یو څخه لوید لي دي او پر دې برسیر ه هغه لنډۍ چې مد لول بها یې له مینځه تللی او یا د خلکو له نظره لو ید لي دي په خپله هم هیرې شوې او مړې شو ې دي . په دې جریان کې د ځینو لنډ یو د ساقطیدو پرو سه اوږده شوې او تر قطعي مر گ پورې یې اوږده لاره وهلې ده . په همدې ردیف کې په قوي احتما ل هغه لنډۍ شا ملې د ي چې د لنډ یو هستو ونکو او یاد غاړو د ایجاد گرانو اخلافو د هغو په لو مړ ی یا دو همه فقره کې تغییر راوستی دی او د اصلي لنډۍ یوه مهمه برخه یې غور ځولې ده ، مثلاً لاندې قبر کې لنډۍ به وگورو چې وایي :

زما دزړه صدف دې مات کړ — ځکه مې وینې په سینه وهي مو جو نه

زما دزړه صدف دې مات کړ — زه به تر ستر گو مر غلرې تو یومه

( پښتني سندر ې - لومړی برخه مخ ۱۷۷ - د چاپ کال ۱۳۳٤ ) کا بل

پدې دوو لنډ یو کې چې واحده لو مړې مسرې لري یوه خامخا تر بلې مخکې ویل شو ې ده او دوهمې لنډ ی خپله لومړۍ مسرې له هغې نه اقتباس کړ ې ده . دا احتمال ډیر کمزور ی دی چې دواړه لنډۍ دې دو وبیلو شاعرا نو په عین وخت کې ویلې وي او که چیرې دغه محال فرض ددې دوو لنډ یو په باره کې ومنو نو دغه دوه لنډۍ خو به خپل نوع کې یوانځنې دوه جوړې شوې لنډۍ ندي بلکې داسې لنډۍ ډیرې دي چې دوه دوه دري دري او حتی څلور یا تر هغو لا زیا تې په لو مړي یا دوهمه فقره کې سره یو دي لاندې یني مثا لونه به ددې مدعا د ثبوت لپاره وگورو :

په دغو مثا لو نو کې د لنډ یو څو جلا گر وپونه چې لومړۍ فقره یې سره یو شان دل شوي دي . لومړی مثال :

قلم به مات گوتی په پریکړم کا غذ، تا که اشنا ونـــــه ژړا ونه
قلم به ماتگو تی به پریکړم په وینو رنګ کا غذ به یار لره لیږمه
« پښتنی سندر ی ـ لومړی برخه ( ۳۳۱ ) مخ »

**دویم مثال :**

www.libtool.com.cn

که دنیایی شرمو نه نه وای تا به منګی وړای زه به تش درسره تلمه
که دنیا یی شر مونه نه وای قسم دی یاره په جو پـــــه درسره تلمه
« پښتنی سندری ۲۳٤ مخ»

**دریم مثال :**

که دیارغږ را باندی وشـــو د لاس بنګړی به ورتـــــه زیری ورکومه
که دیار غږ رابا ندی وشی مال به خیرات کړم سر به زیری ورکو مـــه

**څلورم مثال :**

که دیدنګری تلوارپری وکړه د نږ یدلی پاڼ په ســـرو لاړه یمـــه
که دیدنګری تلوارپری وکړه د بیلتانه کار وان راځـــی قیامت به شینه
که دیدنګری تلوارپری وکړه پرمخ می شال د بیلتا نــه وغوړ یدنه
که دیدنګری تلوارپری وکړه ختی ئی کری کندو و نـــه پندو ینـــه
که دیدنګری تلوارپری وکړه کښتی غر قیږی پر تختـــه ولاړه یمـــه
که دیدنګری تلوارپری وکړه دم کری خاوری می په سترګو دوړو ینه
( پښتنی سندری ۲٤٤ مخ )

**پنځم مثال :**

ګلاب لاګل ندی غو تـــی ده بورا پری شپی سبا کوی‌چی ګل به شینه
ګلاب لاګل ندی غـــو تـــی ده بورا د صبر درواز ی نیـــو لی دینـــه

**شپږم مثال :**

یو ځلی بیا په دی لار راشه پر پخوا نو لارو دی پر یـــو تـــل ګردو نـــه
یو ځلی بیا په دی لار راشه زما جانا نه چی دی وکـــړم‌دید نو نه

**اوم مثال :**

تبی را واخلی مخ راتورکړی ما دکم اصلو یار ی کـــړه وشر میده مـــه
تبی را واخلی مخ راتورکړی دپا چا لوروم پر طا لــــب‌مینه شو مه
تبی را واخلی مخ راتورکړی چی په بی نیاز و پسی تلـم‌پښیمانه شومه
(پښتنی سندری ٥۱ مـــخ )

پریاد وشو یو مثالو بر سیره‌چی په لومړی مسری کـــی دلنډیو د ځینو ګرو پو نــــو، یو والی ښیی داسی لنډی هم شته چی په دوهمه مسری کی سره یو شوی دی لکه لاندینی نمونی .

**لومړی نمونه :**

سترګی دی دواړه را نږدی کړه چی په ژړا شی مرغلری تو یو ینه
(پښتنی سندری ۳۲۳مخ )

تر خماري ستر گو دې جار شم

عالمه سترگو ته يې گور ې

**دوهمه نمونه :**

که تومتو نه چيرې نه واى

کهدنيائى شرمونه نه وا ى

**دريمه نمونه :**

له ملکه ځمه خولگى را کړه

نامردي يو ځلـى خوله راکړه

**څلورمه نمونه :**

خاورى به تاله خولگى درکړ م

هلکه خداى که به خوله درکړم

**پنځمه نمونه :**

هرناپسنده بـه دې يـو سم

هلکه هر ناز بـه دې يـوسم

**شپږمه نمونه :**

يارمى سوريږي روانيـږ ي
يارمى په زير مازيگر درومى
يار مى د اور گا ډې ته خيژې

يو ځلى توره لنگـى وکړه

يو وارى توره لنگى و کـه

**اوو مه نمو نه :**

يارمى دتلو شپلى په پښو کړې

يار مى دکو چ نغاره و کـړه

چى په ژړاشى مرغلرى تويوينه
(راديو افغانستان )
چى په ژړاشى مرغلرى تويوينه
(پښتنى سندرى ۲۲۲ مخ)

قسم دې ياره په جوپه درسره تلمه
(پښتنى سندرى ۲٤۱ مخ )
قسم دې ياره په جوپه در سره تلمه

مدام به نه وى ستا ځوا نىزما سوالونه
(دپلخمرى په ولسوالى کې ثبت شوى ده )
مدام به نه وى ستا ځوا نـىزما سوالونه

په ډالدى نشته دمسرى تورى‌وارونه
(پښتنى سندرى ۸۹ مخ )
پرسردى نشته دمسرى تورىوارونه
(پښتنى سندرى ۲۷۹ مخ)

په يارانه کى دى شريك نـه قبلومه
(پښتنى سندرى ۲۹٦ مخ )
په يارانه کى دى شريك نـه قبلومه
(پښتنى سندرى ۲۹۷ مخ )

پر مااوريږى دسکروتو بارانونه
پر مااوريږى دسکروتو بارانونه
پر مااوريږى دسکروتو بارانونه
(پښتنى سندرى ۳۰۱ مخ )
بيا که شرى په سرکوى ياره دى يمه
(پښتنى سندرى ۳۰۲ مخ )
بيا که شرى په سرکوى ياره دى يمه
(پښتنى سندرى ۳۰۸ مخ)

زرگى مى ريږدىاوس به واخلى قدمونه
(پښتنى سندرى ۳۰٦ مخ )
زرگى مىريږدى اوس به واخلى قدمونه
(پښتنى سندرى ۳۰۲ مخ)



www.libtool.com.cn

دمثالونو ژبا توالی په خپله ښیی چی ددی فقرو یو والی یو تصادفی شاعرانه توارد ندی .بلکی ددی راوړل شویو فقرو معنی دا ده چی دهر مثال او هری نمونی دګروپ په لنډیو کی یوه لنډی تر نورو پخوا ویل شوی وه .دوهمه ـ دریمه ـ څلورمه او نوری لنډی وروسته را پیدا شوی دی .

www.libtool.com.cn

دوروستیو لنډیو شاعرانو دلنډی لومړی برخه راخیستی ده او دلنډی دوهمه برخه یی حذف کړی او په خپله یی له خپل ذوق او غوښتنی سره سمه هست کړی او وراچولی دی .

ددی تصرف لپاره د پـــر علتونه اټکل کیدای شی مثلاً دلنډیو دهستوو نکـــو د ذوق توپیر د اجتماعی موقف توپیر ددودونو او اجتماعی دو د ونو توپیر ، دزمان توپیر ،د عمومی ټولنیز انکشاف توپیر ،د کلی او کیږدی فقر او رفاه، دسویی او دطبیعی محیط توپیر اوداسی نور ددی سبب شوی دی چی دلنډیو په دوهمه مسری کـــی لاس ووهل شی او ددی منل شوی علمی اصل په بنا چی انسان دخپل مادی محیط مخلوق او د هغو طبیعی او اجتما عی مظاهرو بیا نوونکی دی چـــی ددی یی را چاپیر کړی دی پـــه پخوانی لنډی کی لاس وهـــی او هغه دخپلی مشاهـــدی او تجربی او روحی غوښتنو دبیان چوپړته را کاږی .

په یو مشخص اقتصادی اجتماعی فورما سیون کی دننه هم د استثمار کرو او هـــم د استثمار شویو طبقاتو دمختلفو قشرونو خپل منځی فر عـــــی تضادونه پرله پسی عمل کوی او ددائمی هنری او ادبـــی بدلونونو او نسبی ودی سبب ګرزی نو ځکه دخلکو دشعرو دغه ستره برخه هم (سره له دی چی لنډی په عمومی توګه دزیاتو ایستونکو شعـــر دی )د طبقی د داخلی تضا دو نـــــو د کشمکش یوه فعاله عرصه د او دتکامل دناموس دعام اصل دمتابعت سره سره نسبت هر بل پښتو فلکلوری شعر تـــه دخو ځند توب او تحول ترډیر فعال ډاینمیزم لاندی تغییـــــر او رشد کوی اوکولای یی شئ او داځکه چی لس هاوو زرو کسانو دلنډیو په هستولو کی برخه اخیستی او دکوم چـــا فردی کلکسیون ندی . ســـره له دی چی ټول فلکلوریـــــک (عامیانه )اشعاردغه خصوصیت لری مګر دلنډیو لنډ والـــی، سهولت روانی او زیات رواج دلنډیو شاعران ډیر زیات کړی دی او دلنډی دعمومیت لمنه یی تر هربل فلکوری شعر زیا ته پراخه کړی ده .ما هیڅ داسی پښتون ندی لیدلی چی پـــه پښتنی ټولنه کی لوی شوی او وسیدلی وی او څو لنډ ی یی نه وی زده اویا دلنډیو په غاړو باندی یی خوله نه وی خوځولی .

مګر داسی پښتانه ډیر دی چی چاربیتی بابولالی اوکوچیانی غاړی یی نه دی زده ،دنړی هیڅ فلکلوری شعر درواج او پراخوالی له کبله له لنډ ی سره نشی مقایسه کیدای ، لنډی یعنی د پښتون ملت د مجموعی هیلو ،عواطفو ،کرکو،ښیګڼو او بد یو تر ټولو غنی باوری او اصیله پانګه دلنډیو همدغه تعمیمی خصوصیت دی چی هر پښتون دهغی دناپا یه او غنی پانګی په قلمرو کـــی ځان دواك ،تصرف او ابتکار وړ او مستحق بولی .نو ځکه هماغه ټول کسان چی لنډ ی هستوی او ددی لاړی د پراخ واټ مسافر دی خپلی هیلی ، هوسو نه ،عشقونه او ایډیالونه دلنډیو څپو تـــه ورا چو ی او دپخوا نیولنډیو په فقرو کی تصرف کوی مګر دا تصرف دخپری دپانی منفرد خزان ته ورته دی چی بله پانه یـــی ځای نیسی .نه دنوی تولد اونه د زړی مرګ ،دچا جد ی توجه وراړوی . دا دراتلو او

تلو دزېږېدو او فنا کېدو دایمي جریان دئ خو بې چیغو او ساندو خپل منزل ته ورو درومي .

دلنډیو په لومړیو او دوهمو فقرو کې دخلکو دپرګنو دایمي تصرف او فعالیت دلنډیو دتاریخي تطور او بدلون یوه منطقي ،دایمي او ثابته پروسه ده چې دیو ژوندي واقعیت په حیث دلنډیو دبدلون ، رشد او تکامل یو پروفیل ښیي .

دبدلون تغییر او تکامل تر قانون لاندې لنډیو پر له پسې خپله بڼه اړولې ده او دجامعې دضرورت او انګیرنو مطابق یې بدلون موندلی دی .

دلنډیو دویونکو داخلافو له خوا داسلافو په لنډیو کې لاس وهل دهغوی لو مړ ی یا دوهمه فقره بدلول او یا پېنې فقرو کې دننه یو څه بد لون راوستل دیوې طبیعي استحا لې جریان دئ چې دلنډیو تدریجي بدلیدل ښیي . هغه مثالو نه چې ما مخکې وړاندې کړل دهغو لاس وهل شویو لنډیو نمونې او مثالونه دي چې لا تر اوسه خپل استحالوی دوران تیرو ي خو په یقین سره داسې لنډۍ هم په تیرو وختونو کې رواج وې چې دپر له پسې بدلون له کبله له منځه تللې دي . په مشابهو لنډیو کې دتوپیر شته والي ددې معنی نه لري چې هغه به حتماً اوخا مخا دلنډیو دظهور او افول دتاریخي قانون مندۍ دلیل وي .

کله کله پدې فقرو کې توپیر او بدلون دمحلي او قبایلي یاداسې نور وتوپیرونو او ملحوظاتو په رعایت منځ ته راځي او قانوني عمق نلري مثلاً په دغو دوو لنډیو کې :

یارمې دخوست زه دتیرا یم

خدایه خوست وران کړې چې جوړه تیرا له ځونه

یار مې د کوټ زه دتیرا یم (پښتني سندرې ۳۰۱مخ )

خدا یه کوټ وران کړې چې جوړه تیرا ته ځونه

( پښتني سندرې ۳۰۲مخ )

پدې لنډیو کې یا (خوست) د ( کوټ ) ځای نیو لی یا ددې په عکس . خو پدې راز تصرف کې د لنډیو د هستوونکو محلي تما یلات داخل دي او د داسې تر میمو نو په لړ کې د ناسخ او منسوخ د نوې او زاړه دراتلو نکي او تلو نکي د تسلسل قا نو نیت نشي مطالعه کیدای . دا دوه لنډۍ ډیرې دي چې خلکو داصلي لنډۍ په اعلا مو او نو مو نو کې بنا پر خپلو محلي تما یلاتو بدلون را وستی دی او دغه راز بدلون د لنډیو د مرګ او ترک کیدو په چټکولو او حتمي کولو کې اغیزه نه لري . ځینې داسې لنډۍ هم شته دي چې سره ورته مضمون لري خو الفاظ او ترکیب یې تو پیر ښیي . یعني داسې توپیر چې په محلي ، قبا یلي او اجتما عي مشخصا تو پورې اړه نلري بلکې داسې ښکار ي چې داتو پیرو نه دلنډیو دشا عرانو دذوق ، ادبي سلیقې او ذهني انګیر نو څخه را پیدا شوي دي. او دا تغییر او بدلون که څه هم د بشپړې فقرې ( مسر ۍ ) تر بدلون محدود او جزوي دی مګر د لنډیو دتاریخي او نه درید ونکي تحول دپرو سې یو جلوه اټکل کیدای شي . لاند ینی مثا لو نه ددغو لنډیو نمونې دي :

**لومړی مثال :**

ما به د تا کبر کړی خــوا ره
چي سر دی یو شملـــی دیدوه پری ایښی دینه

www.libtool.com.cn

مولا دی د اکبر زوال کــړه
پټکی دی یو شملی دی دوه پری ایښی دینه
( پښتنی سندری ۳۲۷مخ )

**دوم مثال :**

نه ښنو ریدای نه پریو تایشــم
تا وکړی غشی می د یـــارخوږلی دینه
( پښتنی سندری ۲۸۷مخ )

ولاړ یدای نشم عا لمه
تاوکړی غشی یی په ښنــو ویشتلی یمه
( پښتنی سندری ۲۹۳مخ )

**دریم مثال :**

نصیب تقد یر ته ګناه‌نشته
بخت چی کوته شی تندی تل ټکری خورینه
( پښتنی سندری ۲۸۲مخ )

عا لمه ماته ګناه نشتــــه
بخت چی کوته شی پاچاهان ټکری خوږ ینه
( پښتنی سندری ۲۲۳مخ )

**څلورم مثال :**

صورت می تول ذری ذری دی
یاره قدم راباندی یږده چی کو شیر شمه
صورت می تول کوپی کوپی دی
ستا د ښنو غشو وژلی یـــم مینــــه
صورت می تول موږی موږی دی
تا دښنوپه اشار ووهلی‌یمه
صورت می تول د زهـــر ودك دی
زه‌منګری موزی پر زړه خوږلی یمــه
صورت می تول په وینـــورنګ دی
د زړه په سر می کار ګــا ناست غوښی می خورینه
( پښتنی سندری ۲۱۷مخ )

په لنډ یو کی د ښکـــــاره تغییرا تو له مطا لعی او مقایسی نه دا نتیجه لاس تـــه راځی چی لنډی د هر اړ خیـــزواجتما عی موثر اتو د عمل پـــه نتیجه کی خپل مضمون بد لوی او د پر له پسی تطور له کبله نوی کیږی .
د لنډ یو تطوړ او بد لـــون‌مختلف عوا مل لری لکـــــه اجتما عی - اقتصا دی تحولات، لیږ دونه او مها جر تو نــه ،ایډ یا لوژیك عوا مل دهمسایه ژبو اغیزه او د بیلا بیلو لهجو

د اصطکاك پروسه ، تجارتي روابط د صنا يعو انکشا ف ،د تخنيك ترويج او پر مختګ اوپه کلي توګه د اجتماعي خو ځند توب پروسه . په لنډ يو کي د ژوند او پا يښت زمان يوبرابر ندی ، ځيني لنډی کم عمر کوی او ځيني څه اوږد يا ډير اوږد .

www.libtool.com.cn

د لنډ يو د عمر اوږ دوا لي په هغو مفا هيمو پوری اړه لري چي لنډی د هغوی رسالت او دعوت په غاړه اخيستي دی . مثلاً کله چي د کو چي توب ژوند پای ته ورسيږ ی په باوري ډول به هغه لنډی چي د کو چيا نو ژوند او غو ښتني بيا نوی په بي مدلوله قالبو نو باندی بدلي شي او په نا چاری به د مرګ او هيری په لوری لاړی شي . تاسي داسي فرض کړی چي کو چيتوب له سره وای نه ، نو څنګه کيدا ي شي کوچيا ني لنډی دی منځ ته را شي ؟ ( کوچيتوب په خپله د کوچيانی لنډ يو د ژوند واقعي سرچينه ده . کو چيتوب د لنډ يو دپاره ندی هست شوی بلکي دالنډی دی چي د کو چيتوب د مظا هرو دبيان لپاره هست شو ی دی اوداسي نور . )

همدا راز په ځينو حقو قي کودو نو پوری مربو طي لنډی دهما غو کودو نو له زوال سره يو ځای او يا څه ورو ستــه نشت کيږی مثلاء دولــور ، دنجو نو د بدلانه او د کو نــډو د اجبا ری ودولو په دو دونو پوری ويل شوی لنډی دهمدی دودو نو او مو سسو له زوا ل او فنا کيدو سره پر له پسي د خلکو د پر ګنو له غا ړو اوسندرو څخه هم لو بيږ ي .

په لاندی لنډی کي ويـــل کيږی :

زه به دی مور ته زاری وکړم

پلار دی ظالم دی دولور تمه کوينه

( پښتني سندری ۱۷٦ مـــخ )

په دی لنډی کي په ښکاره د پلار استبداد او دولور بيان شوی دی . کله چي تو لنــه ولور منسو خ کړی او دومره مهذبه شي چي نجلي په خپل واك د ميني شريك و ټاکلــی شي پور تني لنډی بی مفهومه کيږی او هغه نسل چي دولور او والدينو له فشار څخــه آزاد شوی وی اوزموږ د زمانې جبرتر فشار لاندی نه وی دهغي په اور يدو به نه متهيج کيږی او هيڅ کله به لکه زموږ د پيړی وګړی په سندرو اوغاړو کی دغه لنډی نه بولـــــی.

له هغه ځايه چي د لنډيو مضامين او مفاهيم مختلف دی په طبيعي توګه هغه لنډی چي مضمون يی د تو لني د قانو نمندی پر بنياد اوږ د عمــــر لری په خپله لنډی هم اوږد عمر نوی او لری نــه ده چي لس کونه پيړی او زرګو نه کاله ژوند وکړی .

زما خپل باور دادی چي د لير يکو لنډ يو هغه چي خالص عشقي عواطف بيانوی اودانسان د غريزی پر ډيرو ژورو جرړ و تکيه لری تر نورو لنډ يــو زيات پايښت کوی او ښا يی د انسان د هستي تر پايــه لار ووهی مثلا دغه لاند يني لنډی :

زما د زړه په بازار جنګ دی

زړ کی مي ريږدی و ا ر خطا ولاړه يمه

(پښتني سندری ۱۷۷)

**يا دغه لنډی چي وايي :**

زما په زړه دی بانه خښ کړه

ستر ګی په و ر و پو ر تـــه کوه نامردی مرمه

البته د ا امکان شته چی‌په لنډی کی د احساس او مینی‌مرکز له زړه څخه دماغ ته ولیږدی او یا پرزړه با ندی د بنو دخبنید و مفهوم خپله عاشقانه افاده یعنی دغه اوسنی مروجه افاده بدله کړی . مگر ددغو لنډیو عام مضمون به‌چی‌د نارینه اوښځی ذات البینی عاشقانه جاذ به بیانوی ، ډیر لری مستقبل ته لاروو هی او دهمدی د لیل
www.libtool.com.cn
پر بنیاد په کلی توگه دهغو لنډیو عمر چی د انسا ن د غرایزو د انعکاس له بیان سره اړیخ لگوی او ږ دو ی او په همدی وجه باید حکم وشی چی دغه راز لنډیو په ماضی کی هم زیات عمر خوړلی ا و باید ترټولو لرغونی اوپخوانی لنډی په همدی ردیف کی واقع وی.البته دا ددی‌معنی‌نلری‌چی ټولی عا شقانه لنډی به پخوا نی او لر غو نی وی ځکه چی لاتر اوسه د مینی او وصال، دبیلتون او مرگ چینه همغسی لکه زرگونه کاله پخوا په زوږ او شورد انسا نی ژوند له ژور تل څخه را خوټیږی . د هغی ټولنی انسانی پرگنی چی د طبقاتي تضاد له رنځ او عذاب څخه آزا د ی شوی پرگنی غنی نیکمرغه او د مطمئن وجدان لرونکی‌پرگنی وی .

زړه زیربنا او له هغی‌نه را زیږیدلی زاړه منا سبا ت به نشت شوی او د خلکو له ژوند او وجدان نه به‌رټل‌شوي وي . مینی اوښکلا به نوی بڼه ،نوی تعبیر اونو ی لوری پیدا کړی وی د خلکو د شعر په ونه باندی به ډاسی رنگین اوړنگین گلان‌زرغو نه شی چی عطر او موسیقي به يي بشریت د واقعی‌ښایست پړاوته ورسوی د ورور گلوی صداقت او سړیتوب وا قعـی روح به انسان دطبقا تي‌ټولنی له کر کو د ښمنیو اوخود‌غرا-هیو څخه خلاص کړي د دایمی سولی او نه زوا لید و نکـی مینی جرړی د انسان په پلو اور گو نو کی‌وځغلوی ،ددغسی مستقبل له زیری سره زموږ د(غمجن نسل)وظیفه لاهم دریږی موږ ما مور یت لرو چی دغمجن بشر یت د دورا ن د دردو نو او ر نځو نو صادقانه انعکاس هغو بریالیو او نیکمرغو نسلونوته ورورسوو چی دغم رنځ او محرومیت له انگازی او موزیك سر ه نه وی آشنا اوله تیر دوران سره به د بیگا نه کیدو او قطعي جلاکیدو تر خطرلاندې وی .

## لنډۍ د ښځې د تاریخي ، اجتماعي موقعیت صادق ویندوی

په آریایي قبایلو کې دستي عنعنه پرښځو باندې د نارینه د جبروت او تادا په تاریخ کې تر ټولو زړه بریښوونکې او ضد انساني تادده.

www.libtool.com.cn

د (ستي) د دود له احکامو سره سم به هره کونډه ښځه د خاوند له مړي سره یو ځای ژوندۍ اورته اچول کېده، په ځینو رو لرغونو مذهبونو کې د مړي د سوز ولو پر ځای د خښولو عنعنه دو دوه ، هغوی به ښځه دخاوند سره ژوندۍ ګورته سپارله ، دې عنعنو «غالباً» په هندي آریایي قبایلو او عشایرو کې زیات دوام کړی دی .

د پښتو په عامیانه شعر کې بیا په تیره په لنډیو کې د ( ستي) د لفظ او دود انعکاس او پراخ استعمال دا اټکل مینځ ته راولي چې د پښتنې ښځې لرغوني میندې هم (ستي) شوې دي او د دې ضد بشري منسوخ دود رنځ یې ګاللی دی .

په لنډیو کې ویل کیږي:

ډېرک شي بیلتونه غمزرغونه ‌ ‌ ‌ سوی دا غونه را کوی ستي دې کړمه
ستا په یارۍ کې تومتي شوم ‌ ‌ ‌ په اورستي شوم څوک مې خواله نه راځینه
ګودر دې ونیو تو متي شوم ‌ ‌ ‌ په اورستي وای تومتي مه وای مینه

د (ستي) کیدلو او ژوندي خښېدلو احکام یوازې او یوازې ښځې ته اړم وواو نارینه د دې احکامو محکوم نه وو . په ور و ستیو پیړیو کې د (ستي) کلمې له عامیانه ادبیاتو نه د خواصو ادبیاتو ته لار کړې او خصوصاً د غزل په قلمرو کې د خوشحال ختک نه راپه دې خوایي زیات مورد پیدا کړی دی .

په همدې توګه د ښځو په ژوند پورې ځینې مربوط جریانونه او اجتماعي احکام چې د شپو او ورځو د وحشي او هیر وونکي سین له څپو څخه بچ شوي او موږ ته را پاتې شوي دي د و مرېرېن دوو نکې دي چې زموږ د پیړۍ وجدان لړونکی او مهذب انسان حتی د هغو د تفصیل داوریدو جرات نه کوي . د ښځې د ترخه ژوند تاریخي او د هغې د غمونو او ژړاوو داستان د ومره اوږد دی چې دلته ور باندې نښتل د دې بحث نه د وتو او د دې بحث له سبک او کر کتر څخه د لرې کیدو زیان پیدا کوي. خو کوم واقعیت چې د ښځې او سني اجتماعي دریز او تاریخي حقیقت یې په کلکه ثبوت کوي او په دې ارتباط باید و څیړل شي هغه د ښځې غمجن اجتماعي موقعیت د ی . افغان ملت په تاریخ کې یوازې لنډۍ د دې موقعیت او غمجن تقدیر سمه درجه بندي کړې او دا مسوولیت یې په غاړه اخیستلای شي چې د دې تر اژیدې غم لړلي داستان د مسلط نارینه د پېربو له سیمې څخه ګام په ګام را تلونکو نسلو نو ته چې هلته ښځه له نارینه سره برابر واک او قدرت پیدا کوي ولیږدوي .

هغه پیچلې لاره چې «ښځې » له یوې تاریخي پوړۍ نه بلې پوړۍ ته پرې کړې دا یوازې په لنډیو کې په ساده او ښتینه ویه توګه ځان څرګند وي او له ورا یه ښیي چې د زماني هرې شېبې هغې ته دخپل اجباري سیر الزامي لوري ور کړی دی .

که د لنډیو ژوره څیړنه او تحلیل وشي، د تو لنې د تاریخي تکامل په بیلو بیلو پوړیو کې د پښتنو میرمنو د اجتماعي موقعیتونو او د دې موقعیتو نو د څرګنوالي د دقیقي درجه بندي په هکله ډېره مرسته کولای شي.

په لنډیو کې لا تر اوسه د ښځې د محکوم او ذلیل اجتماعي موقعیت څخه راز یږ ید لي فریادونه او ناري له لرغو نو څخه پخوا نیو ته او له پخوا نیو څخه موږ ته را رسیږي او

لکه نری رنځ دپښتون ملت دحافظې په پیچو مرکې له یوه نسل څخه بل ته او له بل نه بل ته لیږل دي او دزمان دنا اتجل شویو پولو پر لوری وربهیږی، پر ښځه با ندی اجتماعی جبر بر بنده وی او د نارینه په مقابل کی د هغی لویدلی مقام او کمزوری دریغ بیانوی او له ښځی سره مرسته کوی چی طبیعت او انسان ته دخپلو ناپایه غمونو او لا علاجه دردونو نا ری او دخپل ښځمنتوب رتل شوی ار ما نو نه ور واوروی.

www.libtool.com.cn

دبیلتانه دباز په پنبو کی نری نری فریاد کوم غو ښی می خورینه
بیګاداو ښکو په دریاب کی لامبو زن زړه راځخه ورك شو پر به وینه
زماد زړه بازا ره وران شی په تاکی بله سودانه شته بی له غمه
زما دسوی زړه له تاوه په ځنګل او رو لګیده سوځی ګلونه
سبا می بیاد کړو واردی په سر به پنډی چلوم په زړه غمونه
که دیدن کړی تلوار راوکړه بیړی دو بیړی پر تخته ولاړه یمه
په ژړا نه ژاړم عالمه زه له زخمی ستر ګو غمو نه تویومه
جانانه څنګه دی برباد کړم دخپل زړګی وینی می وړی ماډو بوینه
زما داو ښکو سره بارا نه دزړه دوینو رنګ لری رسوا دی کړمه

## په ښځمنو لنډیو کی د موزیګی پرضد دښځی اعترا ض

دپښتنی ښځی له ویراودردو نه ډك ژو ند هغه وخت دخپلی بد مر غی او مصیبت ورو ستی پړا وته رسیږی چی په غبر ګو نی ستم سربیره حتی دخاو ند دتا کلوحق هم له لاسه ور کوی پښتنه ښځه دجهان دټو لو ښځو په څیر داحسا س، وجد ان او ذو ق میر من ده او د ښکلی ، ناښکلی ښه او نا ښه منا سب او نا مناسب له پاره معیار ونه او قضا وت لری . خو دفیو ډالی او ما قبل فیو ډا لی شرا یط چو کاټ هغه ته ددی موقع نه ده ورکړی چی دخپل وجد ان حکم او قضا وت دخپل ژوند په عمل څرګند او اغیز من کړی نو د خپلو لنډیو ( ښځمنو لنډ یو ) یوه مهمه برخه د « نارینه سا لاری » پر ضد او د ښځی د اوږده اسارت او بی واکی د بیان په باره کی را یی او په بیلا بیلو موا ردو کی ددی نا روا ( سا لاری ) دافشا کولو او رسوا کولو له پا ره خاص اصطلا حات او سمبولو نه استعما لوی او په دی وسیله د آزا دی او ځان وا کی پر لو ری دخپلی تندی او تلو سی افا ده ښیی .

دد غه مصطلحا تو له جملی څخه یو هم د« مو زی »او«موزیګی » کلما ت دی . دا سمبو لو نه په لنډ یو کی دبی غیر ت ، بی حیثیت ، نامرد ، بی شرم، بی حیا ، ناارن بی پښتو ، بی وجدان ، بی انصا ف ، سو کت ، دسیسه کار ، شیطا ن او چغل نارینه په معنی استعما لیږی او زیاتره په ښځمنو لنډ یو کی ندرتاً په میړ نیو لنډیو کی هم دا ستعما ل موا رد لری . په ښځمنو لنډیو کی د(موزی) په کلمه کی د پور تنیو مذمو مو صفتو نو اطلاق په هغو زمانو او خاوند ا نو باندی کیږی چی پیغله یا میر من یی هیڅ راز رو حی توا فق نه ور سره لری مگر یوا ځی په پښتو او پښتو نوا له کی د نار ینه دیوا ړ خیز منل شوی استبداد له عنعنی سره سم ښځه مجبوره شوی وی هم ددی نا منلی منفور او کر غیړن زوم یا خا وند ته ور کوزده او واده شی او ددی دوړ فطرت

ځیرن « نار ینه سا لاری » بی له عذراو حیلی ښځه ومنی او خپل ټول طبیعی او نا ایلیدونکی غو ښتنی او ار ما نو نه دده پښو تــه وروغور ځوی په هغو ښځمنو لنډیو کی چی د ( مو زی ) او ( مو زیګی ) پــرضد ویل شوی دی دمحکو مــی او اسیری ښتنی میر منــی نها یت نفرت ، بیــز اری او حسر ت انعکاس مو می او په عمو می تو ګه ( دپلارو ا کی ) دسیستم دپا ته ښو نو ضــدانسا نی اود وحشیا نه ښیجوخیر نه او نا پاکه ځیره ښیی.

www.libtool.com.cn

په لاند نیو لنډ یو کــی ( دمو زیګی ) په با ره کــی دښځی نا پای ، لا علاج او مزمن رنځ او کړکه په ډ یــر ه ربښتینندو یه قیافه کی څــا ن څر ګند وی :

درنجو ګو ډی می سا تنی    دموزیګی په مرګ به سترګی تو رومه
پاس په سنګر ټکونه وشوه    میړونه مری مو زیان به روغ کورته را ځینه
نصیبه څه در سره وکړم    زما په برخه دی مو زی ورساوونه
موزی په مینه څه پو هیږ ی    په نس یی موړ کړه تر سبا کــو ی خو بو نــه
مو زی خان بنده کړه بلبله    تو تی په باغ کی دفراق ناری وهینه
ګو تی می وی په لاس می نه کړی    دموز یګی په خو یندو راغلم تش لاسو نه
ګل می له یا ره سره ښایی    مناسب نه دی چی مو زی یی بو یو ینه
که می نصیب دبدونــه وای    چیری موزی چیری دګلــو صور تو نه
داسی هم ویل شوی دی :
که می نصیب دبدو نه وای    چیری مو زی چیری زما دا باخو نه
کومی د ی وچ شــه مو زی چرګه    چی په مړ وند یی وم ویده وینه دی کړمه
قلمه مات شی بخته واوری    صور ته خوا رشی چی موزیان دی زړو ینه
سترګی خو تا راکړی خدا یه    ظالم موزی می له کتو منع کوینه
راځه راځه پر کټ را خیژه    که بازو مات شو موزیګــی یی جوړ وینه
دمو زیګی دزوره نه یم    دلاس بنګړی می خر خو ی زړه را ځینه
دمو زیګی شلید لی کټــه    چی زه دی لنګه تینګوم بازودی ځینه
خوا بدی می شی زما یا ره    زه دموزی په لاس کی یم چی جدا یمه
خاونده بیادی ما خوستن کړ    بیا به می خوا کی موزیګی کوی خو بونه
او دا هم ویل شوی دی :
ښتنته بیا دی ما خوستن کړ    دګلو لښتی دموز یا نو کټ ته ځینه

**په ښځمنو لنډیو کـــی داعترا ض تاریخی سر چینــه**

---

موږ دلته دلنډ یو شا عرانو دلر غو نو اجداد و پـــه تا ریخ کی دښځی او نار ینه دمنا سبا تو ځیر نه وکړه . دافغا نستان تا ریخ ښیی چی دلنډیو دشاعر انـو نســب پخوا نیو ار یایی قبیلو تــه رسیږی.
دهمد ی قبیلو ځینی څپی د تا ریخ په اوږ دو کی ورووروهدند شما لی بر خو تـــه ور ننو تی دی له همدی کبله لا تر او سه دپښتو ژ به دهغدی او سا نسکر یت سره لغو ی اشترا کونه او ژبنی خــوروالی سا تی . پخوا نیو قبا یلی اړیکو په کلتوری په تیره بیا دهغه په مشخصه سیمه یعنی فلکلو رکی دهند ی او افغانی آر یا یی قبا یلو په ورو سته

پاتی خلکو کی ډیر سره ورته میراثونه پری ایښی دی. په همدی وجه دافغانستان فلکلور داساسی او لومړنیو سرچینو دڅیړلو له پاره دهندی آریایی قبایلو دتاریخی بدلون او کلتوری څرنګوالی مطالعه ضرور ده. شری دانګی دهندوستان ستر اجتماعی شخصیت او فیلسوف دهغو اریایی کسانو په باب چی هند ته لیږدیدلی وو داسی لیکی: «کله چی قبایلو به جګړه سره وکړه جنګی اسیران به

www.libtool.com.cn

د «پرمید» دعنعنی سره سم وژل کیدل، مګر کله چی دانسان کار دتولید دنویو وسیلو دشته کیدو سبب شو او دغو نویو وسیلو د تولید اندازه دضرورت تر نیمایی زیاته کړه ددی امکان را پیدا شو چی جنګی اسیران دقتلولو پرځای ژوندی وساتی او دتولید کار ځنی واخلی»

همدی دجګړی اسیرانو راوروسته بیا داریایی قبایلو ټیټه طبقه (سودر) تشکیل کړه، دانګی دهمدی تاریخی پوړی په اوږدو کی د اریایی قبیلو تر منځ دکورنی او ښځی په هکله اساسی تغییرات داسی څیړلی دی:

«په ویدی کتابونو کی دمور دحقوقو ددود رانړدیدو په اړه رسید واوو دپلار د حقوقو دروا جیدو په باره کی څه نه دی ویل شوی خو سره له دی بیا هم هغه پراختیا وی چی په کورنی کی مینځ ته راغلی دی دا بدلون په ښه توګه ښیی»

دپلار واکی حق، خصوصی شتمنی او دمیراث حق ایجابوی چی ښځه په یوه نارینه پوری تعلق ولری. له دی نه پرته دا نه شی معلومیدای چی د ښځی اولاد په چا پوری متعلق دی او دنارینه خصوصی شتمنی او میراث چاته ورسیږی، نو ځکه دیوه خاوند لرل او له هغه سره دښځی وفاداری او سپیڅلتیا چی دپلار ولی دمیراث له حق سره یی مرسته کوله یو قانونی تعامل شو لیکن حقیقت دا دی چی په لومړی سرکی دغه (یوه ښځه په یوه وخت کی دیوه میړه له پاره دښځی دغوښتنی نتیجه وه). نارینه نه په هغه وخت کی د «دوه له ییزا زدواج» دپریښوولو طرفدار وا ونه له هغه را وروسته نارینه په بیلا بیلو حقوقی او قانونی پلمو او په غیر قانونی لارو تر یوی ښځی زیاتو ته لاس ور غزوی.

هاجره بیګم دهندوستان دښځو دد موکراتیک سازمان یو مهم شخصیت چی له دانګی ځخه یی پوره تنی اقتباس نه کړی دی وړاندی لیکی:

«دښځی دغه غوښتنه چی باید په یوه نارینه پوری تعلق ولری له دی ځخه را پیدا شوی ده چی دوی یا یانودلر غو نورواجونو سره ښځو ددی دود نه کرکه کوله او دا یی بده بلله چی په هر ځای او هرحال کی له یوه ناپیژندلی نارینه سره د رابطی په پیدا کولو مجبوروی، له همدی کبله یی دار واج پریښوده پوره تنیو تاریخی حقایقو نه دا اتکل کیدای شی چی ښځه له سختو ناسمو عدو لارو ځخه د تاریخ په اوږدو اتن باندی زموږ پیړی ته را تیره شوی ده.

دښځمنو لنډیو دلومړنیو نطفو نښی او پلونه حتی له فیوډالی دوری نه هغه خواد بر بریت دوران ته وړاوړی:

پر پرده چی بند په بندمی پری کړی — ماچی دژوند یاری کړه مرګ ته ورتلمه
چیری پناه شوی په غم ورکه — ما په اوښا نو بدلوی تاغږ قوینه
ماوی چی مرګ به می پرده شـــــی — اوس می په ژوند کورته لیږی چینجی می خورینه
نامرده داسی حوځوك نه کا — لکه د سوال کتره دی اورته ونیومه

زمونږ په ټو لنه کې‌دا سی‌کسان شته دیٌ چی فکر کوی‌نسبت نار ینه ته دښځـــی‌د مقام ټیټو الی دانسان لـــه خیر اودهغه دژو ند له حکمت‌سره برا بر دی ، دا کســـان با ور لری چی‌د ښځی جنـس‌نسبت نار ینه ته کمـزو ری‌دی ښځه نه شی کو لای‌دخپل جسمی تو ان او زغم‌له پلوه‌له نار ینه سره برا بـــری‌وکړی.

www.libtool.com.cn

دمو ر وا لی وظیفی هغـــه لاستو ما نه کوی اود کـــا رقد رت ور شخه اخلی .داسی کسا ن هم شته دی چی ښځه نه یوا ځی له جسما نی‌نظره‌بلکه‌دد ما غی قد رت په وجه هم تر نا رینه کمزو ری‌بولی. داکسا ن وا یی چی ښځه هغه وخت ژغورل کیدای شــــی چی دنا رینه تر سیو ری ا وحما یی لاندی وی مګرمعاصره پوهنه او علمی څیړنی د نـــــ رینه سا لاری او دهغی‌دوری‌دد غو مغر و رونما یند ګانودا بی بنیا ده نظر رد وی او دا په ثبوت رسوی چی پــــرمږی با ندی دبی استعدا ده‌ښځی دسالاری دوره (موروا ـ کی) هم تیره شوی ده.

علم ثا بته کړی ده چی‌بشر ی ټو لنه‌لاتر او ســـه‌پو ری ددا یمی بد لون نـــه تمامیدونکی لار پری کــوی .

پر له پسی تغییر مومی .هلته خا مخا دښځی او نارینه مناسبات هم ګـــام په ګـــام بد لون مو می او با ید هـــمهمدا سی وی.

ټو لنپو ها نو په لرغو نوزما نو کی دټو لنی‌د ښکلا دخر نګوا لی دمعلو مو لو پـــه باب زیا تی څیړ نی کړی دی‌هغوی تر ډیره ځا یه پـــــه‌دی پو هید لی دی چی پـــه لر غو نو زما نوکی اجتماعی،ژو ند څه بڼه لر لـــــه اوورو سته بیا څنګه او ولـــی بد لو نونه پکی را غلی دی.کید ای شـــی چی د ښځـــــی‌دآزا دی غو ښتنی دمبا رزی جر یان‌دی په ارو پا ، امریکااو دنړی په نو رو بر خو کی‌تحقق او بری پیدا کـــړی وی مګر دافغا نستان تـــار یخ( داجتماعی منا سبا تو انکشاف)خپله ځا نګړ تیا سا تلی د ه او طبیعی محیطی عوا ملو هغه ته خپل ځا نګړی خصو صیت‌او ټو پیر ور کړ یدی .

زه نه غوا ړم دلته‌دا نسان‌دپیدا ینبت اود تا ریخ پـــه با ره کی علمی نظر یـــات وڅیړم بلکه غواړم د ښځمنـــو لنډ یو دعلمی څیړ لو له پاره‌یـــوا ځی دښځی او نا رینه د منا سبا تو په هری بر خــــی با ندی وڼ غیږم ځکه دنارینه سالاری پر ضد دښځمنو لنډ یو دواقعی محر کا تو مرچینه موږ ته رابنیی .

په سلها وو ښځمنی لنډی‌شته دی چی دنار ینه سالاری‌پر ضد دښبتنی ښځی‌اعترا ض او تار یخی عصیا ن بیانو ی.

ښځه پر ته له دی‌تو پیرنه چـــی په کو مه ټتما عـــــی‌طبقه او قشر پو ری تړلی‌ده، د لنډیو په نه چوپیدو نکـــی‌او دا یمی بهیر کی پر له پسی‌چیغی وهی او دځان په هکله دنار ینه تیری او ستـــــــم بربندو ی :

صو رت می خپل واك یـــی دبل دی صور ته خا وری شی چـــی‌نور دی واك کوینه

په پور تنی لنډ ی کـــــی‌ښځه دخپل جنسیت د غر یزی‌تما یل او غو ښتنو په خـــلاف هغه تار یخی مو قعیت چـــی‌دنا رینه له خوا دخا صـــــو تاریخی شرایطو پـــه مرستـــه پر دی با ندی تحمیل شو ی‌دی بر بنډ و ی‌او دهغـــــــه اجتماعی نظام پرضدداعترا ـ ض غږ جګوی چی له ښځــــی‌نه یی دخپل ځان واك‌اخیستی‌دی او دا یی دخپلی آزا د ی او واك څخه محرو مه کړ ی‌ده. ددی اعتر اض منطق‌دومره روښ،ساده او قانع کوو نکـــی دی چی دهر راز مخا لفت ا ومنفی مقا بلی مخه نیسی.کوم‌ښبتو ن به ددی وا قعیت نه

انکار وکړ ای شي چي پښتنواو لسدځ پل پیچای اورنګین تاریخ په اوږدو کــی له خپلو خو یندو او لو رانوسره، له میند و او میر منو سره دخپل میراثي مال په تــو کــه معا مله کړی ده او لایی هــم کوی . په پښتنو پرګنو کــی لاتر او سه پو ری ښځه دخپل ځاناو تن و اك نلری او ددی واك تر لاسه کو لو له پاره‌هڅی هر ورمځه ضد اخلاقی تو جیه کیږی :

www.ljbtool.com.cn

ددی اجتماعی جریاندثبوت‌له پا ره دلنډ یود اعتر اض‌فر یاد ونه کا فی دی :

ځوانانو ننګ راباندی‌وکړی          پلار می ظالم‌دی ما ښامار لره لیږینه
خاونده پلار می لیونی کړی          دا شنا غیږ پسی ږنـــد هشبکوره شومه
زما په بر خه دی کمکی کړ          زه چي کمکوتی لویـــه ومږره به شمه
تاته می نه در کوی‌یا ر ه          ماته په لو یه لار کی‌مه زاره‌چی‌مرمه

**داسی هم ویل شوی ده :**

تا ته می نه در کوی یاره          ما ته په لو یه لارکی مه‌زاره مینه
له مانه ولی مرو ریی          کم عقله یا ره په پـردی‌اختیار کی یمه

پښتنون او لس لاتراو سه له ښځی سره دو ګرو ، کورنیو او قبا یلو تر مینځ دبدـ یو ، مر کو نو او تیر یودرو غی په بدلانه کی‌دعوض‌اوپتی‌په تو ګه معامله کوی دنذر انی او دا سی نو رو مقا صدو له پاره هم‌اهدا کید ای اوپلورل‌کید ای شی.

ښځه دهمدی تر خه او ضدانسانی مو قعیت درســـو اکو لو په خا طر اود نار ښه پر ضددخپل تار یخی اعتر اض‌دبیان لپاره دا ښکلــی زړه‌وړونکی او سوچه لنـډ ی د پښتنو پر ګنو حا فظی تــه‌ور شیند ی

صو رت می خپل واکیی دبلدی          صو ر ته خا وری شی چی‌نو ردی واك کو ینه!

پلاره کلا دی هدیره شـــه          چی ترینه وځی په ژړاملالی نجونه
زه د ظالم دا دالــه لاســه          د مرګی سین ته ولویدم‌کته می وړینه
پلاره ! کوډ له دی‌ایره شــه          سورکی منه دی په کارغانو وخوږمه
موری ستی شی پلاره ومــر ی          زه د نیکه په کټ کــی‌خاوری ایری شومه
په سره دوزخ کی‌دی دیره‌شه          کوږدی ایره‌شه زه دی‌اورته ونیومه

ښځه په دی لنډیو کی‌هغه بی سکونه او ناقراره ساندده چی پرله پسی د سندریزو خپو په نا پایه تالند وکــی بی مجاله چیغی وهی .

اسمانه پریوزی بخته واوړی          زړګیه وچ شی ما موزی‌ته ودوینه
ماوی د زړه یاربه می خپل‌شی          مرګ می میلمه شو دښامارپه برخه شومه
خدایه دګونډو پناه ګیرشی          چی میراث خوریی په لیوانوو دوینه
بیګا دستور و پــه رنــا کی          جانان زما په تمه راغی‌مړبه وینه
په نیمه شپه‌سوی نـاری شوی          مور له لورانو بیلو ی‌کوکی وهینه
چمبردی ګډ کور دی لګډ شه          دګور شیطانه په ژړادیږنده کړمه
ځراغ یی بیا په کور بلیږ ی          شالیلی مره ده په چړوشغلی وهینه
همزولو غم راسره یو کــړ ی          پلار می ظالم شو په بودامی خرڅوینه!
ما د زخمی زړګی په ویر کی          د وینو اوښکی بهو لــی‌ړنده شومه
په‌صورت روغه درته ښکارم          په درانه کی می لښتی‌د وینو ځینه:

ددی چیغو او فریاد وتو سـرچینه چیری ده ؟
ددی اعتراضونو محرك کـو م دی ؟

www.libtool.com.cn

ددی پوښتنی د ځوابو نـولپاره دا ضروری ده ، معلومه کړو چی ښځه له کومه دنار ینه په مقابل کی تابع مـوقعیت ته راښکول شوی ده اونارینه څرنگه توانیدلی د ی چی ښځه دی ذلیل موقعیت ته تابع کړی او دهغی دهر څـه مالك دیشی.ددیجریان ریښتی دانسان د تاریخ سپیدو تـه رسیږی هغی زمانی ته چـی انسان لاهلته د ځنگلو نو او د غرو له غارونو څخه نـه وراوتلی یعنی له زرگو نـو کلونو هغی خواته دبی تاریخه بشریت پولو ته .

د انگلس «کورنی ، خصـوصی مالکیت او دولت منشاء» په کتاب کی داسی لیکل شوی دی :

« لرغو نی انسان کلـه چیدحیوا نیت له مر حلی نه پښه وړا ندی ایښو و لـه دکور نی په نوم یی کوم شی نه پیژانده.»
دفا میل ډیر لو مړی شکـل چی تاریخ دهغه شته وا لی تائید کـړ او همـدا نـن هم دهغه نمو نی دنړی پـه ځینو برخو کی لیدل کیږی ډله ییز و دونه دی. پـه دی ودو نو کی د نارینه وو یوی ډلی دښځو په یوی ډلیپوریاړه پیدا کو له .»
نومو ړی کتاب په دی دوره کی دښځی دمقام په هکلـه داسی لیکلی «وکړی ډیر لږ او تیت پرك وو .د کار ویـش یوا زی د ښځـی او نارینه تر منځ مو جود و سترو بی ښښتنه ځنگلو نو بشـر ی قبایل یوله بل څخه پیل ړ ی وو. نارینه جنگیده ښکـا ر یی کاوه، کبان یی نیول ، دخوړ لو خام مواد بـه یی راتو لول او ددی کار د کـو لـو لپا ره به یی آلات اوافزا رجو ړول . ښځو به تا تو بیسمبا لول ، خوا ړه به یـی پخول او او بدل به یی کول.

تار ینه او ښځو هر یـوپخپلو ځا نکړو بر خو کـی دخپل کار وا کـدا ران وو . تار ینه لو ښځه پر ځنگلـه او کورمسلط وو . نار ینـه دو سلی دښکار او کسـب نیو لو دو سیلو خاو ند و ، او ښځه دکور دسا مان ا ولو ښو میر من وه. پـه دی لو مړ نیو قامیلو نو کیزیات کسا ت اړ سیدل تا تو بی ،باغ او ستری گرو ندی گرد مره اشترا کی وو. په د ی کمو نونو کی ښځه مسلطه و ه داو لاد د نسب پیژند گلو ی دهغوی دمور له مخی کیـد له. دچا دپلا ر په بـاب پو ښتنه نه کیده . لـه همدی کبله مور یعنی ښځه ډیره عز تمنه او محتر مـه وه » دی کمو نونو ته لـه دی کبله لو مړنی اشتراکیفا میلو نه ویل شوی دی چیپه هغی دو ری کی شتمنـی ځمکه ، زرمر یی او نورنه وو. ځنی مـو جود لـو مړنیوسا یل دکمون دتو لو غړیو مشترك ما لو نه وو پـه دیکمو نونو کی نه استثمـار شته او نه استثمار یدو نکی. انسان په ځنگلو نو اود غرونو په سور یو کی اوسیده .په تار یخ کی دی دو ری ته د(مو روا کی ) دو ره ویـل شوی ده . په دی دو ران کی دبشری ټو لنی دتکامل سیر ډیر سست او پخ پرمخ تللی د ی که څه هم په آسیـاـافر یقااو ارو پا کی دټولنیزا تکا مل بیلا بیلو دو رو یورازیو وخت او سره ور ته سیرته در لود مگر په عمو مـی تو گه ( دمو روا کی )تاریخیپو ړی په ټو لو بشری ټـولنو تیره شوی ده او لـه استثمارنه قار غه پو ړی بدل کیږی .

د استثمار له را پیداکیدو سره سم پر ښځه با ندې دتار ینه تسلط هم پیدا شو اود ( پلار وا کی ) ددو را ن له ځای په ځای کیدوراهیسی دښځی مظلو میت محکو میت او زلتهم شر وع شوی دی.

www.libtool.com.cn

کله چی انسان او سپنیز آلات او وسیلی تر لاس کړی دا امکا ن ورد لاسه شو چی دوحشی ژو یو رمی او کلـــی ایل کړی ځمکه وا ړوی ا وکر هنه زده کړی.
دما لدا ری او کر هنـــی کار چی دنا رینه پـــه لاس شوی و دښځی ا وتار ینـــه تر منځ یی دکار پخوا نی ویش دنارینه په گټه اغیز من کـړ نار ینه ته دبر تری مو قع ور پلاس شوه ښځه یـــی دو هم مقام ته په شا بوتله .او ښ بـــه د عمو می بحـــث نه خپل مشخص بحث ته مخه را واړو واو دخپلو خلکـــو (د لنډیو دشاعرا نو) د لـر ـ غو نی اجد اد و ( آریا یـــی قبیلو ) دښځی او نار ینـــه روا بط به په دی مر حلـــه کی وخیړ واو وبه گورو چی دهغوئ تر منځ په دی پوړی کی د ښځی اجتما عی موقعیت څنگه و دا بحث به په راتلونکی مقاله کی تعقیب کړو.

## دلنډ یو تو لنیز متفا وت کره وره

لنډی شعر دی، شعرهنردی او هنر د اید یا لو ژئ یـــو شکل دی. دلنډ یـــو پوا خ ډ ریا ب چی اسا ساد زیـــارایستـــو نکـــو طبقـا تی ا ومشخصاً په فیو ډالی تو لنه کی یی (دبزگرا نو ) دارمانونو د بیان وظیفه په غـــاړه اخیستی ده ترڅ ریل هر شعرته دپښتون او لس دخوږید لـــولو کړ ید لیو زیار ایستونکوډو ند صا دق انعکا س دی. لنډی دربړ ګالو نکو پر کتـــوښکلا په. کار او زیار کـــی وینی او د انسان دمینـــی او تکل تر منځ پو له نه اچوی په کار او ربړ کی نیکمرغی تعقیبو ی دلنډ ی چاپیریا ل یوا ځی په ښکلا او شا یست نه د کیږی بلکی تول شتـــه اشیا چی دزیار ایستو نکـــی انسان زړه او پلی ور کاږ ئ دلنډ ی دستا ینـــی وړ دی .لنډ ی یوا ځی دا کار نه کوئ چی په کلی تو که ښکـــــلاوستا یی بلکی داو ظیفه په غا ړه اخلی چی ژو ند هما ـ غسی چی دئ وښیی . لنډی دزیار د تو لنی له مینځه راخو تیږئ اود دغی تو لتـــی دتو لو طبقا تو او قشرو نـــو( زیا تره دزیار ایستو نکو)آو از غبر گوی.
په طبقا تی تو لنه کی هرطبقه لنډ یو ته خپل اجتماعی رنگ او عطرو رکـــو ئ او د خپلو ارما نونو ، عوا طفـــو او ذو قو نو غو ښتنـــی ور لیږ دو ی . دلنډ یو فور م او لفظی جوړ ښت دساز دسامان مثال لری هر څوك دخپلی خوښی نغمی او غاړی پکـــی غږ وی . هره اجتما عی طبقه او قشر خپل ار مان پکی بیـــا نوی . لنډ ی د پښتنـــی تو لنی طبقا تی تنو ع روښانه او بی ریا څر گند وی او بی له دینه چی دطبقا تـــی تضاد دبر بنډ و لو دتوضیح او تصنیف دند ه په غا ړه واخلی او یا پدی با ره کـــی در س ور کړی لکه ړو ند بلبـــل چغیږی او له هغو ما غـــز واو زړو نو څخه چی راوز ی، دهمغو داجتما عی شعـــــو رمیلو دی غږ وی . په حقیقت کی هر ه هنر ی جلوه لـــه هغو اجتما عی شرا یطو سره چی دغه جلوه یی جو لا ن ته را ایستلی ده ژو ری اړیکی لری .

لنډۍ لکه د چینې رڼې اوبه دي چې توري او سپینې شګې یې تل پیره د هغوی په تل کې خپل اصلي رنګ ښیي، دهغې اجتماعي طبقې کرکټر څرګند وي کوم چې دغې طبقې له روحي، سیاسي او اخلاقي ترسباوو څخه ترکیب شوی ده. او دا ځکه چې تر اوسه دلنډیو اساسي سرچینه ده او دغه سرچینه له ظالمو او مظلومو استثمار کرو او استثمارېدونکو، له حاکمو او محکومو پرګنو څخه را بهېږي او د ژوندپه دايمي خوځېدو کې دمتضاد و طبقاتو د آوازو نوجبري ترکیب بشپړوي او یوه ورځ به نهائي پای یعني دانسان د آزادۍ پولې ته رسېږي او نوی شکل اود بې طبقې ټولنې ارمان به بیا ونه کړي. یادا چې خپل ځای به بل هنري چوکاټ ته پرېږدي چې هغه به دلنډیو هنري رسالت د نوي زمان له پاره په غاړه واخلي او د نوي انسان ژبه به شي. دلنډیو په مجموعي دریاب کې د ټولو ګړو مختلف ارمانونه، غوښتنې او درد ونه داسې سره ایشي چې د ښادیو او غمونو، د بریو او ماتو، امیدونو او نا امیدیو مختلف سازونه په یو واحد سمفوني کې سره ترکیبوي. د بېلا بېلو طبقاتو د هستي دعبور په توحید شوي مقطع کې دا سانتار یخ سر و د غږوي دسازونو پر له پسې قانونیت سره برابر خپله ژبه اړوي.

www.libtool.com.cn

دلنډیو ښکلا د هغوی د طبقاتي هر ډول والي په غنا کې لا پیاوړې شوې ده او د پښتنو دفیوډالي او قبایلي پوړ یو هنري ارزښت نه یې تر بل هر فن نه زیات توضیح کړی او ښکاره کړی دی. دلنډیو ژبه د هر بل شعر تر ژبې زیاته طبقاتي ده. دلنډیو په عظیمه انساني سمفوني کې تر نوري یو اوتار لرونکو سازونو زیره سازونه پیاوړي شوي دي. په هغو لنډیو کې چې لا تر اوسه د خلکو له پرګنو څخه راټولې شوې او خپرې شوې دي داسې لنډۍ ډېرې دي چې مخامخ د بزګرانو د طرز فکر، ارمانونو ژوند او فرهنګ ترجماني کوي او هغه ساده معصومه او ریښتینو یه ښکلا غبرګوي چې د دې طبقې د ژوند له چینو څخه راخوټېږي ښکلا د زیاراېستونکو په نظر کې له کار او زیار او بدني روغتیا سره د مینې لرلو بیانوونکې ده او په لاندینیو لنډیو کې دغه ښکلا دومره پر بنده شوې چې په بل هیڅ راز شعر کې سارې نه لري.

پاچايي تخت مې په کار ندی — جانان به لو کازه به وړي تو لومه
جغ په اوږه چوکه په لاس کې — زه د بیلتون یوي ترم اغزي کرمه
چې لوا ولور شي خوار ي زور شي — په بخملي کو تو به وړي تو لومه
د پسرلي لوونه ګډ شول — نجلي په سرو منګلو وړي تولوینه
ستا اشنايي دا وبورغ دي — چې چینا رونه پکي ږدم او به یي وړینه
یار مې د سر وغنمو لو کا — سپینه خو لګي سبانا ريور ته وروړمه
یار مې دډاګ کر میوو سو — زه به د سپیني خو لي شبنم پري او رومه

پدې لنډیو کې د کار افزار لکه جغ، چوکه، یړي او دکار ډولو نه لکه لو کول، وړي تو لو لیوي ټرل دمیني او هجران په ترانو کې کارول شوي دي. ګوا کې دعشق او بیلتانه سندري دکار او زیار سره غبرګې شوي او د زیاراېستونکي انسان (بزګر) د ښکلا پېژندنې د سلیقي او ذوق لوري یې له ورا یه ښوولي دي. کله چې زه پدې لنډیو کې د للمي ژیړ ګل، د ډاګ دکر میوسول، د لښتیو په

ور خو نو کی دتیرا نو ا، چینارو نوداچو لو خبری آورم ستړگو ته می مخا مخ دبز گرانو کلی ، لو کجن دا لانو نه ،دکلی پیتا رو ته دڅار و یـــواحو رونه، یوی شوی پتهی ، در مندونه ، ډله یبز کارونه اواشرونه در یړی . سړی له دی لنډ یوسره مخامخ دبـز ـ گرا نو پر ژوند ورننو زی .دڅا ریو پو ول دکار وا نونوچلو ل دپیتی تړل اوپـــــه شاکول اوبه لگول ،انسانی روامینه چی دتناره دتودی ډوډی له عطرو سره یو ځای دانسان ویده شوی غـــرائزتخنوی ، د کلی دزیار ایستو نکی پـــه رکو نو کی دژو ند مستـــی خو روی اود دوام او پرمختکـحو صلـه ور کوی . سر بیره پر دی ډول لنډ یو چی مخامخ دبز گرا نوله ژونـــده کار اوزیار سره خپله را بطه ښکاروی داسی لنډی هم شته چی پور تنی متد اول کلما ت او افزار نه استعما لوی مکـــرداستثمار شو یو بز گرا نـو دژوند او ارما نونودخیری نورمشخص اړ خونه بیا نوی :

www.libtool.com.cn

لکه لاندی لنډی :

ولی به ته زاړم عا لمـــه — په سره غر مه کی جانانکډی بار وینه
هلکه ستا دزړه له پا ره — تلی می سو زی په غر موولاړه یمه
یو واری تو ره لنگی وکړه — بیا که شړی په سرکو ی یا رهدی یمه
برو زی ډیری راته راوړه — دبیلتا نه ځمکه می ډډی سولو ینه
په کشما لو کی ور ته پټ شوم — نجلی دغوا وو غوبنه دهرا به شینه
په سپیر و بدمه وا یه موری — سپیر ی دی خا وری چـــی گلو نه شنه کوینه
پسرلی ښه باران یی بد دی — نجلی وا ښه کړی توراوربل یی لندو ینه

لنډ ی شعر دی او شعـــــر هنردی .هنر داجتماعی خبر تیا په توگه داجتماعی شته والی په واسطه تا کل کیږی اوپه خپل وار دټولنی دتکا مـــل اوداجتما عی هستی په تغییـــر رکی فعا له بر خه اخلی .

